# د قرآن پلوشې

## ۲۹جزء

حکمتیار

ÉšïmS$SÇ»Hq$S$‹ $ÉóÎ

# څو مقدماتي خبرې

د دې کتاب متن ته له ننوتو د مخه څو خبرو ته د ګرانو لوستونکو پام رااړوم:

• قرآن د الله کتاب دی، د انسانانو د لاربنوونې لپاره ئې رالېږلی، واضح او آسان کتاب، د خپل مخاطب د فهم مستوی ته (رانازل) شوی، لومړی حامل ئې هغه پیغمبر دی چې لیك لوست ئې نه وو کړی او په هغه قوم کې مبعوث شوی وو چې په لیك لوست نه پوهېدل، همدا امي قوم په دې قرآن پوه شو، په دې ئې ایمان راووړ، دا ئې ځان ته لاربنود کړ، له پلار نیکه نه ورته پاتې دین، مذهب، دود دستور، افکار او اخلاق، فردي او اجتماعي سلوك او هر زوړ رسم او رواج ئې پرېښود، خپل هر څه ئې د قرآن په قالب کې واچول او هر هغه څه ئې لرې وغورځول چې له قرآن نه ئې مخالف موندل. نه یوازې په خپل کور، کلي او ټولنې کې ئې قرآن حاکم کړ بلکې د دې لپاره ئې ملا وتړله چې د قرآن بیرغ له شرق نه تر غرب پورې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ورپوي. د نړۍ له سترو سترو ځواکونو سره ډغرې ووهي، انسان د انسان له بندګۍ نه وژغوري، غلامان او مظلومان آزاد کړي، د هر مظلوم خوا ته ودرېږي او د هر ظالم مقابله وکړي، د ظلم ټغر ټول او په ټولې نړۍ کې عدالت قائم کړي. دوی داسې ستر کار ته ملا وتړله چې هیچا ئې تصور نه شو کولی، دا د

مهاجرينو يو وړوکی ټولګی وو، له خپل کور کلي نه شړل شوي او د مدينې په څېر د يوه واړه کلي يوې برخې او سېدونکو ورته پناه ورکړې وه، هيڅا دا ګومان نه شو کولی چې دوی به د خپلو ځواکمنو مخالفينو مخې ته تر اوږدې مودې مقاومت وکولی شي، له يوې خوا به د دوی په پرېشانه او دردوونکي حالت د هر چا رحم راتلو او له بلې خوا به ئې د دوی دې خبرو ته حيران حيران کتل چې الله تعالی به دا دين پر ټولو اديانو غالبوي او چې چا به په ټوکو ټوکو وپوښتل: په روم او فارس هم؟ نو دوی به له ځنډه پرته ځواب ورکړ: هو په الله قسم چې پر روم او فارس هم، ډېرو ته دا د جنون او ليونتوب خبرې او د غمونو په وخت کې غولوونکي رنګين خوبونه معلومېدل، خو الله د دوی دا ټولې خبرې او دا رنګين خوبونه رښتيا کړل، د دې تحريك له شروع نه لا ډېر وخت نه وو تېر شوی او د مخکښانو له ډلې نه ئې لا ډېر ژوندي وو چې نه يوازې د حجاز پراخه ځمکه د دوی په لاس فتح شوه بلکې د روم او فارس د مغرورو واکمنانو ماڼۍ ئې هم تصرف کړې او په خپلو سترګو ئې د کسری او قيصر په ماڼيو د اسلام بيرغ رپانده وليدو او الله تعالی دوی ته دا توفيق ورکړ چې له شرق نه تر غرب پورې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د قرآن بيرغ ورپوي. د دوی د دې حيرانوونکيو برياوو عامل څه وو؟ له دوی سره څه وو چې نورو نه درلودل او د همدې په وجه دوی غالب شوي او مخالفينو ئې ماتې خوړلې؟ د دې پوښتنې لپاره له دې پرته بل ځواب نه شو موندلی چې له دوی سره د قرآن په څېر هغه کتاب وو چې نورو نه درلود، همغه عظيم قرآن د دوی د بريا، عزت، سرلوړۍ او پر ټولو دښمنانو د غلبې اصلي او اساسي عامل وو. همدغه قرآن له يوه جاهل او ناپوه قوم نه داسې سرلوړی او فاتح امت جوړ کړ چې د ټولې نړۍ قيادت ئې په لاس کې پرېووت، هم له فکري او اخلاقي لحاظه د خلکو امامت او زعامت وروسپارلی شو او هم په سياسي او نظامي لحاظ د نړۍ په سترې او پراخې برخې مسلط شول او د مدينې هغه وړوکی کلی د يوه داسې ستر ملك په پلازمينې بدل شو چې له هند نه تر مراکش پورې او له هسپانيا نه تر يمن پورې غځېدلی وو، هومره ستر چې د پرون ورځې د روم او فارس دوه امپراطورۍ ئې دوه ولايتونه شول. دا همغه قوم وو

چې په قرآن له ایمان نه مخکې ئې د بتانو عبادت کاوو، خپلې لونې ئې ژوندۍ ښخولې، په داخلي خونړیو جګړو کې غرق وو، روم او فارس ته ئې جزیې ورکولې، رومیان او فارسیان به د دوی بازارونو ته د غلامانو د اخیستلو لپاره راتلل، د یوه مریې بیه د یوه کس د یوې اونۍ تر خوراکه کمه وه، د ښه او مضبوط غلام بیه تر ډنګر آس نه کمه وه!!

- هر څوك په دې پوهېږي چې له پیغمبر علیه السلام سره نه فوځ وو، نه وسایل، نه مال او دولت، نه قومي او اجتماعي نفوذ، فقط دغه قرآن ورسره وو؟ هغه مبارك خو هم دوست او هم دښمن ته، هم مخالف او هم موافق ته، هم عرب او هم عجم ته، هم امي او هم په لیك لوست پوه ته، هم مشرك او هم اهل کتاب ته، یوازې او یوازې قرآن وړاندې کړی، د ده او د ده د یارانو هم بلنه او دعوت قرآن ته وو، هم ئې د بحث او مناقشې موضوع قرآن وو او هم ئې د قضاوت او حکم مرجع قرآن، هغه مبارك خو خپل یاران د احادیثو له لیکلو نه هم منع کول، نه د دې لپاره چې قرآن له بل څه سره خلط نه شي، بلکې د دې لپاره چې له قرآن نه توجه او اهتمام بلې خوا ته وانه وړي، د ده احادیث د ده له رحلت نه نږدې دوه سوه کاله وروسته راغونډ او ولیکل شول. ده سلمان فارسي، صهیب رومي او بلال حبشي ته هم قرآن ورکړی، دوی ته ئې هم نه وو ویلي چې لومړی عربي او صرف او نحو ئې زده کړئ، په ریاضي، فلسفه، منطق او حکمت پوه شئ، بیا راشئ چې قرآن دروښیم. برعکس دوی ته ئې لومړۍ بلنه او لومړی درس قرآن وو.
- صحابه وو په قرآن اکتفاء کوله، هغه ئې په هرڅه کې کافي ګڼلو، په هغه پوهېدل، د هغه په هرې وینا ئې ایمان وو او په هغه ئې عمل کاوو، د قرآن حرف حرف به ئې د زړه په غوږونو اورېدو ،او له اورېدو سره سم به ئې سملاسي په هغه د عمل کولو ټینګ هوډ کاوو. کله چې ئې د قرآن دا آیت واورېدو: ( هُوَ الَّذی أَرْسَلَ رَسولَهُ بِالْهُدَی وَ دِینِ الْحَقّ لِیُظهِرَهُ عَلَی الدّینِ کلّهِ وَ لَوْ کرِهَ الْمُشرِکُونَ* : او الله هغه ذات دی چې خپل پیغمبر ئې له هدایت او حق دین سره لېږلی تر څو ئې پر ټولو دینونو غالب کړي) نو نه یوازې ئې په دې آیت او د هغه په مدعا ایمان راووړ، په

لمونځونو کې به ئې وايو، يوه بل ته به ئې ښودو، په دې به ئې کلك باور کاوو چې الله تعالی به دا دين د ځمکې د سر په ټولو اديانو غالبوي، بلکې همدغه د دين غالبول به ئې خپله الهي فريضه ګڼله، د دين د غلبې لپاره ئې ملا تړله او د هر هغه ځواك په ضد ئې خپلې تورې له تېکيو راايستلې چې د دين د غلبې په وړاندې خنډ کېدو. کله چې ئې د قرآن دا وينا واورېده:

وَ مَا لَكُمْ لا تُقَتلُونَ فى سبيلِ اللّه وَ الْمُستَضعَفينَ منَ الرّجَال وَ النّساء وَ الْولْدَن الّذينَ يَقُولُونَ رَبّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذه الْقَرْيَةِ الظالمِ أَهْلُهَا وَ اجْعَل لّنَا من لّدُنك وَليًّا وَ اجْعَل لّنَا من لّدُنك نَصيراً * النساء: ۷۵

او تاسو ولې د الله په لار کې او د هغو مستضعفو نارينه وو، ښځو او ماشومانو (د ژغورنې) لپاره نه جنګېږئ چې وايي: اې زمونږ ربه! له دې کلي نه چې خاوندان ئې ظالمان دي مونږ وژغوره او له خپلې لورې مونږ ته کوم ولي وټاکه او له خپلې لورې مونږ ته کوم مرستندوی وټاکه.

د دې آيت په اورېدو سره دوی د نړۍ د ټولو مستضعفينو او مظلومانو ژغورنه خپله فريضه وګڼله او د دې فريضې د ادا کولو لپاره ئې ملا وتړله، له روم او فارس سره وجنګېدل او له مدينې نه تر هند او هسپانيا پورې پلي او په اوښانو سپاره ولاړل، لويشت لويشت او تيږه تيږه د دوی په وينو سره شوه، له هغو کسانو نه چې د پيغمبر په لاس او د قرآن په مدرسه کې وروزل شول، ډېر کم ئې له شهادت نه پرته په عادي مرګ مړه شوي او د جنګ له ميدان نه بهر ئې خپله روح الله ته تسليم کړې.

- همغه قرآن زمونږ مخې ته پروت دی، له مؤمنانو سره د الله وعدې همغه دي چې له صحابه وو سره ئې کړې وې، زمونږ ديني مسئوليتونه او وجائب همغه دي چې صحابه وو ته متوجه وو، نه قرآن بدل شوی او نه د الله تعالی وعدې او نه د مؤمنانو فرائض او وجائب. اوس هم هغه کار کېدی شي چې د صحابه وو په لاس ترسره شو، په دې شرط چې مونږ د قرآن په اړه همغه څه وکړو چې صحابه وو کول.
- په پښتو کې د قرآن د ښايسته او دقيقې ترجمې نشتوالي ځورولم، غوښتل مې د دې تشې ډکولو ته ملا وتړم، خو دا راته ډېر دروند کار معلومېدو، د قرآن

ترجمه زيات دقت او زحمت غواړي، لکه څنګه چې له يوې ژبې نه بلې ته د شعر ترجمه د معمولي نثر له ترجمې نه ګران کار دی او زيات اهتمام، دقت او زحمت غواړي، د قرآن د آيتونو ترجمه تر دې هم ډېر ډېر ګران کار دی او زيات دقت او زحمت غواړي، په يوازې ترجمې سره که هرڅومره هم دقيقه وي د آيتونو ټول مطلب افاده کول ممکن نه دی، مترجم دې ته اړ کېږي چې يوازې په ژباړې اکتفاء ونکړي بلکې خوا ته ئې مزيد تشريح او توضيح هم وړاندې کړي.

- کاش په تفسير د ښه پوه او د پښتو ادب د نامتو ليکوالانو او اديبانو يوې معتبرې جرګې په ګډه د قرآن د ترجمې دا ستره دنده په غاړه اخيستې وی او پښتنو او پښتو ادب ته ئې دا عظيم خدمت کړی وی. هم پښتو ادب له دې اړخه ډېر فقير دی او هم پښتانه د ډېر زړه سوي وړ.
- د قرآن په ترجمه کې معمولاً دوه اسلوبه ګورو: تحت اللفظي ترجمه او آزاده ترجمه. د تحت اللفظي ترجمې عيب دا وي چې جملې ئې خوندور او جالب ادبي ترکيب نلري او لوستونکی ښه انتباه ترې نه اخلي، په يوې جملې کې د کلماتو ښه ترکيب او تنظيم ډېر اهميت لري او په لوستونکي د هغه اغېز ډېر زيات وي، له متشتت او بې نظمه الفاظو نه انسان ستومانه کېږي او اکثراً غلط مفهوم ترې اخلي او احياناً دا ګومان کوي چې شايد ترجمه شوی متن به هم ترجمې ته ورته خواره واره او نامنظم الفاظ وي، حال دا چې قرآن له ادبي لحاظه او د کلماتو د ډېر دقيق، خوندور، ښايسته، جالب او مؤثر ترکيب له مخې هومره اوچت او لوړ دی چې هيڅ بليغ کلام د هغه پښو ته نه شي رسېدلی.
- د قرآن د آيتونو په ترجمه کې نه يوازې دا چې د هر لفظ په دقيقه ترجمه کې بايد پوره اهتمام وشي بلکې بايد د آيت ښايسته او خوندور ادبي ترکيب هم په پام کې وي او هڅه وشي چې ترجمه د آيت په څېر ښه ادبي ترکيب او خاص وزن او سجع ولري. د قرآن ښه ترجمه هغه ده چې هم د هر لفظ دقيقه ترجمه وړاندې کړي او هم د آيتونو خوندور او ژور ادبي ترکيب، خوږ غږ، وزن او سجع انتقال کړي.
- ما د ځينو سورتونو په ژباړې کې هڅه کړې چې د آيتونو سجع او وزن هم تر

یوه حده انتقال شي او ژباړه مسجع وي، د سورتونو په مقدمه کې مې دې ته اشاره کړې چې د آیتونو فواصل ئې څه وزن لري، امېد دی ګران لوستونکي دې ته متوجه وي چې له وزن نه زمونږ مراد صوتي وزن دی نه صرفي وزن، په صوتي وزن کې عاملون، تعملون، یعملون، فاعلون، تفعلون او یفعلون ټول هموزنه صیغې دي، دا ځکه چې د ټولو په پای کې د (ل و ن) توري راغلي او غږ ئې سره ورته دی، خو د صرفي اوزانو له مخې دا بېلې بېلې صیغې دي.

• د قرآن تحت اللفظي ترجمه د دې لپاره هم صحیح نه ده چې د پښتو د جملاتو ترکیب له عربي ژبې سره ډېر توپیرونه لري، څو مثالونه ئې دا دي: په پښتو کې صفت له موصوف نه مخکې راځي او په عربي کې وروسته، په پښتو کې مفعول له فعل نه مخکې وي خو په عربي کې وروسته، په عربي کې مضاف مخکې وي او مضاف الیه وروسته، خو په پښتو کې اکثراً مضاف الیه له مضاف نه مخکې راځي، په عربي کې مکان او زمان وروسته ذکر کېږي خو په پشتو کې مخکې راځي، دې ته ورته ډېر نور توپیرونه شته، له عربي نه پښتو ته تحت اللفظي ترجمه نه سم کار دی او نه صحیح او د داسې ترجمې هره جمله به غلطه وي او لوستونکي ته به غلطه انتباه ورکوي.

د مثال په توګه: د (وهو السمیع العلیم) لاندې ترجمې کېدی شي:

او هغه اورېدونکی او پوه دی

او هغه اورېدونکی پوه دی

او هغه پوه اورېدونکی دی

په دې ترجمو کې دوه لومړۍ ژباړې ناسمې دي، یوازې درېیمه ئې صحیح او دقیقه ده.

یا د (انزل الکتاب) لاندې ژباړې:

ده نازل کړ کتاب.

نازل ئې کړ کتاب

دا کتاب ئې نازل کړ

دلته هم لومړۍ دوه ترجمې ناسمې دي، سمه او دقيقه ترجمه درېيمه ده. دا ځکه چې د (کتاب) او (الکتاب) ترمنځ توپير بايد په ترجمه کې مراعات شي، (کتاب) نکره ده او الکتاب معرفه، د عربي کمال دا دی چې نکرة او معرفة لري، پښتو ترې محرومه ده، په پښتو کې به ناچار د معرفه لپاره هغه يا همغه راوړو او د نکره لپاره به يو يا ځانګړی راوړو، دې ته مو هم بايد پام وي چې کله مفرد د جنس لپاره راځي او د جمع معنا ورکوي، په هرځای کې له قرائنو نه معلومېږي چې دلته ئې مراد څه دی.

يا د (کتب الله لاغلبن انا و رسلي) لاندې ژباړې:

ليکلي دي الله چې هرومرو به غالب شم زه او زما پيغمبران.

الله ليکلي چې هرومرو به زه او زما پيغمبران غالبېږو.

الله ليکلي چې زه او زما پيغمبران به هرومرو غالبېږو.

الله ليکلي چې هم به زه هرومرو غالبېږم او هم زما پيغمبران.

دلته يوازې په څلورمې ژباړې کې د آيت مطلب سم افاده شوی او د ژباړې ادبي ترکيب سم دی.

يا د (کتاب الله المبين) دغه ترجمې:

کتاب د الله ښکاره

ښکاره کتاب د الله

د الله ښکاره کتاب

يوازې درېيمه ژباړه سمه ده، لومړۍ دوه ژباړې غلطې دي.

يا د (ضرب الله مثلاً) لاندې ژباړې:

بيان کړ الله مثال

الله مثال بيان کړ

الله يو مثال بيان کړ

که څه هم دلته ښه او دقيقه ترجمه درېيمه ترجمه ده او لومړۍ دوه ترجمې ناقصې دي، دا ځکه چې مثال نکره راغلی او معنا ئې يو مثال دی، خو په پښتو کې د مثال

بیانولو په ځای متل تېرول راځي او پښتون مخاطب له دې نه ډېر ژر مطلب اخلي، نو د مخکنۍ فقرې ښه ترجمه دا ده: الله یو متل تېر کړ. متل په اصل کې د عربي مثل دی چې (ث) ئې په (ت) بدله شوې.
ما په ترجمې کې د خپل توان تر حده د دې هڅه کړې چې:

- هر لفظ په ډېر غور او دقت ترجمه شي. په ترجمه کې نه یوازې مفرد، تثنیه، جمع، مذکر، مؤنث، ماضي، حال، مستقبل، معرفه، نکره، تأکید او ټول نور اړخونه په دقت سره مراعات شي بلکې له دې هم ډډه وشي چې څه زاید وګڼلی شي او حذف شي او څه مقدر وګڼلی شي او علاوه شي، له هر راز کمولو او زیاتولو نه پرته ټول الفاظ په پوره امانتدارۍ سره ترجمه شي.
- په هرې جملې کې د الفاظو شمېر باید د آیت د الفاظو د شمېر په اندازه وي.
- د امکان په صورت کې د هر لفظ د ژباړې موقعیت هملته وي چې اصلي لفظ ئې د آیت په متن کې لري، تر څو لوستونکی د هر لفظ ترجمه په آسانۍ وموندلی شي. خو دا په هغه صورت کې چې د جملې ادبي ترکیب ته تاوان ونه رسېږي.
- ما غوښتل چې یوازې په ژباړې او خوا ته ئې په مختصرې شرحې بسنه وکړم، خو تفاسیرو ته د رجوع په دوران کې او د دوی ترمنځ زیات اختلاف دې ته اړ کړم چې په مختصرې شرحې اکتفاء ونکړم.
- ما ته تر ټولو ګران کار په پښتو د قرآن ژباړه وه، دا ځکه چې په پښتو کې موجود دوه درې ترجمې یا تحت اللفظي ترجمې دي یا له اردو نه ترجمه شوې، متأسفانه له افغانانو نه کوم داسې عالم چې هم د عربي ژبې په صرف او نحو پوه وي او هم د پښتو ښه لیکوال او د پښتو ژبې په ګرامر پوه، دې کار ته نه دی راوړاندې شوی، زمونږ په مدرسو کې پښتو او فارسي لیك لوست نشته، د دیني مدرسو فارغان په پښتو او فارسي سم لیك لوست نه شي کولی، موجودې ترجمې داسې دي چې که څوك په عربي نه پوهېږي او یوازې ترجمه لولي او هلته ئې نامرتب او خواره واره الفاظ ترسترګو کېږي او د هرې جملې ترکیب ئې د پښتو ژبې له قواعدو سره متعارض مومي نو د قرآن په هکله عجیب تصور او احساس ورسره

راپيدا کېږي.

- د آيتونو د تفسير او شرحې لپاره مې ټولو هغو معتبرو تفاسيرو ته رجوع کړې چې د کتاب په پای کې ذکر شوي. ما د هغو درنو مفسرينو رأيې رااخيستې چې:
- قرآن ئې په قرآن سره تفسير کړی. د هر آيت هغه تفسير ئې وړاندې کړی چې د قرآن له نورو آيتونو سره اړخ لګوي. د هغه څه له ويلو نه ئې ډډه کړې چې په قرآن کې ئې د هغه په هکله صراحتاً يا تلويحاً څه نه دي ليدلي.
- د آيت په ترکيب کې ئې له هر راز لاس وهنې او تغيير نه ډډه کړې وي، نه ئې په قرآن کې کوم حرف او لفظ زائد ګڼلی او له پامه غورځول ئې غوښتي او نه ئې څه مقدر او محذوف شمېرلي او د اضافه کولو وړانديز ئې کړی. تر کومه ځايه چې ما ته د تحقيق په دوران کې ثابته شوې د هغو کسانو رأيه مې ضعيفه موندلې چې د آيتونو په ترجمه کې په تصرف قائل دي، کله کوم حرف او لفظ زائد ګڼي او له پامه ئې غورځوي او کله کوم لفظ مقدر ګڼي او علاوه کوي ئې.
- حديث ئې په تائيد کې راوړی.
- داسې موثق روايت ئې وړاندې کړی چې د قرآن له کوم آيت سره تعارض نلري.
- د کوم خاص مسلك په نسبت ړوند تعصب نلري او خپلو مخالفينو ته بد رد نه وايي، د خپلې رأيې د هر مخالف په تندي د بدعت، شرك، ارتداد او الحاد ټاپې نه وهي، خپل مخالفين ضاله فرقو ته نه منسوبوي، د استدلال په وخت کې د خپلې رأيې په تائيد کې په ادب سره دلايل وړاندې کوي او د ضعيفې رأيې د ضعف اړخونه په ګوته کوي. ما ته ځای په ځای د هغو کسانو رأيه کمزورې معلومه شوې چې د آيتونو په تفسير کې يوازې د خپل مسلك خيال ساتي او غواړي چې هر آيت د خپل مسلك په ګټه تعبير او تفسير کړي. همدا راز د هغو کسانو رأيه مې ضعيفه موندلې چې د جدل لپاره او د خپل مخالف د پرځولو او پړ کولو لپاره ئې تفسير ته ملاتړلې، د نورو د مسلمانولو لپاره نه بلکې د کافر کولو لپاره، هدف ئې دا وي چې له خپل مسلك نه ماسوی ټول نور مسلکونه باطل او غلط ثابت کړي، دوی نورو ته په ښکنځلو او بد رد ويلو سره په حقيقت کې خپل ضعف او ناتواني پټوي، دليل

نلري نو ځکه ښکنځلو ته پناه وړي او غواړي چې ناپوه کسان د ده له مخالف فريق سره يو ځای نه شي!! هغه څوك په قرآن له پوهېدو عاجز وي چې ذهن ئې د تعصب په زهرو لړلی وي او د الله کتاب يوازې د مناظرې او جدل لپاره لولي.

- ما نه د هغه مفسر نوم اخيستی چې د ده رأي ته مې ترجيح ورکړې او نه د هغه چا چې رأي مې ضعيف موندلې. د دې لپاره چې هم د کلام له بې ځايه اطالې نه مخنيوی شوی وي او هم د حساسيتونو له پارولو نه. ډېر کسان داسې دي چې د خاص تفسير او مفسر په نسبت تعصب لري، هره وينا ئې مقدسه ګڼي، د خپل مسلك خلاف هر تفسير په پټو سترګو ردوي، نه د خپل مسلك مربوط تفسير ضعف ته پام کوي او نه د بل قوي استدلال ته څه اعتناء، د نومونو يادول د دوی حساسيتونه راپاروي، غوښتل مې دا کسان هم په سړه سينه خبره واوري.
- ځينې کسان داسې دي چې د تفسير او ترجمې په دوران کې د يوه لفظ ټولې هغه معانې رااخلي چې د لغت په کتابونو کې ئې بيامومي او د مختلفو معانيو له مخې د آيت ګڼ شمېر ترجمې او تفاسير وړاندې کوي، پرته له دې چې يوې ته په بلې ترجيح ورکړي او دا ووايي چې په دې خاص ځای کې کومه ځانګړې معنی مراد ده!! دوی ګومان کوي چې د يوه کلام کمال په دې کې دی چې ډېرې معانې ولري!! حال دا چې بليغ کلام هغه دی چې معنا ئې څرګنده وي، مخاطب مشخص، محدد او واضح مفهوم ترې واخلي، دا شك ورته راپيدا نه شي چې د کلام د خاوند هدف څه دی، برعکس د ويناوال هدف په صراحت او آسانۍ سره درك کړي. قرآن خو خپل ځان داسې معرفي کوي چې مبين، آسان، له شك نه فارغ او څرګند دی، يوه برخه ئې په بلې سره توضيح شوې، په واضح عربي ژبې کې لېږل شوی، ابهام او اغماض په کې نشته او د هرڅه تفصيلي بيان په کې راغلی.
- اصولاً د هر لفظ دقيقه معنی او مفهوم بايد تر ټولو د مخه په هغې جملې کې ولټوو چې دا لفظ په کې راغلی او بيا د همدې جملې نه مخکې او وروسته جملو کې او بيا په ټول مضمون کې. د قرآن د هر لفظ معنی هم بايد ترټولو مخکې په هغه آيت کې ولټوو چې دا لفظ په کې راغلی، بيا په مخکنيو او وروستنيو آيتونو کې،

بيا په مربوطه سورې کې او بيا په ټول قرآن کې. اکثراً يو لفظ د ډېرو شيانو لپاره استعمالېږي او بېلې بېلې معناوې ترې اخيستل کېږي، خو کله چې د يوې جملې په قالب کې لوېږي، معنى ئې محدد او مشخص شي، له ټولو معانيو نه ئې يوازې يوه معنى مراد وي، دا غلط اسلوب دى چې څوك د آيت په ترجمه او تشريح کې د هر لفظ ګڼ شمېر معاني راواخلي او د آيت لپاره د مختلفو معانيو احتمال ورکړي. هغه کسان چې د يوه آيت ګڼ شمېر معاني نقل کوي هغوى په حقيقت کې د آيت د اصلي مفهوم په بيانولو کې کمزوري او متردد وي او د الفاظو معاني ئې يوازې د لغت په کتابونو کې لټولې وي او د آيت سياق او سباق ته ئې پام نه وي کړى. هر آيت د يوه جامع مضمون يوه برخه وي، د دې مضمون په قالب کې يوازې يوه معنى افاده کوي، له مخکنيو او وروستنيو آيتونو سره په ګډه ئې يو مضمون جوړ کړى وي او يو مشخص او ثابت مطلب افاده کوي، که کله د قرآن د کوم آيت د مفهوم په معلومولو کې له اشکال سره مخامخ شوو نو تر هر څه د مخه بايد په هغه مجموعي مضمون کې د دې په معنى د پوهېدو سعي وکړو چې دا آيت ئې يوه برخه ده، بيا په ټوله مربوطه سورې کې او بيا په ټول قرآن کې، داسې نه چې مجموعي مضمون ته له پام کولو پرته او يوازې د لغت د کتابونو په مرسته د هغه معنى ولټوو او ګڼ شمېر احتمالات وړاندې کړو!! هر څوك چې دا اصل او قاعده له پامه غورځوي هم په خپله د آيت د اصلي مراد په موندلو کې پاتې راځي او هم خپل مخاطب په تردد کې اچوي.

- يو بل مشکل چې د تحقيق په دوران کې هر څوك ورسره مخامخ کېږي د ځينو تفسيرونو هغه آراء او نظريات دي چې نه د قرآن پر آيتونو مستند دي او نه د پيغمبر عليه السلام په صحيح الاسنادو احاديثو، په ډېر معمولي دقت سره به وګورئ چې دا آراء په اصل کې له اسرائيلي رواياتو نه پرته بله مرجع او مأخذ نلري، اسرائيلي روايات اکثراً، کيسې او افسانې دي، عوام ډېر ژر د کيسو تر اغېز لاندې راځي، مخصوصاً چې دا ډېرې حيرانوونکې وي او خارق العاده پيښې بيان کړي، دوى هغه تفسير او مفسر خوښوي چې همدا حيرانوونکې او عجيبې کيسې رانقل کړي،

دا کيسې په عوامو کې خورې شوې دي، د دين برخه ئې ګڼي او اوس هرې هغې خبرې ته د شك په سترګه ګوري چې له دغو کيسو سره اړخ نه لګوي، که څه هم د قرآن په صريح آيت او صحيح حديث مستنده وي، ای کاش دغو درنو مفسرينو دا اشتباه نه وی کړې او د دغو رواياتو له رانقلولو ئې په کلکه ډډه کړې وی.

• يو بل مشکل دا دی چې ځينو مفسرينو د هر آيت لپاره د يوه شأن نزول راوړل ضروري ګڼلی، په دغو شأن نزولونو کې به ډېر ژور او پراخ اختلاف او تعارض وګورئ، د هر مسلك او مذهب پلويان ځان ته ځان ته د شأن نزول سلسله لري، شيعه لږ تر لږه د دريو سوو آيتونو شأن نزول داسې ګڼي چې ګواکې د علي رضي الله عنه په هکله نازل شوي، خو له شيعه وو نه پرته نور بيا دا بې بنسټه ادعا ګڼي او وايي چې په ټول قرآن کې يو داسې آيت نشته چې صراحتاً يا اشارتاً ئې د علي رضي الله عنه په هکله څه ويلي وي او شأن نزول ئې د ده په اړه وي. ځينې شأن نزول د خپل مسلك په ګټه رانقل کوي او ځينې ئې د دې لپاره چې ګومان کوي دا د قرآن په مطلب باندې په ښه پوهېدو کې مرسته کوي، دا خبره تر يوه حده صحيح ده خو په دې هکله دوه خبرې بايد په پام کې ولرو:

١. د هر بليغ کلام يوه ځانګړتيا دا وي چې اورېدونکی په خپله له کلام او الفاظو او فحوی ئې د هغه په شأن نزول هم پوه شي، په دې هکله کوم ابهام او اغماض ورته پاتې نه شي چې دا کلام به په کومو ظروفو او شرايطو کې ويل شوی وي، مقصد به ئې څه وي او د چا په هکله به وي، عظيم الشأن قرآن د الله بليغ کلام دی اورېدونکي ته د ابهام هيڅ مجال نه پرېږدي، په لږ دقت سره ورته واضح کېږي چې مقصد ئې څه دی او چا ته متوجه دی.

٢. يو عام مخاطب د شأن نزول له اورېدو نه دا انتباه اخلي چې شايد دا مربوط آيت او حکم ئې خاص وي، همغو خاصو خلکو ته متوجه وي او نور ترې مستثنی وي، بديهي ده چې داسې انتباه خطرناکې پايلې لري، د قرآن هغه عام او کلي ارشادات چې تر قيامته او د زمانې په هر پړاو کې هر مخاطب ته متوجه دي، يوازې د نزول په زمانې پورې محدودوي. د شأن نزول ذکر په هغه ځای کې سم کار دی چې

هم ئې اسناد له هر راز شك او شبهې اوچت وي او هم ئې يادول ضروري وي او د مطلب د ښه توضيح په اړه مرسته وكړي.

يو بل مشكل دا دى چې د آيتونو د تفسير په اړه به هم په تفسيرونو كې د مفسرينو له بېلابېلو او مختلفو آراوو سره مخامخ شئ او هم د يوه آيت په اړه متعددو او متعارضو رواياتو سره، حتى وبه ګورئ چې د يوه آيت په ارتباط يوه كس ته ځو بېلابېل آراء منسوب شوي، كه چېرې له داسې اختلاف سره مخامخ شوئ نو پوه شئ چې:

- له پيغمبر عليه السلام نه په دې اړه موثق حديث نشته. كه داسې حديث وى نو هيڅكله به دا مختلف آراء نه وړاندې كېدل.
- كه درنو مفسرينو صحابه وو ته منسوب آراء موثق ګڼلى هيڅكله به ئې بله رايه نه وركوله.
- يوه شخص ته په يوې موضوع كې منسوب دوه متعارض آراء؛ روايت او اعتبار ئې تر سوال لاندې راولي.
- دا اختلاف نه يوازې له مونږ څخه غواړي چې په ټولو آراوو غور وكړو او تر ټولو مضبوطه او مستدله ئې انتخاب كړو، بلكې مونږ ته حق راكوي چې د قرآن د نورو آيتونو په رڼا كې د دغو آيتونو د اصلي معنا په لټه كې شو.
- په داسې مواردو كې به دې ته نه ګورې چې روايت چا ته منسوب شوى، او په دې بنياد به يوه ته په بل ترجيح نه وركوې، دې ته به ګورې چې كوم يو په قوي دلايلو ولاړ دى او له قرآن سره سمون خوري.
- د صحيح حديث او د قرآن ترمنځ هيڅكله تعارض نه شي راتلى، هيڅ مسلمان په دې خبرې كې شك نلري، د چا چې پر خداى او پيغمبر ايمان وي د پيغمبر عليه السلام له هيڅ‌ينا سره به اختلاف ونكړي، كه څوك له يوه روايت سره اختلاف كوي وجه ئې دا وي چې په ثقه والي ئې باور نه لري، يو حديث د يوه محدث له نظره صحيح وي خو بل ئې ضعيف ګڼي، مګر تاسو نه ګورئ چې د ډېرو ځرګندو مسئلو په هكله د محدثينو او فقهاوو ترمنځ اختلاف شته، د اختلاف وجه همدا ده چې

يوه ته يو روايت صحيح معلوم شوی او بل ته ضعيف، د پيغمبر عليه السلام نږدې اتلس زره لمونځونه په زرهاوو خلکوپه مدينه منوره کې ليدلي،خو سره له دې ګورو چې د رفع اليدين، آمين بالجهر، د بسم‌الله الرحمن الرحيم قرائت، اقامت ... په هکله اختلاف شته، د پيغمبر عليه السلام په ژوند کې په زرهاوو کسانو د حجاب څرنګوالی په خپلو سترګو ليدلی، خو دا دې ګورئ چې په دې هکله اختلاف شته، د فقهاوو ترمنځ هم او د محدثينو تر منځ هم، دا نن‌په سعودي کې د الباني او مرحوم ابن باز او د دوی د پلويانو تر منځ اختلاف شته!! که د داسې څرګندو قضاياوو په هکله د اختلاف (حتی ژور اختلاف) شاهد يو، نو د قرآن د آيتونو د تفسير په اړه به اختلاف رأی څومره وي؟!! په دې هغه څوك ښه پوهېږي چې د خاص مسلك او په هغه پورې د مربوط تفسير په اړه تعصب ونلري، او په سړه سينه مختلف تفاسير له نظره تېر کړي، او وګوري چې د يوه آيت په اړه يوه راوي ته متعدد متعارض روايات منسوب شوي !! مونږ چې کله وايو د صحيح حديث او د قرآن ترمنځ هيڅکله تعارض نه شي راتلی، معنا ئې دا ده چې کله کوم روايت داسې ومومو چې له قرآن سره تعارض لري بايد ووايو چې دا په هيڅ صورت کې د پيغمبر عليه السلام حديث نه شي کېدی. او د دې معنا دا نه ده چې نعوذبالله مونږ په کوم راوي د دروغو ويلو تور لګوو، معنا ئې دا ده چې د مطلب په انتقال کې حتماً چېرته اشتباه شوې، اوربدونکی په مطلب سم نه دی پوه شوی، د الفاظو په انتقال کې ترې اشتباه شوې.... د هر مؤمن او غير متعصب محقق له نظره بايد قرآن د هر څه لپاره، د رواياتو په شمول، معيار او ملاك وي، يوازې هغه روايت ومني چې له قرآن سره تعارض ونلري، کوم روايت چې له قرآن سره اړخ نه لګوي بايد په احترام سره ئې يوې خوا ته کېښږدو، نه ئې وليکو او نه استناد پرې وکړو. بايد له دې وېره ولرو چې پيغمبر عليه السلام ته هغه څه منسوب کړو چې هغه نه دي ويلي، د داسې چا ځای د جهنم اور دی. ابوبکر رضي الله عنه له همدې وېرې ونه غوښتل چې له ده نه ليکلي احاديث پاتې شي، له همدې وېرې صحابه وو د احاديثو د ليکلو جرأت نه کاوو، د احاديثو موجود کتابونه نږدې درې نسله وروسته ليکل شوي او دا هم د

يوه ستر مجبوريت په وجه، او په دې خاطر چې په لکونو موضوعي احاديث په خلکو کې خواره شول. کاش دا سې څوك راپيدا شي چې د احاديثو او رواياتو په اړه هغه‌کار وکړي چې عثمن رضي الله عنه د قرآن عظيم الشأن د مختلفو نسخو په اړه وکړل. په‌دې سره به هم د امت تر منځ د اختلاف يوه لويه وجه له منځه ولاړه شي او هم به بېل‌بېل مذاهب او فرقې متحد شي. دا يوازې مسلمانان نه دي چې د مختلفو رواياتو په وجه په اختلاف اخته شول، تېر امتونه هم د رواياتو په وجه په اختلاف اخته شوي، د همدغو رواياتو په وجه دوی د الله تعالی کتاب شا ته غورځولی او په جعلي رواياتو پسې تللي، تاسو که بايبل وګورئ نو ډېرژر به متوجه شئ چې دا د ځو قصو او رواياتو مجموعه ده، له خرافاتو ډکې قصې، دا سې قصې چې هيڅ عقلمند انسان ئې نه شي منلی، انسان حيران پاتې شي چې مسيحيان څنګه دا د يوه مقدس الهي کتاب په ځېر مني، باور وکړئ چې د دې کتاب‌په سلو کې تر اتيا زياتې برخې ئې مسخره روايات او بې بنسټه قصې دي، څه چې په دې کتاب کې ډېر لږ تر سترګو کېږي نو هغه د انجيل او د الهي کتاب لارښوونې دي

- هغو درنو شخصيتونو چې احاديث ئې راغونډ کړل، وئې چڼل، صحيح، ضعيف او موضوعي ئې سره بېل کړل، هر يوه له لکونو احاديثو څخه يوازې ځو زره غوره او وليکل، دوی په امت لوی احسان کړی، الله تعالی دې دوی ته ستر اجر او د جنت لوړې درجې ورکړي، خو بايد دا ګمان ونکړو چې د پيغمبر عليه السلام ټول احاديث په بشپړه توګه نقل شوي، دا خبره يوازې هغه ځوك کولی شي چې له غلو او افراط نه وېره نه لري . د مدينې منورې په لسو کلنو کې پيغمبر عليه السلام ځومره د جمعې او اختر لمونځونه کړي، چې په هر يوه کې ئې دوه خطبې ورکړې؟ د ځومره جنګونو په اړه ئې خبرې او لارښوونې کړې؟ د ځومره مهمو پېښو او مسئلو په اړه ئې وخت‌په وخت خطبې ورکړې؟ يوازې له دغو خطبو او لارښوونو نه ضخيم ضخيم کتابونه جوړېدی شول، خو په دې خاطر چې پيغمبر عليه السلام په خپل ژوند کې د احاديثو د ليکلو اجازه نه وه ورکړې، نن ئې د احاديثو په کتابونو کې نه شو موندلی. خو د پيغمبر عليه السلام د ټولو خطبو نچوړ او خلاصه زمونږ‌په واك کې

ده، هغه مبارك چې څه ويلي خلاصه ئې دغه قرآن دی، د ده ويناوې د دغه قرآن شرح او تفصيل وو، د دغـه قرآن پـه رڼا کې ډېر پـه آسـانـي سره قضاوت کولی شو چې پيغمبر عليـه السـلام بـه کومـه خبره کړې وي او کومـه نـه!! لـه دې د مخه چې د يـوه روايت د اسنادوپه هکلـه غـور وکـړو بايـد پـه دې غـور وکـړو چې دا روايت لـه قـرآن سره سمون خوري که نه!! په اسنادو به ئې له دې وروسته بحث کوو.

- د جهاد په غېږ کې د افغانانو يو نوی نسل راوټوکېدو، هغه چې په خبرې د پوهېدو له ورځې تر ځوانۍ پورې ئې تل د قرآن، جهاد، شهادت او هجرت په څېر شعارونه اورېدلي، په خپلو وينو سره زخميان ئې ليدلي، د مهاجرينو قافلې ئې ترسترګو شوې، په کليو ئې وېروونکې بمبارۍ ليدلې، هره ورځ ئې د توپونو او ټانکونو غږونه تر غوږ شوي، په کور کې ئې خپل پلار او مشر ورور، په جومات کې ئې امام او خطيب او په سنګر کې ئې مجاهد ليدلی چې د قرآن آيتونه لولي او نورو ته د صبر او جهاد توصيه کوي، له قرآن سره ئې مينه راپيدا شوې، غواړي په قرآن پوه شي، د دې لپاره نه چې د کوم جومات امامت ترلاسه کړي او دا ئې د امرار معاش وسيله شي، بلکې د دې لپاره چې قرآن ئې لارښود شي، په قرآن د پوهېدو تنده ئې ماته شي، مسلمان دی، له اسلام سره ئې مينه ده، له اسلام نه په کلکه دفاع کوي، د اسلام لپاره هرې قربانۍ ته چمتو دی، په عربي نه پوهېږي، صرفي او نحوي تحقيق ته ضرورت نلري، په ديني مدرسو کې ئې سبق نه دی ويلی، زده کړې ئې په مکتب او پوهنځي کې کړې، ساينس، فزيك او کيميا ئې لوستي، خاصه ژبه، خاصه سليقه او ځانګړې پوښتنې لري، د هر آيت مطلب په پښتو کې اورېدل غواړي، دې ته تږی دی چې پوه شي قرآن د هغو شيانو په هکله څه ويلي چې ده د کيميا او فزيك په کتابونو کې لوستي، دا ئې هم په مکتب کې له مخالفينو نه اورېدلي چې د قرآن ډېرې ويناوې له ساينس سره تعارض لري او هم ئې له خطيب او امام نه اورېدلي چې د معاصرو علومو ادعاګانو ته اعتناء مه کوئ، دا د قرآن خلاف دي، غواړي پوه شي چې د قرآن او ساينس تر منځ تعارض او توپير شته که نه؟ ده د انسان، حيوان، نبات، ځمکې، آسمان او غرونو د پيدايښت په اړه ډېر څه

په خپلو درسي کتابونو کې لوستي، غواړي پوه شي چې په دې هکله قرآن څه ويلي؟ کله ئې له کمونيستانو سره مناقشه راشي او کله له غرب پالو لاابالي عناصرو سره، دواړه ئې په ګډه مقابله کوي، دوی دواړه له اخلاقي او فکري لحاظه يوه بل ته ورته دي، د شوروي اتحاد له زوال نه وروسته خو اوس کمونيست ديموکراتان غرب پاله ديموکراتان شوي او له هغوی سره ئې د اسلام په ضد ګډه جبهه جوړه کړې او د غرب پالو تر قومندې لاندې د اسلام په ضد جنګېږي، غربي استعماري ځواکونه د اسلام په ضد په خپل سياسي او فکري تهاجم کې څومره چې په کمونيستانو او نشنلستانو ترکيز کوي او مفيده وسيله ئې ګڼي له غرب پالو ديموکراتانو نه هومره طمع نلري، د غربي فرهنګ په ډنډ کې لوېدلي لاابالي عناصر نه خاص فکر لري، نه د مسئوليت قبلولو ته غاړه ږدي، نه د کوم هدف لپاره زيار او زحمت ايستلو ته تيار دي، يوازې د اخلاقي فساد په خورولو کې له دوی نه ښه استفاده کولی شي، خو د اسلام په ضد په فکري مبارزه کې بايد له هغو نه کار واخلي چې د يوې مفکورې په نسبت د التزام دعوی کوي او په اسلام باندې د اعتراض مواد په واك کې لري. مسلمان ځوانان له دې مبارزې سره مخامخ دي، د مدرسو په کتابونو کې د مخالفينو د اعتراضاتو ځوابونه نه شي موندلی، د دغو مبارزو ځوانانو لپاره د قرآن داسې ترجمه او شرحه ضروري وه چې د دوی تنده رفع کړي، که زه په دې موفق شوم چې د دغه ځوان نسل تنده څه نا څه رفع کړم نو دا به پر ما د الله تعالی ډېره لويه پېرزوينه وي.

- هغه مسلمان ليکوال، خطيب، واعظ، داعي او مدرس ډېره لويه اشتباه او جفا کوي چې درسونه، ليکنې، خطبې او موعظې ئې له قرآن نه پرته له بلې چينې نه خړوبېږي او له قرآن نه پرته بل څه ته بلنه ورکوي. اسلامي امت تر هر څه د مخه قرآن ته د راګرځېدو يوه تند او څپانده خوځښت ته ضرورت لري، راشئ په دې تحريك کې برخه واخلو، په بل څه يوازې هغه وخت مصروف شو چې له قرآن نه فارغ شوي وو خو که دا ممکن وي، په مدرسه کې بايد لومړی او اساسي مضمون قرآن وي او نور ټول ثانوي، ضمني او ممد مضامين، نه دا چې قرآن وروستی مضمون او

صرف، نحو، فقه، حدیث، منطق او فلسفه لومړي او اساسي مضامین، داسې نه چې قرآن هم د صرف او نحوې د تمرین لپاره ولوستل شي!! د نشراتو اساسي برخه باید د قرآن په رڼا کې څېړنې او تبصرې وي نه دا چې په یوه ګوښه کې ئې د څو آیتونو تحت اللفظي ترجمه د تبرك لپاره او یا په دې غرض راشي چې وښیي دا نشریه اسلامي ده!! د خطیب او واعظ وینا باید د قصو او ضعیفو روایاتو په ځای، په قرآني آیتونو مستنده وي او خلکو ته د ژوند د ټولو ورځنیو مطرحو قضایاوو په اړه د قرآن په استناد لارښوونې وکړي، دا همغه کار دی چې پیغمبر علیه السلام او د ده صحابه وو رضوان الله علیهم اجمعین کاوو او په همدې کار سره هغوی اسلام د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورساوو.

- قرآن له هره پلوه مکمل دی، وینا ئې تر هرې وینا مؤثره، استدلال ئې تر هر استدلال قوي او وعظ ئې تر هر وعظ اغېزناك، څومره چې په قرآن سره کولی شئ خپل مخاطب قانع کړئ په بل څه ئې نه شئ قانع کولی.

اللهم ارنا الحق حقاً وارزقنا اتباعه
و ارنا الباطل باطلاً وارزقنا اجتنابه

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحيم

# الملك

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الملك (واکمني) ده، چې له لومړۍ آيته اخيستل شوی ۳۰ آيتونه لري، د فواصلو اوزان ئې څلور دي؛ قدير، غفور، مستقيم او تشکرون ته ورته، له لومړي آيته تر ۲۱ پورې د آيتونو فواصل د دوو لومړنيو آيتونو په څېر کله قدير او کله غفور ته ورته دي، او له ۲۲ مه تر د برشم پورې کله د مستقيم په څېر او کله د تشکرون په څېر وزن لري. مکي سوره ده، په څو آيتونو کې ئې داسې نښې ګورو چې ښيي دا سوره د مکې په هغې مرحلې کې نازله شوې چې د قريشو سردارانو د پيغمبر عليه السلام په ضد خپل مخالفت تشديد کړی او د ده تکذيب ته ئې کلکه ملا تړلې.

د دې سورې د بحث محوري موضوع په ځمکه او آسمان کې د الله تعالی د واکمنۍ شرح او توضيح ده، په حقيقت کې الملك (واکمني) يوازې د دې سورې نوم نه بلکې د مضامينو لپاره ئې عنوان هم دی، په لږ دقت سره دا راته جوتېږي چې د سورې د لومړي آيت مفهوم په ټولې سورې سيوری غوړولی او ټول آيتونه ئې د دغه آيت شرح او تفصيل دی. سوره په دې آيت پيل کېږي:

تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ * مبارك دی هغه ذات چې

واكمني د ده په لاس كې ده، او په هر څه ښه قادر دی.

وروستي آيتونه د دې واكمنۍ څرنګوالی او ابعاد ئې توضيح كوي: په دې ترتيب چې:

په دوهم آيت كې داسې راغلي: هماغه چې مرګ او ژوند ئې راپيدا كړ ترڅو تاسو وآزمويي چې كوم يو مو په عمل كې ښه او غوره دی او هغه ډېر بخښونكی عزتمن دی. يعني الله تعالی د مرګ او ژوند پيدا كوونكی دی، د مرګ او ژوند پرېكړه دی كوي، كه مړه توكي په ژونديو بدلېږي، او له څه مودې وروسته بېرته په مرګ محكومېږي، دواړه د الله تعالی له لوري دي، د مرګ او ژوند د راپيدا كولو هدف دا دی چې تاسو وزآمويي. همداراز كه ځينې توكي مړه مومې او ځينې ئې ژوندي، دواړه په خپل خپل عمل لګيا ، يو ئې له نسبي آزادۍ سره او بل ئې مقيد ، د دواړو د راپيدا كولو مقصد او هدف دا دی چې وليدی شي كوم يو ښه عمل كوي او خپله وظيفه سمه ترسره كوي. ، يعني دواړه د خاص خاص عمل لپاره پيدا شوي.

په درېيم آيت كې د اوو آسمانونو پوړ پوړ پيداينښت د الله تعالی د واكمنۍ بله بېلګه ښيي، او فرمايي: د الله تعالی په مخلوقاتو كې نه بېلوالی او تفاوت موندلی شي او نه چاود او تشه، هر څه هدفمند ، بامقصده، او حكيمانه پيدا شوي، د دې پراخ او وسيع عالم په ټولو برخو كې به ژور يووالی، نظم، او تنسيق وګورې، دا له ځلاندو ستورو ډك آسمان ګورې چې د خپل پالونكي او ساتونكي رب په حكم، دا ټول بې شمېره ستوري په خپل خپل مناسب مدار كې ساتي، او د دوی تر منځ د ټكر او تصادم مخه نيسي، دا ځلانده ستوري ګورې چې نه يوازې ستا د دنيا آسمان ته زينت او ښكلا وركوي، بلكې دا د هدايت مصابيح او څراغونه دي، د هغو انسانانو لپاره د ځلاندو څراغونو حيثيت لري چې غواړي په حقيقت پوه شي، او دا د هغو شياطينو د رټلو او شړلو غشي دي چې د انسان د بې لارې كولو لپاره ئې ملا تړلې.

وروسته فرمايي: هغه خلك چې د عالم په پراخې غېږ كې، دغو ټولو لارښوونكو نښو ته پام نه كوي، د مالك الملك رب له پېژندا عاجز شوي، او د كفر

او انکار لار ئې غوره کړې، د جهنم مستحق دي، خو داسې چې جهنم به سخت په دوی غصه وي، داسې به ورته غړمبېږي چې نږدې ده له ډېر شور او ځوږه وچوي، د جهنم ساتونکي به هرې هغې ډلې ته چې ورننوځي وايي: آيا کوم لارښود او پيغمبر نه وو درته راغلی؟ دوی به ورته وايي: ولې نه! پيغمبر خو راغلی وو، خو مونږ تکذيب کړ او ورته ومو ويل: خدای کوم څه نه دي رالېږلي، تاسو سخت دوکه شوي او بې لارې يئ، بيا به په دې خبرې اعتراف کوي چې: که مونږ د دوی خبرو ته غوږ اينښی وی او يا مو په خپله تعقل کړی وی، نو نن به په دوزخ کې نه وو پراته، هم به په دې اعتراف کوي چې د لارښودونکو لارښوونو ته د عدم توجه په وجه، د دوزخ مستحق دي او هم په دې خاطر چې له خپل عقل او شعور په نه کارولو سره ئې د لارښودونکو نښو نه عبرت نه وو اخيستی!! هم به په خپلې ګناه اعتراف کوي او هم به خپله سزا عادلانه ګڼي!! خو دا اعتراف به هيڅ ګټه نه شي وررسولی. خو د دوی په مقابل کې هغه کسان چې خپل رب ئې پېژندلی او غائبانه ترې وېرېدلي، او له ګناه او تېرې ئې ځان ساتلی، دوی ته به الهي بخښنه او ستر اجر ورپه برخه شي.

ورپسې فرمايي: مواظب اوسئ چې ستاسو معامله له هغه رب سره ده چې په هر ځای او هر حال کې ستاسو څارنه کوي، نه مو د زړه اسرار ترې پټ دي او نه څرګند اعمال، تل درسره دی، د ده څارنې او مراقبت په هرڅه سيوری غوړولی، هم مو ټيټ غږ اوري او هم لوړ، هم تل او په هر ځای کې د ده تر څارنې لاندې يئ او هم ئې د عنايت او رعايت تر سيوري لاندې، آيا هغه ذات چې ستا او ستا د زړه او دماغ د سلول سلول رب دی، او ستا افکار، عزايم، موخې، نيتونه او د زړه غوښتنې هم د ده په إذن او اراده راټوکېږي، هغه به د خپل مخلوق له حاله بې خبره او څه به ترې پټې پاتې کېږي؟!! او له پالنې به ئې غافل کېږي؟ داسې هيڅکله نه شي کېدی، ستا رب لطيف او خبير دی، ذرې ذرې ته رسېدی شي او له ذرې ذرې خبرېدی شي.

د الله تعالی د واکمنۍ بل مظهر او بېلګه دا ښيي چې ځمکه ئې مونږ ته مسخر کړې، د انسان په خدمت کې او ورته مطيع، پر اوږو ئې درومي او رزق روزي

ورکوي. انسان بې ځایه داسې ګمان کوي چې دا ځمکه تل همداسې وه او تل به همداسې وي، تل به انسان پر خپلو اوږو وړي، او د تل لپاره به ده ته دانه او مېوه ورکوي!! ولې له دې ډاډه شوی چې دا ځمکه ناڅاپي وخوځېږي، خسف شي، دی او هر څه ئې تر خاورو لاندې کړي؟ مګر د هغه رب له نیونې او مؤاخذې ځان خوندي ګڼئ چې د ځمکې او آسمانونو ټولواك دی؟ آیا له دې وېره نه لرئ چې تندې سیلۍ درباندې راولېږي او هر څه درباندې رانسکور کړي؟ مګر خبر نه یې چې د پیغمبرانو علیهم السلام د مخالفت په وجه مخکني قومونه له کوم عبرتناك برخلیك سره مخامخ شوي؟ آیا د دوی مؤاخذه دا حقیقت نه ثابتوي چې ستا د اوسېدو دا کور، چې ځمکه ئې فرش او آسمان ئې چت دی، یو داسې ټولواك لري چې د انسانانو په ټولو کړو وړو نظر ساتي، او مناسبه سزا ورکوي؟!!

وو‌ایه: د چا په حکم او توفیق دا مرغان له ځمکې بېلېږي، او د ځمکې په فضاء کې وزرې وهي، کله په پرانیستو وزرونو مخکې درومي او کله په راغونډو وزرونو؟ څوك ئې په فضاء کې ساتي؟ چا مرغان داسې پیدا کړي چې الوتی شي؟ چا طبیعت داسې پیدا کړی او داسې ضوابط او سنن ئې په کې اېښي چې مرغانو ته د الوتو توان ورکوي؟ تاسو ته د بېلابېلو کارونو د کولو توفیق څوك درکوي؟ دا رنګ رنګ استعدادونه او ځواکونه چا درکړي؟ آیا له رحمان خدای پرته بل داسې څوك په نظر درځي چې په دې کار کې ئې څه ونډه وي، تاسو ته د دې استعدادونو په ورکړې کې ئې څه اغېز وي او د کارونو د ترسره کولو توفیق مو د هغه له لوري وي؟ څومره کم عقله او ناپوه دی هغه انسان چې په عالم کې د الله تعالی د مطلقې واکمنۍ په حقیقت باور نه کوي او پرې کافر کېږي!! بیا فرمایي: که الله تعالی خپل رزق له تاسو وسپموي، آسمان ئې له ورښته ډډه وکړي او ځمکه ئې د دانې او مېوې له پیدا کولولاس واخلي؛ هغه څوك دی چې بیا تاسو ته روزي درکړي؟ له آسمانه اوبه راووروي او له ځمکې دانه اومیوه راشنه کړي؟! آیا د الله تعالی په واکمنۍ د نه باور لپاره له احمقانه لجاجت او سرغړاوي پرته بله وجه ښودی شو؟ آیا له حقایقو نه تېښته او نفرت د دې یواځنی عامل نه دی؟ دا کافر او له حقایقو منکر انسان نه

ګوري چې الله تعالی هر څه ښايسته، ښکلي او سم پيدا کړي، هر څه په هغه ښه او کيفيت کې ښه، ښکلی او ګټور دی چې الله تعالی په کوم کيفيت کې پيدا کړی، د هر څه په کيفيت او کميت کې او په شکل او ښه کې لږ تغيير او بدلون هم د هغه ښايست او ښکلا له منځه وړي او هم ئې افاديت ختموي، هم هغه ته تاوان رسوي او هم ئې ماحول ته، که په دې اصل باور نه لرې راشه په يوه غير فطري عمل لاس پورې کړه، وئې آزمويه، د دې په ځای چې په ولاړه، په خپلو پښو، او د خپلو سترګو په مرسته وخوځې، همغسې چې الهي سنن حکم کوي او همغسې چې ستا فطرت ئې تقاضاء کوي، برعکس پر مخې د تلو هڅه وکړه، وګوره چې نتيجه به ئې څنګه وي؟ وګوره چې په فطرت کې تبديلي او د الهي سننو مخالفت او د توکيو غير فطري او معکوس کارول څه نتيجه ورکوي؟ ټول هغه استعدادونه چې تا ته درکړی شوي، د ښه او بد په پېژندا کې ستا مرسته کوي، مفيد له مضر، سم له ناسمه، کږه او مستقيمه لار درښيي، په سمې لار د تلو مرسته درسره کوي، دا سترګې، غوږونه، زړه او عقل الله تعالی درکړي، او د ده په اراده ستا په خدمت کې دي او مرسته دې کوي، خو تاسو ډېر لږ د دې نعمتونو قدر کړی او ډېر لږ مو د خپل منعم رب شکر کړی!! خو يوه شئ چې په هر صورت کې به د خپل رب په لوري ورګرځئ، هغه رب ته چې تاسو ئې پيدا او په ځمکې کې ئې خواره کړئ، دا ورځ هرو مرو راتلونکې ده، پيغمبر عليه السلام د دغې ورځې د ناڅاپي راتلو خبرداری درکوي.

د دغو مطالبو په پای کې پيغمبر عليه السلام ته لارښوونه کېږي چې د دعوت معارضينو او مخالفينو ته ووايي:

۱ـ تاسو چې زما او زما د پلويانو د ورکې او له منځه تلو انتظار کوئ او خپل ټول زور ځواك مو په دې لار کې کارولی، که احياناً الله تعالی ستاسو دا انتظار ترسره کړي، ما او زما پلويان ووژني او يا ستاسو د هيلې او انتظار خلاف پر مونږ خپل رحمت او عنايت پېرزو کړي، نو څوك به کافران له دردناك الهي عذابه ژغوري؟ څوك به له الهي عذابه تاسو ته پناه درکړي؟!!

۲ـ مونږ په هغه رب ايمان راوړی چې ډېر زيات مهربانه دی، پر هغه مو توکل

کړې او ځان مو هغه ته سپارلی، ډېر ژر به وګورئ چې څوك په حقه وو او څوك په ناحقه، څوك په سمه لار روان وو او څوك په کږو؟

۳. تاسو خو د دې عالم په ټولواك رب باور نه لرئ، خو ووايئ: كه دا اوبه مو په ځمكې كې ننوځي؛ آيا داسې څوك په نظر درځي چې له كومې چينې روانې اوبه درته راوباسي؟!!

[illegible]

---

[illegible]

---

۱- مبارك دی هغه ذات چې واكمني ئې ده په لاس كې، او ښه قادر دی په هر څه. ۲- هغه ذات چې مرګ او ژوند ئې راپيدا كړ ترڅو وآزمويي تاسو چې كوم يو مو ښه او غوره دی عمل كې؟ او هغه دی ډېر بخښونكی عزتمن. ۳- هغه ذات چې اوه آسمانونه ئې پوړ پوړ پيدا كړل، د رحمن په مخلوقاتو كې بېلوالی ليدی نه شې، نو وغړوه سترګې، آيا ګورې كوم يو چاود؟ ۴- بيا هم وغړوه سترګې په وار وار، راوبه ګرځي سترګې ستا په لوري نامراده او وي

به ارمانجنې.

۱ـ په دې مبارك آيت كې د الله تعالى څو صفاتو ته اشاره شوې:

الف: الله تعالى مبارك او تلپاتې دی، تبارك د بركت د مبالغې صيغه ده، چې هم مباركوالى افاده كوي او هم نه ختمېدا او پای نه موندل.

ب: واكمني په مطلقه توګه د ده په واك كې ده، د عالم د ټولو چارو واګې ئې په لاس كې دي، او حكم ئې د كائنات په ګوټ ګوټ كې نافذ او حاكم دی.

ج: په هر څه او هر كار ښه قادر دی.

يعني هغه ذات چې دا خور او پراخ عالم اداره كوي او د واكمنۍ مظاهر ئې هره خوا تر سترګو كېږي؛ دوه څرګند صفات لري:

الف: با بركت دی، د ده د پېرزوينو او عنايت سيوری پر ټولو غوړېدلی، ټول د ده د فيض له چينې خړوبېږي، د هغو واكمنانو په څېر نه دی چې تل له خپل رعيت نه څه د ځان لپاره غواړي، بلكې د ده د بابركته واكمنۍ له فيضه ده چې بندګانو ته پرېمانه رزق روزي وركول كېږي او پر دسترخان ئې راز راز خوراك څښاك ترسترګو كېږي.

ب: په هر كار قادر دی، د دې پراخ او ستر عالم اداره، او د دې بې انتهاء كائنات د ټولو بې شمېره توكو حفاظت او په خپل خپل ځای كې د هر څه ساتنه ښيي چې د دې عالم ټولواك رب په هر څه قادر دی.

په ډېر لږ دقت سره مومو چې د الملك سوره په حقيقت كې د لومړي آيت شرح او تفصيل ده، د الله تعالى د واكمنۍ څرنګوالى او ابعاد ئې د دې سورې په ټولو آيتونو كې څېړل شوي، او د اثبات لپاره ئې مضبوط دلايل وړاندې شوي.

۲- په تفاسيرو كې د دې آيت په اړه دوه د پام وړ تعبيرونه زمونږ مخې ته راځي:

الف: د دې عالم ټولواك هغه ذات دی چې مرګ او ژوند ئې پيدا كړی، هم ژوندون د ده پېرزوينه او د قدرت نښه ده او هم مرګ، مړو توكو ته دی ژوند

ورکوي، او په خپل وخت ئې د مرګ پرېکړه د ده له لوري صادرېږي، که ژوند د ده د قدرت نښه ده نو مرګ هم د دې نښه چې انسان او هر ژوندی مخلوق د ده د ارادې په وړاندې مقهور او محکوم دی، نه غواړي په مرګ محکوم شي خو چاره نه لري، خامخا به د مرګ داعي ته لبيك وايي. ګمان مه کوئ چې مرګ او ژوند دوه تصادفي او بې هدفه پېښې دي، نه؛ ژوند يو آزمېښت دی، او مرګ د دې آزمېښت پای او د پايلو او کامياب او ناکام د اعلان لپاره او هر يوه ته د مناسبې بدلې او سزا ورکولو لپاره يوه نېټه.

ب: د دې عالم ټولواك رب هغه ذات دی چې ځينې شيان ئې مړه پيدا کړي او ځينې ژوندي، دا د دې لپاره چې معلومه شي کوم يو ئې په عمل کې تر بل ښه دی او خپله دنده تر بل په ښه توګه ترسره کوي؟ په دې عالم کې ټول موجود توکي، ژوندي دي که مړه، ووړ او لوی ئې، له يوه اتمه تر ستور ليکو، له ويروسه تر انسانه، هر يو ئې د ځانګړي کار او مقصد لپاره پيدا شوی، يوه دنده ورسپارل شوې، شته والي ئې دلته يوه تشه ډکه کړې، او په خپل کار چې ئې کومه نتيجه مرتب کېږي، په دې سره يوې اړتيا ته ځواب ويل کېږي او يو ضرورت رفع کېږي، يو ئې کاملاً محکوم او مقهور دی، او په کامل انقياد سره خپله دنده ترسره کوي، نه په خپل مأموريت کې يوه شېبه ځنډ او لټي کوي او نه يوه ذره سرغړاوی او عصيان، نه د خپلې وظيفې او دندې د انتخاب اختيار ورکړی شوی او نه له هغه مسيره د انحراف توان چې ورته ټاکل شوی. خو بل ئې نسبي آزادي لري، د انتخاب اختيار ورکړی شوی، کولی شي له دوو لارو يوه غوره کړي، دا اختيار لري چې په دوو کې يو بديل انتخاب کړي. ټولواك رب دا دواړه پيدا کړي او د پيدا ينښت هدف ئې دا دی چې يو تر بل غوره عمل وکړي.

د دې آيت په الفاظو کې د پورتنيو دواړو تعبيرونو لپاره مجال شته خو دوهم تعبير په څو دلايلو ارجح دی:

لومړی: (مرګ) او (ژوند) داسې څه نه دي چې په مستقله توګه او له (ژونديو او مړو اجسامو) پرته شته والی ولري، مرګ او ژوند په ژونديو او مړو شيانو پورې

ترلې حالتونه دي، له دوی سره یو ځای مطرح دي، د مرګ او ژوند پیدا ایښت له دې پرته په بله معنا نه شو اخیستی چې الله تعالی مړه او ژوندي شیان پیدا کړي.

دوهم: له (حیاة) نه مخکې د (موت) یادونه ښیي چې هدف ترې مړه او ژوندي شیان دي که داسې نه وای نو لومړی به د ژوند او بیا به د مرګ یادونه کېده.

دریم: که ووایو چې (مرګ) د ابتلاء او آزمېښت لپاره پیدا شوی دا تعبیر په دې دلیل صحیح نه دی چې په حقیقت کې (مرګ) د آزمېښت او ابتلاء پای دی، په مرګ سره د انسان د آزموینې مرحله پای ته رسېږي، خو دا تعبیر چې الله تعالی (اموات) او (احیاء) پیدا کړي تر څو معلومه شي چې کوم یو ئې ښه عمل کوي، دا یو واضح او څرګند مطلب افاده کوي.

څلورم: د آیت په پای کې د (عزیز) او (غفور) راتګ یوازې دغه تعبیر تائیدوي او له بل تعبیر سره اړخ نه لګوي، یعني هغه ټولواك رب چې د دې عالم هر څه، مړه او ژوندي ئې پیدا کړي او مړه توکي په بااحساسه او باشعوره ژوو بدلوي، بې له شکه چې ځواکمن او عزیز ذات دی، که ئې ځینې مخلوقات کاملاً مقهور او محکوم پیدا کړي، دا د دې لپاره چې دی (عزیز) دی او دا د ده د ځواکمنۍ او مطلقه قدرت ننښه ده، او که ئې ځینې نور ژوندي پیدا کړي، نسبي آزادي او اختیار ئې ورکړی، دا هم د ده مطلقه قدرت څرګندوي، خو د دغو ژوندیو په اړه د ده معامله په غفران او بخښنې ولاړه ده، که دا ډله مخلوقات ونتوانېدل چې خپلې دندې او مأموریتونه د مخکنۍ ډلې په څېر په سمه توګه او له کوم قصور، نقص او خطا پرته ادا کړي، او له دې لحاظه له مخکنۍ ډلې وروسته پاتې او په آزموینې کې ناکام شول، (غفور) او بخښونکی رب ئې فوراً نه نیسي، بلکې مهلت ورکوي او بخښي ئې، که څه هم عزیز دی او فوري مؤاخذه ورته آسانه.

۳-۴ په دې آیتونو کې چې الله تعالی د ټول عالم خالق معرفي شوی څو مهم مطالب مومو:

الف: هغه ذات چې د واکمنۍ مظاهر ئې په ټول عالم کې هرې خوا ته ګورو، هماغه ذات دی چې هم (ملك) دی او هم (خالق)، هم ټولواك دی او هم پیدا کوونکی،

آسمان او ځمکه د ده داسې ملك چې په خپله ئې پيدا کړی. دا د آسمان اووه ګونې پوړې ئې پيدا کړې، او چارې ئې په خپله د ده په واك کې دي.

ب: داسې ګمان مه کوئ چې د ځمکې او آسمانونو له پيدا کولو او په عالم کې د سننو او ضوابطو له وضع کولو وروسته ئې هر څه خپلې مخې ته پرېښې، اوس هر څه د همدې طبيعي سننو مطابق ترسره کېږي او الله تعالى هيڅ تصرف په کې نه کوي، نه؛ بلکې ستاسو باور بايد دا وي چې الله تعالى هم پيداکوونکی دی او هم واکمن او ټولواك، د الله پر واکمنۍ ستاسو باور بايد د دې باور مکمل او بشپړ کوونکی وي چې الله تعالى خالق دی، بايد په دې باور وئ چې څه الله تعالى پيدا کړي واګې ئې هم د ده په اختيار کې دي.

ج: قرآن کله د ځمکې برنۍ فضاء د آسمان په نامه يادوي او کله آسمان د ټول کائنات د چت او سقف په توګه يادوي، يعني آسمان هم د ځمکې مربوط مدارونه او هم هغه اوه ګونې طبقات دي چې دا ټول کائنات ئې احاطه کړی. له وروستي آيته په صراحت سره معلومېږي چې دلته له اوو آسمانونو نه مراد هغه اووه طبقې دي چې يو لاندنی او ځمکې ته تر ټولو نږدې ئې ټول سماوي اجرام په خپلې غېږې کې نيولي، او نور شپږ ئې تر دې بر او يو د بل د پاځه، خو قرآن فرمايي چې ټول سره ورته دي، او په خپلو کې ئې توپير او تفاوت نشته.

دا خبره د ډېر دقت او تأني وړ ده چې قرآن وايي: د عالم ټول مخلوقات د آسمانونو په شمول ورته والی لري، او په هيڅ ځای کې ئې توپير او چاود نه شې موندلی!!

ساينسي تحقيقاتو ښودلې چې زمونږ له ځمکې نه تر ټولو لرې ستوری او تر ټولو لرې ستور ليکی، په خپل جوړښت او د هغو ضوابطو له مخې چې پرې حکومت کوي، زمونږ ځمکې او ستور ليکي ته ورته دي، او دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دی، د قرآن له نزول نه څوارلس پېړۍ وروسته انسان په دې پوه شو چې د کائنات په هرې برخې کې د عالم په ټولو مخلوقاتو کې د توپير او تفاوت په ځای يووالی او مطابقت شته، قرآن وايي چې الله تعالى اوه ځمکې او اوه آسمانونه پيدا

کړي، نن د علمي ژورو تحقیقاتو په ترڅ کې انسان ته معلومه شوې چې ځمکه اوه طبقې لري، او د ځمکې په سر د ځمکې مربوطه فضاء هم اوه طبقې ده. انسانانو ته دا هم جوته شوې چې د اتم د مدارونو اعظمي شمېر هم اوه دي، له دې نه معلومېږي چې دا کائنات او مربوط ستوري او کهکشانونه ئې یوه داسې مجموعه ده چې اوه آسمانونه ورباندې راتاو دي. خو دا چې آیا ممکن ده انسان د خپلو څېړنو په نتیجه کې یو وخت په دې حقیقت هم پوه شي چې دا پراخ عالم یوه داسې مجموعه ده چې اوو آسمانونو احاطه کړې؟ باید ووایو چې لاتراوسه د دې حقیقت له درك نه ډېر ډېر لرې دی.

د درېیم آیت د دې شطر (ما ترى في خلق الرحمن من تفاوت ...) په اړه څو تعبیرونه مومو:

لومړی: د الله تعالی په مخلوقاتو کې نه (تفاوت: توپیر) موندی شو او نه (فطور: چاود او ترخ)، په مخلوقاتو کې تفاوت نه شو موندی یعني داسې څه نه شو لیدی چې وښیي دا د کوم بېل لاس محصول دی، پیدا کوونکی ئې بېل دی، د پیدایښت ماده ئې بېله ده، له نورو په خپل جوړښت کې ژور بېلوالی لري، او فطور یعني تشه، خلا، نقص او کمی، یعني دا چې په عالم کوم تش ځای، کوم کمی، د یوه داسې ضروري شي نشتوالی چې د نقص باعث شوی، که هرڅومره په دې پراخ او بې انتهاء عالم کې د کوم عیب او نقص د موندو لپاره لټه وکړو، هرې خوا ته سترګې وغړو، د دې تکل وکړو چې کوم (تفاوت) او (فطور) ومومو، خپلې سترګې دومره یوې خوا بلې خوا ته وغړوو چې ستړې او ستومانه بېرته راوګرځي، هیڅکله به نه کوم تفاوت وموندی شي او نه فطور، خپل مراد ته وبه نه رسېږي او لټه به ئې بې حاصله وي.

دا آیت ښیي چې زمونږ کائنات یوه داسې متحده مجموعه ده چې ټول اجزاء ئې یو له بل سره دقیقه رابطه لري، د یوه شته والی د بل د بقاء سبب دی، هیڅ بېهوده او بې هدفه شی په دې پراخ عالم کې نه موندل کېږي، هر څه سم او دقیق پیدا شوي، د هر څه موجودیت یوه خلأ او تشه ډکوي، او یوه ضرورت ته ځواب

وايي، او نشتوالی ئې د يوې تشې او خلأ سبب کېږي، هيڅ داسې څه نه شې موندلی چې وښيي پيدايښت ئې د بېل لاس او د بېلې منصوبې نتيجه او محصول وي، او داسې پيدا شوی وي چې د عالم له نورو توکو سره توپير ولري. د دې سترې او مهمې ادعا په اهميت او پراخو ابعادو ئې هغه وخت ښه پوهېدی شو چې د مخلوقاتو د پيدايښت اصل ته ځير شو، له دې ظاهري توپيرونو لږ مخکې ولاړ شو، د هر څه د جوړښت بنسټ او بنياد ته پام وکړو، نن د طبيعي علومو پوهانو ته معلومه شوې چې د عالم دا بېل بېل او رنګ رنګ توکي يوازې په ظاهر کې يو له بله توپير لري، په اصل کې ټول له يوه شي پيدا شوي، که د ماليکولونو او د هغوی د ترکيب په حد کې توپير لري، د اتم او له اتم نه مخکې حد کې کاملاً سره ورته دي، په حقيقت کې يو شئ، د يوې منصوبې له مخې، په مختلفو شکلونو کې جوړ شوی.

دوهم ـ ځينو نورو مفسرينو (تفاوت) د تضاد او عيب په معنا اخيستی او دا آيت داسې ترجمه کوي: د الله تعالی په مخلوقاتو کې تضاد او عيب نه شې موندلی. په دې تعبير کې څو اشکالونه شته:

۱ـ د تفاوت لفظ په اصل کې نه د تضاد په معنا ده او نه د عيب په معنا.

۲ـ که د دغه تعبير له مخې ووايو چې په مخلوقاتو کې توپير او تفاوت نشته، دا تعبير له واقع سره سمون نه خوري، عملاً توپيرونه تر سترګو کېږي، او که ووايو چې د الله تعالی په مخلوقاتو کې تضاد او عيب نشته دا يو ګونګ تعبير دی، په پيدايښت کې د تضاد نشتوالی واضح او روښانه مفهوم نه لري، پر دې برسېره مونږ د الله تعالی مخلوقات ګورو، نه د دوی پيدايښت، مونږ خو دا ګورو چې دانه د ځمکې له زړه د بوټي په څېر راټوکېږي، او نيالګی ترې جوړ شي، خو زمونږ سترګې دا توان نه لري چې د بوټي د راټوکېدو او له خاورې نه د نيالګي د جوړېدو څرنګوالي په خپله وګوري!!

د همدې لپاره د دې آيت دقيق تعبير هماغه لومړنی تعبير دی، په دې معنا چې د الله تعالی په مخلوقاتو کې له دې بابه توپير او تفاوت نه شې موندلی چې يو ئې د

یوه پیدا کوونکي د لاس او بل ئې د ببل پیدا کوونکي د لاس زېږنده او محصول وموم‌ې، داسې نه دي چې د دوی په پیدا ایښت کې ببلا ببلي منصوبې کارول شوې وي.

---

ÈüÜ»‹±=j $Bqã â $g»Ÿè_r xŠî»ÁJÎ $‹R‰9$ ä$J¡¡ 9$ $Zƒ– ô)9r

NŸg_ Ü#‹ã bÍhÎ (rãÿ. ûïÏ%Ör ÇÎÈ Î•ë¡¡ 9$ >#‹ã Nç; $R%ôGã&r

Š%3? ÇÐÈ âqã? ‘Ér $Z‹Í- $I; (qãjœ $kŽÏi (qà)ø#Œ) ÇÏÈ ç•Ã J9$ § ør

ÇÑÈ ÖÏÉR /ßÏÜ¯ Ó9& $kçR“z Nç;'™ Óöù $kŽÏi ’Åø$J=ä Å ó9$ `Ï B ãJ?

žw) ÖÇR& b) äÓ« `Ï B ª! $A“R $B $Zù r $Z/¤3ù ÖÉR $Rä!` ô% 4?/ (q9$%

Î•ë¡¡ 9$É »tÕ¾& þÎ $Zä $B @ÉèR ‡& BJó $ $Zäö9 (q9$%r ÇÒÈ ŠÎ. @»=Ê ’Î

ÇÊÈ Î•ë¡¡ 9$É »sô Ÿ $Zó Ýù NÍÈ ‹Î (qèŽlã$i ÇÊÈ

---

**۵**ـ او بې شکه چې آسمان د دې نږۍ مو ښایسته کړلو په روڼو څراغونو او کړل مو "وسیله" د شیطانانو د رټلو، او دوی ته مو تیارکړلو د سرو لمبو عذاب. **۶**ـ او هغوی ته چې کافر شول په خپل رب، عذاب د جهنم دی او دا ورګرځېدا څومره بدمرغه! **۷**ـ چې کله په کې ګوزار شي، له هغه به غضبناکه چیغه واوري او هغه به شور او څوړ کړي. **۸**ـ نږدې به وي چې وچوي له غیظه، چې کله کوم لشکر په کې ګوزار شي، ساتونکي به ئې پوښتي: ستاسو خوا ته کوم نذیر نه وو راغلی؟! **۹**ـ وایي به چې هو! یو نذیر خو وو راغلی، خو مونږ

هغه تکذيب کړ او دا مو وويل چې نه الله څه نازل کړي، او نه تاسو يئ له سترې ګمراهۍ پرته بل څه کې. ۱۰. او وايي به: که غوږ مو وی نيولی او تعقل مو کړی وی، په ټولګي د دوزخيانو کې به نه وو. ۱۱. نو په خپلو ګناهونو به اقرار شي، نو نفرين د دوزخيانو دې ټولګي ته.

---

**۵.** د دې مبارك آيت څو مهم مطالب د توجه وړ دي:

الف: تر ټولو نږدې آسمان، مونږ او زمونږ ځمکې ته تر ټولو نږدې آسمان، هغه دی چې دا ټول تر سترګو کېدونکي ستوري ئې په خپلې غېږ کې نيولي، دا آيت ښيي چې دا ټول سماوي اجرام، چې د شپې په تياره کې د ځلاندو څراغونو په څېر ځلېږي، دا ټول د دنيا د آسمان په غېږ کې راغونډ شوي، نور آسمانونه تر دې بر دي او يو تر بل پور ته!! دا آيت د مالك الملك رب د پراخ ملك عظمت او وسعت ښه توضيح کوي. که دا په ملياردونو ستور ليکي، چې هر يو ئې په ملياردونو شمسي منظومې لري، او هر يو ئې دومره پراخ دی چې له يوې ژۍ ئې تر بلې پورې د ملياردونو نوري کلونو واټن دی، دا ټول تر لومړي آسمان رالاندې دي، او نور آسمانونه تر دې بر او يو پر بل راتاو دي، د کائنات د پراخولي او عظمت د بيان لپاره تر دې غوره او دقيق بيان او الفاظ نه شو موندلی.

ب: دا ستوري چې په شپه کې راڅرګند شي او داسې برېښي لکه د لوړ چت ځلېدونکي قنديلونه، دا نه يوازې زمونږ آسمان ته ابهت او عظمت ورکوي او د ښايست او ښکلا ګاڼه ئې ده، او يو هدف ترې همدا ښکلا او ښايست ورکول دی، بلکې پر دې سر بېره له يوې خوا د حق پالو او حقيقت لټوونکو لپاره د هدايت روښانه مشعلونه دي او خپل ليدونکي د الله تعالی لوري ته هدايت کوي، له بلې خوا د شيطانانو د رټلو او شړلو وسيله ده، او دا په دوه معنا:

لومړی: هغه انتباه چې دا ځلانده او بې شمېره ستوري ئې ليدونکي ته ورکوي، د رب العالمين په هکله د ټولو شيطاني القاءاتو او وسوسو د دفع او طرد سبب کېږي، هغه باشعور او عقلمند انسان چې د دغو ځلاندو ستورو په لېدو سره

ئې حقيقت موندلی، ځلاندو ستورو د الله تعالی په لوري هدايت کړی، د شياطينو له هجوم نه د دغو ستورو په مرسته خوندي شوی، او د هدايت دغو روښانه ځراغونو د ده له مخې هغه شياطين شړلي چې د لارې په اوږدو کې يوه او بل اړخ ته په کمين کې ناست ول.

دوهم: کاهنانو به د خلکو د غولولو لپاره ويل: مونږ ته د غيب له عالمه د پيريانو په لاس اطلاعات رارسي، دا پيريان کولی شي د آسمان تر کنارو ځان ورسوي، د ملائکو خبرې واوري، د راتلونکې زمانې له پېښو خبر شي، او مونږ ته هغه څه وو ايي چې د ملائکو ترمنځ پرې خبرې کېږي، د دوی په مرسته مونږ له غيبه خبرېږو او په دې توانېږو چې تاسو ته وو ايو: څنگه راتلونکې درته انتظار کوي؟ له کوم حالت سره به په نږدې راتلونکې کې مخامخ شئ؟ په دې ترتيب به ئې د غيب ويلو دکان پرانيستو، ساده او کم عقله خلك به ئې په دام کې واچول، په څو دروغجنو خبرو به ئې وغولول، او شکرانې به ئې ترلاسه کړې!! قرآن د دې لپاره چې د دغو تېکمارو غيب ويونکو دکانونه وتړي، او د دې خبيثې ونې جرړې غوځې کړي، وئې فرمايل: دغو ځلاندو ستورو آسمان ته د شيطانانو د تلو لار بنده کړې، نه پرېږدي چې بر لاړ شي، د آسمان له اسرارو خبر شي، او راشي په ځمکې کې خپل دوستان او ملگري خبر کړي.

د لومړۍ توجيه له مخې د دې آيت په پای کې له (عذاب السعير) څخه د دوزخ عذاب مراد دی، خو د دوهمې توجيه له مخې د شهاب ثاقب لمبې مراد دي چې شيطانان پرې رټل کېږي.

که څه هم په قرآن کې داسې آيتونه شته چې د دوهم تعبير په معنا دي، او دا مطلب افاده کوي چې شيطانان د شهاب ثاقب په ذريعه رټل کېږي، او دې ته نه پرېښودل کېږي چې آسمان ته ورنږدې شي، خو د دې لپاره چې د آيت په سر کې د ستورو لپاره مصابيح : ځراغونو لفظ کارول شوی او ښيي چې دا ستوري د ځېنو ليدونکو لپاره د لارې مشعل او ځراغ په څېر دي، دوی ته په تياره کې لار ښيي، نو دلته له (رجوماًللشياطين) څخه هم بايد دې ته ورته مطلب مراد وي، او د شيطاني

القاءاتو او وسوسو د دفع او طرد مطلب افاده کړي.

**۶-۷**: هغه چې په الله تعالی ایمان نه راوړي، او د عالم په پراخې غېږ کې دا بې شمېره نښې د دوی له هدایت او لارښوونې عاجز کېږي، د لرګیو او خسو په څېر د سوزلو وړ دي، د دوی لپاره مناسب ځای جهنم دی، نه یوازې دا چې جهنم ورسره ښايي بلکې جهنم به هم پر دوی غصه وي، په خپلو غضبناکو چیغو او هیبتناکو لمبو سره به د دوی استقبال کوي.

**۸ -** جهنم به په داسې غضبناك حالت کې دوی په خپلو لمبو کې مني چې له ډېره قهره او غصې به نږدې وي وچوي، د جهنم پهره داران او ساتونکي به هم له هرې دوزخي ډلې چې یوه په بلې پسې به راځي، په حیرت سره پوښتنه کوي: آیا کوم نذیر نه وو درغلی؟ چا د کفر له دې بدې پایلې نه وئ خبر کړي؟

**۹-۱۱**: دوزخیان به په خپلې ګناه اعتراف کوي او د ساتونکو فرشتو په ځواب کې به وایي:

الف: هو؛ نذیر او خبرداری راکوونکی راغلی وو.

ب: خو مونږ عمداً او قصداً تکذیب کړ.

ج: ورته ومو ویل: الله نه کوم پیغمبر رالېږلی، نه وحي، نه لارښود او لارښوونه.

د: تاسو دروغ وایئ، لار مو ورکه کړې، غلط شوي یئ چې زمونږ په وضعیت اعتراض کوئ او پایله ئې خطرناکه ګڼئ.

هـ: که مونږ د دغو زړه سواندو بلونکو او دعوتګرانو خبرې اورېدلې وی، خپل عقل مو کارولی وی، او د هدایت د مصابیحو په رڼا کې مو د حقیقت د موندلو تکل کړی وی، نو اوس به د دوزخیانو په ډله کې نه وو.

د دوزخیانو دا اعتراف چې مونږ خپل عقل نه وو کارولی، په ډېر وضاحت سره ښیي چې په مخکنیو آیتونو کې هرو مرو داسې څه ته اشاره شوې چې عقل هڅوي او د حقیقت په لوري د عقل لارښوونه کوي، د آسمان دا مصابیح، دا لارښود ځلانده ستوري همغه څه دي چې دوزخیانو ورته اعتناء نه وه کړې، په تعقل سره ئې

د هغوی په هکله غور نه وو کړی، نن او د دوزخ له ليدو وروسته اعتراف کوي چې
که پرون مو دا تعقل کړی وی نو له دې حالت سره به نه مخامخ کېدو.

---

{ržÅ&r ÇÈ ž•Î. Öô_&r ••ÿóB OÇ9 É=ø6ÛÎ NÇ/‘ bö±ƒø ûïï%$ bÎ}

,={ ôB ß=è/ Ÿ& ÇÌÈ ír߉Á 9$ÑN# ‹Î Ø$Îæ ¼çR] ÿÎnÎ (rãgô $ír& Nߧ9öq%

ÇÍÈ ÿÎ‡ƒø$ß# ‹Ü=9$qèr

---

۱۲ـ بې شکه، هغه خلك چې په غيب سره وېرېږي له خپل ربه، بخښنه به وي
دوی ته او ستر اجر. ۱۳ـ که وينا مو يا کړئ پټه يا ښکاره، بې شکه هغه پوه
دی د سينو په ټولو شته وو. ۱۴ـ آيا چا چې (مخلوقات دي) پيدا کړي، نه به
(پرې) پوهېږي؟! حال دا چې دی لطيف دی؛ ښه خبر.

---

۱۲ـ د دې آيت لپاره دوه تفسيرونه مومو:

الف: هغه چې له خپل ربه وېرېږي، په داسې حال کې چې هغه ئې نه دی ليدلی، دوی د بخښنې او ستر اجر مستحق دي.

ب: چا چې د نورو له نظره پټ او په غياب کې له الله تعالی د وېرې په سبب له ګناهونو ډډه کوله، د بخښنې او ستر اجر ور دی.

دې ته په پام سره چې په مخکنې آيت کې د دوزخيانو دا اعتراف راغلی چې وايي مونږ په دنيا کې تعقل ونه کړ، نو ځکه نن د دوزخيانو په ډله کې يو، بايد په دې آيت کې هغو کسانو ته اشاره شوې وي چې د مخکنۍ ډلې برعکس ئې خپل عقل کارولی او خپل رب ئې پېژندلی، که څه هم دوی الله تعالی په خپلو سترګو نه وو ليدلی، خو په خپل عقل سره ئې په عالم کې د خورو نښو په رڼا کې حقيقت موندلی او پر الله تعالی ئې ايمان راوړی، او د الله له وېرې ئې له ګناهونو ځان

ساتلی. په دې دلیل لومړی تفسیر دقیق او غوره دی.

**۱۳ـ** **الله تعالی** غائب مه ګڼئ، نه تاسو له ده غائب یئ او نه هغه له تاسو، تل له تاسو سره دی، په هر ځای کې له تاسو سره دی، ستاسو پټې او ښکاره خبرې اوري، ستاسو د سینو له اسرارو خبر دی، هغه داسې واکمن دی چې په خپل پراخ ملك کې ئې هیڅ څه له نظره پټ نه دي.

**۱۴ـ** مګر کېدی شي د انسان عقل دا خبره ومني چې (خالق) دې د خپل (مخلوق) له اسرارو خبر نه وي؟! دا خبره له عقل سره سمون نه خوري چې (پیدا کوونکی) د خپلو (پیدا کړو شیانو) له حقیقته بې خبره وي!! چا چې ته پیدا کړی یې، او ستا ټول استعدادونه، ځواکونه، مشاعراو عواطف د ده عطیه او ودیعه ده، هغه به خو ستا د سینې له اسرارو خبر وي او ستا د سوکه او جګ غږ وینا به اوري.

دا خبره هم د انسان له عقل سره اړخ نه لګوي چې (پیدا کوونکی) دې خپل (پیدا کړي شیان) مهمل پرېږدي او له پیداکولو وروسته دې هیڅ اعتناء ورته ونکړي، مګر کېدی شي څوك کوم څه جوړ کړي خو بیا ئې ساتنه او څارنه ونکړي؟

الله تعالی نه یوازې پیدا کوونکی او خالق دی او ځکه به نو د خپلو مخلوقاتو له اسرارو خبر وي، بلکې هغه (لطیف) او (خبیر) هم دی، له دقیقو اسرارو خبر دی، نه ماضي ترې پټ دی او نه مستقبل، د هغه چا په څېر نه دی چې حجابونه، پردې او دیوالونه ئې د نفوذ، تېرېدو او لیدو مخه نیسي، او د پردو تر شا اسرارو باندې پوهېدا ورته ګرانه کوي. په اسرارو د پوهېدو په ارتباط د لطیف صفت یادول څه معنا لري، په دې پوهېدل لږ دقت غواړي، مونږ په مخلوقاتو کې دوه حالته ګورو: (لطافت) او (کثافت)، یو د بل مقابل کې، لطیف توکي داسې مومو چې د کثیف توکیو په نسبت د زمان او مکان له قیده نسبتاً آزاد وي او له پردو او حجابونو تېرېدا ورته نسبتاً آسانه وي، نور او حرارت ئې کولی شي په سرعت له شیشې تېر شي خو هوا نه شي تېرېدی، اوبه د بخار په حالت کې کولی شي له ډېر واړه سوري تېرې شي، خو کله چې د مایع او انجماد په حالت کې وي نو تېرېدل ورته ګران شي، هر څومره چې د طبیعت توکي او اشیاء د تکاثف او تراکم له حالته د لطافت حالت

ته تغيير مومي، له حجابونو او پردو نفوذ ورته تر مخکې آسانه شي، ساينس وايي چې کله ماده په انرژي بدله شي لايتناهي شي، د مکان او زمان له قيده آزاده شي او د هر ځای شي، او هيڅ څه ئې مخې ته نه شي خنډ کېدی.

د دې آيت لپاره يوه بله ترجمه هم شوې او هغه دا چې: آيا هغه څه به نه پېژني چې پيدا کړي ئې دي؟ که څه هم دا ژباړه له مخکنۍ نه د مفهوم او مقصد له مخې څه خاص توپير نه لري خو په دې کې (من) د (ما) په معنا اخيستل شوی او (من خلق) د دې په ځای چې داسې ترجمه شي: (هغه ذات چې پيدا کړي ئې دي)، داسې ترجمه شوی (هغه څه چې پيدا ئې کړل)، حال دا چې په مخکنۍ ترجمه کې (من) او (ما) په خپله اصلي معنا کې نيول شوي.

ګمان مه کوئ چې دلته په هر څه د الله تعالی علم او په ټولو پټو او ښکاره خبرو پوهېدا، او د الله تعالی د لطيف او خبير صفات يوازې د دې لپاره ذکر شوي چې مخاطب ته ووايي: ته د الله تعالی تر دقيق او دائمي مراقبت او څارنې لاندې يې، هيڅ پټ او ښکاره عمل دې ترې پټ نه دی، له هر څه دې دقيقاً خبر دی، او سزا به ئې درکوي، بلکې پر دې سربېره يو بل اساسي او مهم مطلب بيانول ترې مراد دی او هغه دا چې مخاطب په دې پوه کړي چې ته تل د خپل رحمان او مهربان رب د لطف او مرحمت تر نظر لاندې يې، مهمل دې نه پرېږدي، او يوه شېبه دې له خپلې پام لرنې، رعايت او توجه څخه نه محروموي. ستا د زړه خبرې، ټيټ او لوړ غږ دې اوري، ستا له اړتياوو خبر دی، ستا د زړه غوښتنو ته ځواب وايي، او ستا اړتياوې پوره کوي، تل د ده د لطف او رعايت تر وزر لاندې يې. له وروستيو آيتونو په صراحت سره معلومېږي چې دلته همدا مطلب مخاطب ته تفهيمول او د همدې باور القاء مراد ده.

---

¾ïï‰éh `Ë (qèër $kÈ$ZB ’Î (qà±ÞS Zvq8E Ú ö{ $Sña9 @è_ “ï‰$qè

#Ãtù Ú öR{ $‰î3Î # Å¨ø‹ b& ä$J¡¡ 9$ ’Î `B LäêΨB&ä ÇÊÎÈ âq‹è ¥9$$Ïnø)Îr

$ÿ¹ %n Ñ3øæ ÜÅö‹ b& ä$J¡¡ 9$ ’Î `B LäêΨB& Ÿ& ÇÊÏÈ âq‹3? š† Ïr

Î•Å3R b%. #ø‹3ù Nßgî=ö6 `Ï B ûïÏ%©!$> ‹¤. ‰s)9r ÇÊÐÈ Ì/É‹tR #ø‹. bqßJn=÷èG¡ ù

ÇÊÑÈ

---

۱۵- دی خو هغه ذات دی چې دا ځمکه ئې کړه تاسو ته تابع، نو په اوږو ئې وګرځئ او له روزۍ نه ئې وخورئ، او له ګور نه بياپاڅون د ده په لور دی.۱۶- آيا خوندي شوي يئ له هغه چې آسمان کې دی، له دې چې په ځمکې کې مو ښخ کړي چې ناڅاپه به بيا خوځي؟۱۷- آيا خوندي شوي يئ له هغه چې آسمان کې دی، له دې چې تيږي وروونکې يوه سيلۍ درباندې راولي، هله به بيا پوه شئ چې څنګه دی انذار مې؟۱۸- او بې شکه چې له دوی نه مخکنيو هم انکار وکړ، نو (وګوره چې) څنګه وو انکار مې؟

---

**۱۵ـ** هغه ذات چې دا ځمکه ئې ستاسو خدمت کې ګمارلې، درته رام، منقاد او مسخر شوې، داسې چې پر اوږو ئې ګرځئ، او هغه ذات چې دا ځمکه ئې ستاسو د رزق او روزي د تأمين وسيله ګرځولې، هماغه ستاسو لطيف او خبير پالونکی رب دی، هماغه چې ستاسو اړتياوو ته ځواب وايي او خپل دائمي رعايت او عنايت ئې ستاسو په حال شامل کړی.

د آيت د وروستي شطر (و اليه النشور) په اړه د درنو مفسرينو تر منځ دوه رايې مومو:

الف: په پای کې به له خپلو قبرونو راوځئ او د الله تعالی په لوري به درومئ.

ب: په ځمکې کې نشور الله تعالی ته راجع کېږي، يعني هر څه چې د ځمکې پر

سر ګورئ چې راژوندي شي، او په ځمکه خواره او منتشر شي، که دا دانه او میوه ده، که بوټي او ونې دي، او که حیوان او انسان دی، ټول الله تعالی پیدا کړي، هر نشور د الله تعالی له لوري دی.

که په ټول اړوند کلام کې د دې شطر موقعیت او له مخکې وروسته سره ئې ارتباط ته ځیر شو، ډېر ژر په دې پوهېدی شو چې دوهمه توجیه هم دقیق ده او هم له ټول کلام سره سمون خوري، هیڅ داسې دلیل نشته چې په دې آیت کې نشور د مجدد بعثت په معنا ونیسو، مخصوصاً چې ګورو قرآن ډېر ځله د ژوندون او خوځښت په معنا کارولی، لکه چې فرمایي:

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِبَاساً وَالنَّوْمَ سُبَاتاً وَجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوراً *

الفرقان: ۴۷

او دی هماغه ذات دی چې شپه ئې درته پوښاك، خوب ئې دمه، او ورځ ئې د پاڅون او خوځښت مهال ګرځولې.

په دې تعبیر د (۱۵) آیت معنا داسې کېږي:

هغه ذات چې ځمکه ئې درته مسخر کړې، داسې چې تاسو ئې پر اوږو ګرځئ، هغه چې تاسو ته له ځمکې روزي درکوي، هماغه ستاسو لطیف او خبیر پالونکی رب دی چې ستاسو او د ځمکې پر سر د هر څه نشور ده ته راجع کېږي.

۱۲. په دې مبارك آیت کې چې د قرآن یو بل علمي اعجاز زمونږ مخې ته ایښودل کېږي: څو اساسي مطالبو ته اشاره شوې:

الف: مګر ګمان کوئ دا آواره ځمکه چې تاسو ته ئې پر خپلو اوږو ځای درکړی، او ستاسو د رزق او روزي د تأمین وسیله ده، همداسې به د تل لپاره ستاسو په خدمت کې وي او دا اوسنی حالت ئې تلپاتې، مستمر او ثابت دی او هیڅکله به تغییر په کې نه راځي؟ مګر له دې هیڅ وېره نه لرئ چې د عالم ټولواك رب له بره دا فرمان صادر کړي چې د ځمکې دا آرام او ډاډمن حالت بدل کړي، داسې چې نه نور ستاسو په خدمت کې وي، نه تاسو پر خپلو اوږو یوسي، او نه رزق او روزي درکړي، بلکې برعکس ستاسو په هدېرې بدله شي، تاسو تر خاورو لاندې

کړي، سخته خوځېدا او لړزېدا ئې په خپلو سترګو وګورئ؟!! څه شي ډاډه کړي يئ؟ څه شي د داسې حالت له راتلو مطمئن کړي يئ؟ د دې کاذب ډاډ او اطمئنان لپاره څه دليل لرئ؟

ب: په دې آيت کې د خسف: د ځمکې کښېناستل او ننوتل له (لړزېدا او خوځېدا) سره يو ځای ذکر شوي، د بيان اسلوب داسې دی چې ښيي که د ځمکې کومې برخې کې خسف رامنځته شي نو لړزېدا به ورپسې وي، او دا هماغه خبره ده چې ساينس ئې نن د د ځمکې د زلزلو د لاملونو په هکله کوي.

علمي تحقيقات ښيي چې د زلزلې يو اساسي سبب خسف دی، وايي چې د ځمکې منځنۍ برخه، د سختې تودوخې په وجه د خوټېدو په حالت کې ده او هر څه ئې ويلي او ذوب شوي دي، دا توده او ويلې برخه په کلك پټوکي چې کلکې ډبرې ته ورته دی، احاطه شوې، د ځمکې پورتنۍ خاورينه برخه د همدې ډبرين پوټکي په ذريعه له منځنۍ برخې بېله شوې، کله چې دا ډبرين پوټکی، د ځمکې په کومې برخې کې، د برني يا داخلي فشار او د نورو عواملو په نتيجه کې مات شي، او د ځمکې هماغه برخه د مذاب او ويلي موادو د پاسه واقع شي، هلته زلزلې پيل شي.

کوم مطلب چې په دې آيت کې د خسف او زلزلې په اړه ويل شوی، يوازې په تېرې پېړۍ کې او له ژورو څېړنو او تحقيقاتو وروسته انسان ته معلوم شو.

۱۷ـ آيا داسې ګمان کوئ چې د ځمکې بادونه به تل همداسې نرم نرم او ملايم وي، تاسو ته په زړه پورې، هيڅکله به ستاسو د انتظار او زعم خلاف تبديلي په کې نه راځي؟ دا مو په خيال کې نه ګرځي چې د ځمکې او آسمانونو مالك رب د دې نرم او ملايم باد په ځای داسې تنده سيلۍ درباندې راولېږي چې هر څه رانسکور کړي او تېږي درباندې ووروي او لوی لوی ښارونه مو د شګو تر غونډيو لاندې ښخ کړي؟! د دې خاطئ او غلطې انګېرنې لپاره څه دليل لرئ؟ څه شي ډاډه کړي يئ چې د ځمکې او آسمانونو ټولواك رب به هيڅکله داسې پرېکړه نه کوي؟

په **۱۵**، **۱۶** او **۱۷** آيتونو کې دوه مطالبه مزيد دقت غواړي:

الف: دا آيتونه د ځمکې د تسخير څرنګوالی مزيد توضيح کوي، په **۱۴** آيت

کې دا مطلب په اختصار سره راغلی خو دلته ئې لازیات وضاحت شوی، چې خلاصه ئې داسې ده: الله تعالی دا ځمکه تاسو ته رام او مسخره کړې، داسې چې ستاسو ګامونه په خپلو اوږو قبلوي، نه په کې خوځېدا او لړزېدا چې ستاسو د وېرې او اضطراب باعث شي او نه خسف چې تاسو تر خاورو لاندې ښخ کړي او نه تندې سیلۍ چې تېرې درباندېووروي، بادونه ئې ملايم او روح پالونکي، خوځښت ئې داسې چې تاسو ئې احساسولی هم نه شئ، جاذبه ئې دومره چې تاسو ئې فشار نه شئ درك کولی، هوا ئې معتدله او په زړه پورې، نه ډېره ګرمه او توده چې ژوند مو له ګواښ سره مخامخ کړي او نه دومره سړه چې تحمل ئې درته ګران وي، سطحه ئې نرمه، د استفادې وړ او کر کښت ته تیاره، نه د ډبرې په څېر کلکه او نه د شګې او ختې په څېر چې خوځښت په کې ګران وي.

ب: ځینو درنو مفسرینو د(من في السماء: په ترکیب کې، د (من) کلمه الله تعالی ته راجع کوي او ځینې نور ئې ملائکو ته، لومړۍ ډله په دې عقېدې ده چې (من) د دې لپاره الله تعالی ته راجع ده چې د ځمکې د خسف کېدو او د تندو سیلیو امر الله تعالی صادروي نه فرشتې، دوهمه ډله په دې باور ده چې (من) په دې دلیل فرشتو ته راجع دی چې دوی د الهي فرامینو د اجراء دنده ترسره کوي، دوهمه ډله دا خبره د دې لپاره کوي چې وايي الله تعالی له (مکان) څخه بې نیازه دی، که د لومړۍ ډلې توجیه صحیح وګڼو او (من) د الله تعالی په معنا واخلو نو په دې سره الله تعالی ته محدود مکان ثابتوو او آسمان ئې مکان ګڼو!! حال دا چې آسمان د الله تعالی مخلوق دی، محدود دی، او د الله تعالی مکان نه شي کېدی!!

د دې ډلې استدلال په ظاهر کې سم برېښي، خو په ډېرو دلایلو ضعیف دی:

لومړی: دې ته ورته آیتونه په قرآن کې ډېر زیات راغلي چې د دې ډلې توجیه ئې له توضیح او تشریح عاجزه ده، هغه آیتونه چې داسې مطالب په کې راغلي لکه (ثم استوی علی العرش، وهو معکم این ماکنتم، مامن نجوی ثلاثة الا هو رابعهم و لاخمسة الا هو سادسهم، و نحن اقرب الیه منکم ولکن لاتبصرون... ) او امثال ئې، ټول ۱۵ او ۱۲ آیتونو ته ورته دي، که الله تعالی په استوی علی العرش، معیت او

قرب سره په کوم خاص مکان پورې نه محدودېږي، او په دې ډول آيتونو کې راغلي ضماير له الله تعالی پرته بل چا ته نه راجع کوو، نو دا دليل د منلو وړ نه دی چې که دلته (من) د الله تعالی په معنا واخلو نو په دې سره الله تعالی ته محدود مکان ثابتوو او آسمان ئې مکان ګڼو!!

دوهم: په دې آيتونو کې د بحث موضوع د الله تعالی لپاره د مکان د اثبات يا عدم اثبات موضوع نه ده، بلکې د دې غلطې انګېرنې تصحيح ئې د بحث موضوع ده چې ځينې د ځمکې موجود وضعيت تلپاتې ګڼي او ګمان کوي چې د ځمکې اوسنی وضعيت او بدلونونه ئې طبيعي، ثابت او دائمي دي، تل به انسان ته مسخر او د ده په خدمت کې وي او هيڅکله به د انسان د خوښې خلاف تبديلي په کې نه راځي!! د دې آيتونو په ترڅ کې دې خلکو ته ويل شوي چې آيا د دې عالم هغه ټولواك مو هېر کړی چې هر څه ئې د ده د واکمنۍ تر عرش لاندې دي، آيا له دې څخه نه وېرېږئ چې له بره د ځمکې د خسف او د تندو سيليو د رالېږلو پرېکړه وکړي، په ځمکه کې مو ښخ کړي او د شګو تر غونډيو لاندې مو دفن کړي!!؟

درېيم: مخکني او وروستي آيتونه په ځرګنده توګه ښيي چې په دغو دواړو آيتونو کې ضمير الله تعالی ته راجع دي نه فرشتو ته.

د آيت له دې فقرې (فستعلمون کيف نذير: ژر به پوه شئ چې زما انذار او خبرداری ورکول څنګه دی؟) معلومېږي چې دا انذار به ډېر ژر تحقق مومي، او په نږدې راتلونکې کې او تر قيامته مخکې به د زلزلو او تندو سيليو شاهد وو، ښايي دا آيت د هغو احاديثو منشأ وي چې له قيامت نه مخکې د خسف، زلزلو او سيليو خبر ورکوي.

۱۸ـ که د عالم د مشهود کتاب ننښې او آيتونه ستاسو د لارښوونې لپاره کافي نه وي، او ستاسو کمزوری عقل د هغو اشارو له درك او پوهېدو عاجز دی چې دا آيتونه او ننښې ئې په جګ غږ اعلانوي، نو تاريخ ته رجوع وکړئ او د هغو امتونو بد برخليك مطالعه کړئ چې دا حقايق ئې دروغ ګڼلي، وګورئ چې له کومو خطرناکو پايلو سره مخامخ شول. دوی زما آيتونه تکذيب کړل او زما له عذابه ئې

انکار وکړ، او ما د دوی عملونه کرکجن او منکر وګڼل او له منلو مې انکار وکړ، وګورئ چې زما د انکار پایله او عاقبت څنګه وو ؟!

(نکیر) په اصل کې (نکیري) وه، هماغسې لکه (نذیر) چې په مخکني آیت کې (نذیري) وه او نسبتي (یاء) په دواړو کې حذف شوې او د کلمې په پای کې کسره ئې په ځای راغلې، او مراد ئې یا دا ده چې الله تعالی د دوی عملونه منکر او کرکجن وګڼل، یا دا چې د دغو عملونو له قبلولو ئې انکار وکړ، او یا دا چې دوی ئې په داسې عذاب اخته کړل چې حالت او څېره ئې کاملاً وربدله کړه او له پېژندو ئې وایستله.

---

ß»HqS$Sžwĵ £ĝãÅôãSB `òÎŷƒr M»ÿ¹ ÛĝŠqù ÎöÖ9$'<ĵ {ƒ•ƒ Ó9r&

`ÏB OäŞÇ Zƒ óãS©ÓZã qèd "ÏŠ$#‹»d ôÏB& ÇÉÈ Î•Ă / ÿó« èãÎ ¼çRĵ

ÇÉÈ Arãâ 'Îžwĵ brãÿ»3ŠÉĵ Ç»qS$ÈrǑ

---

۱۹- مګر نه ئې دي لیدلي په خپل سر باندې مرغان، چې کله خلاص وزرې شي او کله ئې راغونډ کړي، نه ئې ساتي له رحمن خدای پرته بل څوك، بې شکه چې هغه خو نظر ساتی دی پر هر څه. ۲۰- له رحمن خدای پرته څوك دی چې مو فوځ وي، ملاتړ مو وکړي؟ کافران فقط (پربوتي) دي دوکې کې.

---

۱۹۔ چا دا مرغان داسې پیدا کړي چې په ډېره آسانۍ د ځمکې له جاذبې ځان آزاد کړي او په فضاء کې والوزي؟ چا د دوی وزرونو ته دا ځواك او توان ورکړی چې د خپلو نازکو بڼکو په مرسته د دوی د تنې درووند پېتې تر لرو لرو ځایونو انتقال کړي؟ مګر له رحمان خدای پرته داسې څوك مومئ چې د مرغانو په پیدایښت کې ئې څه ونډه وي؟ چا مرغانو ته دا ښایسته ښایسته رنګونه ورکړي؟

چا دا ښکلې او له نازکو ښکو جوړ شوي ورزونه ورکړي؟ چا داسې پيدا کړي چې دوی کولی شي په دغو نازکو وزرو سره تېز او تند والوزي او لرې لرې فاصلې طی کړي؟ په عالم کې دا سنن چا ايښي چې مرغانو ته ئې الوت ممکن کړی؟ آيا له الله تعالی پرته بل څوك په نظر درځي؟

د دې مبارك آيت د وروستۍ فقرې په هکله دوه ټکي په پام کې ولرئ:

الف: (إنه بکل شی بصير: او بې شکه چې دی په هر څه بصير دی) يعني د هر څه مراقبت او څارنه کوي، لکه څنګه چې مرغانو ته په آسمان کې د الوتو توفيق ورکوي، حفاظت ئې کوي، د خپل رعايت تر نظر لاندې ئې ساتي، همداراز هرڅه د ده تر رعايت او عنايت لاندې دي.

ب: له دې فقرې معلومېږي چې په ۱۳او ۱۴ آيتونو کې هم له عليم بذات الصدور او له لطيف خبير څخه مراد دا دی چې خپل مخاطب ته دا خبره وکړي: ته تل د خپل رحمان او مهربان رب د لطف او مرحمت تر نظر لاندې يې، مهمل دې نه پرېږدي، او يوه شېبه دې له خپلې پاملرنې، رعايت او توجه څخه نه محروموي. ستا د زړه خبرې، ټيټ او لوړ غږ دې اوري، ستا له اړتياوو خبر دی، ستا د زړه غوښتنو ته ځواب وايي، او ستا اړتياوې پوره کوي، تل د ده د لطف او رعايت تر وزر لاندې يې.

۲۰ـ د دې آيت د لومړۍ فقرې په شرح کې د مفسرينو څو رايې زمونږ مخې ته راځي:

الف: هغه څوك دی چې ستاسو فوځ او لښکر شي او د الله تعالی په مقابل کې مو مرسته وکړی شي؟

ب: داستاسو فوځونه او لښکرې څه کاره دي چې د الله تعالی په وړاندې به ستاسو مرسته وکولی شي؟

دا دواړه رايې په دې دليل کمزورې دي چې اولاً د الفاظو دقيقه او اصلي معنا له پامه غورځول شوي او د (من دون الرحمن) استثنا داسې ترجمه شوې: د خدای په مقابل کې چې قطعاً غير دقيق ژباړه ده. او ثانياً دا تعبير له مخکنيو او وروستنيو

آیتونو او د آیت له سیاق و سباق سره هیڅ سمون نه خوري.

ج: له الله تعالی پرته بل څوك داسې دی چې ستاسو لښکر وي او مرسته مو وکړي؟

د دې درېیم تعبیر د صحت او سموالي لپاره دا دلایل لرو:

الف: د الفاظو دقیقه او محتاطانه معنا همدا ده.

ب: په ډېر وضاحت سره ګورو چې په مخکنیو او وروستنیو آیتونو کې د بحث موضوع د الله تعالی د رعایت او څارنې څرنګوالی بیانول دي، د آیتونو تر منځ یووالی او همغږي دا تقاضاء کوي چې په دې آیت کې به هم د همدې موضوع په ارتباط خبره شوې وي، یعني لکه څنګه چې الله تعالی په آسمان کې د الوتونکو مرغانو ساتنه او حفاظت کوي او د الوتو توان او توفیق ئې د الله تعالی له لوري دی، تاسو هم په خپل هر کار کې، د ځمکې پر سر هر خوځښت کې، د رزق او روزي راپیدا کولو هرې هڅې کې د الله تعالی د توفیق او مرستې مرهون یئ، له رحمان خدای پرته داسې څوك نه شئ موندلی چې دا توفیق درکړي او د یوه مطیع فوځ په څېر مو د کارونو په ترسره کولو کې مرسته وکړي.

څوك چې دا حقیقت نه مني او انکار کوي، په حقیقت کې دوکه شوي، دا غلط ګمان ئې په زړه او دماغ سیوری غوړولی چې د دوی ځواکونه، استعدادونه او وړتیاوې د دوی ذاتي ځانګړتیاوې دي، په خپله ئې ترلاسه کړې، او د الله تعالی له لوري پېرزوینه او عنایت ئې نه ګڼي، او په دې باور نه لري چې د هر کار توفیق ئې د الله تعالی له لوري دی!! دا غولېدلي کسان دې ته هم متوجه نه دي چې هر سهار ئې څوك له هغه خوبه راوېښوي چې مرګ ته ورته دی، دا څوك دی چې په دې خوب سره ئې ده ته نشاط ورپه برخه کړ، د نورو کارونو لپاره ئې تیار کړی او د پرون ورځې مصرف شوی ځواك او توان ئې ورته جبران کړی؟ دې ته هم پام نه کوي چې د ده د وجود ډېرې برخې او ډېر مهم غړي په خپله او د ده له سېطرې او تسلطه آزاد په خپل خپل کار بوخت دي، زړه، دماغ، اعصاب او د وجود سلول سلول ئې د فطري الهي منصوبې مطابق خپل خپل کار کوي، پرته له دې چې له انسانه اجازه ترلاسه کړي،

انسان هيڅ تسلط پرې نه لري، د خوب او ويښې سويچونه ئې هم په خپل لاس کې نه دي، د دې پريکړه د انسان له اختيار او واکه بهر د ده دماغ کوي، که د انسان د غړيو هره برخه خپل کار متوقف کړي، نو انسان ئې د بېرته فعالولو توان نه لري او هيڅ داسې څوك نه شي موندلی چې په دې کار کې ئې مرسته وکولی شي. دې ته مو بايد پام وي چې دلته د لنبکر او فوځ په ذکر کولو سره يوه ډېر ظريف ټکي ته اشاره شوې او هغه دا چې: که د الله تعالی مرسته نه وي نو انسان د هغو کارونو د ترسره کولو لپاره هم يوه لوی لښکر ته ضرورت لري چې اوس ئې د الله تعالی په حکم سره د ده د وجود دا ټول غړي ورته کوي!! کوم کار چې د انسان لپاره د ده سترګې هره شېبه کوي، يوه ډېره مجهزه سټوډيو چې مخکې تللې کامرې او مجرب عکاسان او فيلم جوړوونکي ولري نه شي ورته کولی. د ټول عمر ليدلې صحنې او مناظر ورته ثبتوي، او په حافظه کې ئې ورته ساتي، کومه شېبه چې وغواړي مخې ته ئې فوراً او له څه ځنډه پرته راحاضر کړي، شل دېرش کاله مخکې ئې يوه منظره ليدلې، يوه معمولي اشاره هغه منظره ورپه ياد کړي، هر څه ئې مخې ته راشي، انځور ئې، رنګونه ئې، غږونه ئې، يخه او توده هوا ئې، له دې منظرې چې هغه وخت ده ته کوم احساس راپيدا شوی وو، دا ټول ئې د سترګو په وړاندې مجسم شي، پوهېږې چې که دا کار کوم عکاس درته کولی، نو هغه به څومره امکاناتو، وسايلو او همکارانو ته ضرورت درلود؟!! همدا راز دا ستاسو غوږونه هره ورځ دومره کار درته کوي چې ډېر کسان ئې له کولو عاجز دي، ته په خپل ژوند کې ډېر غږونه اورې، هر يو ئې پېژنې، له بله ئې توپير کولی شې، که يو څوك لس کاله وروسته په ټيلفون درته زنګ ووهي، د غږ په اورېدو سره ئې پېژنې، که دا کار دې په بل چا کولی، غږونه ئې درته ثبتولی، او د اورېدو په وخت کې ئې درته ويلی چې دا د چا غږ دی، نو ماته ووايه چې د دې کار لپاره دې څومره کسانو او څومره وسايلو او امکاناتو ته ضرورت وو؟ ستا زړه ټول عمر لګيا وي، خوځېږي، دربېږي او ستا د وجود ټولو برخو ته وينه رسوي، او بل هر غړی دې ته ورته دی، دا ټول کارونه يو لوی لښکر نه شي درته کولی.

ÇÈ Aqãr ãçã † Î(qÚ©@/ ¼ç‰é 7 ¡ B& þ] ßRàãƒ “ Ï‰$# ‹ »d ôB&

Þ¤ŽÅ 4?ã $¹È™ ÓÅ ðƒ `B& #“‰d& yïîgô r 4?ã $¾Åã ÓÅ ðƒ `Jù&

•»Áö(Ÿ$r ìð¡ 9$ ãR9 Ÿè_r ßä'±S& üƒ Ï‰$ qèd @è ÇÈ 8ÉóB

ÇÈ brãRô@ $B W‹Î% o‰ÏöŸ$r

۲۱- آ به څوك وي چې روزي دركړي، كه دی خپله روزي وسپموي؟! بلكې دوی ټينګار كوي، سركښۍ كې او په تېښتې كې (له حق نه).۲۲- آيا څوك چې پړمخ درومي سم روان دی، او كه هغه چې په سمه لار نېغ درومي؟ ۲۳- ووايه: دی هماغه ذات دی چې تاسو ته ئې وده دركړه، او غوږ، سترګې او زړونه ئې درته جوړ كړل، ډېره لږه ده ستاسو مننه!!

۲۱ـ كه رحمان خدای خپله روزي درنه وسپموي، لمر ته امر وكړي چې نور خپله ځلا بنده كړه، مه ځمكې ته رڼا وركوه او مه تودوخه، آسمان ته ووايي چې نور نو مه باران وروه او مه واوره، بادونو ته امر وكړي چې نور مه خوځېږئ، او ځمكې ته ووايي چې نور نو خپله دانه او مېوه مه راټوكوه، آيا داسې څوك مومئ چې ستاسو مرسته وكړي او روزي دركړي؟! څومره لجوج او سركښ دي هغه څوك چې له دې حقيقته انكار كوي!! كافران په لجاجت سره د دې حقيقت له منلو سركښي كوي او له حقه تښتي.

۲۲ـ د دې آيت په هكله څو توجيه په تفاسيرو كې مومو:

الف: ځينې په دې باور دي چې په دې آيت كې بې ايمانه انسان او لجوج او مغرور كافر له هغه چا سره تشبيه شوی چې پړمخې، په څلورو، يا په سينه پروت درومي، چې نه لار سمه ليدی شي، نه ځان سم سمبالوی شي، نه خنډونه او لوړې

ژورې ليدی شي، نه سم او چټك ګام اخيستی شي، خو مؤمنان له هغه چا سره تشبيه شوي چې په آواره، مستقيمه او صفا لار، په سرعت، قدرت او هوښيارۍ سره ګام اخلي.

ب: ځينې نور وايي چې مراد له (مكباً على وجهه: پر خپل مخ نسكور)دا دی چې كافر د حيوان په څير سر ښكته، پرته له دې چې سترګې وغړوي، هر څه ته په غور او دقت سره وګوري، پند او عبرت واخلي، مخكې درومي، لار ترې وركه شي، په هر ګام كې ئې پښه له مانع سره تصادم كوي او پر مخې پرېوځي.

ج: ځينې نور په دې عقبده دي چې مراد ئې د كافرانو دا حالت بيانول دی چې يوازې خپل ځان ته ئې پام وي، له بل هر څه غافل، نو ځكه د سمې لارې له پېژندو عاجز وي.

كه دا آيت په مستقله توګه او له نورو آيتونو سره له ارتباط او تړاو پرته وڅېړلی شي نو كولی شو چې مخكنۍ هره توجيه ومنو، خو دا تعبيرات له دې عاجز دي چې د دې آيت ارتباط له مخكنيو او وروستنيو آيتونو سره توضيح كړي، د دې آيت دقيق تفسير دا دی:

ستاسو ټول استعدادونه الله تعالى دركړي، هر يو ئې د خاص كار لپاره، پښې د تګ لپاره، سترګې د لېدو لپاره ، غوږونه د اورېدو لپاره، او ... دا استعدادونه په هغه صورت كې ستاسو مرسته كولی شي چې په فطري او طبيعي توګه او همغسې چې الله تعالى مقرر كړي ترې كار واخيستی شي، خو كه دا فطري الهي سنن مراعات نه شي، دا غړي د انسان مرسته نه شي كولی، دلته انسان ته ويل شوي: راشه وګوره چې دغو الهي سننو ته د پام نه كولو په سبب انسان له كوم عاقبت سره مخامخ كېږي!! وګوره چې له الهي سننو د سرغړاوي پايله څنګه ده؟ هغه څوك په پام كې ونيسه چې د پښو په ځای پر مخ پرېوتی درومي، د لورې له پېژندو او د لوړو او ژورو له ليدو عاجز وي، كه غږونه اورېدی شي خو په دې پوهېدا ورته ګرانه وي چې د غږ منبع او استقامت په كوم لوري دی، ووايئ: دا به خپله لار سمه ومومي او هدف ته به سم ورسېږي كه هغه چې په ولاړه، په مستقيمه

لار، او په داسې حال کې چې پښې د تګ لپاره، سترګې د لیدو لپاره او غوږونه د اورېدو لپاره کاروي او له خپلو استعداونو د الهي سننو مطابق کار اخلي.

دا تعبیر نه یوازې دقیق دی بلکې په دې سره د دې او نورو آیتونو تر منځ ژور یووالی او همغږي راڅرګندوي، او دا مطلب افاده کوي چې که الله تعالی ستاسو مرسته ونکړي، د کار توفیق درنکړي، خپل رزق درنه وسپموي، او که هغه استعدادونه چې ده درکړي همغسې چې ده مقرر کړي ونه کارولی شي، څوک داسې مومئ چې ستاسو مرسته وکړی شي، د کارونو توفیق درکړی شي، رزق او روزي درکړي او په سمه لار مو هدایت کړي؟

۲۳. ستاسو پیدا کوونکی الله تعالی دی، هغه په دې بڼې کې پیدا کړي یئ، هغه سترګې، غوږونه او زړونه درکړي، ستاسو ټول استعدادونه د ده له لوري دي، ټول د ده په اراده ستاسو په خدمت کې ګمارل شوي، خو تاسو د دغو ټولو پېرزوینو او نعمتونو په وړاندې څومره ناشکره او بې پاسه یئ؟!!

---

# ‹ »d ÓLB bqãqà/r ÇÏÉÈ brž³ tæ Ïnøîr ÇÚ öF$'Î Nä«‘Œ "Ï%©$qèd @è

ÖÉR $B« $JRÎr « $%ZÏä Ðüè$$JRÎ @è ÇÏÊÈ ûüÏ%» ¹ LéZä bÎ %ãq$

"Ï%©$# ‹ »d Ÿ@Šïr (rãÿ. šú ïÏ%©$qã_ ãM«ÿÅ pzÿ%ãqç‘ $B=ù ÇÏÎÈ ûüîB

ÇÏÐÈ šc qã$%? ¾ÏnÎ Læä

---

۲۴- وو ایه: دی خو هغه ذات دی چې په ځمکه ئې خواره کړئ، او ورغونډ به کړی شئ ده ته.۲۵- او وایي: نو دا وعده به کله وي، که تاسو وی رښتوني؟ ۲۶- وو ایه: دا علم خو یوازې له الله سره دی، او زه خو له څرګند نذیره پرته

بل څه نه یم. ۲۷- نو کله چې ئې وګوري نږدې، سپېره به شي مخونه د هغوی چې کافران شول، او ویلی به شي: دا دی هغه څه چې غوښتنه ئې کړه تاسو.

۲۷ـ۲۴: دا مبارك آيتونه چې د الله تعالی په لوري ورګرځېدا توضيح کوي دا لاربښووني زمونږ مخې ته ږدي:

الف: تاسو هغه ذات پیدا کړي او په ځمکې کې ئې خواره کړي يئ چې ستاسو رب دی او بېرته ورګرځېدا مو د ده په لوري ده.

ب: هغه چې له قيامت، بيا ژوندون او د الله په لوري له ورګرځېدو منکر دي وايي: که د قيامت په هکله ستاسو وينا او ادعا رښتيا وای نو ولې تر اوسه نه دی راغلی؟ تل ځيني خلك راپورته شوي او د قيامت د راتلو خبره ئې کړې او مونږ ئې ترې وېرولي يو، خو تر اوسه د دوی خبره رښتيا نه شوه!! که ستاسو ادعا رښتونې وي نو مونږ ته ووايئ چې کله به راځي؟ د راتلو دقيقه نېټه ئې راوښيئ!! دوی د قيامت په راتلو کې ځنډ د دې دليل ګڼي چې قيامت نشته!!

ج: پيغمبرعليه السلام مکلف شوی چې د دوی په ځواب کې ووايي: د قيامت اړوند علم او دا چې کله به راځي يوازې له الله تعالی سره دی، له ده پرته هيڅوك پرې نه پوهېږي. زما دنده دا نه ده چې تاسو ته ووايم د قيامت د رارسېدو نېټه کومه ده، زما مأموريت فقط دا دی چې تاسو د هغې ورځې له رارسېدو په څرګندو او واضح الفاظو خبرداری درکړم.

د: کله چې د قيامت منکران، دا هيبتناکه ورځ، په ناڅاپي توګه، او د خپل انتظار او تصور خلاف، د رارسېدو په حال کې وګوري، داسې وېره به پرې راشي چې آثار به ئې د دوی په سپېرو او هيبت وهلو څېرو کې له ورايه برېښي. ورته وبه ويلی شي: دا ده هغه ورځ چې تاسو ئې غوښتننه کوله، هماغه چې د پيغمبرانو عليهم السلام د خبرداري په ځواب کې به مو ويل: که دا ورځ رښتيا وي، ولې نه راځي؟ ولې ځنډېږي؟

ôÏB ûïïÝÿ»3ÿ$Ïþq¶ `Jù $YHq' #l ÓÉB `Br ª! $ÓÍ3-d& bÎ ÓÉyä'& @è

ôB bqÏçèG ¡ ù $Zùq? Ïhøær ¾ÏnÎ $ZB#ä ß»Hq$9$qè @è ÇÊÑÈ ÕšÏ& A # ‹ ã

/ä‹ïÎû `Jù #Yöqî /äèäB x6ô & bÎ Läéä'& @è ÇËÉÈ &ùÎB @»=Ê 'Î qè

ÇÌÉÈ ûüÏèB &JÎ

---

۲۸- ووايه: آيا پوهېږئ چې که الله ما او هغه چې له ما سره دي ووژني يا پر مونږ رحم وکړي، څوك به کافرانو ته له دردناك عذابه پناه ورکوي؟

۲۹- ووايه: دی هماغه رحمان ذات دی چې ايمان مو پرې راوړی، او توکل مو پرې کړی، ژر به پوه شئ چې څوك په څرګند ضلالت کې دی؟

۳۰- ووايه: آيا پوهېږئ چې که اوبه مو (په ځمکه کې) ننوځي، نو څوك به رواني اوبه درته راولي؟

---

۲۸ـ۳۰: په دې آيتونو کې څو ظريف نقاط زمونږ توجه جلبوي:

الف: دا آيتونه بايد هغه وخت نازل شوي وي چې د پيغمبر عليه السلام د دعوت لمنه خوره شوې، د قريشو سردارانو ته دا احساس راپيدا شوی چې دې تحريك د دوی اقتدار له جدي ګواښ سره مخامخ کړی، دا تمناء ئې په زړه کې راولاړه شوې چې ای کاش پيغمبر عليه السلام او ملګري ئې هلاك شي او د دې پاڅون له شره وژغورل شو چې په قريشو کې ئې اختلافات راولاړ کړي!! د دوی د دغې تمناء او هيلې په ځواب کې الله تعالی فرمايي: دوی ته ووايه: که ستاسو دا تمناء ترسره شي، الله تعالی ما او زما ياران هلاك کړي، او يا د دې تمناء خلاف د خپل رحمت او پېرزوينې سيوری پر مونږ وغوړوي، کافرانو ته به ئې څه ګټه ورسېږي؟ څوك به دوی د الله تعالی له عذابه ژغوري؟ په کار خو دا ده چې تاسو

زمونږ د مرګ د تمناء په ځای د خپلې ژغورنې او د کفر له بدو پایلو د نجات لارې ولټوئ!!

ب: مونږ په مهربان رب ایمان راوړی، په هغه مو توکل کړی، ستاسو د مخالفتونو پروا نه کوو، ستاسو د هغو هڅو په وړاندې الله تعالی ته پناه وړو چې زمونږ د ورکې او ختمولو لپاره مو پیل کړې، ځان مو الله تعالی ته سپارلی او هغه مو ځان ته وکیل او کفیل ګرځولی.

ج: ډېر ژر به تاسو ته معلومه شي چې چا سمه لار ورکه کړې وه او په ښکاره بې لارېتوب کې وو.

د : تاسو هغه رب ته رابلو چې د ټول عالم پالونکی او ټولواک دی، ستاسو رزق او روزي د ده په واك کې ده، هماغه چې که اوبه، دا د ژوند اساسي تومنه، درنه وسپموي، په ځمکې کې ئې ژورې ننباسي، داسې څوك به ونه مومئ چې ستاسو مرسته وکړی شي او روانې اوبه درته راولي.

هـ: لکه څنګه چې د سورې لومړی او وروستی آیت په ډېر صراحت سره د الله تعالی واکمنې توضیح کوي، د دې مبارکې سورې آیتونه په همدې اساسي محور راڅرخي، او د الله تعالی د واکمنۍ څرنګوالی او پراخ ابعاد څېړي، چې خلاصه ئې دا ده: الله تعالی مالك او ملك دی، مطلق ټولواك دی، ستاسو د مرګ او ژوند واکمن دی، دا بر اوه آسمانونه ده پیدا کړي، حکم ئې د عالم په ګوټ ګوټ کې نافذ دی، دا د دنیا (نږدې) آسمان ده په ځلاندو ستورو ښایسته کړی، چې ځینې پرې هدایت کوي، او ځینې پرې شړي او رټي، مکافات او مجازات د ده له لوري دی، د خپلو مخلوقاتو پالنه او ساتنه کوي، اړتیاوو ته ئې ځواب وایي، ضرورتونه ئې رفع کوي، د عالم هر څه د ده د څارنې، او رعایت تر نظر لاندې دي، ځمکه ئې تاسو ته رام کړې، له همدې ځمکې تاسو ته رزق او روزي درکوي، که هغه وغواړي نو دغه ځمکه به ستاسو په هډېرې بدله شي او ټول به تر خاورو لاندې کړي، نرم نسیم او ملایم باد به ئې په تندو سیلیو واوړي، هر څه به درباندې رانسکور کړي او له لویو لویو ښارونو نه به د شګو سترې سترې غونډۍ جوړې کړي، لکه څنګه چې مرغانو

ته د الوتو توفيق ورکوي او بر ئې په آسمان کې د الوتو په حالت کې ساتي، ستاسو ټولې هڅې او هلې ځلې د الهي توفيق نتيجه ده، که هغه خپل توفيق درنه وسپموي هيڅوك به داسې ونه مومئ چې ستاسو مرسته وکړی شي او د کوم کار د کولو توفيق مو په برخه کړي، ستاسو د رزق او روزي مالك دی، که خپل رزق درنه وسپموي هيڅوك په دې نه شي توانېدی چې روزي درکړي او په پای کې فرمايي: که اوبه مو په ځمکې کې ننوځي آيا داسې څوك مومئ چې روانې اوبه درته راولي؟

# القلم

**د سورې معرفي:**

د دې سورې معروف نوم (القلم) دی، د (نون) په نامه هم ياده شوې، دواړه نومونه له لومړۍ آيته اخيستل شوي، ۵۲ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې جمعاً څلور ډوله دي، زياته برخه ئې د نون او يسطرون په څېر، يوه برخه ئې عظيم ته ورته صيغې، ځينې ئې مهتدين ته ورته او دوه ئې د مکظوم او مذموم په صيغو پای ته رسېدلي، چې دا هم د غږ له پلوه نون ته ورته دي، په دې ترتيب ويلی شو چې په اصل کې د دې سورې آيتونه درې وزنه لري، د غږونو مد و جذر ئې ډېر زيات خوندور دی. په مکي دور کې نازله شوې ده، له متنه ئې معلومولی شو چې د مکي دور په کومې مرحلې کې نازله شوې او پيغمبر عليه السلام او ياران ئې د دې سورې د نزول په دې وخت کې په څه وضعيت کې وو، او د دښمن معامله ورسره څنګه؟ دا سوره ښيي چې په دې وخت کې له يوې خوا د دښمن تبليغات د پيغمبر عليه السلام په ضد خپل اوج ته رسېدلي وو، له بلې خوا د قريشو ځينو مکارو او دوکه مارو سردارانو غوښتل چې د غولونکو وړانديزونو له لارې پيغمبر عليه السلام له خپلې مبارزې منصرف او سازش ته ئې چمتو کړي، له بلې خوا پيغمبر عليه السلام خپل دعوت نه يوازې ځرګند کړی بلکې تر بل هر وخت ئې تېز کړی، د

دښمن خصومت او عداوت هم اوج ته رسېدلی، د دوی ژوره کینه په تریو تندي او قهرجنو سترګو کې څېپې وهي، چې چېرې له پیغمبر علیه السلام سره مخامخ شي نو خپله غصه او کینه د تندي په ګونځو سره څرګندوي، که څه هم د دښمن دا کرکجن چلند ئې له خپلې لارې نه شي په شا کولی خو کله کله ئې په زړه کې دا راګرځي چې نور نو له دې ټولنې د خیر طمع نه شي کېدی، باید لاس ترې پرې منځي، د نورو خلکو په لټه کې شي، له دې ځایه چې له هر ور او دیواله ئې د کینې او کرکې لمبې اوچتې دي، ووځي، بلې سیمې ته ولاړ شي، او د یونس علیه السلام په څېر دلته خپل دعوت ناتمام پرېږدي.

لکه څنګه چې دا سوره د (نون) په یوه توري پیل شوې، د بحث محوري موضوع ئې هم یوه ده، او د سورې ټول آیتونه په همدې یوې اساسي موضوع ترکیز او بحث کوي، سوره په دې موضوع ترکیز کوي چې د پیغمبر علیه السلام په ضد د دښمن عداوت، مخالفت، او شدید خصمانه تبلیغات د دوی له فکري او اخلاقي فساد نه راولاړ شوي، دښمن دروغجن دی، سپك او ذلیل دی، تل په دې تکل کې چې په ولس کې فتنې او شخړې راولاړې کړي، کرکې او نفرت ته لمن ووهي، په ګناهونو کې تر ستونې غرق دی، تیری کوونکی، د خیر مانع، بداخلاقه او بدنامه دی، د پیغمبر علیه السلام له دعوت سره د دوی دښمني له دغو خصلتونو خړوبه کېږي، د دوی په ظاهر مه دوکه کېږئ، د خبرو تر اغېز لاندې ئې مه ځئ، دې ته په پام سره چې ډېر مال او دولت لري، په دې جهل وهلې او شرك ځپلې ټولنې کې کاذب اعتبار او وجاهت لري، پلویان ئې زیات دي، خبره ئې اورېدل کېږي، منلي او مخور دي، داسې نه چې تر اغېز لاندې ئې راشې او دوی ته خاص اهمیت ورکړې، او وینا ته ئې اعتناء وکړې، دوی بې لارې دي، ډېر ژر به د دوی اصلي څېره، په ښایسته او ګران بیه جامو پټه کرغېړنه څېره ټولو ته بربنډه شي، خلك به پوه شي چې څوك بې لارې او لار ورکی دی او څوك هدایت شوی. دا د شرك او کفر ځواکونه به ډېر ژر په زوال محکوم شي، له رسوایي سره به مخامخ شي، جاه او جلال، قدرت او وجاهت، حیثیت او اعتبار به ئې ختم شي، ډېر ژر او د خپل انتظار خلاف به

وګوري چې هر څه ئې له لاسه ورکړي، د جاه او جلال په درمند ئې اور ګډ شوی او سپېرې ایرې ترې پاتې شوې.

د دوی د حالت او پایلې د ښه انځورولو لپاره د هغې کورنۍ قصه زمونږ مخې ته ږدي چې سمسور باغ ئې درلود، خو بې عاطفې او بخیل ول، کله چې د دوی باغ په حاصل راغی، او مېوه ئې د ټولېدو شوه، د دې لپاره چې کوم مسکین د باغ مخې ته ونه درېږي او له دوی څه ونه غواړي، پرېکړه ئې وکړه چې له سحر نه مخکې په تیاره کې او مخکې له دې چې خلك له خوبه راویښ شي، باغ ته لاړ شي، میوه راغونډه کړي، پټ ئې کور ته انتقال کړي او په دې ترتیب د مسکینانو له شره خوندي پاتې شي، له سباوونه مخکې ئې یوه بل له خوبه راویښ کړ، د باغ په لوري وخوځېدل، ګامونه ئې سوکه او په احتیاط اخیستل، په ټیټ غږ به ئې خبرې سره کولې، هڅه ئې دا وه چې څوك ئې غږ وانه وري، ورته متوجه نه شي، او د میوو د راغونډولو په وخت کې ئې مزاحم نه شي، په دې امېد چې پنډې ډکې کور ته راوړي، پرته له دې چې څه ترې کم شي او چا ته څه ترې ورکړي، هر څه کور ته یوسي، د باغ سیمې ته راورسېدل، ناڅاپه ئې د باغ ځمکه داسې وموندله چې ګمان ئې وکړ لار ئې غلطه کړې، د بل چا د باغ په وړاندې ودرېدلي، د دوی باغ خو سمسور او ګڼ وو او ونې ئې له میوو ډکې، دا خو سوځېدلې ځمکه ده، ونې ئې سوځېدلې او پر ځمکه پرتې، حتماً مو اشتباه کړې!! نه، دا همغه باغ دی، باغ ته په رسېدو کې مو اشتباه نه ده کړې، په خپل قصد او غرض کې مو اشتباه کړې، دا همغه باغ دی چې ستاسو بد نیت سوځولی!!

د قریشو مغرورو او بد نیتو سردارانو! په دې پوه شئ چې په دنیا کې د الله تعالی عذاب داسې دی او په آخرت کې تر دې ستر، کاش پوهېدئ!!

آیا تاسو داسې انګېرلې چې الله تعالی به له مسلمان او غیرمسلمان، او له صالح او مجرم سره ورته معامله کوي؟ آیا ګمان کوئ چې د مسلمانانو هلې ځلې به بې ثمره او قربانۍ به ئې ضایع کړي؟ د دې خاطئ تصور او غلط قضاوت لپاره څه دلیل لرئ؟ آیا دا مو په کتاب کې لوستلي چې څه تاسو وغواړئ تر لاسه به ئې

کړئ؟ آیا له الله تعالی مو کومه داسې دائمي او نه بدلېدونکې ژمنه ترلاسه کړې چې ستاسو هره پرېکړه او غوښتنه به ترسره کېږي؟ او همغه څه به کېږي چې تاسو ئې غواړئ؟ ستاسو کوم یوه دا خبره په خپلې ذمې اخیستې او د دې ژمنې وکیل او ضامن دی؟ مګر تاسو بېل خدایان لرئ چې له الله تعالی سره په الوهیت او ربوبیت کې شریك دي، ستاسو مرسته کولی شي او ستاسو هیلې او امېدونه پوره کولی شي؟ مطمئن اوسئ چې هغه ورځ خامخا راتلونکې ده چې ستاسو طغیان او سرکښۍ ته به د پای ټکی کېږدي، له تسلیمېدو پرته به بله چاره نه لرئ، خو هغه ورځ به ډېر ناوخته وي او ستاسو سجده او انقیاد به ګټه نه شي دررسولی.

پیغمبر علیه السلام ته توصیه کوي چې هغو خلکو ته هیڅ اهمیت مه ورکوه او پروا ئې مه کوه چې په دغو حقایقو باور نه لري، د هغوی کار الله تعالی ته پرېږده، تر څو ئې داسې محوه او نیست کړي چې د دوی په خیال کې هم نه ګرځي. مګر تا کومه داسې بدله او اجر ترې غوښتی چې دوی ئې ځان ته دروند پېټی ګڼي؟ ستا اجر خو د الله تعالی په ذمه دی. آیا دوی له غیبه مطلع شوي، او اطلاع ئې هم ډېره دقیقه، او په کوم کتاب کې درج شوې؟ او د همدغې اطلاع له مخې وایي چې ستا کار او تکل به بې حاصله پاتې شي، او هیڅ نتیجه به پرې مرتب نه شي!! دوی له خپلو غلطو انګېرنو سره پرېږده، تر هغې نېټې چې الله تعالی خپله وروستۍ پرېکړه صادره کړي، صابر او ثابت قدمه اوسه، داسې نه چې د یونس علیه السلام په څېر ستومانه شې، د دعوت له راتلونکې او د خلکو له ملګرتیا مأیوس شې، او مبارزه ناتمامه پرېږدې، ته خو ښه خبر یې چې هغه په دې کار سره د ماهي په کومې کې پرېووت، او که د الله تعالی پېرزوینه ئې نه وای په برخه شوې، یا به تل تر تله د ماهي په نس کې پاتې شوی وو او یا د دریاب په ژۍ کې پرېوتی او د ملامتیا او مذمت وړ.

د سورې په تتمه کې د پیغمبر علیه السلام د مشرکو مخاطبینو هغه غیظ او غصه په ډېره اغېزمنه توګه انځور شوې چې د قرآن د اورېدو په وخت کې ئې په تندي او سترګو کې راڅرګندېده، فرمایي: کله چې کافران له تا نه قرآن اوري په

داسې غضبناکو او قهرجنو سترګو درته ګوري چې نږدې ده تا له ځايه وخوځوي، نږدې ده تا له خپلې مبارزې لاس اخيستو ته اړ کړي!! وايي: دا خو هسې ليونی شوی، حال دا چې ته دوی هغه قرآن ته رابلې چې ټولو عالميانو ته نصيحت او پند دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

**bĵr ÇÈ 5qãõ Jî 7 ĥ þJèŻÎ MR& $B ÇÈ brãüó„ $Br É=)ß úc**

**ŽÇ 6ç¡ ù ÇÍÈ 5šãã @öü 4?è9 7Ŗĵr ÇÌÈ 5qãõB Žöî #•ô V 7 9**

**`ã @Ê `Jî ã=æ& qè š• /‘ bĵ ÇÏÈ ãqçöJ$ãí'Î ÇÎÈ brŽÇ ç7r**

**ÇÐÈ ûïÏ‰Gôgß ã=æ& qèr ¾Ï‹Î™**

---

١ـ ن* قسم په قلم او څه چې دوی ئې ليکي. ٢ـ د خپل رب د پېرزوينې په سبب ليونی نه يې. ٣ـ او يقيناً چې خامخا تا ته دی اجر، نه غوڅېدونکی. ۴ـ او بې شکه چې ته يې په سترو سترو خصلتونو. ۵ـ نو ژر به ئې هم ته ګورې او هم دوی ګوري، ۶ـ چې ستاسو کومې ډلې کې مجنون دی. ٧ـ بې شکه چې ستا رب دی ډېر ښه پوه، په حال د هغه چا چې له لارې ئې تېروتی او ښه پوه دی په (هغوی چې) مهتدين دي.

---

١ـ دا د قرآن کريم يوه بله سوره ده چې د مقطعاتو په حروفو پيل شوې، د دې حروفو په هکله د بقرې په سوره کې تفصيلي بحث شوی، لکه څنګه چې دا سوره په يوه حرف (نون) پيل شوې، د سورې د بحث اساسي او محوري موضوع هم يوه ده، ټول آيتونه ئې په همدې يوې اساسي موضوع ترکيز کوي، د بحث اساسي موضوع

ئې هماغه ده چې په لومړي او دوهم آیت کې ئې خلاصه او په پاتې آیتونو کې ئې شرح او تفصیل راغلی او د سورې په وروستي آیت کې د بحث د نتیجې په توګه زمونږ مخې ته ایښودل شوې. د بحث موضوع د هغو تبلیغاتو شنډول دي چې دښمن د پیغمبر علیه السلام په خلاف پیل کړي وو، د دوی خصمانه تبلیغات هغې پوړې ته رسېدلي وو چې د پیغمبر علیه السلام په هکله به ئې ویل: دا هسې په جنون او لیونتوب اخته شوی.

د دې مبارکې سورې په لومړي آیت کې په قلم او هغه څه چې دوی ئې لیکي لوړه شوې او ورپسې پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې ته د خپل رب د پیرزوینې په وجه مجنون نه یې:

لدې د مخه چې دلته د قسم او ځواب ترمنځ ئې په ارتباط پوه شو او دا توضیح کړو چې څنګه (قلم) او (هغه څه چې دوی ئې لیکي) په دې خبرې شهادت ورکوي چې پیغمبر علیه السلام لکه څنګه چې د ده دښمنان وایي مجنون نه دی، باید څو خبرو ته پام وکړو:

- قریشو هغه وخت د پیغمبر علیه السلام په خلاف ناروا او ظالمانه تبلیغات پیل کړل چې ده قرآن ته راوبلل، له دې د مخه ئې هغه ته په ډېره درنه سترګه کتل، د ده راتلونکې او د ده په وجه ئې د ټول قوم راتلونکې ډېره روښانه ګڼله، د هر چا دا طمع وه چې دی به ستر لاربنود او د ولس ناجي وي، خو کله چې دی په پیغمبرۍ مبعوث شو، په ټولنې کې په خور فساد، ظلم، شرك او جهل ئې اعتراض وکړ او خلك ئې د یوه الله بندګۍ ته راوبلل، له ده سره مخالفتونه پیل شول، او دښمنانو ئې په عداوت او عناد کې هومره مخکې ولاړل چې دی ئې په جنون او لیونتوب متهم کړ!!

- په دوهم آیت کې دغې خبرې ته اشاره شوې او پیغمبر علیه السلام ته په خطاب کې ویل شوي: ستا رب تا ته خپل ستر نعمت پیرزو کړ او دا قرآن چې د الله لوی نعمت دی تا ته درکړی شو، اوس د دغه نعمت په وجه ستا دښمنان تا ته مجنون وایي، دا خو نه ښایي چې قرآن ته د بلنې او دعوت په خاطر تا ته مجنون وویلی

شي.

د دغو خبرو له توضيح نه وروسته د قسم او ځواب ترمنځ ئې د ارتباط په اړه باید ووایو:

هر قلم چې د قلم له پیدا ښت نه ترنن پورې څه لیکلي، تاسو اې قریشو چې څه لیکئ، دا ټول له هغه قرآن سره مقایسه کړئ چې محمد علیه السلام راوړی، بیا د دې کتاب او د راوړونکي په هکله ئې قضاوت وکړئ، او وګورئ چې تاسو له دې سره په مخالفت کې څومره ستره جفا او ظلم کوئ، مخصوصاً چې د همدغه عظیم الشأن قرآن په وجه (چې د هیڅ قلم او د هیچا لیکنه ورسره برابري نه شي کولی) تاسو ده ته مجنون وایاست، څومره ظالمانه قضاوت!! څومره په حق تلفۍ او حق دښمنۍ ولاړ قضاوت!!

له بعثت نه مخکې هیچا د پیغمبر علیه السلام په خلاف تبلیغات نه کول، هرچا ستایو، هغه ئې امین، صادق، او پوه انسان ګاڼو، د ده په لوړ شخصیت ئې اعتراف کاوو، هرچا له ده نه او د ده مستقبل ته ډېر توقعات لرل، خو له بعثت نه وروسته کله چې الله پرده فضل وکړ او د قرآن په څېر ستر نعمت ئې ورکړ، او ده قرآن د خلکو مخې ته کېښود او هغه ته ئې راوبلل، نو د خلکو له کینې، دښمنۍ او عداوت سره مخامخ شو، هغو کسانو چې له دې د مخه ئې د ده ستاینې کولې اوس ده ته مجنون وایي!! الله تعالی په دې آیتونو سره له یوې خوا ده ته اطمئنان ورکوي چې پرتا باندې د قرآن نزول او تا ته چې د الله له لوري کومه دنده درکړی شوې دا خو د الله لوی فضل دی، پر تا هم او ستا پر قوم هم، د دوی تبلیغاتو ته له اعتناء پرته خپل مأموریت ترسره کړه، له بلې خوا د ده مخالفینو قریشو ته وایي چې د پیغمبر علیه السلام دعوت، د روښانه راتلونکې په ا ړه د ده امېدونه، د خپلې مبارزې د حتمي برې په هکله د ده ډاډ، هسې احساسات او جذبات او له لیونتوبه ډك توقعات مه ګڼئ، او له مخالفت او دښمنۍ ئې لاس واخلئ. کوم څه چې تاسو د ده په خلاف دښمنۍ ته هڅوي هغه په حقیقت کې د الله یو ستر نعمت دی، د ده لپاره هم او ستاسو لپاره هم، عجیبه ده چې دغه قرآن، دا د الله ستر نعمت، دا چې هیڅ

قلم په لاس ليکوال ئې سيالي نه شي کولی، ستاسو د مخالفت سبب شوی!!

که څه هم ځينې مفسرين په دې باور دي چې دلته له قلم نه هغه قلم مراد دی چې په هغه سره پر لوح محفوظ ليکنه شوې، يا ئې ملائکې کاروي، او الهي وحي پرې ليکي، خو دقيقه خبره دا ده چې له دې قلم نه هر هغه قلم مراد دی چې انسان ئې کاروي، قلم په عامه صيغه راغلی، حق نه لرو چې مشخص قلم ئې وګڼو. همداراز ځينې مفسرين، په (ما يسطرون) کې راغلې (ما) مصدري ما ګڼي، او ځينې ئې موصوله ما ، او ځينې هم د جمع ذوي العقول په معنا نيسي او دا ژباړې ئې کوي:

- قسم په قلم او ليکلو ئې.
- قسم په قلم او په هغه څه چې دوی ئې ليکي.
- قسم په قلم او هغه چې ليکل کوي.

که قسمونو او له ځواب سره ئې تړاو ته لږ ځير شئ په دې پوهېدی شئ چې يوازې دوهم تعبير دقيق او سم دی.

۲: په دوهم آيت کې چې د مخکنيو دواړو قسمونو ځواب دی پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي: ته مجنون نه يې، بنعمة ربك، د هغه الهي نعمت په وجه چې د قرآن په بڼه کې ئې پر تا پېرزو کړی، وروستی آيت ښيي چې له نعمت نه مراد قرآن دی. دا چې دوی ولې پيغمبر عليه السلام د مجنون په نامه ياداوو د مفسرينو ترمنځ څو توجيه ګورو:

الف: هغه مبارزه چې پيغمبر عليه السلام پيل کړې، غواړي خلك له خپل لرغوني پلرني دين او مذهب نه لاس واخلي، د خپلو ځانګړو بتانو او خدايانو عبادت پرېږدي، او په ځای ئې يوازې يو خدای ومني، خپل زوړ او پلرنی دود، دستور، اخلاق او اطوار بدل کړي، په ټولنې حاکم سياسي، اجتماعي او اقتصادي نظام نسکور شي، د انسانانو تر منځ توپيرونه او تفاوتونه له منځه ولاړ شي، غلام او بادار برابر او د يوه نسل او له يوه مور پلار پيدا شوي وګڼي، دا ومني چې ټول انسانان سره برابر دي، د ده نوی دين دې قبول کړي، دی دې د خدای پيغمبر او د الهي وحي امين ومني، که نه نو الهي عذاب به پرې نازلېږي، د دې دعوت په ضد

به ستاسو ټولې هڅې بې ثمره پاتې کېږي، حق به خامخا بريالى او باطل به په زوال محکومېږي، د دې دين پلويان به پر ټولو اديانو غالبېږي، دا داسې ادعاګانې دي چې يوازې يو ليونى ئې ويلى او منلى شي، له يوه هوښيار او عاقل انسانه ډېره لرې ده چې داسې خبرې ئې په ژبه راشي يا ئې ومني، دا باور چې پيغمبر عليه السلام به له خپل دغه واړه ټولګي سره چې د ټولنې له بې وزلو او مستضعفينو جوړ شوى، نه زور څواك لري او نه قومي نفوذ او ملاتړ، په دغو څواكمنو او پر ټولنې مسلطو دښمنانو غالب شي، دا هسې خوب، خيال او جنون دى او خوشې احساسات او جذبات، ګواکې دا خبرې به يوازې هغه څوك كوي چې خپل عقل ئې له لاسه وركړى وي او په جنون او ليونتوب اخته شوى وي.

ب: له دې خبرې د دوى مقصد دا وو چې د پيغمبر عليه السلام دا ادعا حقيقت نه لري چې دى د الله تعالى پيغمبر دى، وحي پرې نازله شوې، د وحي حامل فرشته ورته راغلې او الهي پيغام ئې ورته راوړى، بلكې جن خپل وزر پرې غوړولى، حواس ئې ورخراب كړي، هغه پيرى فرشته ګڼلې او شيطاني القاءات او وسوسه ئې الهي وحي.

د لومړى توجيه لپاره څو مضبوط دلايل لرو:

لومړى: د سورې ټول آيتونه دغه تعبير تائيدوي، په هيڅ آيت كې داسې نښه نه ګورو چې دوهمه رايه تائيد كړي.

دوهم: د سورې له وروستي آيته معلومېږي چې كافرانو د قرآن په اورېدو سره دوه ډوله غبرګون ښودو: پيغمبر عليه السلام ته به ئې په قهرجنو سترګو كتل او د ده په هكله به ئې ويل چې: دا حتماً ليونى شوى.

درېيم: د قرآن له ويناوو معلومېږي چې داسې تبليغات د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام په هكله شوي، هر يوه ته مخالفينو د مجنون خطاب كړى او د زمانې په هر پړاو كې چې څوك د دوى په لار درومي دښمنان به همدا تبليغات او همدا خبره د دوى په ضد كوي، د الله تعالى په عبادت كې ډېر انهماك، پر الله توكل او په الهي تائيد او ملاتړ ډېر اعتماد او باور تل د بې دينو كسانو له لوري جنون ګڼل

شوی. تر هغه د چا ایمان نه بشپړېږي چې مجنون ونه ګڼلی شي. دا ځکه چې ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ته همدا ویل شوي، تر څو چې دښمن ستا وضع داسې ونه ګڼي چې د ده په معیارونو کې جنون او لیونتوب ګڼل کېږي، ایمان مو ناقص دی، تر څو چې دښمن ونه ګوري چې ته د الله تعالی په عبادت کې په بشپړ انهماك لګیا یې، د الله تعالی د رضا په لټه کې یې، دې مقصد ته د رسېدو لپاره هرې قربانۍ ته چمتو یې، د هر ځواکمن او مغرور دښمن په مقابل کې الله تعالی ځان ته کافي ګڼې، آخرت ته پر دنیا ترجیح ورکوې، شهادت ته چمتو یې، پرهارونه، زولنې او زندانونه منې، کړاوونه او ستونزې ګالې، دې ته تیار یې چې خپل هر څه د الله تعالی په لار کې وقف کړې ... دا شیان د بې ایمانو خلکو په معیارونو کې جنون او لیونتوب بربښي، او ستاسو ایمان یوازې هغه وخت بشپړېږي چې دا خلك تا مجنون وګڼي. هر پیغمبر، هر داعي او هر انقلابي مبارز ته مجنون ویلی شوي، د هغه چا خبره څومره درنه ده چې ویلي ئې دي: د تاریخ په اوږدو کې ټول انقلابونه د هغو انقلابیونو په لاس راغلي چې تر بري مخکې خلکو ورته مجنون ویلي!!

په تفسیرونو کې ځینې نور توجیهات او تعبیرات هم مومو چې په قلم او ما یسطرون باندې لوړه، او د قسمونو د ځواب (ما انت بنعمة ربك بمجنون) په هکله شوي چې یو ئې دا دی:

قسم په هغه قلم چې قرآن پرې لیکي، دا قرآن شاهد دی چې ته مجنون نه یې.

که څه هم د دې تعبیر دوهمه برخه داسې ده لکه د یس په سوره کې چې راغلي:

وَ القُرآنِ الحَكيم * انّكَ لَمِنَ المُرسَلين * یس: ۲-۳

قسم په باحکمته قرآن چې ته یقیناً یو له پیغمبرانو څخه یې.

یعني دا حکیم قرآن شهادت ورکوي چې ته پیغمبر یې، له یوه پیغمبره پرته بل څوك داسې له حکمته ډك کتاب نه شي راوړی. خو په دغو تعبیرونو کې څو اساسي اشکاله ګورو:

- قلم ئې خاص کړی حال دا چې د آیت په متن کې عام دی.
- (مایسطرون) ئې خاص کړی حال دا چې د خاصوالي لپاره ئې کومه نښه او

دليل نه ګورو.

• د کلام له فحوا معلومېږي چې د (مايسطرون) فاعل د پيغمبر عليه السلام د مقابل لوري ليکوالان دي، نه هغه کسان چې په پيغمبر عليه السلام ئې ايمان راوړی او قرآن ليکي.

دقيق تعبير دا دی: که قلم معيار ونيسو، او تاسو خپلې ليکنې د قرآن په څنګ کې کېږدئ، او دا دواړه سره مقايسه کړئ، نو آيا دا به ستره جفا او ظلم نه وي چې د دومره ژور توپير او تفاوت له ليدو سره سره تاسو د پيغمبر عليه السلام د دعوت په حقانيت اعتراف ونه کړئ او د ده له مخالفته لاس وانه خلئ؟!

۳ـ دريم آيت په ډېر وضاحت سره ښيي چې دښمن، د پيغمبر عليه السلام کار بې حاصله او بې ثمره ګڼي، او په خپلو تبليغاتو په دې خبرې تأکيد کوي چې پيغمبر عليه السلام نه شي کولی له خپلې مبارزې خاصه نتيجه ترلاسه کړي، د دې هيڅ امکان نشته چې کار ئې رونق ومومي، زيات خلك ورسره ملګري شي، خپلو موخو ته ورسېږي او په ټولنې کې انقلاب راولي، هسې ئې د احساساتو او ليونتوب يوه بې حاصله کار ته ملا تړلې. قرآن د دوی په ځواب کې او د دې کافرانه ذهنيت د ترديد لپاره فرمايي: مطمئن او ډاډه اوسه چې ته به د خپلو هلو ځلو دائمي او نه غوڅېدونکی اجر او بدله ترلاسه کوې، هيڅ څه نه شي کولی د هغو نتايجو د تحقق مخه ونيسي چې الله تعالی به ئې ستا پر هڅو او کوښښونو مرتب کوي، له (اجر غير ممنون) نه مراد هم د عملونو دنيوي اجر او بدله ده او هم اخروي.

۴ـ ته لوړ اخلاق لرې، ستا اخلاقي لوړالی ستا او ستا د ټګلارې حقانيت ثابتوي، دوی دې راشي ستا لوړ اخلاق دې ستا د مخالفينو او معارضينو له پرېوتي اخلاق سره مقايسه کړي او د دې له مخې دې ستا او ستا د مخالفينو د ټګلارو په اړه قضاوت وکړي.

د هر فکري دعوت ماهيت او له نورو ئې لوړوالی نه يوازې له دې لارې درك کولی شو چې له نورو سره ئې مقايسه کړو بلکې له دې لارې ئې ښه معلومولی شو چې د پلويانو عملي او اخلاقي وضع ئې سره مقايسه کړو.

په دې مبارك آيت كې دا ظريفه اشاره هم مومو چې له تاسره اې پيغمبره ! د دوی د مخالفت يوه اساسي وجه دا ده چې ستا او چت او لوړ اخلاق؛ هغه افراد مخالفت ته هڅوي چې پرېوتي، ذليل، مفسد، بدكاره، دروغجن، فتنه غوارې، د خير مانع، تيرى كوونكي، گنهگار، بد خصلته او لئيم دي، دا بد اخلاقه عناصر نه شي كولى ستا په څېر د اوچت او لوړ اخلاق انسان، صالح او ستر شخصيت په خپلې خوا كې وزغمي.

**۲-۵**: له دې آيته په واضح توگه معلومېږي چې پيغمبر عليه السلام ته له مجنون ويلو نه د دښمن هدف او مقصد څه وو، دلته ويل شوي چې ته به ئې هم ډېر ژر وگورې او دوی هم چې په جنون او ليونتوب اخته په كومې ډلې كې دی، د چا افكار او نظريات احساساتي او مجنون ته ورته دي؟ دا په وضاحت سره ښيي چې د مفتون او مجنون لفظ په داسې مفهوم كارول شوی چې حقيقت به ئې نږدې راتلونكې كې معلوم شي، دښمن په دې دليل پيغمبر عليه السلام ته د مجنون خطاب كاوو چې له قريشو ئې د ملگرتيا او د خپل پلرني زوړ دين د پرېښودو طمع درلوده او ويل ئې: زوړ دين پرېږدئ، زما دين ومنئ، د بتانو په ځای د يوه الله عبادت وكړئ، د خپلې ټولنې سياسي، اجتماعي او اقتصادي وضعيت بدل كړئ، د ظلم او بې عدالتۍ ټغر ټول كړئ، خپل دود دستور او زاړه عنعنات پرېږدئ، خپل فردي او اجتماعي آداب او اخلاق اصلاح كړئ، په نوي قالب كې ځان واچوئ او هغه آداب او اخلاق خپل كړئ چې زه مو ورته رابولم او دا نوی دين ئې غوښتنه كوي، كه له مخالفته لاس وانه خلئ؛ له بدو پايلو سره به مخامخ او د الله تعالى په شديد عذاب به اخته شئ، ډاډه اوسئ چې زه او زما مؤمن پلويان به له ضعف او ناتوانۍ سره سره برلاسي كېږو، كه څه هم د ټولنې بې وزلو، مستضعفينو او كمزورو خلكو ايمان راوړی، نه وسايل په واك كې لرو، او نه پياوړي او ځواكمن مرستندويان او حاميان، خو د الله تعالى په مرسته به په ټولو دغو ځواكمنو او قدرتمندو دښمنانو چې پراخ وسايل او امكانات ئې په اختيار كې دي غلبه ترلاسه كوو، دښمنانو به د پيغمبر عليه السلام او د ده د پلويانو دا ډول څرگندونې،

تمنيات او هيلې خوب او خيال ګڼلې او د مجانينو په سترګه به ئې ورته کتل، قرآن د دې آيتونو په ترڅ کې هغوی ته وايي: لږ انتظار وکړئ، په خپل قضاوت کې عجله مه کوئ، ژر او په نږدې راتلونکې کې به پوه شئ چې مجنون څوك دی؟ تاسو چه دا نظام او دا وضعيت تلپاتې او تغيير نه منونکی ګڼئ او په دې خبرې مو باور نه راځي چې دا به خامخا رنګېږي، او که پيغمبر عليه السلام او ياران ئې چې د حق په بريا او د باطل په ماتې او زوال پوخ باور لري، مصمم دي چې دا وضع به بدلوي، او ډاډه دي چې حتماً به ئې برى په برخه کېږي؟ په نږدې راتلونکې کې به څرګنده شي چې څوك د ځان او خپل حريف په سم پېژندو کې پاتې راغلی، افکار، نظريات، قضاوتونه، باورونه او هيلې ئې بې بنسټه او ليونو ته ورته وې؟!

دې ته مو بايد پام وي چې دلته په (ستبصر و يبصرون) سره د ليدو مفهوم کارول شوی، او د بيان اسلوب داسې دی چې ښيي د ليونتوب حقيقت به ډېر ژر څرګند شي، او عملاً به وګورئ چې دا مفتون او مجنون په کومې ډلې کې وو؟ په مسلمانانو کې که د دوی په دښمنانو کې!! د همدې لپاره په ډېر قاطعيت او ډاډ سره ويلی شو چې د پيغمبر عليه السلام په هکله دا تبليغات په همدې معنا وو نه په بله معنا.

د ۶ آيت په اړه څو ترجمې په تفسيرونو کې مخې ته راځي:

الف: ځينو (باء) په (بايکم المفتون) کې زايد ګڼلې، او آيت ئې داسې ترجمه کړی: کوم يو مو مجنون دی.

ب: ځينو (مفتون) اسم مصدر ګڼلی او ژباړه ئې داسې ده: کوم يوه ته مو جنون رسېدلی.

خو ګورئ چې په دې دواړو تعبيرونو کې بې ځايه تکلف شوی، او د آيت الفاظ ئې يا په اصلي معنا نه دي اخيستي او يا ئې څه ترې حذف کړي. دقيق او له تکلف نه لرې ترجمه ئې داسې ده:

دا مجنون ستاسو په کومې ډلې کې دی؟ يعني ډېر ژر به معلومه شي چې له دغو دواړو متخاصمو ډلو څخه دا په جنون او ليونتوب اخته کس په کومې ډلې کې

دی؟ چېرې او په کوم صف کې؟ دا ليونيان ستاسو په ليکو کې دي که د مسلمانانو په ليکو کې؟

په دې ژباړې کې (باء) د (فی) په معنا اخيستل شوې چې په عربي کې ئې مثالونه ډېر زيات دي.

۷ـ د دې پروا مه کوه چې دښمن څوك لار ورکی ګڼي او څوك هدايت شوی، لار ورکی هماغه دی چې اعلم خدای ئې لار ورکی بولي، او هدايت شوی هماغه دی چې تر ټولو پوه الله ئې هدايت شوی ګڼي.

---

@ä ôÜêŸr ÇÌÈ šc qäd%ã ßd%êq {rŠr ÇÌÈ ûüÎÉ3B$ÆÜêŸù

ÇÌÈ AŠÏ& %Gèã Îö, ÿ 8$ZB ÇÌÈ 5‹ÜYÎ ¥$±B ÷$Jd ÇÌÈ Aüĝ B 7$ žm

Ïøã 4?Gê #ŒÎ ÇÌÈ ûüÏ/r 5$B #Œ b%. b& ÇÌÈ AŠÏ– 7Ï%Œ %è/ @çã

ÇÌÈ ÜqÛöã $’?ã ¼ç3Å^™ ÇÌÈ šú üÏrŖ$çÜ»™& š^ $% $Zķƒ#ä

---

۸ـ نو د دغو دروغجنو اطاعت مه کوه. ۹ـ خوښوي چې کاش ته مداهنت وکړې چې بيا دوی هم مداهنت وکړي. ۱۰ـ او اطاعت مه کړه د هر سپك قسم خور. ۱۱ـ عيب لټونکی، نمامت ګر. ۱۲ـ د خير مانع، متجاوز ، ګنهګار، ۱۳ـ بدخوی، سربېره پر دې بدنام. ۱۴ـ د دې لپاره چې د مال او د اولاد خاوند دی. ۱۵ـ چې پرې ولوستی شي زمونږ آيتونه، وايي به: د مخکنيو کيسې. ۱۶ـ ژر به په خرطوم ورته داغ کېږدو.

---

۸ـ۹: څو مهم مطالب په دې آيتونه کې مومو:

الف: دښمن د روغې جوړې او مداهنت وړانديز لري، تا سازش او انعطاف ته

رابلي، تا دې ته اړ باسي چې خپله تګلاره بدله کړې، له قاطعیت نه لاس واخلې، په جوړ جاړي راضي شي. پام چې دې فشارونو ته تسلیم نه شې، د دښمن وړاندېزونه ونه منې، په خبرو ئې باور ونه کړې او له خپل دریځه راکوز نه شې.

ب: دوی دروغجن دي، دروغ ویل ئې یو ځرګند او بارز خصلت دی، په خپلو وړاندېزونو کې صادق نه دي، د روغې جوړې له وړاندېزه ئې هدف دا نه دی چې شخړه حل شي او نزاع پای ته ورسېږي، بلکې فرصت طلبي کوي، غواړي ستا او ستا د یارانو عزم سست کړي، ستا د ملګرو په لیکو کې اختلاف راولاړ کړي، او په دوو ډلو مو ووېشي: په معتدل او بنسټپال، په سوله خوښو او جنګ غواړو، سازش کوونکو او سازش نه منونکو مو ووېشي.

ج: که فشار واردوي، که ستا په ضد خپل تبلیغات زیاتوي، دلیل ئې دا دی چې ته د حق په لار کې ثابت قدمه یې، په کلکه، مېړانه او له انعطافه پرته له حق نه دفاع کوې، په ټولنې کې فساد او ظلم نه شې زغملی، له فکري او اخلاقي ناولتیاوو سره جوړ جاړی نه کوې، ته اجحاف، بې عدالتي او د نورو په حق تېری نه منې، د بې وزلو او مستضعفینو په ضد د زر او زور د خاوندانو د ظلم او ستم په وړاندې سکوت نه کوې، د همدې لپاره ئې ستا په ضد د پراخو او ناراوو تبلیغاتو جبهه پرانیستې او اوس غواړي خلکو ته وښیي چې دوی سوله غواړي او ته د مخالفت په دوام ټینګار کوې، غواړي ته خپل قاطعیت او صراحت پرېږدې، په فساد، ظلم او ناروااوو اعتراض نه لاس واخلې نو دوی به هم خپل تبلیغاتي جنګ متوقف کړي.

۱۰-۱۳: په دې آیتونو کې چې د پیغمبر علیه السلام د مخالفینو اخلاق په کې انځور شوي، څو ټکي د خاصې توجه وړ دي:

الف: په لسم آیت کې د (کل حلاف مهین: هر سپك قسم خور) څخه او په ۱۷ آیت کې د (بلونهم: دوی مو وآزمویل) له الفاظو څخه په ځرګنده توګه معلومېږي چې په دې آیتونو کې معین شخص په نظر کې نه دی نیول شوی، بلکې په دغو خصلتونو متصف ډله او هغه مجموعه په نظر کې ده چې افراد ئې دغه بد او

کرکجن خصلتونه لري. ډېره عجیبه ده چې ځینو درنو مفسرینو دې مطلب ته پام نه دی کړی او هڅه ئې کړې چې په خاص کس د دې آیتونو د تطبیق لپاره د پیغمبر علیه السلام د څو سختو دښمنانو نومونه واخلي.

ب: هغه خلك چې د پیغمبر علیه السلام په ضد ئې د مخالفت جبهه پرانیستې او په خپلو خصمانه تبلیغاتو کې دومره مخکې تللي، د دې تر څنګ چې دروغجن دي، ګڼ شمېر نور کرکجن او شنیع اخلاق هم لري چې د دوی فساد او بداخلاقي مضاعف کوي: سپك او ذلیل دي، ډېر قسمونه خوري، په دروغو قسم او له دروغو د دفاع لپاره قسم، یا د دې لپاره دروغجنو قسمونو ته پناه وړي چې ګمان کوي خلك له قسمه پرته د ده په خبرو باور نه کوي، تل او په وار وار ئې ورته دروغ ویلي، اعتبار ئې ختم شوی، په درواغ ویلو کې مشهور شوی، او یا د دې لپاره چې سپك شخصیت لري، هیڅوك ئې د اعتماد وړ نه ګڼي، په ټولنې کې هیڅ اعتبار او حیثیت ورته پاتې نه دی، له قسمونو پرته ئې څوك په خبرو باور او اعتماد نه کوي، د دې په ځای چې خپلو عیبونو ته پام وکړي د نورو عیبونه لټوي، د هیچا په هکله ښه خوله نه خوځوي، د هر چا مذمت کوي، د ګوتو، شونډو او سترګو په اشارو سره په نورو ملنډې وهي، غواړي د نورو په شخصیت تیري سره ځان ته شخصیت برابر کړي، حقیر او سپك خلك تل خپل عزت د نورو په سپکاوي کې لټوي، هڅه ئې دا چې په خلکو کې کرکه، کینه او دښمني راولاړه کړي، یو د بل په ضد وپاروي، خپلې ګټې د نورو په جنګولو کې لټوي، نمامت او چغلي کوي، د دې خبرې آ بل ته انتقالوي، فتنې راولاړوي، د خیر هر کار په وړاندې خنډ کېږي، په خپله د خیر له کاره ډډه کوي، او د نورو مخه نیسي، نه یوازې د خیر مانع دي، او هیچا ته ئې خیر نه رسېږي، بلکې د نورو په حقوقو تېری کوي، په زړونو کې ئې د کښې اورونه بل، تند خویه، بداخلاق، او پر ټولو سرېېره بدنام او په رذالت کې مشهور.

طبیعي ده چې داسې بدکاره او بد اخلاقه کسان، له دغو شنیع او قبیح خصلتونو سره نه شي کولی د پیغمبر علیه السلام په څېر د لوړ شخصیت خاوند په خپلې خوا کې وزغمي، طبیعي ده چې داسې ذلیل او پرېوتي انسانان به خامخا له

هغه دين سره مخالفت ته ملا تړي چې خيانت او دروغ حرام ګڼي، نمامت او په خلکو کې فتنې راولاړول ستره ګناه بولي، نه يوازې د بل په حق تېرى حرام ګڼي بلکې توصيه کوي چې د بې وزلو او محرومانو مرسته وکړي، له دوى نه د دفاع په خاطر خپل مال او وخت وقف کړي، دروغجن قسمونه د نفاق او بې ايمانۍ نښه شمېري، خلکو ته وايي ذلت ته غاړه مه ږدئ، مه په خپله حقارت منئ او مه نور سپك او حقير ګڼئ، وايي: څوك چې موړ ويده شو په داسې حال کې چې ګاونډى ئې وږى وي زموږ له ډلې څخه نه دى، امر کوي چې د دې دين منونکي به ايثار ته چمتو وي، د سترو سترو او مقدسو آرمانونو د تحقق لپاره به مالي او ځاني قربانۍ ته تيار وي، بد او قبيح اخلاق د ايمان منافي ګڼي، او هغه څوك تر ټولو ښه او غوره انسان ګڼي چې له اخلاقي لحاظه او له نورو انسانانو سره په چلند کې تر نورو غوره وي، او وايي: تر ټولو بد انسان هغه دى چې په بد اخلاقۍ مشهور شوى وي.

له پيغمبر عليه السلام او اسلام سره د قريشو د سردارانو مخالفت د دوى له اخلاقي فساده راولاړېدو. د همدې لپاره ئې په ده پسې تبليغات کول، په دې مبارکو آيتونو کې له يوې خوا د دوى د اخلاقي فساد څو ښېلګې بيان شوې او له بلې خوا خلکو ته ويل شوي چې راشئ د پيغمبر عليه السلام لوړ اخلاق د دوى له پرېوتو اخلاقو سره مقايسه کړئ، راشئ قرآن د دوى د اديبانو او شعراوو له ليکنو سره مقايسه کړئ، او بيا قضاوت وکړئ چې څوك مجنون او په ليونتوب مبتلا دى!!

۱۴: د څوارلسم آيت په اړه دوه توجيه مومو:

لومړى: د دغو بد اخلاقو دښمنانو د شتمنيو او پلويانو ډېروالى او کثرت بايد د دې باعث نه شي چې په خبرو ئې باور وکړې، د اعتماد وړ ئې وګڼې او روغه جوړه ورسره وکړې.

دوهمه: دا بد اخلاق او رذيل خصلتونه مال او جاه و جلال په دوى کې راولاړ کړي.

دا دواړه تعبيرونه سم دي خو څو ټکيو ته په پام سره دوهمه توجيه غوره او له

مخکنیو او وروستیو آیتونو سره سمون خوري:

- په لومړۍ توجیه کې دا آیت له ۸ آیت سره تړل شوی او هغه داسې (نو د دغو دروغجنو اطاعت مه کوه. د دې لپاره چې د مال او د اولاد خاوند دی. خو د دې دواړو ۸ او ۱۴ آیت تر منځ واټن زیات دی او دا اوږدونکی له ستونزې سره مخامخ کوي، ارتباط ورکول ورته ګرانه ده. که دا آیت په اتم آیت پسې متصل راغلی وی، نو لومړۍ توجیه د منلو وړ وه.
- د کلام له انداز او فحوا معلومېږي چې د دوی د بدو اخلاقو منشأ او له پیغمبر علیه السلام سره د دوی د مخالفت لامل د مال او پلویانو کثرت او د دوی کاذب وجاهت او جاه او جلال وو.
- د دغې ډلې د بدو خصلتونو له بیانولو وروسته او د دوی د لازیات معرفي کولو لپاره چې کومه قصه راغلې، او په هغې کې د باغ د خاوندانو بخل او د بدو اخلاقو په وجه د دوی د باغ تباه کېدا انځور شوې، ښیي چې د پیغمبر علیه السلام د مخالفینو اصلي عیب د مال حرص او له کاذب جاه او جلاله راولاړ شوی غرور او د لویې احساس دی، دوی د پیغمبر علیه السلام دعوت د خپلو ګټو او جاه و جلال لپاره ګواښ ګڼي، او مقابله ئې کوي، قرآن په دې خبرې تأکید کوي چې تل او د زمانې په هر پړاو کې مترفینو او مستکبرینو د پیغمبرانو علیهم السلام مخالفت ته ملا تړلې، قرآن؛ (همز) او (لمز) او پر نورو استهزاء او تمسخر هم د شتمنو او مستکبرینو خصلت ګڼي.

**۱۵**ـ دا ډله نه یوازې د پیغمبر علیه السلام له وړتیاوو انکار کوي او د ده د لوړو اخلاقو په ضد ئې غبرګون دا دی چې هغه مجنون ګڼي، بلکې الهي آیتونه هم اساطیرالاولین ګڼي، لوړ اخلاق د دوی په معیارونو کې جنون دی او څرګند الهي آیتونه د دوی له نظره زړې کیسې.

**۱۶**ـ دا مغروره ډله او د پرېړو غاړو خاوندان چې د شتمنیو کثرت او د پلویانو زیاتوالي دوکه کړي، د دوی د غرور باعث شوی، او دا کرکجن خصلتونه ئې په دوی کې زېږولي، له نورو سره په چلند کې خپله غاړه پړسوي، پوزه لوړه نیسي،

سپکاوی ئې کوي، حقیر ئې ګڼي، په حقوقو ئې تېری کوي، له خپلو شتمنیو او قدرت نه د خلکو تر منځ د تفرقې او شخړو په راولاړولو کې استفاده کوي، د خیر او ښېګړو مانع دي، مال او قدرت ئې ګناه او عصیان ته هڅوي، بد خویه او بد اخلاقه انسان ترې جوړوي، او په فساد او بداخلاقۍ کې ئې د نوم او شهرت خاوند جوړوي، دوی دې په دې پوه شي چې ډېر ژر به ئې د کبر کاسه نسکوره کړو، پړسېدلې غاړې به ئې ورماتې کړو، نه یوازې دا چې پزه به ئې په خاورو ورولړو بلکې داسې به ئې وروداغو چې د سپکاوي او ذلت تلپاتې نښه ئې شي.

د دې مبارك آیت الفاظ له سخت عتابه ډك او په هغوی کې دغو مغرورو شتمنو ته د اهانت او سپکاوي سخته لهجه کارول شوې، خرطوم په اصل کې د خوګ او فیل اوږدې پوزې ته وایي، پوزه لوړه نیول غرور او تکبر افاده کوي او د چا پوزه په خاورو لړل د هغه سپکاوی او تحقیر انځوروي، خو په خرطوم داغ وهل دائمي سپکاوی او اهانت افاده کوي.

---

ÇÈ ûüÛÎóÁ ã $k]ãÎÇ ‹9 (qã¡ %ã Ô) þŸgø$ = »tõ¼& $Rö/ $J. ÞÛ»Rö/ $R]

ÇÈ bqãÍ$R Óèr 7Î¢ `Ë *#í$Û $kŽæ $ $Üù ÇÈ bqã[ó ƒ Ÿvr

ö3Ïöm 4?ã (r%ô$Šè& ÇÈ ûüÛÎóÁ ã (#Š$YGù ÇÈ Ä/ÎÇ 9$ Ó s 6ô 'ù

$k]-ä %ƒ žv b& ÇÈ bqç÷» , Gƒ Óèr (qã)-ÜR$ ÇÈ ûüËÌ» ¹ ŠZä b]

(þ9$% $d#& ‘ $H>ù ÇÈ ûïíŸ‰»% Žöm 4?ã (#‰ î r ÇÈ ûüÅóË /3øæ Pö×9$

Ÿwö9 ö3©@ŸÉ& Ó9& ÞÛü™#& A$% ÇÈ bqãrãC ßt @/ ÇÈ bq9$Ò 9 $R]

ÞåÕè/ Ÿ@6ù ÇÈ šú üÏÎ»ß $Zä $R] $Zîƒ `» s 6S (q%$ ÇÈ bqß Îm ê

---

b& $ZŠ‘ 4¤ã ÇÌÈ ûüÉÛ $Zä $RÎ $Z=ƒq»ƒ (q8$% ÇÌÈ bqãq»=Gƒ -Ù è/ 4?ã

Ü#‹è9r Ü#‹è8$ 7ÿ°‹. ÇÌÈ bqçÎ°‘ $ZÎ‹ 4‹Î $RÎ $k]B #Žöz $Y9Ï‰7ã

ÇÌÈ bqã=ë/ (q㍪. ö9 Ž9ø& Í•Å Ÿ$

---

۱۷۔ يقيناً چې مونږ داسې وآزمويل لکه د هغه باغ خاوندان چې مو آزمويلي ول، کله چې ئې لوړه وکړه چې خامخا به ئې په سباوون کې مېوې راشکوي. ۱۸۔ او استثناء ئې هم ونکړه. ۱۹۔ نو ستا د رب له لوري يو چورلېدونکی پرې راوچورلېدو، په داسې حال کې چې ويده ول. ۲۰۔ نو له جرړو د ايستل شوي په څېر شو. ۲۱۔ نو په سباوون کې ئې يوه بل ته غږ کړ. ۲۲۔ چې سهار وختي په خپل کښت حاضر شئ که ئې راشکونکي يئ. ۲۳۔ نو په داسې حال کې وخوځېدل چې پټ پټ به سره غږېدل. ۲۴۔ تر څو کوم مسکين (باغ) ته نه شي درباندې راداخل. ۲۵۔ په سباوون کې وخوځېدل، په منع کولو ئې برلاسي. ۲۶۔ خو چې وئې ليد، وئې ويل: خامخا مو لاره ورکه کړې. ۲۷۔ نه، بلکې محروم شوي يو. ۲۸۔ تر ټولو ښه ئې وويل: مګر تاسو ته مې نه وو ويلي؟ ولې تسبيح نه وايئ؟ ۲۹۔ وئې ويل: پاکي زمونږ رب لره ده، يقيناً چې مونږ ظالمان وو. ۳۰۔ بيا ئې ځينو ځينو نورو ته مخ کړ، ملامتونکي. ۳۱۔ وئې ويل: وای پر مونږ چې يقيناً سرکښ وو. ۳۲۔ امېد دی رب مو تر دې غوره په بدل کې راکړي، مونږ د ده په لوري رغبت کوونکي يو. ۳۳۔ (دنيوي) عذاب به داسې وي، او د آخرت عذاب خو حتماً تر دې ستر دی، کاش پوهېدلی!!

---

۱۷۔۳۲: دا آيتونه ښيي چې په مخکنيو آيتونو کې کوم معين او مشخص فرد

ته ګوته نه ده نیول شوې، بلکې د پیغمبر علیه السلام د مخالفینو ډله تر بحث لاندې نیول شوې، د دوی مقایسه له هغو کسانو سره چې (باغ) ئې درلود، باغ په فتنه کې واچول، او د دوی حرص او بخل ئې راوپاراوو، دا مطلب په ګوته کوي چې د پیغمبر علیه السلام مخالفین هم (ثروت) او (قدرت) غولولي، په فتنه کې ئې اچولي او دا کرکجن اخلاق ئې په کې زېږولي.

په روایاتو کې راځي چې دا قصه د هغو کسانو ده چې له صالح او سخي پلاره یو سمسور باغ په میراث ورته رسېدلی وو، پرهیزګار پلار به ئې هر کال د مېوو راشکولو په ورځ یوه برخه مسکینانو ته ورکوله، د پلار له مړینې وروسته چې باغ دوی ته پاتې شو، تر یوې مودې ئې د خپل صالح پلار په سنت عمل وکړ، خو کله چې ئې حرص تحریك او بخل پرې غالب شو، په هغه کال چې باغ ئې ښه سمسور او ونې ئې له مېوو ډکې وې، په خپلو کې ئې پرېکړه وکړه چې سږ کال باید داسې ترتیب ونیسو چې ټوله مېوه په خپله ترلاسه کړو، او مسکینانو ته په څه ورکولو اړ نه شو، باید د مېوو راغونډولو لپاره داسې وخت باغ ته ولاړ شو چې د خلکو له خبرېدو دمخه مو هر څه کور ته انتقال کړي وي، سهار وختي په تیاره کې باید باغ ته ځان ورسوو، ټولې مېوې ژر ژر راغونډې کړو، او کور ته ئې راورسوو، د لومړي سهار په تیاره کې له خوبه راویښ شول، په ټیټ غږ ئې په خپلو کې خبرې کولې، د باغ په لوري وخوځېدل، د غلو په څېر، په محتاطانه ګامونو، له شور ځوږ پرته، هڅه ئې دا چې څوك غږ وانه وري، پرې پوه نه شي، او تنګ ئې نه کړي، د باغ سیمې ته ورسېدل، ناڅاپه له یوې سوځېدلې ځمکې او له نسکورو ونو سره مخامخ شول، وئې ویل: ښایي لار مو ورکه کړې، په تیاره کې غلط شوي یو، د بل چا ځمکې ته ودرېدلي یو، مونږ خو مازدیګر خپل باغ لیدلی وو، سمسور، له مېوو ډك، تر هر کال ئې حاصل زیات، دا خو هغه باغ نه شي کېدی، څو شېبې وروسته پوه شول چې نه ئې ځمکه غلطه کړې او نه لار، دا هماغه د دوی سمسور باغ دی چې په خپل بد نیت سره ئې اور پرې ګډ کړ، یوه ئې، تر نورو صالح، رامخکې شو او وئې ویل: مګر تاسو ته مې نه وو ویلي چې داسې مه کوئ، خپل حرص مهار کړئ،

خدای در په یاد کړئ، داسې نه چې د بد نیت او بخل په وجه الله تعالی هر څه درنه واخلي، او د باغ له مېوو مو محرومه کړي، د الله تعالی معامله له بنده سره د ده د نیت له مخې ده، اوس خپل خدای په پاکۍ یاد کړئ، خپل ځان ملامت کړئ، او خپلو اشتباهاتو ته متوجه شئ، دوی خپلې غلطۍ ته متوجه شول خو ډېر ناوخته او هغه وخت چې د هېلو درمند ئې ایرې شوی وو.

۳۳ـ د پیغمبر علیه السلام مخالفینو ته خبرداری ورکول کېږي چې ستاسو د بد نیت پایله به هم دغو ته ورته وي، ټول هغه څه به له لاسه ورکړئ چې تاسو ئې مغرور کړي او د پیغمبر علیه السلام مخالفت ته ئې هڅولي یئ، هغه ورځ به خامخا راشي چې په خپله به اعتراف کوئ چې مونږ واقعاً ظالمان وو، سرکښ او طاغي وو، هغه ورځ به یو له بله د دفاع په ځای یو بل ملامتوئ. د الله تعالی عذاب په دنیا کې داسې دی، خو اخروي عذاب ئې تر دې ستر، کاش پوهېدی!!

---

ûüÈÌõ ®$ ûüÏó ®$@èõ Zù& ÇÌÍÈ ËèZ9$ÏM»Y_ ÌÍh %ZÏã ûüÉEÙ bÎ

ôÈ9 bÎ ÇÌÐÈ bqßâ? Ïn‹Ïi Ò»GÏ ôÈ9 P& ÇÌÏÈ bqßà # ø. ôÈ9 $B ÇÌÎÈ

$RQ ôÈ9 bÎ ÏJ»ŠÉ$Qöÿ 4‹Î pöÎ»/ $Yøã Î »J‡& ôÈ9 P& ÇÌÑÈ brç/B $RQ Ïn‹Ïi

(qèÙ‹ù âÌ.Žà Nç P& ÇÍÈ îÏã– 7Ïö‹Î Oßÿ& Oßgù™ ÇÌÒÈ bqßà

ÇÍÊÈ ûüÏ%» ¹ (qç. bÎ NÍÏ.Žà Î

---

۳۴ـ بې شکه متقیانو ته په نزد د خپل مولا کې جنتونه دي ، ډک ډک له نعمتونو. ۳۵ـ آیا مسلمانان کړو د مجرمینو په څېر؟ ۳۶ـ څه درباندې شوي؟ دا څنګه قضاوت کړئ؟ ۳۷ـ آیا کوم کتاب لرئ چې دا په کې لولئ؟ ۳۸ـ

حتماً به تاسو ته په دې کې هر هغه څه وي چې غوره کوئ ئې!! ۳۹ـ آیا پر مونږ مو داسې کومه ژمنه شته چې تر قیامته به غځېږي چې له مخې به ئې تاسو ته هر هغه څه وي چې امر ئې کوئ؟! ۴۰ـ ترې وپوښته: کوم ئې د دې ذمه وار دی؟ ۴۱ـ یا مګر (له الله سره) شریکان لري، نو خپل شریکان دې راولي که رښتوني وي.

---

۳۴ـ د دې بې ایمانه ډلې په مقابل کې چې د هیلو درمند به ئې سوځي او د هڅو پایله به ئې یو موټی ایرې وي، متقیان او پرهېزګاران دي، هغه چې د دې کافرې ډلې له تګلارو او خصلتونو ئې ځان ساتلی، د دوی لپاره به د خپل رب په خوا کې له نعمتونو ډك جنتونه وي.

۳۵ـ۳۶: آیا ګمان مو دا دی چې الله تعالی به د مسلمانانو هڅې او قربانۍ ضایع او هدر کړي، داسې لکه چې د کافرانو او مجرمانو هلې ځلې چې تباه کوي، او امېدونه ئې له خاورو سره برابروي؟ آیا فکر کوئ چې له مسلمانانو سره به هم دې ته ورته معامله کېږي؟ څه بلا درباندې راغلې؟ په کوم آفت اخته شوي یئ چې ستاسو عقل ئې تباه او دا غلط تصور ئې ستاسو په ذهن کې اچولی؟ دا څنګه قضاوت دی چې تاسو ئې کوئ؟

د پیغمبر علیه السلام مخالفانو به ویل: قیامت او آخرت نشته، که وي هم او ومنو چې آخرت به راشي، نو هلته به هم وضع داسې وي لکه نن، مونږ به د نن په څېر عزتمن، سوکاله او برلاسي او تاسو د نن په څېر ذلیل، سپك او کمزوري وئ، لکه څنګه چې نن خدای مونږ ته عزت راکړی او تاسو ئې ترې محروم کړي یئ، په آخرت کې به هم د خدای په وړاندې د احترام او عزت خاوندان وو!! د دوی د دغو غلطو انګېرنو په ځواب کې دا خبره ورته شوې.

۳۷ـ آیا کوم داسې کتاب درسره دی چې دا خبرې مو په کې لوستي دي؟ په الهي کتاب کې مو لوستي چې الله تعالی به له مجرم او مسلمان سره ورته معامله کوي؟!

**۳۸ـ** د دې آیت دوه توجیه مومو:

الف: ځینې وایي چې دا آیت د مخکني آیت تتمه ده، او (إن) د همزه په زیر سره په اصل کې (أن) د همزه په زور سره ده، او ترجمه ئې داسې ده: آیا داسې کوم کتاب درسره شته چې په هغه کې مو لوستي وي چې د قیامت په ورځ به ستاسو حالت داسې وي چې په خپله ئې ځان ته خوښوئ.

ب: آیا کوم کتاب لرئ چې په هغه کې مو دا مطلب لوستی وي چې الله تعالی به له مسلمان او مجرم سره ورته معامله کوي؟ که داسې وي نو بیا خو به بې له شکه چې تاسو مجرمینو ته د خدای په خوا کې هر هغه څه میسر وي چې ستاسو زړه ئې غواړي، تولې غوښتنې به مو ترسره شي!! نه داسې کتاب په واك کې لرئ او نه به الله تعالی له مسلمانانو سره هغسې معامله وکړي چې له مجرمینو سره ئې کوي، او نه به ستاسو هغه هیلې ترسره شي چې د ځان او مسلمانانو په هکله ئې لرئ.

دا تعبیر دقیق دی او د آیت له الفاظو سره سمون خوري. که د بڼوالو قصې ته پام وکړو، چې ښیي د ناپاکو عزایمو په وجه د یوې مجرمې ډلې د هڅو ضایع کېدا په کې انځور شوي، او بیا د دې قصې په رڼا کې دا آیت (افنجعل المسلمین کالمجرمین) وڅېړو چې وایي له مجرمینو او مسلمانانو سره به ورته معامله نه کېږي، په آسانۍ دې نتیجې ته رسېږو چې په دې آیتونو کې د کافرانو دا غلطه انګېرنه نفي شوې چې ګمان ئې کاوو د مسلمانانو هڅې به هیڅ نتیجه ورنکړي او د دوی هیڅ آرمان به ترسره نه شي. دا آیتونه همدغه مجرمانه ذهنیت ردوي او په دې تأکید کوي چې الله تعالی به هیڅکله له مسلمانانو سره هغه څه ونکړي چې له مجرمینو سره ئې کوي. تاسو د خپلې بې بنسټه ادعا لپاره هیڅ دلیل له کوم الهي کتابه نه شئ وړاندې کولی.

**۳۹ـ** د دې آیت په اړه د مخکني په څېر دوه تعبیرونه مومو:

الف: د ځینو تعبیر دا دی چې وایي: آیا الله تعالی له تاسو سره داسې کوم کلك تعهد او ټینګه ژمنه لري چې د قیامت تر ورځې به دوام کوي، او د هغې له مخې به ستاسو هر حکم، قضاوت او پریکړه ترسره کېږي، څه چې وغواړئ هغه به ترلاسه

کوئ؟ آیا کولی شئ چې دا میثاق او ژمنه راوښیئ چې تاسو ته ئې د دې ډاډ درکړی چې ستاسو هر حکم به عملي کېږي او د ځان او نورو په هکله به ستاسو هر قضاوت او پرېکړه خامخا تحقق مومي؟!!

ب: خو نور بیا په دې باور دي چې معنا ئې دا ده: آیا له الله تعالی څخه مو داسې کومه تلپاتې ژمنه او تعهد ترلاسه کړی چې تر قیامته به دوام کوي او الله تعالی به ئې ستاسو په هکله په مراعات ملزم وي؟ که داسې وي نو بیا خو به خامخا ستاسو هر حکم ترسره کېدو، او د ځان په هکله ستاسو هر قضاوت به عملي کېدو.

دا توجیه د مخکنې آیت د دوهمې توجیه په څېر د دې لپاره دقیقه او سمه ده چې هیڅ تکلف په کې نه دی شوی او ټول الفاظ ئې په خپل اصلي معنا نیول شوي.

۴۰. آیا په تاسو کې داسې څوك شته چې د دې میثاق او ژمنې ضامن وي؟

۴۱. الله تعالی خو داسې وعده له دوی سره نه لري، آیا کوم بل داسې چا ورسره دا ژمنه کړې چې په الوهیت او ربوبیت کې د الله تعالی شریك او د عالم د چارو په اداره او سمبالولو، او د کارونو د پایلو او عواقبو په ټاکلو کې څه ونډه لري؟! که داسې وي او دوی رښتوني وي، نو هغه شریکان دې راولي چې د دوی هیلې به ترسره کوي!!

---

ÇÍÈ bqã‹ÜGó ƒ Ẍù Šqǎ ¶ 9$ ’‹Ĵ böã‰ã r 5$™ `ã ß ±ßã Pöƒ

Nèr Šqǎ ¶ 9$ ’‹Ĵ böã‰ã (qç. ‰r ×Ë Nßà dö NèãÁ ö þèË»z

ôÏB Oßã_ í‰Gó^™ Ï] ƒ‰tø$#‹»kÍ Ü Ê3ã `Br ’Îö‹ù ÇÍÎÈ bqßÎ»™

ÇÍÎÈ ûüÏ‰B “‰ø bĴ Nç ’íÏBr ÇÍÍÈ bqß=ê ƒ Ẅ ß øm

---

۴۲. هغه ورځ چې پنډۍ بربنډې کړی شي، او دوی سجدې ته راوبللی شي،

خو توانېدی به نه شي. ۴۳. سترګې ئې خړې او ټیټې، ذلت پرې سیوری غوړولی، یقیناً چې له دې مخکې سجدې ته رابلل کېدل په داسې حال کې چې روغ رمټ ول. ۴۴. نو ما او هغه څوك سره پرېږده چې دا خبره دروغ ګڼي، حتماً به ئې داسې په تدریج سره تباه کړو چې پوه هم نه شي. ۴۵. او دوی ته خو مهلت ورکوو، خو بې شکه چې تدبیر مې ډېر مضبوط دی.

---

۴۲. په تفسیرونو کې د دې آیت په هکله د ډېرو ضعیفو او کمزورو آراوو تر څنګ دوه د پام وړ تعبیرونه مومو:

الف: هغه ورځ چې د هیبتناك حالت له وېرې به ئې د ډېرو پیڅې پورته او پنډۍ لوڅې شي او د مفر په لټه کې به تښتي، سجدې ته به رابلل کېږي خو د سخت هیبت او وېرې په وجه به د سجدې توان ترې سلب شوی وي، حواس به ئې داسې پرېشانه وي چې نه به د چا خبره اورېدی شي او نه به په دې پوهېږي چې څه وکړي.

ب: هغه ورځ چې حقایق بربنډ شي، حجابونه او پردې پورته شي، د ټولو حقایقو بنیاد او بنسټ ښکاره شي، هر څه به دوی سجدې ته رابلي خو دوی به له سجدې عاجز وي، دا ځکه چې په دنیا کې ئې د سجدې مشق او تمرین نه وو کړی.

د لومړي تعبیر له مخې ساق په خپله اصلي معنا ؛ پنډۍ اخیستل شوی، او په دوهم تعبیر کې د اصل او بنسټ په معنا نیول شوی. لومړی توجیه هم دقیقه ده او هم د سورې له مجموعي فضاء سره ژور مناسبت لري.

یوم یکشف عن ساق د و  برې نښه ده چې ورپسې آیت ئې مزید وضاحت کوي، او وایي سترګې به ئې وېرجنې، او ذلت به سیوری پرې غوړولی وي، نو خود به سجده نه شي کولی، هغه وخت چې روغ رمټ ول، له سجدې ئې ډډه کوله.

متأسفانه په ځینو تفسیرونو کې په دې هکله داسې تعبیرونه هم مومو چې نه یوازې د قرآن له اساساتو سره سخت ټکر کوي، بلکې هر مسلمان په حیرت کې غورځوي چې څنګه یو مفسر د داسې خبرې کولو جرأت کوي، او څنګه ئې مني!! د الله تعالی د ذات د څرنګوالي په اړه څه ویل او هغه ته غړي او جوارح ثابتول لوی

جسارت دی. دلته يُكشَف عن ساق ويل شوي، فاعل ئې مجهول دی، د الله تعالی ساق ته ئې قطعاً نه شو راجع كولی، او دا نه شو ويلی چې د الله تعالی ساق به بل څوك وربربنډ كړي، كه د دې په ځای داسې ويل شوي وی يَكشِفُ عن ساقه خپل ساق به بربنډ كړي، بيا دغو خلكو ويلی شوی چې كېدی شي له دې نه هغه څه مراد وي چې مونږ ئې وايو!!

بايد دې ته مو پام وي چې مونږ د الله تعالی د ذات په هكله له فكر كولو هم منع شوي يو، دا خو پرېږده چې هغه ته د غړو ثابتولو جسارت وكړو.

مر النبي صلى الله عليه وسلم على قوم يتفكرون في الله فقال تفكروا في الخلق ولا تتفكروا في الخالق فإنكم لاتقدرون قدره

پيغمبر عليه السلام په يوه داسې قوم تېرېدو چې د الله تعالی د ذات په هكله په تفكر لګيا ول، ورته وئې فرمايل: د مخلوقاتو په هكله فكر وكړئ مه د خالق په هكله، دا ځكه چې تاسو په دې نه توانېږئ چې سمه اندازه ئې ولګوئ او په عظمت ئې پوه شئ.

عن أبي هريرة مرفوعا تفكروا في الخلق ولا تفكروا في الخالق فإنه لا تحيط به الفكرة

له ابوهريرة رضي الله عنه مرفوع روايت دی چې د مخلوق په هكله فكر وكړئ د خالق په هكله فكر مه كوئ، دا ځكه چې د انسان فكر پرې احاطه نه شي كولی.

عن سالم عن أبيه مرفوعا تفكروا في آلاء الله ولا تفكروا في الله

سالم رضي الله عنه له خپل پلاره مرفوع حديث روايتوي او وايي: د الله تعالی د نعمتونو په اړه فكر وكړئ او د الله تعالی د ذات په هكله فكر مه كوئ،

همداراز لاندې روايات ټول په دې خبرې تأكيد كوي چې د الله تعالی د ذات په هكله له فكر كولو بايد ډډه وكړو:

في الحديث الآخر الذي في السنن تفكروا في مخلوقات الله ولا تفكروا في ذات الله، ما روى عن النبي صلى الله عليه وسلم في النهي عن التفكير في

ذات الله عز وجل وعن عمر تفكروا في خلق الله ولا تفكروا في الله وحديث بن عباس تفكروا في كل شيء ولا تفكروا في ذات الله

دا په داسې حال کې چې نه د قرآن په کوم بل آیت کې د الله تعالی د ذات په هکله څه ویل شوي او نه په دغه آیت کې، دلته خو اصلاً د الله تعالی د ذات په هکله نه صریحاً بحث کېږي او نه تلویحاً، په مخکني آیت کې مشرکانو ته ویل شوي چې که کوم شریك لرئ رائې ولئ، او په وروستي آیت کې ویل شوي چې د قیامت په ورځ به دا مشرکین سخت لالهانده او له وېرې به ئې سترګې خړې وي، سجدې ته به رابلل کېږي خو د وېرې او وارخطایۍ په وجه به سجده نه شي کولی. الله تعالی ته د دې آیت راجع کول هیڅ مجال نه لري، نه پوهېږو چې دوی د دې آیت له کوم لفظ نه دا انتباه اخیستې؟ ولې ساق الله تعالی ته راجع کوي؟ په خپله آیت او الفاظ ئې، مخکني آیتونه او مخصوصاً وروستي آیت په ډېر صراحت سره ښیي چې دلته د قیامت د ورځې هیبت انځور شوی، چې آثار او هیبت به ئې د کافرانو په خړو سترګو کې څرګند وي او له دوی به ئې د سجدې کولو توان سلب کړی وي. څوك چې په تکلف سره دا (ساق) الله تعالی ته راجع کوي او وایي چې د الله تعالی ساق به بربنډ کړی شي، د دوی له نظره الله تعالی انسان ته ورته دی، پنډۍ لري، إزار او پرتوګ لري، د قیامت په ورځ به خپلې پنډۍ بربنډې کړي، او مسلمانان به ئې له پنډۍ وپېژني چې دا زمونږ همغه رب دی چې په دنیا کې مو سجده ورته کوله!! انسان خو له پنډۍ خپل زوی هم نه شي پېژندی الله تعالی به څنګه وپېژني؟!! که څوك ووایي چې الله تعالی دوه سترګې لري، دوه لاسونه لري، لاسونه ئې پنځه پنځه ګوتې لري، دوه پښې لري، پښې ئې قدمونه او پنډۍ لري، رداء او إزار لري ... ده الله تعالی له انسان سره تشبیه کړی، که له دې وروسته سل ځله ووایي چې بلا تشبیه او بلاتکییف. دا الفاظ ورته هیڅ ګټه نه رسوي!! ده د قرآن دا خبره له پامه غورځولې چې فرمایي: لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ * الشوری:۱۱

هیڅ شی د هغه په څیر نه دی او دی اوریدونکی لیدونکی دی.

یعني که وغواړې چې پخپل ذهن کې د الله تعالی لپاره کوم مثال مجسم کړې،

نو پوه شه چې په دې کايناتو او موجوداتو کې به هيڅ شی دې مثال ته ورته ونه مومې. د يوه شي مثال په حقيقت کې د هغه شي تخميني او تقريبي تصوير وي، چې د همغه شي د پيژندلو لپاره په کار راوړل کېږي، کله چې د يوه شي د اصل او حقيقت ادراک ممکن نه وي نو د مثال په راوړلو سره ئې تشريح او توضيح کوو، خو د الله تعالی په هکله نه د مثال راوړل ممکن دي او نه ئې مثال او مثل شته. په دی آيت شريف کې داسې نه دي ويل شوي :

" ليس مثله شئ: ده ته ورته څه نشته"

بلکې ويل شوي:

لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ:

د ده مثل ته ورته څه نشته او دی سميع بصير ذات دی.

د دې معنی دا ده چې نه يوازې د الله تعالی د ذات دکيفيت ادراک ممکن نه دی، بلکه دا هم ممکنه نه ده چې د الله تعالی د ذات او ذاتي صفاتو د کيفيت په هکله تخميني او تقريبي تصور ولرو. نو لازمه ده له هر هغه تأويل او توجيه نه په کلکه ځان وساتو چې له مخلوقاتو سره د الله تعالی په تشبيه منتج کېږي.

که د الله تعالی د ذات د کيفيت په هکله بحث ضروري او د انسان لپاره ئې ادراک ممکن وی نو الله تعالی به پخپله په پوره صراحت او وضاحت سره بيان کړی وی خو نه په قرآن کې د الله تعالی د ذات په هکله صراحتاً يا اشارتاً څه ويل شوي او نه په صحيح احاديثو کې. په دې موجوداتو کې هيڅ شی د الله تعالی له ذات سره شباهت او ورته والی نلري، هره هغه عقيده او نظريه چې د الله د ذات د کيفيت په هکله داسې بحث ولري چې له مخلوقاتو سره د خالق په تشبيه او تمثيل منتجه شي، باطله او مردوده ده . خدای تعالی له دې منزه او ډير لوړ دی چې پخپل ذات کې له مخلوقاتو سره شباهت او ورته والی ولري، هيڅ شی له الله تعالی سره هيڅ شباهت نلري، ټول نصوص په دې دلالت کوي چې الله تعالی بې مثله او بې مثاله ذات دی.

خو د يکشف عن ساق په هکله چې کوم روايات راغلي او هغوی نه ځينو دا

انتباه اخیستې، دا دي:

له ابو برده نه دوه روایته نقل شوي:

عن أبي بردة بن أبي موسى عن أبيه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال "يوم يكشف عن ساق" يعني عن نور عظيم يخرون له سجدا"

او بل دا:

عن أبي بردة عن أبي موسى قال حدثني أبي قال: سمعت رسول الله صلي الله عليه وسلم يقول: (إذا كان يوم القيامة مثل لكل قوم ما كانوا يعبدون في الدنيا فيذهب كل قوم إلى ما كانوا يعبدون ويبقى أهل التوحيد فيقال لهم ما تنتظرون وقد ذهب الناس فيقولون إن لنا ربا كنا نعبده في الدنيا ولم نره - قال - وتعرفونه إذا رأيتموه فيقولون نعم فيقال فكيف تعرفونه ولم تروه قالوا إنه لا شبيه له فيكشف لهم الحجاب فينظرون إلى الله تعالى فيخرون له سجدا وتبقى أقوام ظهورهم مثل صياصي البقر فينظرون إلى الله تعالى فيريدون السجود فلا يستطيعون فذلك قوله تعالى: "يوم يكشف عن ساق ويدعون إلى السجود فلا يستطيعون" فيقول الله تعالى عبادي أرفعوا رءوسكم فقد جعلت بدل كل رجل منكم رجلا من اليهود والنصارى في النار). قال أبو بردة: فحدثت بهذا الحديث عمر بن عبد العزيز فقال: الله الذي لا إله إلا هو لقد حدثك أبوك بهذا الحديث؟ فحلف له ثلاثة أيمان؛ فقال عمر: ما سمعت في أهل التوحيد حديثا هو أحب إلي من هذا.

لکه چې ګورئ ابوبرده او پلار ئې ابو موسی رضي الله عنهما ته منسوب روایاتو کې تعارض دی، په یوه کې ئې ویل شوي چې یوه عظیمه رڼا به وځلیږي، او په بل کې ویل شوي چې الله تعالی به په خپله له حجابه راووځي. دې ته مو هم باید پام وي چې دا روایت له ابو موسی رضي الله عنه نه یوازې د ده زوی ابو برده روایت کړی، او لکه چې مخکني روایت کې ګورئ د عمر بن عبدالعزیز په څېر شخصیت هم له ده نه دا خبره هغه وخت ومنله چې درې ځله ئې لوړه وکړه!! د دې معنا دا ده چې عمر بن عبدالعزیز هم د لومړي ځل لپاره دا سې خبره اورېده!! فتح الباري لیکي: ابو

موسی ته د منسوب روایت په اسنادو کې ضعف دی: أخرج أبو يعلى بسند فيه ضعف عن أبي موسى مرفوعا في قوله : (يوم يكشف عن ساق) قال " عن نور عظيم، فيخرون له سجدا "

بل روایت دا دی:

عن أبي سعيد رضي الله عنه قال سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول ثم يكشف ربنا عن ساقه فيسجد له كل مؤمن ومؤمنة ويبقى كل من كان يسجد في الدنيا رياء وسمعة فيذهب ليسجد فيعود ظهره طبقا واحدا.

رواه البخاري

له ابو سعید الخدري رضي الله عنه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې واورېدل چې فرمایل ئې: الله تعالی به خپله پنډۍ بربنډه کړي، نو ټول نارینه او ښځې مؤمنان به ورته سجده وکړي، او هغه څوك به همداسې پاتې شي چې په دنیا کې ئې د ریاء او ځان ښودنې لپاره سجده کوله، سجدې ته به راوړاندې شي خو شا به ئې یوه طبقه شي (سجده به نه شي کولی)

په دغو روایاتو کې شدید تعارض او اختلاف شته، دغه تعارض ته په پام سره محققینو علماوو هغه د دې آیت لپاره د تفسیر په توګه نه دي وړاندې کړي، بېل بېل آراء ئې وړاندې کړي. که دا روایات ئې موثق ګڼلی د بلې رایې له ورکولو به ئې خامخا ډډه کوله. څنګه ممکن ده چې پیغمبر علیه السلام دې دا خبره کړې وي او د ابن عباس رضي الله عنه په څېر صحابه دې تې خبر نه وي او دا آیت د ې په بل ډول تفسیر کړي. د ابن عباس او مجاهد رضي الله عنهما په څېر لویو لویو شخصیتونو دا آیت په بل ډول تفسیر کړی، د دوی رایه دا ده چې له یکشف عن ساق نه مراد د قیامت هولناك حالت دی. د آیت له سیاق و سباق نه په ډېر وضاحت سره معلومه ېږي چې د ابن عباس رضي الله عنه تفسیر دقیق دی.

عن ابن عباس "يوم يكشف عن ساق" قال هو يوم القيامة يوم كرب وشدة رواه ابن جرير وقال ابن أبي نجيح عن مجاهد "يوم يكشف عن ساق" قال شدة الأمر وقال ابن عباس هي أشد ساعة تكون في يوم القيامة وقال ابن جرير عن

مجاهد "يوم يكشف عن ساق" قال شدة الأمر وجده. وقال علي بن أبي طلحة عن ابن عباس قوله "يوم يكشف عن ساق" هو الأمر الشديد الفظيع من الهول يوم القيامة وقال العوفي عن ابن عباس قوله "يوم يكشف عن ساق" يقول حين يكشف الأمر وتبدو الأعمال وكشفه دخول الآخرة وكشف الأمر عنه

وذكر ابن المبارك قال: أخبرنا أسامة بن زيد عن عكرمة عن ابن عباس في قوله تعالى: "يوم يكشف عن ساق" قال: عن كرب وشدة. أخبرنا ابن جريج عن مجاهد قال: شدة الأمر وجده. وقال مجاهد: قال ابن عباس هي أشد ساعة في يوم القيامة.

وقال أبو عبيدة: إذا اشتد الحرب والأمر قيل: كشف الأمر عن ساقه. والأصل فيه أن من وقع في شيء يحتاج فيه إلى الجد شمر عن ساقه; فاستعير الساق والكشف عنها في موضع الشدة. وقيل: ساق الشيء أصله الذي به قوامه; كساق الشجرة وساق الإنسان. أي يوم يكشف عن أصل الأمر فتظهر حقائق الأمور وأصلها. وقيل: يكشف عن ساق جهنم. وقيل: عن ساق العرش. وقيل: يريد وقت أقتراب الأجل وضعف البدن; أي يكشف المريض عن ساقه ليبصر ضعفه, ويدعوه المؤذن إلى الصلاة فلا يمكنه أن يقوم ويخرج.

قرطبي له هغه وروسته چې د ساق لپاره ګڼ شمېر احتمالات بيانوي، لکه د هر څه اصل،د دوزخ ساق، د عرش ساق، عظيم نوراو د قيامت د ورځې شدت؛ ليکي:

(فأما ما روي أن الله يكشف عن ساقه فإنه عز وجل يتعالى عن الأعضاء والتبعيض وأن يكشف ويتغطى.)

اما دا چې روايت شوی چې الله تعالی به خپل ساق بربنډ کړي، نو الله تعالی له دې ډېر لوړ دی چې اعضاء او بېل بېل غړي ولري او بربنډ يا په جامه پټ شي.

**۴۳.** د وېرې او خوف نښې او آثار به د کافرانو په څېرو کې څرګند وي، له خپلې ماضي نادم او پښېمانه، سترګې ئې خړې او ټيټې، د وېرې آثار په کې څرګند، شرمنده او خجل، ذلت او سپکاوي خپل تور وزر پرې غوړولی، د هغه چا وضعيت به د قيامت په ورځ دغسې وي چې په دنيا کې او هغه وخت چې روغ رمټ

وو، سجدې ته بلل کېدل، خو کبر او غرور نه پرېښودل چې حق ته غاړه کېږدي او د الله تعالی په وړاندې سر ټيټ کړي.

**۴۵-۴۴**: دا مبارك آيتونه څو توصيې پيغمبر عليه السلام ته لري:

الف: لږ صبر وکړه! وګوره چې الله تعالى به د دې حقيقت له منکرينو سره څه معامله کوي؟ د لته له (هذالحديث: دې خبرې) نه مراد يا هغه خبرې دي چې په مخکنيو آيتونو کې ذکر شوی او يا ټول قرآن.

ب: الهي عذاب به په تدريجي توګه او ورو ورو، او پرته له دې چې دوی پرې پوه شي او چاره وکولی شي، پر دوی نازل شي.

ج: الهي سنت داسې دی چې بنده ته مهلت ورکوي، اتمام حجت کوي، ژر او په ګناه پسې متصل ئې نه نيسي، د عصيان او سرکښۍ په سر کې فوراً او له ځنډه پرته ئې په عذاب نه اخته کوي، خاصه نېټه او معين وخت ئې ټاکلی چې د عصيانګرانو په سر به د وروستي عذاب متروکه راپرېوځي، د هغې نېټې تر راتلو ئې تعذيب تدريجي وي، د غولوونکي اقتدار له ورستې ماڼۍ ئې يوه ښنته له بلې وروسته ورو ورو لاندې پرېوځي، هر ګام چې مخکې اخلي په حقيقت کې د خپلې تباهۍ په لوري نږدې کېږي، د خپلې بقا او دوام لپاره چې کوم تدبير کاروي په حقيقت کې خپل ګور په خپل لاس کيني.

د: د شر او فساد د څواکونو په نيولو او مؤاخذې کې الهي تدبير ډېر مضبوط او متين دی، هيڅوك ئې د مقابلې توان نه لري، پام چې عصيانګرانو او ظالمانو ته مهلت ورکول په الهي تدبير کې سستي او قصور تلقي نه کړې، دا فرصت او مهلت ورکول بايد مغرور او سرکښ ستمګران ونه غولوي او له شديدې الهي نيونې ئې غافل نه کړي!!

---

Ñ@ü Ü ø‡ßÈ Ñd‰Ÿä ‡& ÇÎÏÈ bqè)‡B Õ•øB `Ë OÑü #Îô & ÓÑèó@ ‡&

qèdr 3“ Š$R ®ô∫ Ï N qçø$É ïm$Á . `ã? ÿwr 7Ĥ∫r ÈS)ç ×Íó $¨Ρ ÇÍÏÈ bqç6çGõ3tƒ

Rqã΅B qèdr ä!•èyŠ Œ øŒ ÏΘq“ çHø>$# `ϑ3x. ¼wr y7În/u‘ Νõ3ßsÏ9 ÷É9ô¹$$sù ÇÍÑÈ Rqã¸èŠ

(râ`Ïiω. ôM∏ZSÌ9$# $ÿè5ŒÌ9ŠÌ$x. ÅÅø‹ΟÅ9 ÇÍÒÈ bÎr ÇÍÍÈ ûüÏóÎ≈¢Á9$# `Ï΄ ã&s#yèf sù ¼çm /ê@ôÖ$s% ÇÍÓÈ

$Br ÇÍÎÈ bqãZôfyϑs9 ¼çR)Î bqä9qà)tƒr •òÏe!$#(qãèÏJœ $£J9 óΟÏδÌ≈|Á/ôÎ 7RqàΩÏ9"ò9

ÇÍÏÈ ûüÏϑ≈n=yèù=Ïj9 ÖòÏ. žwÎ) qèd

---

۴۶۔ آیا داسې اجر ترې غواړې چې دوی ئې د تاوان له پېټي درانه کړی شوي! ۴۷۔ آیا غیبي (اسرار) ورسره دي چې دوی ئې لیکي! ۴۸۔ نو د خپل رب تر حکمه صبر وکړه، او د کب وال په څېر مه کېږه چې غږ ئې کړ، په داسې حال کې چې غصه ناك وو. ۴۹۔ که د خپل رب پېرزوینه ئې نه وی په برخه شوې، نو خامخا به په سپېره ډاګ غورځېدلی او مذمت شوی به وو. ۵۰۔ خو خپل رب غوره او له صالحینو څخه ئې کړ. ۵۱۔ او بې شکه چې کله کافران ذکر (قرآن) اوري نو نږدې وي چې په خپلو (غضبناکو) سترګو سره دې وښویوي او وایي: دی خو هسې لیونی دی. ۵۲۔ حال دا چې دا خو عالمیانو ته له پنده پرته بل څه نه دی.

---

۴۶۔ دښمنانو به په خپلو ټولو خصمانه تبلیغاتو کې په دې ټکي ترکیز کاوو چې پیغمبر علیه السلام او یاران او پلویان به ئې له خپلو هڅو او هلو ځلو څخه نه په دنیا کې کومه نتیجه ترلاسه کړي او نه په آخرت کې، قرآن د دې آیت په ترڅ کې د دوی په ځواب کې فرمایي:

مګر ته له دوی کوم اجر او بدله غواړې، داسې بدله چې دوی ئې د ځان لپاره

غرامت او تاوان او پر خپلو اوږو درووند پېټي ګڼي؟ چې طبعاً به ئې له ورکړې ډډه کوي او تا به د خپل جهاد او دعوت د نتیجې او پایلو له ترلاسه کولو محرومولي؟ که د کارونو پایله دوی ټاکلی، او د عملونو اجر د دوی لخوا ورکول کېدی نو سمه ده چې تا او یارانو به دې له خپلو هڅو کومه نتیجه نه شوی ترلاسه کولی، خو که د عملونو پایلې الله تعالی ټاکي، او بنده ته د عمل اجر د ده له لوري وي، نو بیا خو دوی نه شي کولی په خپلو تبلیغاتو او بې حاصله هلو ځلو سره تا خپل آرمان او د مبارزې نتایجو ته له رسېدو محروم کړي.

۴۷ـ مګر دوی له غیبي اسرارو خبر دي؟ کوم چا له غیبه مطلع کړي او د مسلمانانو د دنیوي او اخروي راتلونکې په هکله ئې ورته ویلي چې دا ډله به نه خپلو آرمانونو ته ورسېږي، نه به ئې هیلې او امېدونه تر سره شي او نه به ئې هڅې او کوښښونه کومه نتیجه ورکړي؟! د دې علم غیب سند چېرې دی؟!

۴۸ـ۵۰: د دې ډلې بې بنسټه تبلیغاتو ته هیڅ اهمیت مه ورکوه، صابر او ثابت قدمه اوسه، د دوی له مخالفتونو او لجاجتونو ناهیلی او مأیوس کېږه مه. پام چې د یونس علیه السلام په څېر د خپلو مخاطبینو له مخالفتونو او د خپل دعوت له پایلو مأیوس نه شې، د نورو خلکو په لټه کې له دوی لاس وانخلې، مبارزه ناتمامه پرېنږدې، د دوی لجاجت او جهالت دې داسې غصه ناك نه کړي چې له هدایته ئې ناامېده شې، د الهي عذاب مستحق ئې وګڼې، او ترې لاړ شې، نه؛ صبر او ثبات له لاسه مه ورکوه، تر هغه انتظار وکړه چې الله تعالی خپل حکم او پرېکړه صادره کړي، مطمئن اوسه چې الله تعالی به ډېر ژر خپل حکم صادر کړي، پام کوه چې سنګر پرېنږدې او له وخته مخکې ترشا نه شې، له دې ښه خبر یې چې څوك مأیوس شوی، سنګر ئې پرېښی، له وخته مخکې تر شا شوی، له کوم برخلیك سره مخامخ شوی؟! د یونس علیه السلام قصه دې په مخکې پرته، د فرار په وجه د کب په نس کې د پرېوتو قصه، که د الله تعالی پېرزوینه ئې نه وی په برخه شوې، یا به د تل لپاره د ماهي په نس کې پاتې کېدو، او یا به په سپېره ډاګ چې نه سیوری لري او نه بوټی، غورځېدو، او د مذمت وړ به ګڼل کېدو، خو خپل رب ئې پرې مهربانه شو،

غوره ئې کړ او د صالحانو له ډلې څخه ئې کړ، بېرته د خپل قوم په لوري لاړ، دا توفیق ئې په برخه شو چې اصلاح ئې کړي او د دوی مصلح لاربښود شي.

**۵۲.۵۱**: دا دواړه وروستي آيتونه چې د سورې تتمه او خلاصه ده ، ښيي چې د پيغمبر عليه السلام لجوج او جاهلو معاندينو به د قرآن د اورېدو په وخت کې په غضبناکو او قهرجنو سترګو ورته کتل او هغه به ئې مجنون ګڼو. د آيتونو په الفاظو او ترکيب کې له لږ غور سره دا مطالب زمونږ مخې ته راځي:

الف: د مخالفينو غضبناکه معامله او په قهرجنو سترګو هغه ته کتل ئې دا سې وو چې ګمان ئې کاوو په دې سره به دی له خپل دعوت او مبارزې لاس اخيستو ته اړ کړي، د دعوت له نتايجو به ئې مأيوس کړي، نږدې وه چې د يونس عليه السلام تجربه تکرار شي او رسول الله صلی الله عليه وسلم هم خپله مبارزه ناتمامه پرېږدي.

ب: له پيغمبر عليه السلام سره د قريشو مخالفت او عناد هغه وخت پيل شو چې ده قرآن ته راوبلل، قرآن ته له بللو مخکې ئې نه يوازې له ده سره کوم مخالفت نه درلود بلکې هغه ئې د لوړ شخصيت خاوند، هوښيار او عاقل انسان ګڼو، د مشر ورور، کريم، صادق او امين خطاب ئې ورته کاوو.

ج ـ د قرآن له اورېدو وروسته ئې د مجنون خطاب ورته وکړ! که پيغمبر عليه السلام دوی قرآن ته نه وای بللي، نو نه به ئې په غضبناکو سترګو ورته کتل او نه به ئې د لېوني او مجنون خطاب ورته کاوو.

د ـ د ډېر ډېر حيرت او تعجب ځای دی چې ځينو له دې آيته د اصلي معنا او مطلب عکس او کاملاً مخالفه معنا او مطلب اخيستی دی، او وايي: له (ليزلقونك بابصارهم) نه مراد دا دی چې تا به حتماً په نظر کړي، د سترګو مرموز اغېز به ئې پرتا پرېوځي او هلاك يا بيمار به دې کړي!! عجيبه ده چې دوی نه تر دې آيت مخکې د يونس عليه السلام قصې ته پام کوي، چې د ليزلقونك بابصارهم لپاره دقيق تفسير او شرح زمونږ مخې ته ږدي، او نه د الله تعالی له لوري پيغمبر عليه السلام ته دا سپارښتنه او حکم چې صبر وکړه او د کب وال په څېر مه کېږه، او نه دې خبرې ته چې د دغو قهرجنو سترګو خاوندان پيغمبر عليه السلام ته د حيرت په سترګه نه

ګوري بلکې مجنون ئې ګڼي، د سترګو نظر خو دوی د حیرت نتیجه ګڼي، نه د غضب نتیجه! حال دا چې د دې غضبناکو سترګو خاوندان د قرآن په اورېدو سره داسې غصه کېږي چې پیغمبر علیه السلام ته د مجنون خطاب کوي!!! د چا په خوله چې د بل لپاره د مجنون خطاب وي په سترګو کې به ئې هغه ته څه پیغام وي؟ د قهر او غضب پیغام که بل څه؟! عجیبه ده چې دوی له دې آیته داسې مطلب اخلي چې د سورې له ټولو آیتونو سره تصادم کوي، د سورې ټول آیتونه له سره تر پایه په دې راڅرخي چې د دښمن خصمانه او معاندانه تبلیغات شنډ کړي او ځواب ئې ورکړي، او دا آیت د ټولې سورې خلاصه او مقصد ئې دا دی چې دا خلك د قرآن په وجه له تاسره دښمني کوي، درباندې غصه دي، په قهرجنو سترګو درته ګوري او تا ته مجنون وایي!!

په ایران کې خو خبره بیا داسې ده چې که ته د هر شیعه کور ته ننوځې نو لومړی به دې په داسې یوې لوحې سترګې ولګېږي چې دا آیت به پرې لیکل شوی وي، او مقصد به ئې دا وي چې خپل کور او کورنۍ ستا له بد نظره خوندي وساتي، دوی ته خپلو اخوندانو ویلي چې دا آیت بد نظر دفع کوي!!

هـ: د آیت د وروستۍ فقرې مقصد دا دی: عجیبه ده چې د قرآن اورېدل د دوی قهر او غصه راپاروي، او د پیغمبر علیه السلام مخالفت او دښمنۍ ته ئې هڅوي، په داسې حال کې چې قرآن د دوی او ټولو عالمیانو لپاره د پند، نصیحت او تذکر وسیله دی، دوی راویښوي، هېر شوي حقایق ورپه یادوي، د ضمیر صفحې ته ئې ځلا ورکوي، انسان هغو فطري غوښتنو ته رابولي چې ترې هېرې شوې، هغه ته ښیي چې د انسان په څېر ژوند کول څنګه وي، هر هغه څه ورپه یادوي چې باید پام ئې ورته کولی، خو د خاصو عواملو په سبب ترې غافله شوی، عجیبه ده چې (د ټولو عالمیانو لپاره دا ذکر) له پیغمبر علیه السلام سره د دوی د عناد او دښمنۍ باعث شوی!!!

دې ته مو باید پام وي چې نه د قرآن په دغه آیت کې او نه په کوم بل آیت کې دا خبره راغلې چې بد نظر شته او اغېز لري؛ خو په ګڼ شمیر روایاتو کې د بد نظر

اغيز يو حقيقت ګڼل شوی. په صحيح مسلم او بخاري کې راغلي ځينې روايات دا دي:

عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: العين حق، العين حق

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: العين حق.

دغو رواياتو ته په پام سره اهل سنت و جماعت بد نظر او اغېز ئې حق ګڼي.

# الحاقة

## د سورې معرفي:

د دې سورې نوم الحاقة (هماغه واقع کېدونکې) دی چې له لومړي آیته اخیستل شوی، **۵۲** آیتونه لري، د نه ویشتو لومړنیو آیتونو فواصل ئې حاقه او راضیة ته ورته وزن لري، دېرشم، یودېرشم، او دوه دېرشم ئې په دغو درېو هموزنو صیغو پای ته رسېدلي: فغلوه، صلوه، فاسلکوه، له هغه وروسته له پنځو آیتونو پرته ټول عظیم او یقین ته ورته هموزنو صیغو پای ته رسېدلي او د دغو پنځو آیتونو فواصل، خٰطئون، تبصرون، تؤمنون او تذکرون دي. وزن او مد وجذر ئې ډېر ښکلی او خوندور دی. دا سوره هم د مکي دور په لومړیو کې نازله شوې.

د بحث محوري موضوع ئې (قیامت) دی چې په دې سوره کې د الحاقة په نوم یاد شوی، د سورې په پیل کې د دې حقیقت د اثبات لپاره چې قیامت حتماً راتلونکی دی، په دوو مشهودو دلایلو استناد شوی او فرمایي:

الف: د تاریخ په اوږدو کې د دې شاهد یو چې هر هغه قوم په الهي عذاب اخته او په زوال محکوم شوی چې له قیامت ئې انکار کړی، لکه چې ثمود او عاد قیامت تکذیب کړ او هلاك شول، د فرعون قوم او له دوی مخکې او وروسته قومونو دا غلطي وکړه چې په سبب ئې په الهي عذاب اخته او تېغر ئې ټول شو، د نوح علیه

السلام قوم د دغې غلطۍ په وجه غرق شو، ده او اهل ته ئې، چې ستاسو اجداد او نیکونه دي، الله تعالی د کښتۍ په ذریعه نجات ورکړ تر څو د راتلونکو نسلونو لپاره پند وي او روغ غوږونه ترې عبرت واخلي.

ب: د دغو عاصي او له قیامته د منکر قومونو نیونه او مؤاخذه ښیي چې زمونږ په عالم کې د مکافات او مجازات سنت حاکم دی، عملونو ته د سزا ورکولو سلسله تل وه او تل به وي، په دنیا کې په نسبي توګه او په آخرت کې په بشپړه او مکمله توګه.

بیا د قیامت د ورځې سترې سترې پېښې انځوروي، ځمکه به په خوځېدو شي، غرونه به سره تصادم وکړي، آسمانونه به شق شق شي، او د عالم دا اوسنی مضبوط نظم به متلاشي شي. ورپسې له قبرونو د راپاڅېدو صحنه او په الهي محکمې کې د حاضرېدو حالت په ډېره اغېزمنه توګه انځوروي، او ښیي چې په دې ورځ به ټول خلك د الله تعالی په وړاندې داسې ودرېږي چې هر څه به ئې څرګند او بربنډ وي، هیڅ عمل، ستر او ووړ به ئې پټ نه وي پاتې، ځینو ته به خپله عمل پاڼه په ښي لاس کې ورکړی شي او ځینو ته په کیڼ لاس کې، څوك چې په آزموینې کې بریالی شوی، په دې ورځ او له الله تعالی سره په مخامخ کېدو او په حساب او کتاب ئې باور وو، او همدغه باور له ګناه او تیري منع کول او نېك عمل ته ئې هڅول، عمل پاڼه به ئې په ښي لاس کې ورکړی شي، راضي او خوښ به وي، خپلوانو ته به سرلوړی او خوښ راوګرځي، له ډېرې خوشحالۍ به ټولو ته غږ کړي: راشئ زما عمل پاڼه وګورئ، زما باور دا وو چې د خپلو عملونو له حساب سره به مخامخ کېږم، خوښ او راضي کوونکی ژوند به ئې په برخه شي، هغه جنت ته به درومي چې مېوې ئې رسېدلې او راشکول ئې آسانه. خو هغه چې عمل پاڼه به ئې په کیڼ لاس کې ورکړی شي، وایي به: ای کاش عمل پاڼه مې نه وای راکړی شوې، کاش له حساب او کتابه نه وی خبر شوی، ای کاش دا د کار پای وی، او الهي عذاب او دوزخ ورپسې نه وی، مال مې څه ګټه راونه رسوله، سلطه او اقتدار مې ختم شو. د ده په هکله به الله تعالی امر وکړي چې وئې نیسئ، لاس پښې ئې په

زنځير او زولنو وروتړئ، او د جهنم په لوري ئې کش کړئ، او وروئې غورځوئ، او د دوزخ له ستنو سره ئې په داسې زنځير وتړئ چې اوږدوالی ئې اويا ګزه وي، ده خو نه په ستر الله دا تر ټولو لوړ ذات ايمان درلود او نه ئې پر بې وزلې مسکين دا تر ټولو محتاج مخلوق زړه سوی او ترحم، له ټولو هغو شيانو سره ئې ظالمانه چلند کاوو چې د دوی دواړو ترمنځ، په ځمکه يا آسمان کې ول، له هر څه سره ئې فطري او انساني اړيکې شلولې وې، نو ځکه به دلته چې د مکافات دار دی، او هر چا ته د خپل عمل متناسبه او وړ بدله ورکول کېږي، هيڅ خوراك به ئې مخې ته نه ايښودل کېږي مګر د زخمونو نو، چې له خطاکارانو پرته ئې بل څوك نه خوري.

بيا د دې خبرې د اثبات لپاره چې د پيغمبر عليه السلام وينا د قيامت په هکله نه د ده ذاتي او شخصي وينا ده، نه د کوم شاعر وينا او نه د کوم کاهن، دی د الله تعالی استاځی دی او وينا ئې الهي پيغام، هغه پيغام چې د عالمونو رب رالېږلی، د دې ادعا د اثبات لپاره په دوو شيانو لوړه کوي:

الف: هغه څه چې تاسو ئې وينئ.

ب: هغه څه چې تاسو ئې نه وينئ.

يعني د دې کريم او لوړ شخصيت د ژوند ټولو ابعادو او اړخونو ته ځير شئ، له اخلاق او ويناوو ئې چې څه تاسو ته څرګند دي، هغه د نورو عادي انسانانو او د خپلو شعراوو او مذهبي مشرانو له اخلاق او ويناوو سره مقايسه کړئ، له شکه پرته به درته واضح شي چې دی د الله تعالی درونډ پيغمبر دی، لاړ شئ د ده د ژوند هغه برخې وڅېړئ چې ستاسو له نظره پټې دي او يوازې نږدې دوستان ئې پرې خبر دي، حتماً به درته ثابته شي چې دی د الله تعالی استاځی دی، نه شاعر دی او نه کاهن، مګر نه ګورئ چې د ده مېرمن خديجه رضي الله عنها، دا په پاك لمنۍ، عقلمندۍ او درايت کې نوميالۍ ښځه، دا د پيغمبر عليه السلام له ټولو پټو اسرارو باخبره انسان، لومړی کس دی چې پر ده ايمان راوړي او د ده پيغام الهي پيغام مني. لاړ شئ د قرآن څېړنې او بحثونه د هر هغه څه په اړه په ځير او دقت سره وڅېړئ چې (مشهود) دي يا (غائب)، چې تاسو ئې وينئ او ستاسو له نظره پټ دي،

حتماً به درته ثابته شي چې دا قرآن د هغه رب العامين له لوري پر پيغمبر عليه السلام نازل شوی چې په ټولو اسرارو خبر دی. د دې کتاب عظمت، د عالم د اسرارو په هکله ئې دقيق علمي بحثونه، ژورې څېړنې ئې د ټولو هغو شيانو په هکله چې تاسو ئې دا اوس اوس ګورئ، او هغه چې تراوسه ئې لا په حقيقت نه پوهېږئ او ورو ورو به پرې پوه شئ، ښيي چې دا کتاب هغه ذات رالېږلی چې عالم الغيب و الشهاده دی، هيڅ انسان ته ممکن نه دی چې داسې باعظمته او دقيق کتاب له خپله ځانه وړاندې کړی شي او د قرآن په څېر، د شاهد او غائب په هکله داسې دقيق او علمي بحثونه ولري، مګر نه ګورئ چې د قرآن د نزول له ورځې تر نن پورې، له هرو څو کلونو وروسته انسانانو ته په سلهاوو داسې حقايق راڅرګند کېږي چې قرآن لا د مخه او هغه وخت بيان کړي وو چې د هيچا په خيال کې هم نه ګرځېدل، خو خلك د وخت په تېرېدو سره او د ژورو تحقيقاتو په نتيجه کې پرې پوه شوي، او همغه خبره ئې کړې چې قرآن لا د مخه کړې وه!! د قرآن دا ويناوې ښيي چې پيغمبر عليه السلام د الله تعالی استازی او کتاب ئې د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دی.

په داسې حال کې چې الله تعالی سرکښ او عاصي قومونه په دې ګناه نيولي او خپل عذاب ئې پرې نازل کړی چې له قيامته ئې انکار کړی او پيغمبران عليهم السلام ئې تکذيب کړي، آيا ممکن ده چې يو څوك دې په درواغو د پيغمبرۍ دعوا وکړي، خپلې خبرې دې الهي وحي وګڼي، او دروغجنې خبرې دې الله تعالی ته منسوب کړي، خو الله تعالی دې هغه خپلې مخې ته پرېږدي، او مؤاخذه او مجازات دې نه کړي؟!! الله تعالی د دغه غلط تصور د ترديد لپاره په دې سوره کې فرمايي: که ده له خپله ځانه څه خبرې مونږ ته منسوب کړې، داسې کار به ئې خامخا جدي نيسو، د غاړې رګ به ئې ورقطع او داسې عذاب به پرې نازل کړو چې هيڅوك ئې ترې دفع نه کړی شي.

او د سورې په پای کې راغلي چې دا پرهېزګارانو ته د پند خبرې دي، ځينې به حتماً ترې انکار کوي، د دغو کافرو مکذبينو لپاره د حسرت او ندامت وسيله ده،

قيامت يو حقيقت دی، يقيني، نه ظني، نو د ستر رب په نامه دې په تسبيح لګيا شه.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

Š¾ær ŠqB0 ÕM/¤ . ÇÌÈ þ÷Ê9tø$$B 7 1'Šß& $Br ÇÌÈ þ÷Ê9tø$$B ÇÌÈ þ÷Ê9tø$

{qà6 îÏdé Š$ã $B&r ÇÎÈ þ‹Ïî $ÖÏ9$# {qà6 îÏdé ŠqB0 $B'ù ÇÍÈ þãÍ$)ø9$#

$Bqýãn Ep$f& pŠÏ»J0r 9A$Š9 ì ŌÞ™ bÎÏöã $d•¤ ™ ÇÏÈ pŠÏ%æ ŽÀ ö¹ &ƒÌÎ

Nßg9 3‘ •? @ÿgù ÇÐÈ p7ƒÍ%{ @ø‚U ãš f ã& bÎå(. Ùçž•À $kŽÏù Pöq)ø9$ ” ŽIù

ÇÑÈ þ¤Û$ƒø9$Î ãM»3ÿ?sB9ø# ¼ã#ù% `Br ãöqã ëÏ ä!`r ÇÒÈ p‹Ï$/ .`Ï B

ã$J9ø# $óÛ $B9 $RÎ ÇÊÊÈ p‹Î#§ ž‹{& bÏd‹ {'ù bÏÍf AqI™' {öqÁèù

ÇÊËÈ p×ã°r bè€ø$kŽÏ?r ž‹Ï.õ? ÒB9 $g=èð ZÏ ÇÊÊÈ þƒÍ$gø$’Î ÒB»Ÿùq

---

۱ـ هماغه واقع کېدونکې! ۲ـ څه ده دا واقع کېدونکې؟ ۳ـ څه شي پوه کړې چې څه ده دا واقع کېدونکې؟ ۴ـ ثموديانو او عاديانو؛ تکذيب کړه دا ځپونکې. ۵ـ نو په سرکښ عذاب هلاك شول ثموديان. ۶ـ او په سرکښ تند باد هلاك شولو عاديان. ۷ـ اووه شپې او اته ورځې ئې دا پرېکنده (سيلۍ) پرې مسلط کړه، دا قوم به دې په دې (وخت) کې داسې وو مونډلی چې پرمخې پراته دي، لکه ستې د خرما، تشې او له جرړو ايستل شوې. ۸ـ نو آيا څه پاتې شونې ترې ګورې؟ ۹ـ فرعون او مخکنيو ئې هم او د نسکور شوو

کلیو (کلیوالو) هم ګناه ته لاس کړ. ۱۰ـ او د خپل رب له استاځي ئې سرغړونه وکړه، نو ځکه ئې په زیاتېدونکي (عذاب) اخته کړل. ۱۱ـ نو کله چې هغو اوبو طغیان وکړ، تاسو مو په روانې (بېړۍ) کې سپاره کړئ. ۱۲ـ تر څو ئې درته پند وګرځوو او حساس غوږونه ئې په یاد وساتي.

---

۱ـ۳: په دې مبارکو آیتونو کې د (الحاقه) لفظ راغلی چې معنا ئې تحقق موندونکې او واقع کېدونکې ده، باید وګورو چې له دې واقع کېدونکې نه مراد څه دی؟ قیامت او که هغه عذابونه چې په عاصي او باغي قومونو نازل شوي؟

که څه هم له نهو آیتونو (له۴ تر ۱۲) داسې معلومېږي چې ښايي له الحاقه هغه عذابونه مراد وي چې د ثمود، عاد، فرعون، لوط او نوح علیهما السلام پر قومونو نازل شوي، خو له ۱۳، ۱۴ او ۱۵ آیتونو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې منظور ئې د قیامت ستره پېښه ده، د ۱۵ آیت الفاظ داسې دي: فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ * نو په دې ورځ به دا واقع کېدونکې واقع شي.

د دوهم آیت لپاره دوه ترجمې لرو:

- څه ده دا واقع کېدونکې؟
- څه عجیبه واقع کېدونکې!!

دریم آیت دا انتباه مخاطب ته ورکوي چې د دې سترې پېښې په عظمت او هیبت پوهېدل درته ګران دي، نه شې کولی په هیبت، ستر والي او څرنګوالي ئې پوه شې.

۴ـ په دې آیت کې (الحاقه) د (القارعه) په نامه یاده شوې او ښیي چې دا یوه داسې ستره پېښه ده چې هر څه به سره وځپي. له مخکني آیت سره د دې آیت او د وروستۍ شرحې د ارتباط په هکله څو توجیهات لرو:

الف: څوك چې دا ځپونکې پېښه نه مني، او په دې باور نلري چې قیامت راتلونکی دی، او د عالم دا اوسنی نظام به له منځه ځي، ګمان ئې دا وو چې دا نظام ابدي او تلپاتې دی، وګورئ چې د دوی د انکار پایله څه وه، له کوم برخلیك سره

مخامخ شول؟ مګر تاريخ په دې خبرې شهادت نه ورکوي چې د قيامت منکرين تل په شديد الهي عذاب اخته شوي؟ او دا په خپله ثابتوي چې قيامت يو حقيقت دی او د انکار پايله او عاقبت ئې ډېر وخيم او خطرناك.

ب: په آخرت نه باور د انسان د طغيان او سرکښۍ باعث کېږي، او کار ئې هغه ځای ته رسوي چې د عذاب متروکه ئې پر سر راپرېوځي او په شديد الهي عذاب اخته شي، د انسان د ټولو نادودو، ناوړو کړو وړو، بدو عملونو او ناروااوو، ظلمونو او فساد جرړې له هغه ګنده ډنډه خړوبه کېږي چې په آخرت نه باور او له قيامته انکار ئې سرچينه ده، او د ټولو الهي عذابونو لاملونه هم بايد په دغې بې باورۍ او انکار کې ولټوو.

ج: په عاصي او باغي قومونو د عذابونو نزول ښيي چې دلته د مکافات او مجازات سنت حاکم دی، او قيامت د دې سنت له اتمام او اکمال نه پرته بل څه نه دی. نو په دغو قومونو د عذاب نازلېدل د قيامت د اثبات مضبوط دليل دی.

**۵**. ثموديانو له قيامته د انکار په وجه بغاوت وکړ، او الله تعالی د دې بغاوت او طغيان مناسبه سزا ورکړه، عذاب ئې داسې لکه د دوی خپل طغيان، باغي او طغيانګر عذاب، چې قرآن د الاعراف سورې په ۷۸ آيت کې د الرجفة (زلزله او شديد ټکان) په نامه، او د هود د سورې په ۶۷ آيت کې ئې د الصيحه (تنده او هېبتناکه چيغه) او د حم سجده سورې په ۱۷ آيت کې ئې د الصاعقة (تندر) په نامه ياده کړې، يعني دا طاغي عذاب به له سختې زلزلې، تندې او هيبتناکې چيغې او آسماني تندر سره توأم وي.

**۶**. او دا هم عاديان چې سرکښي او بغاوت ئې وکړ، سزا ئې دې سرکښۍ ته ورته وه، په سرکښ عذاب اخته شول، تندې سړې سيلۍ هر څه پرې رانسکور کړل.

**۷**. په دې مبارك آيت کې د عاد د سرکښ قوم د هلاکت څرنګوالی په ډېره عبرتناکه توګه انځور شوی او ځو حقايق زمونږ مخې ته ږدي:

الف: دې عذاب اووه شپې او اته ورځې دوام وکړ، خو ولې اووه شپې او اته ورځې؟ ولې يوه اونۍ او يوازې اووه شپې ورځې نه؟ آيا دا د دې لپاره چې څرګند

ګناهونه ئې تر ټولو زيات وو؟ او يا د دې لپاره چې د ورځې په رڼا کې به ئې دومره جنايات کول چې د شپو په تياره کې به د دوی تر خيانتونو زيات ول؟ او يا په دې خاطر د اونۍ اووه شپې ورځې به ئې په ګناه، عصيان او خيانت کې تېرې کړې او د راتلونکې اونۍ په سبا به ئې هم د جنايت او خيانت کلك هوډ کاوو؟ ښايي دا ټول، ځکه چې الهي عذاب تل د معذب شوو خلکو له کړو وړو سره متناسب او ورته وي.

ب: عاديانو داسې لوړ لوړ او دنګ دنګ قدونه درلودل چې د دوی په څېر خلك په هېڅ ځای کې نه تر سترګو کېدل، د دې تندې سړې سيلۍ په وجه داسې عبرتناك برخليك سره مخامخ شول چې د مړو اجساد ئې په هغې ورانې سيمې کې د رنګو ديوالونو او نسکور شوو چتونو شاوخوا ته خواره واره پراته وو، داسې برېښېدل لکه د خرما کاواکه ستنې چې له جرړو ايستل شوې او هرې خوا ته نسکورې پرتې وې، د دوی ظاهر ښايسته او ځواکمن برېښېدو خو منځ ئې تش او کاواك، ظاهر ئې د خرما د سمسورو او دنګو ونو په څېر برېښېدو او دا ګمان پرې کېدو چې جرړې به ئې په ځمکې کې ژورې تللې وي، او آسمان هم په خپلې غېږ کې نيولې او قد ئې ورلوړ کړی، خو په حقيقت کې د دې ونو منځ تش او جرړې ئې وچې وې، چې په يوې تندې سيلۍ له جرړو وايستلی شوې او پر ځمکه راپرېوتې.

۸ـ د دې مبارك آيت لپاره دوه ترجمې مومو:

الف: آيا له دوی نه کوم يو پاتې مومې ؟

ب: آيا د دوی کومه پاتې شونې وينې؟

هم دا عاصي ډله په خپله تباه شوه، او هم ئې هر څه له منځه ولاړل، آباد ښارونه ئې، مجلل قصرونه ئې، زور ځواك ئې او سمسورې ځمکې او فصلونه ئې، ټول له منځه ولاړل، او هيڅ څه ترې پاتې نه شول!!

۹ـ۱۰: فرعون او د لوط عليه السلام قوم؛ هماغه چې خپل کلي پرې رانسکور شول، دوی هم د دغې خطا او ګناه مرتکب شول، قيامت ئې تکذيب کړ، له بيا ژوندون او الهي مکافات او مجازاته ئې انکار وکړ، او د همدې په سبب د ګناه او عصيان په ګنده ډنډ کې پرېوتل او د پيغمبرانو عليهم السلام مخالفت ته ئې ملا

وتړله، نو ځکه حسيب خدای په زياتېدونکي عذاب اخته کړل.

۱۱ـ د خپل جد؛ نوح عليه السلام طوفان راپه ياد کړئ، قوم ئې ورسره مخالفت وکړ، له قيامته ئې انکار وکړ، له څو کسانو پرته هيچا پرې ايمان رانه ووړ، خو مونږ دی او د ده مؤمن ياران او د سفر ملګري د نجات په کشتۍ کې له غرقېدو وژغورل، تېول د حق او حقيقت دښمن ستمګران مو په هغه ستر طوفان کې غرق کړل چې تېوله ځمکه ئې ونيوله. دا دی يو ځل بيا د مکافات او مجازات الهي سنت خپل ځان وښود، او د آخرت منکران يو ځل بيا د خپل انکار او تکذيب سزا ګوري، دوی طغيان وکړ، طغيانګر طوفان پرې راغی.

۱۲ـ دا ستره او هول ناکه پېښه د دې لپاره وه چې د تل تر تله ستاسو لپاره د عبرت وسيله وي او د هوښيارو غوږونو خاوندان ئې تل په ياد وساتي او ترې هېره نه شي، تل در په ياد کړي چې له آخرته د انکار پايله او له دغه انکاره د راولاړو شوو ګناهونو سزا ډېره وخيمه او خطرناکه ده، تر څو متوجه وئ چې ګناه او سزا سره تړلي دي، رابطه ئې نه شلېدونکې ده، چېرې چې له قيامته انکار او ورپسې عصيان او بغاوت پېښه ايښې سزا او عذاب ورپسې راغلی، ګناه او سزا سره تړل شوي او سره ورته دي.

---

$G©Rù ãA$7ýåø$r Ïþú öR{$ÌM=ÏäΩr ÇÌÈ ø‰Ïn°r ж, ÿR Íq•Á 9$'Î ‡ÿýç#Œîù

'Ïδù ã$J¡ 9$ÌM)ø±R$r ÇÎÈ pèÏ#q9$ÌMè%r 7íBöŠù ÇÍÈ Z‰Ïn°r pz©Š

Ng%öù 7Îf ¸ óã @Ütr $gÍ!`ö #?ã ã7=J9$r ÇÏÈ pŠÏd#r 7ÍBöŠ

ÇÐÈ pŠÏ»yS 7ÍBöŠ

---

۱۳- نو هغه وخت چې پو شي په شپېلۍ کې، يو وار پو. ۱۴- او اوچت کړی

شي هم ځمکه او هم غرونه، نو سره وبه ټکول شي په يو وار ټکول. **۱۵**- نو واقع به شي په دې ورځ، هماغه واقع کېدونکې. ۱۶- او آسمان به هم شق شق شي، نو وي به په دې ورځې، سست سست او شلېدلی. ۱۷-او فرشتې به ئې په ژيو کې وي، او ستا د رب عرش به په دې ورځ په خپل سر نيسي اته ګونې.

---

۱۳ـ د آيت په سر کې د (فإذا) لفظ مخاطب ته دا انتباه ورکوي چې په مخکنيو آيتونو کې د قيامت د راتلو دلايل بيان شوي او لار ئې په قيامت باندې باور ته پرانيستلې ده. هو؛ قيامت به هم د هغو الهي عذابونو په څېر ناڅاپي راځي چې په تېرو ياغي او باغي قومونو نازل شوي، آني او په شېبلۍ کې يوه پو سره به راځي.

۱۴: په دې مبارك آيت کې څو مهم ټکي توجه جلبوي:

الف: دا آيت وايي چې ځمکه او غرونه به له خپل خپل ځايه پورته او په خپلو کې به سره وټکول شي. د غرونو د پورته کېدو په معنا خو پوهېدل آسانه دي خو د ځمکې د پورته کېدو په څرنګوالي پوهېدا لږ غور او دقت غواړي، بايد وګورو چې ځمکه به څنګه او د څه له سره پورته کېږي؟ مونږ اوس په دې حقيقت پوه شوي يو چې ځمکه د لمر، سپوږمۍ او نورو آسماني اجرامو په څېر د آسمان په پراخې غېږ کې معلقه ده، د بل څه په سر نه ده ايښودل شوې چې ترې پورته کړی شي، خو دا آيت وايي چې ځمکه او غرونه به له خپل خپل ځايه پورته کړی شي او بېرته به په خپلو کې سره ووهل شي، نو د دې معنا دا ده چې ځمکه به د دوو ځواکمنو او سترو ستورو تر منځ راشي، د دوو ځواکمنو جاذبو تر منځ به داسې واقع شي چې د ځمکې زړه به په يوه لوري او غرونه به ئې په بل لوري جذب شي، د دې قوي جاذبې په نتيجه کې به غرونه له ځمکې بيل او له جرړو به وايستل شي، خو د دې په ځای چې له ځمکې په ډېر واټن لرې او د جاذبې له منبع سره يو ځای شي، بېرته به د ځمکې په لور جذب او په ډېر شدت سره به له ځمکې سره تصادم وکړي.

ب: له دې پېړۍ د مخه او مخکې له دې چې انسان د ستور ليکو، شمسي منظومو، په دوی کې له سترو سترو چاودنو او د يوې برخې له بلې سره د يو ځای

کېدو په هکله کافي معلومات ترلاسه کړي، هيڅوك په دې خبرې نه شو پوهېدی، خو نن او د قوي تلسکوپونو په ذريعه د داسې ټکر او تصادم د بې شمارو بېلګو په ليدو سره په دې خبرې پوهېدا ورته آسانه شوې.

**۱۵**ـ په دغې مرحلې کې به هغه ستره پېښه واقع شي، د دې آيت له الفاظو په واضح توګه معلومېږي چې له (الواقعه: هماغه واقع کېدونکې) څخه مراد هغه پېښه ده چې د سورې په سر کې د الحاقه په نوم ياده شوې.

**۱۷ـ۱۶**: په دې مبارکو آيتونو کې څو اساسي ټکي د زياتې توجه وړ دي:

الف: د قيامت په ورځ به د آسمان دا اوسنی دقيق نظام متلاشي شي، آسمان به دړې وړې او چاود چاود شي، ټول هغه سماوي اجرام به خواره واره شي چې نن آسمان په خپلې غېږې کې کلك نيولي.

ب: په هغه ورځ به دا فرشتې چې د عالم چارې سمبالوي، خپل خپل ځای له لاسه ورکړي او د متلاشي شوي آسمان کنارو ته به منتقلې شي. له ملك نه دلته ټول ملائك مراد دي نه يوه فرشته.

ج: ستا د رب عرش چې ټول اووه ګونې آسمانونه ئې احاطه کړي او ټول کائنات ئې تر سيوري لاندې دی، په دې ورځ به ئې اووه فرشتې، يا د فرشتو اووه ټولګي حمل کوي.

د: په دې پوهېږو چې الله تعالی په دې عالم کې خاص سنن او ضوابط وضع کړي، چې هر کار د دغو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، او د دې عالم د چارو د سمبالولو لپاره د ملائکو په نامه مأموران ټاکلي چې د دغو سننو مطابق عمل کوي، د ټول کائنات له متلاشي کېدو وروسته به دا الهي سنن عاطل شي او دا مأمورين به ګوښه شي، يوازې اته ټولګي به چې د عرش حمله دي، پاتې شي.

هـ: دا آيت له متشابه آيتونه څخه دی چې په هغه کې د تشبيه فن کارول شوی، د الله تعالی عرش چې د انسان له درك او فهمه اوچت، فوق مشهود او غائب مفهوم دی، او انسان په خپل قاموس کې بل ځانګړی او خاص لفظ او نوم ورته نه لري، او په داسې لفظ معرفي شوی چې په اصل کې د يوه مشهود او ملموس شي لپاره

وضع شوی، د تشبيه فن کارول شوی او له دې لارې د انسان ذهن او فهم ته نږدې کړی شوی، بايد متوجه وئ چې په دا ډول آيتونو کې راغلي الفاظ په متبادر او متداوله معنا وانخلئ، داسې نه چې د الله تعالی له عرش نه هغه تصور او انګېرنه ولرئ چې د ځمکې پر سر د کوم تخت او عرش په هکله ئې لرئ!! الله تعالی د مخلوق په څېر مکان ته اړ او محتاج نه دی، د عالم هيڅ څه په ذات او افعالو کې الله تعالی ته ورته نه دی، نه ئې عرش د ځمکې د کوم عرش او تخت په څېر دی او نه په عرش استوی، په کوم تخت د کوم مخلوق ناستې ته ورته!! که د قرآن په هر ځای کې له دې آيت سره ورته آيت مو مخې ته راغی نو بايد دا مطلب مو په پام کې وي چې نه د عالم کوم څه الله تعالی ته ورته دي او نه الله تعالی په کوم څه کې له مخلوق سره شباهت لري. (ليس کمثله شئ). پام کوئ چې د فرشتو په ذريعه د الله تعالی د عرش حمل کېدا داسې ونه ګڼئ لکه چې په دنيا کې ځينې کوم تخت پر اوږو وړي، که داسې تصور دې په ذهن کې راولاړ شو، اشتباه دې کړې او الله تعالی دې له خپل مخلوق سره تشبيه کړی.

پيغمبر عليه السلام دا مطلب د يوه حديث په ترځ کې څومره ښايسته او دقيق انځور کړی هلته چې فرمايي:

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ان الله أذن لى اَن اُحَدّثَکُم عَن ملك قد مرقت رجلاه الارض السابعة السفلى و العرش على منکبه و هو يقول سبحانك انت أين کنت و أين تکون. مسند ابو يعلى

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقيناً چې الله (جل جلاله) اجازه راکړه چې له داسې يوې فرشتې مو خبر کړم چې پښې ئې له اوومې ځمکې تېرې شوې، او عرش ئې پر اوږو دی او هغه وايي: پاکي تا لره ده اې ربه! چې چېرې وې او چېرته يې!!

ګورئ چې هغه باعظمته فرشته چې قامت ئې له اوو آسمانونو او ځمکې تېر شوی او د عرش حامل ده د الله تعالی د ذات له درکه عاجزه او په عرش ئې د استوی له څرنګوالي بې خبره ده!! او په دې هکله خپل کامل عجز په دې الفاظو بيانوي:

پاکي تا لره ده چې هر ځای وې!!

---

¼ç7»GĻ š† Îrĕ ôB $B'ù ÇÌÈ pšÌ‰{ óãZÏ 4"ø ŵ bqÊ •èê 7ÍBø

ÇÌÈ m‹Î$¡ Ïm @ÌÄ 'Îb ÄMYZß 'Îþ ÇÌÈ m‹Î»FĮ {râ•‰Ï$Ïd Ãqã‹ù ¾ÏŠÏ‹Î

{qèä ÇÌÈ p‹Ï#Š $gèqäÜè ÇÌÈ pŠÏ‰æ p¥_ 'Î ÇÌÈ p‹Æ#§ p±Šĥ 'Î qßù

ÇÌÈ p‹Ï$/ ø$Ô$ƒÏ{ $ † ÎóÏ¤Ÿ& $JÎ $Ÿd {qäZõ $

---

۱۸۔ په دې ورځ به داسې راوړاندې کړی شئ چې هیڅ پټېدونکې به مو پټه نه شي پاتې کېدی. ۱۹۔ نو چا ته چې خپله عمل پاڼه په ښي لاس کې ورکړی شي، نو وايي به: آی! تاسو ته وایم! راشئ عمل پاڼه مې ولولئ. ۲۰۔ یقیناً چې ما باور کاوو چې حتماً به له خپل حساب سره مخامخ کېږم. ۲۱۔ نو دی به په راضي کوونکي ژوند کې وي. ۲۲۔ په لوړ پوړي جنت کې. ۲۳۔ مېوې ئې نږدې نږدې. ۲۴۔ وخورئ او وڅښئ په خوند خوند، د هغه څه په وجه چې په تېرو ورځو کې مو وړاندې لېږلي وو.

---

۱۸۔ د کائنات د مخکني نظام له متلاشي کېدو وروسته به نوی نظام له نويو سننو او ضوابطو سره او له بلې ځمکې او آسمان سره رامنځته شي، ټول انسانان به بېرته راژوندي شي، د الله تعالی په لوري به وخوځېږي، الله تعالی ته به وروړاندې شي، هر څه به ئې ښکاره وي، نه به کوم څه په خپله له دوی پټ وي او نه به ئې هیڅ پټ عمل له حسیب او خبیر خدای جل شأنه پټ.

د دې آیت د وروستۍ فقرې په اړه دوه ترجمې مومو:

الف: هیڅ مخفیانه عمل به مو پټ پاتې نه شي.

ب: هیڅ پټ (راز او رمز) به درنه پټ نه وي.

دوهمه ترجمه د آیت د الفاظو له ترکیب سره سمون خوري، لومړۍ ترجمه له دې بل ترکیب سره سمون خوري (لاتخفی خافیتکم)، حال دا چې د آیت ترکیب داسې نه دی، د (لاتخفی منکم خافیه) د الفاظو او ترکیب دقیقه ژباړه هماغه دوهمه ژباړه ده، او دا مفهوم د الطارق په سوره کې په دې الفاظو راغلی: (یوم تبلی السرائر: هغه ورځ چې ټول اسرار بربنډ شي).

۱۹ـ۲۴: د انسانانو تر منځ معمول دا ده چې ارزښتمند او مهم شیان په ښي لاس اخلي، او هغه څه چې ورته اهمیت او ارزښت نه لري یا ئې له اخیستو کرکه لري، نو په کیڼ لاس ئې اخلي. د محاسبې په ورځ به چې د بریا او ناکامۍ اسناد وېشل کېږي، صالح افراد او نېکوکاران به خپله عمل پاڼه په ښي لاس اخلي او په خوشحالۍ به په جګ غږ وايي: اې خلکو! راشئ زما سند وګورئ، ما پر آخرت باور درلود، یقین مې دا وو چې له الهي محاسبې سره به خامخا مخامخ کېږم، د دغه باور په وجه مې له ګناه او عصیان ځان ساتو، دا دی زما عمل پاڼه وګورئ، توره پاڼه او بد عمل به په کې ونه ګورئ.

خوښ، ډاډه او راضي کوونکی ژوند به ئې په برخه شي، په لوړ جنت کې به ځای ورکړی شي، میوې ئې تل تیارې، نږدې او د شکولو لپاره به لاس وراوږدولو او ورغځولو ته هم ضرورت نه وي. ورته وبه ویلی شي: د دې جنتونو نعمتونه هر څومره، هر وخت او له هره ځایه چې خوښه مو وي، تازه تازه او خوندور خوندور ئې وخورئ وڅښئ، د هغو عملونو په سبب چې مخکې کې مو کړي وو.

عن ابن عمر حین سئل عن النجوی فقال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول "یدنی الله العبد یوم القیامة فیقرره بذنوبه کلها حتی إذا رأی أنه قد هلك قال الله تعالی إني سترتها علیك في الدنیا وأنا أغفرها لك الیوم ثم یعطی کتاب حسناته بیمینه وأما الکافر والمنافق فیقول الأشهاد هؤلاء الذین کذبوا علی ربهم ألا لعنة الله علی الظالمین".

له ابن عمر رضي الله عنه چې کله د نجوی په هکله پوښتنه وشوه، وئې ویل: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي چې فرمایل ئې: الله تعالی به د قیامت په ورځ خپل بنده ورنږدې کړي، په خپلو ټولو ګناهونو به ئې قایل او اقرار کړي، تر هغه چې دی به ګمان وکړي چې تباه شوم، الله تعالی به وفرمايي: په دنیا کې مې ستا په ګناهونو پرده وغوړوله، او نن ئې درته بخښم، بیا به ئې د حسناتو او نېکیو پاڼه په ښي لاس کې ورکړی شي، خو د کافر او منافق په هکله به شهادت ورکوونکي ووايي: دا همغه خلك دي چې د خپل رب په هکله ئې دروغ ویل، په دغو ظالمانو دې د الله تعالی لعنت وي.

---

Ó9r ÇÈÎÈ ﾑŠÎ»FÏ Nr ÉÓ9 ÓÍFø»ƒ ÃqÀŠù ¾ÏÎ$JÏ±Î ¼ç7»GÏ ’Îr ÉôB $B&r

ﾑ‹Ï$B ÓÍ ã Ó_ô& $B ÇÈÐÈ p‹Ê $)$ÏMR%. $kJø»ƒ ÇÈÏÈ ﾑ‹Î$ ¡Ïm $B ÍŠ&

ÇÈÒÈ ﾑŠÏ»ÜùB ÓÍ ã 7=d ÇÈÑÈ

---

۲۵۔او هغه چې پاڼه به ئې په کیڼ لاس کې ورکړی شي وايي به: ای کاش عمل پاڼه مې نه وی راکړی شوې! ۲۶۔او په دې نه وی پوه شوی چې حساب مې څنګه دی! ۲۷۔کاش دا (خو د کار) پای ته رسونکې وی. ۲۸۔مال مې بې نیازه نه کړم. ۲۹۔ واکمني مې تباه شوه.

---

۲۵-۲۹: په دې آیتونو کې بله ډله، خصلتونه او پایله ئې انځور شوې:

الف: دوی په دغې ورځ باور نه درلود، د خپلې عمل پاڼې له اخیستو به لاس راتموي، ځکه پوهېږي چې په دې کې به څه وي او دوی ته به څه پیغام لري، خو په کیڼ لاس کې به ئې ورکړی شي.

ب: وايي به: کاش دا عمل پاڼه نه وی راکړی شوې، نه زه پرې خبر شوی وی او

نه نور زما له عملونو خبر شوي وی، دې پاڼې خو هر څه بربنډ کړي، زما د ژوند هیڅ برخه ئې پټه نه ده پرېښې، څنګه ئې د نورو په وړاندې پرانیزم، د دې افتضاح او رسوایي به څه چاره کوم؟ دې ته په پام سره چې په مخکنې آیتونو کې ویل شوي چې مؤمن به په خپل سند فخر او مباهات کوي او ټول به ئې لوستلو ته رابولي، باید په دې آیت کې د مخکني مطلب عکس مفهوم د کافر په هکله په نظر کې وي، یعني دا به د هغه بل برعکس د خجالت او شرمندګۍ احساس کوي، او دا تمناء به کوي چې کاش هیڅ پاڼه نه وی ورکړی شوې او له دې افتضاح او رسوایي سره نه وی مخامخ شوی.

ج: له دې خبرې چې وایي: کاش همدا (د کار) پای ته رسونکې وی، یا ئې مراد دا دی چې کاش زما مرګ د کار پای وی، بېرته نه وی راژوندی شوی، او له دې برخلیك سره نه وی مخامخ شوی، او یا ئې مراد دا چې: کاش همدلته خبره پای ته رسېدلې وی، نه خلکو زما عمل پاڼه لیدی او نه دوزخ ته تګ وی او یا دا چې: کاش اوس مرګ راورسېږي او کار پای ته ورسوی. دوهمه توجیه د دې لپاره تر نورو دقیقه ده چې د آیت په متن کې او ترې مخکې او وروسته د مرګ لفظ نه دی ذکر شوی.

د: شتمن او قدرتمند وو، قدرت او ثروت مغرور او بې لارې کړ، د ده په نزد کې د فلاح او بریا معیار ثروت او قدرت وو، خو اوس او له هغه وروسته چې حقایق څرګند شول او د ده کمزوری عقل هم په اسرارو پوه شو، وایي به: نه مې مال کوم درد رادوا کړ، او نه واك او قدرت وژغورلم، دواړه تباه شول، او اوس په تش لاس او تور مخ د الله تعالی او د ټول مخلوق په وړاندې ولاړ یم.

ځیني درانه مفسرین دې خبرې ته په پام سره چې ټول دوزخیان خو یوازې بډایان او واکمنان نه دي، نیستمن او بې قدرته دوزخیان هم شته، کله چې ګوري یوازې د شتمنو او واکمنو دوزخیانو په هکله خبره شوې او یوازې دوی دوزخیان ګڼل شوي، له اشکال سره مخامخ کېږي او عجیب غریب توجیهات کوي، دوی د دې آیت (هلك عنی سلطانیه) په هکله ویلي: په دې خاطر چې ټول دوزخیان خو د

سلطې او اقتدار خاوندان نه وو، لابد به له (سلطان) څخه کوم بل څه مراد وي!! وايي: د سلطان معنا، حجت او برهان دى، او د آيت مقصد دا دى چې دوزخيان به وايي: ټول دلايل مې خوشې وختل، هيڅ يوه ئې ګټه راونه رسوله، اوس له ځانه د دفاع لپاره هيڅ حجت او برهان نه لرم!!

د دوى په ځواب کې وايو:

الف: دا توجيه د آيت له روح سره قطعاً سمون نه خوري.

ب: که دا توجيه ومنو نو بايد په مخکني آيت کې د (مال) لفظ هم په غير اصلي معنا واخلو او له ثروت پرته په بله معنا ئې ونيسو!!

ج: قرآن په دې هکله ډېر صريح او قاطع حکم کوي چې د پيغمبرانو عليهم السلام اصلي معاندين او مخالفين د مال او قدرت خاوندان او د قرآن په اصطلاح مترفين او مستکبرين دي، د قرآن دغو صريح او قاطع پرېکړو ته په پام سره به هيڅ قرآن پوه دا توجيه ونه مني.

د: ولې د داسې تأويلونو په ځاى صاف او شفاف نه وايي چې قرآن تل د مترف او مستکبر کفارو په محکومولو او غندلو تأکيد کوي او دوى د اصلي دښمن په توګه معرفي کوي، او وايي: دا دوى دي چې مستضعفين او بې وزلې مظلومان غولوي او د قرآن په اصطلاح ئې استخفاف کوي، د پيغمبرانو عليهم السلام د مخالفې جبهې قيادت د دوى په لاس کې وي، خپل واک، ځواک او امکانات د اسلام او د مؤمنو دعوتګرانو په ضد کاروي؟! دا دوستان ولې د قرآن دا دريځ د يوه څرګند او پرېکنده حقيقت او اصل په توګه نه مني او په خپل دعوت، مبارزې او تحليلونو کې خپل لارښود نه ګڼي؟!! ولې نه وايي چې قرآن د کافرو بډايانو او واکمنانو په غندلو او تقبيح سره مونږ ته لارښوونه کوي چې د مبارزاتو په جريان کې بايد دې ټکي ته په جدي توګه متوجه وو چې ټول ګوزارونه مو د دغې ډلې په سر وي، او د هغو کسانو په څېر نه وو چې د مستضعفينو او بې وزلو ترمنځ شايع ګناهونو په هکله په ډېر جرأت او صراحت سره خبرې کوي، خو د هغو جناياتو او خيانتونو په ضد له څه ويلو ځان ساتي چې واکمنان، او بډايان پرې اخته وي!! د

دوی په خلاف د ویلو لپاره هیڅ نه لري؟! د قبرونو له لمانځنې سره په مخالفت کې ډېر جري او زړه ور وي خو د قصرونو له عبادت او بندګۍ سره د مخالفت یوه عادي خبره هم نه کوي!! ولې نه وايي چې مترفین او مستکبرین د جهل پالونکي، د شرك حامیان، د فساد، بې‌دیني، ظلم او بې عدالتۍ عامل دي، په ټولنې کې د ټولو جرایمو مسئولیت دوی ته راجع کېږي او باعث ئې دوی وي، باید تر ټولو د مخه دوی وغندل شي، باید د کفر، شرك او جهل د جبهې د مشرانو په توګه تر نورو زیات د مؤاخذې وړ او د شدید الهي عتاب مستحق وګڼل شي؟!

باید دې ته هم متوجه وو چې په دې آیتونو کې یوې خوا ته تر ټولو غوره جنتیان او بلې خوا ته تر ټولو بد دوزخیان سره مقایسه شوي، د یوه په عمل پاڼې کې به هیڅ تور داغ نه وي، او ټول اهل محشر به ئې ویلو ته رابلي، او بل داسې چې د خپلې پاڼې له اخیستو به منزجر وي، ځان ته د مرګ غوښتونکی، په دې معترف چې مال او قدرت ئې هیڅ ګټه ورونه رسوله، او له داسې پایلې سره ئې له مخامخ کېدو ونه ژغورو، بې ځایه ئې ثروت او قدرت هر څه، او د فلاح او بریا معیار ګاڼو.

دې ته مو هم پام وي چې کتابیه، مالیه، سلطانیه په اصل کې کتابي، مالي او سلطاني ده، هاء د سکتې لپاره او په دې خاطر چې د فواصلو وزن سره ورته شي، پرې زیاته شوې.

---

**bqãõ™ $gãöŒ 7#ÅùÅ ’Î ©ê ÇÌÈ ¨ç¹ LìÅ¨ø$©ê ÇÌÈ ¨ç¹ãù ¨çäé**

**4¢ã •Ù ¢† ®ír ÇÌÈ ÉšåèŒ$«Ï $Ï ßBs¨ø b%. ¼çRÎ ÇÌÈ ¨ç3ë$¾ ¾Ý¥‘Ë**

**ôÏB ¨íÎ P$èÛ ®ír ÇÌÈ ÞÏq $Z§»d Pö×Œ$¨9 § åù ÇÌÈ ÉèÂóÜ$Pç$èÛ**

**ÇÌÈ bqèÜ»ƒø$¨íÎ ÿãè؃ ¨ív ÇÌÈ &,Î‡óÎ**

---

**۳۰-** وئې نيسئ او زولنې ورواچوئ، **۳۱-** بيا ئې په دوزخ کې واچوئ. **۳۲-** بيا ئې په داسې زنځير وتړئ چې اوږدوالی ئې اويا ګزه دی. **۳۳-** يقيناً چې ده نه په ستر الله ايمان راووړ، **۳۴-** او نه ئې مسکين ته د خوراك د ورکړې هڅونه کوله. **۳۵-** نو نن به ئې دلته نه کوم دوست وي، **۳۶-** او نه (د زخمونو) له نو پرته کوم طعام. **۳۷-** چې له خطاکارانو پرته ئې بل څوك نه خوري.

---

۳۰-۳۷: دا آيتونه د کافر او بې ايمانه شتمنو او قدرتمنو د تعذيب څرنګوالی توضيح کوي او څو ټکيو ته زمونږ پام اړوي:

الف: د عذاب فرشتو ته به وويل شي: دا مجرم ونيسئ، په لاس پښو کې ئې ولچك او زولنې ورواچوئ، دا ځکه چې ثروت او قدرت مغرور او سرکښه کړی وو، په خپلو شتمنيو کې به ئې په خلاص لاس او بې باکۍ او او له پايلو ئې له بې پروايۍ سره تصرف کاوو، اوس بايد ونيولی شي، په غاړه کې طوق او په لاس پښو کې ئې ولچك او زولنې واچولی شي.

ب: ټاټوبی ئې دوزخ دی، د هغو شرارتونو او فتنو مناسبه او وړ سزا چې په دنيا کې ئې راولاړولې او دنيا ئې د نورو لپاره د دوزخ په څېر ګرځولې وه.

ج: په داسې زنځير به د دوزخ له ستنو سره تړل کېږي چې اوږدوالی ئې اويا ګزه دی، د انسان د متوسط عمر، اوياوو کلنو سره متناسب.

د: ده بر په ستر رب ايمان نه درلود او لاندې پرځمکه ئې په مسکين او بې وزلې انسان ترحم او عاطفه نه درلوده، او په خپل کفر سره ئې هم د ځمکې له هر څه سره اړيکې شلولې وې او هم د آسمان له هر څه سره، له ځان پرته ئې هيڅ څه ته اعتناء نه کوله، نو ځکه به د قيامت په ورځ داسې څوك نه لري چې زړه پرې وسوځوي او مرسته ئې وکړي.

هـ: په دنيا کې ئې له حرامو لارو مال راغونډ کړ، د وجود سلول سلول ئې له حرامه ډك، مطعم او ملبس ئې حرام، د مظلومانوويني ئې زبېښلې، نن به د خپلو جناياتو سزا ګوري، خوراك ئې د زخمونو نو، د مظلومانو د وينو په سزا کې، د

خطاکارانو لپاره ورړ او مناسب خوراك، چې له دوی پرته ئې بل څوك نه خوري، په دنيا كې ئې په ناروا د بې وزلو د مال خوړلو غلطي كوله اوس به ئې داسې طعام په كومې كې لوېږي چې د دغو خطاكارانو لپاره ډېر مناسب او ورړ وي.

---

Ðƒì. ÅqÏß' ʻÅö)9 ¼çRÎ ÇÌÈ brçÅ ûêÿ $Br ÇÌÑÈ brçÅ ûê$JÎ ßÅ%éx ù

$B W‹Î% 9Ïd%. Éö)Î Ÿr ÇÍÈ bqãZÏB÷sè$B W‹Î% 9ãã$© Éö)Î qèd $Br ÇÍÈ

Ù è/ $Yøã Ag)? öqr ÇÎÈ ûüÏ>»è$ Éb § `ÏB @ƒÍ\? ÇÍÈ brã©x ?

$Jù ÇÎÈ ûüÏqø$çZÏB $ZèÜ)9 $Bê ÇÎÈ ûüÏ‹Î çZÏB $Rõ {Ÿ ÇÍÈ @ƒÍ$%R $

ÇÍÈ ûüÏÉ »m çZã %n& ôÏB OâZÏB

---

۳۸ـ نو نه، داسې نه ده، قسم په هغه څه چې ګورئ. ۳۹ـ او په هغه څه چې نه ئې ګورئ. ۴۰ـ يقيناً دا ده وينا د مخور استاځي. ۴۱ـ او دا نه ده د كوم شاعر وينا، ډېر لږ ايمان راوړئ. ۴۲ـ او نه د كوم كاهن وينا، لږ پند اخلئ. ۴۳ـ رالېږنه د رب العالمين له لوري. ۴۴ـ او كه ئې ځينې خبرې راباندې تړلی. ۴۵- حتماً به مو په ښي لاس ترې اخيستلی. ۴۶- بيا به مو د غاړې رګ ترې پرې كاوو. ۴۷- نو ستاسو هيڅوك به ترې دفع كوونكی نه وی.

---

۳۸ـ۴۰: په ۳۸ او ۳۹ آيتونو كې په (ما تبصرون: څه چې وينئ ئې) او (ما لاتبصرون: څه چې نه ئې وينئ) لوړه شوې او ورپسې په څلوېښتم آيت كې ويل شوي: إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسولٍ كَرِيمٍ * بې شكه چې دا حتماً د مخور رسول وينا ده.
مخكې له دې چې د قسمونو او ځواب ترمنځ ارتباط تشريح شي بايد څو خبرې

توضیح کړو:

- په (مَا لا تُبْصِرُونَ: څه چې نه ئې وینې) باندې قسم، یو له هغو دوو قسمونو څخه دی چې په نامرئې شیانو لوړه شوې، دلته په نه لیدل شوو او د القیمة په سوره کې د قیامت په ورځ، او دا د قرآن د عمومي قاعدې خلاف برېښي، په ټولو نورو مواردو کې په څرګندو شیانو لوړه شوې، خو دا باید وګورو چې آیا په دې دوو مواردو کې واقعاً عمومي قاعده نه ده مراعات شوې، او که نه، دا هم د عمومي قاعدې مطابق ده خو په سطحي نظر بیل برېښي؟
- دا هم باید وګورو چې آیا له (ما تبصرون) او (ما لاتبصرن) څخه ټول شیان په عام طور له کومې استثناء پرته مراد دي، که نه د کلام مخکنۍ یا وروستنۍ برخه ئې محدودوي او په خاصو شیانو کې ئې راخلاصه کوي؟
- له قسمونو نه ورسته آیتونه په دې مطلب تأکید کوې چې دا د یوه مخور پیغمبر وینا ده، نه د شاعر وینا ده او نه د کاهن، د رب العالمین له لوري رالېږل شوی قول دی:

إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسولٍ كَرِيمٍ * وَ مَا هُوَ بِقَوْلِ شاعِرٍ قَلِيلاً مَّا تُؤْمِنُونَ * وَ لا بِقَوْلِ كاهِنٍ قَلِيلاً مَّا تَذَكَّرُونَ * تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَلَمِينَ *

بې شکه چې دا حتماً د مخور رسول وینا ده او د شاعر وینا نه ده، ستاسو باور کول لږ دي، او نه هم د کاهن وینا ده، ستاسو پند اخیستل لږ دي، د رب العالمین له لوري رالېږل شوی دی.

او ورپسې وایي: که ده له خپلې خوا څه ویلې وای او هغه ئې الله ته منسوب کړي وای، نو الله حتماً داسې کار جدي نیولو او حتماً ئې هغه ته سخته سزا ورکوله، له دې نه په څرګنده معلومېږي چې قسمونه هم د پیغمبر علیه السلام په اړه دي او له (ما تبصرون) او (ما لاتبصرن) نه هم د ده د شخصیت څرګندې او ناڅرګندې برخې مراد دي.

- دا صحیح نه ده چې د یوې عامې خبرې نطاق، د هغې نه مخکې او وروسته کلام ته له پام نه پرته، هر څه ته عام وګڼو.

- دا هم یوه اشتباه ده چې د یوه کلام یوه برخه د ورته برخو او د عمومي قاعدې خلاف تعبیر کړو. په داسې حال کې چې د قرآن په ټولو قسمونو کې په ډېرو څرګندو او واضح شیانو لوړه شوې دا صحیح نه ده چې یو دوه قسمونه دې داسې تعبیر شي چې له دې عمومي قاعدې سره تصادم کوي.

د دې مطالبو په پام کې نیولو سره د قسمونو او ځواب ترمنځ ئې ارتباط ډېر په آسانۍ درك کولی شو، او هغه دا چې: دلته قریشو او د قرآن ټولو مخاطبینو ته ویل شوي چې د پیغمبر علیه السلام د ژوند هغو برخو ته پام وکړئ چې تاسو ته څرګندې دي، دا د خپلو شاعرانو او کاهنانو له شخصیت سره مقایسه کړئ، د دوی ترمنځ دا ژور او ستر تفاوت به حتماً تاسو په دې قانع کړي چې دی نه شاعر دی نه کاهن، بلکه د الله مخور استاځی دی او وینا ئې د الله تعالی قول. ستاسو شاعران خو د مفسدو او ظالمو حاکمانو خدمت کې دي، د څو پیسو لپاره د دوی مدح او ستاینه کوي، د هغه چا هجو کوي چې څه ورنکړي او یا د دوی په هجوې سره له بل نه څه ترلاسه کړي. ستاسو کاهنان خو هغه دي چې هر یوه، دلته او هلته، په بازار او کوڅه کې، دکانونه پرانستي، خلك غولوي، په فال، کوډو او تعویذونه سره له خلکو شکراني ترلاسه کوي، خو پیغمبر هغه څوك دی چې تاسو په خپله د ده په صداقت، عدالت، امانت او زړې سوې شهادت ورکوئ، د ظلم او تېري مخالف، د مظلومانو ملګری، د ظالمانو دښمن، د برابرۍ او عدالت داعي، هغه چې فساد، تېری، خدعه او دروغ حرام ګڼي، نه یوازې دا چې په خپلې مبارزې له خلکو د څه اجر او بدلې طمع نه لري بلکې قرباني ورکوي، له خطرونو سره ډغرې وهي او ستونزې ګالي، هغه خو خلکو ته وایي: (اتبعوا من لایسئلکم اجراً و هم مهتدون) په هغه چا پسې اقتداء وکړئ چې په سمه لار روان دی، قول او عمل ئې سم دی او له تاسو نه د څه شکولو هڅه نه کوي، لږ د پیغمبر علیه السلام د ژوند هغه برخې هم وڅېړئ چې ستاسو له سترګو پټې دي او یوازې نږدې ملګري او د کورنۍ غړي ئې ورباندې پوهېږي، دا برخې د خپلو مشرانو، شاعرانو او کاهنانو د شخصي ژوند له پټو برخو سره مقایسه کړئ، له ژور تفاوت نه به په خپله پوه شئ چې دی د الله مخور

استاځی دی او وینا ئې د الله کلام، آیا د ده په قول، عمل او اخلاق کې یوه داسې بېلګه په ګوته کولی شئ چې د ده د لوړ شخصیت او د رسالت د ادعا منافي وي؟ لومړی کس چې پر ده ایمان راوړي او د ده وینا د الله تعالی له لوري وحي ګڼي، د ده هغه درنه مېرمن ده چې د ده له ټولو پټو اسرارو خبره او له هره اړخه ئې ښه پېژني، هغه ښځه چې تاسو د قریشو ترټولو صالح، نېکه، عقلمنه او پوه ښځه ګڼله!!

همدا راز دا قسمونه وايي: لاړ شئ د قرآن څېړنې او بحثونه د هر هغه څه په اړه په ځیر او دقت سره وڅېړئ چې (مشهود) دي یا (غائب)، چې تاسو ئې وینئ او یا ستاسو له نظره پټ دي، حتماً به درته ثابته شي چې دا قرآن د هغه رب العامین له لوري پر پیغمبر علیه السلام نازل شوی چې په ټولو اسرارو خبر دی. د دې کتاب عظمت، د عالم د اسرارو په هکله ئې دقیق علمي بحثونه، ژورې څېړنې ئې د ټولو هغو شیانو په هکله چې تاسو ئې دا اوس اوس ګورئ، او هغه چې تراوسه ئې لا په حقیقت نه پوهېږئ او ورو ورو به پرې پوه شئ، ښیي چې دا کتاب هغه ذات رالېږلی چې عالم الغیب و الشهاده دی، هیڅ انسان ته ممکن نه دی چې داسې باعظمته او دقیق کتاب له خپله ځانه وړاندې کړی شي او د قرآن په څېر، د شاهد او غائب په هکله داسې دقیق او علمي بحثونه ولري، مګر نه ګورئ چې د قرآن د نزول له ورځې تر نن پورې، له هرو څو کلونو وروسته انسانانو ته په سلهاوو داسې حقایق راڅرګندېږي چې قرآن لا د مخه او هغه وخت بیان کړي وو چې د هیچا په خیال کې هم نه ګرځېدل، خو خلك د وخت په تېرېدو سره او د ژورو تحقیقاتو په نتیجه کې پرې پوه شوي، او همغه خبره ئې کړې چې قرآن لا د مخه کړې وه!! د قرآن دا ویناوي ښیي چې پیغمبر علیه السلام د الله تعالی استاځی او کتاب ئې د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دی.

۴۱ـ راشئ د ده وینا د خپلو شعراوو له اشعارو سره مقایسه کړئ، د دوی ترمنځ ژور توپیر او تفاوت به تاسو ته ثابته کړي چې دی شاعر نه، بلکې پیغمبر دی، د ده لوړ کلام ستاسو د شعراوو د اشعارو په څېر نه د یوه مدح او د بل هجو دی، نه له یوې وادي بلې ته کوزېدا او نه له یوه شاخه بل ته بې مقصده الوت، بلکې

سر تر پایه د یوه لوړ الهي پیغام حامل، سراسر حکمت او ژوره علمي وینا، وای وای چې په حقایقو ستاسو باور او یقین څومره کمزوری دی!!

**۴۲-** راشئ د ده کړنې او ویناوې د خپلو کاهنانو له کړنو او وینااوو سره مقایسه کړئ، له هماغه کاهنانو سره چې د غیب په اړه وړاندوینې کوي او ادعا ئې دا ده چې په غیب پوه مراجعو سره ئې اړیکې دي، او هغه ئې دا چې د غیبي چارو په هکله په دروغو وینااوو سره ساده لوح او کم عقله خلك وغولوي، شکرانې ترلاسه، د نورو جیبونه تش او خپلې کڅوړې ډکې کړي، راشئ د غیب په هکله د دې درون**د** پیغمبر علیه السلام د الهي کتاب بحثونه د خپلو کاهنانو له غیب وینو سره مقایسه او قضاوت وکړئ، تر څو در ته ثابته شي چې دی د الله تعالی پیغمبر دی، خو څومره لږ ده ستاسو پند اخیستنه!!

**۴۳**: دغه ټول دلایل شهادت ورکوي چې دا مقدس او باعظمته کتاب د عالمونو رب رالیږلی، هغه رب چې غائب او مشهود ئې پیدا کړي او د عالم له ذره ذره اسرارو خبر دی، د دې کتاب مطالب په خپله دا حقیقت ثابتوي.

**۴۴-۴۵**: آیا ګمان کوئ چې که څوك په دروغو ځان پیغمبر وګڼي، له ځانه خبرې جوړې او الله تعالی ته ئې منسوب کړي، نو الله تعالی به دې کار ته هیڅ التفات نه کوي او داسې کس ته به سزا نه ورکوي؟! که پیغمبر علیه السلام داسې کار کړی وی، الله تعالی به هیڅکله فرصت او مجال نه وو ورکړی، حتماً به ئې داسې بې باکې جدي ګڼله او د زړه رګونه به ئې ور پرې کړي او ژوند ته به ئې خاتمه ورکړې وه!!

د **۴۵** آیت په اړه د مفسرینو ترمنځ د ډېر اختلاف شاهد یو: ځینې وایي: (با) په (بالیمین) کې زایده ده، او د آیت معنا داسې ده: د ده ښی لاس به مو ترې اخیستی وو، یعني د ده ښي لاس به مو قطع کړی وو او یا د ده قدرت به مو ترې سلب کړی وو!!

ځینې نور وایي: (من) زاید دی او آیت ئې داسې ترجمه کړی: په خپل ښي لاس به مو نیولی وو، یعني په شدیده توګه به مو دی مؤاخذه کړی وو.

په دې دواړو او ځينو نورو ترجمو کې ډېر او بې ځايه تکلف شوی، او د آيت له تحت اللفظي ژباړې او د الفاظو له اصلي معنا سره سمون نه خوري، د آيت د الفاظو اصلي او له تکلف نه پرته معنا داسې ده: حتماً به مو په ښي لاس ترې اخيستی وو. ځوك چې نه دي توانيدلي له دې ترکيبه واضح مفهوم واخلي نو دې ته اړ شوي چې د آيت په ترکيب کې تغييرات راولي، ځه ئې زايد وګڼي او ترې حذف ئې کړي، او داسې ئې جوړ کړي چې دوی ته قابل فهم شي، د دوی اصلي مشکل په دې کې دی چې د (اخذ باليمين: په ښي لاس اخيستو) لپاره ئې په دې آيت کې کوم مادي شی نه ترسترګو کېږي، ګمان ئې دا دی چې اخذ او نيول او اخيستل يوازې د مادي شيانو لپاره کارول کېږي، نو ځکه ئې (باء) او (من) زائد ګڼلي، او آيت ئې ژباړلی، حال دا چې (اخذ باليمين) د کلك نيولو په معنا هم راځي، او د (اخذ: نيول) لفظ يوازې د مادي شيانو لپاره نه کارول کېږي بلکې د غيرمادی شيانو لپاره هم راځي. دا تر بحث لاندې آيت د مخکني تتمه ده، په مخکني آيت کې دا مطلب راغلی چې (که پيغمبر عليه السلام له خپله ځانه ځه خبرې جوړې او الله تعالی ته ئې منسوب کړي) خو دا چې په دې صورت کې به له ده سره ځه کېږي، په راتلونکي آيت کې توضيح شوی او ويل شوي: نو حتماً به مو په ښي لاس ترې نيولي وو، يعني د ده تقول، افتراء او له ځانه خبره جوړول به مو جدي نيولې وه، او جدي چلند به ورسره کېدو.

د (اخذ باليمين) الفاظ د پيغمبر عليه السلام په يوه حديث کې د دې مطلب لپاره راغلی چې الله تعالی مخلصانه او له شوائبو منزه صدقه ارزښتمنده ګڼي، خاصه اعتناء او التفات ورته کوي، هلته چې فرمايي:

ما تصدق احد بصدقة من طيب و لايقبل الله الا الطيب الا اخذ ها الرحمن بيمينه. رواه مسلم و الترمذي

هيڅوك کومه پاکيزه صدقه نه ورکوي، په داسې حال کې چې الله يوازې پاکيزه شی مني، مګر دا چې رحمان خدای ئې په ښي لاس ترې اخلي.

**۴۶-۴۷**: د (ثم) لفظ په دې آيت کې ښيي چې په مخکني آيت کې مشار اليه کار او هغه کار چې په دې آيت کې ورته اشاره شوې په يوه وخت نه ترسره کېږي، دا لفظ

په خپله ښيي چې هغه توجيه سمه نه ده چې وايي مخکنی آيت د ښي لاس قطع کول، يا تر ښي لاس کلك نيول يا په ښي لاس کلك نيول افاده کوي، برعکس دا دواړه آيتونه څنګ په څنګ دا معنا افاده کوي چې الله تعالی به دا تقول او افتراء جدي نيوله او بيا به ئې د زړه رګ ورپرې کاوو او په هغه صورت کې به ستاسو هيڅ يوه د ده مرسته نه شوی کولی او د دې شديدې نيونې او مؤاخذې مخنيوی به مو نه شو کولی.

---

¼çR̂r ÇÍÔÈ ûüÎÉ3B OãZB̈ b& Ð=èZ9 $R̂r ÇÍÑÈ ûüÉGBÿ ×•Ï õF9 ¼çR̂r

7ĥ ëÏ$Î ôÎṃ ù ÇÎÈ ÈüÉ‹$$ ‘,Û9 ¼çR̂r ÇÎÈ ûïÍÿ»3$$ ’?ã ôŽÅ s9

ÇÎÈ É‹Ï àè$$

---

۴۸. او بې شکه چې دا تذکر دی پرهېزګارانو ته. ۴۹. او مونږ خو يقيناً په دې پوهېږو چې ستاسو ځينې دروغ ګڼونکي دي. ۵۰. او دا خو به حتماً د کافرانو د حسرت باعث شي. ۵۱. او بې شکه چې دا يو يقيني حقيقت دی. ۵۲. نو د ستر رب په نامه دې تسبيح وايه.

---

۴۸: بايد وګورو چې (إنه) چا ته راجع ده؟ دوه توجيه مومو:

الف: په مخکنيو آيتونو کې مندرج مطلب ته راجع دی.

ب: قرآن ته راجع دی.

د لومړۍ توجيه په تائيد کې دوه دلايل لرو:

- ضمير بايد تل تر ټولو نږدې مرجع ته راجع کړو.

راتلونکی آيت د دې توجيه سموالی بيانوي. او په دې توګه د آيت معنا داسې ده:

په مخکنیو آیتونو کې مندرج مطلب د هغو کسانو لپاره یو تذکر او پند دی چې غواړي له داسې عذابه خوندي وي او ځان ترې وقایه کړي.

**۴۹**: او الله تعالی پوهېږي چې ستاسو ځینې به دا حقایق تکذیبوي، عمداً به ئې تکذیبوي، نه اشتباهاً او نه د دلایلو په حکم، په حقیقت کې به د دوی ادعا دروغجنه وي، په الله تعالی به افتراء کوي، او د عذاب راتګ او د الله تعالی نیونه او شدیده مؤاخذه به تکذیبوي.

**۵۰.** او دا به د کافرانو د حسرت او ندامت باعث کېږي، داسې ورځ به حتماً رارسي، کافران به الهي عذاب خامخا وګوري او له حسرت او ندامت سره به مخامخ شي.

**۵۱.** او دا یو یقیني حقیقت دی، هیڅ شك په کې نشته، حتماً به تحقق مومي.

حتماً به متوجه شوي وئ چې دا سوره د (الحاقه: تحقق موندونکې) په لفظ پیل شوې، او دا آیت د سورې د تتمې په توګه وایي: انه لحق الیقین، د هرې سورې د مقدمې او تتمې تر منځ چې معمولاً کوم تړاو او ارتباط وي دا تقاضا کوي چې په دې آیت کې باید هماغه مطلب په نظر کې وي چې په لومړي آیت کې راغلی.

**۵۲.** نو د خپل ستر رب نوم دې په پاکي یاد کړه.

# المعارج

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم المعارج (د عروج وختونه) دی، چې له درېیم آیته اخیستل شوی، **۴۴** آیتونه لري، لومړي درې آیتونه ئې د واقع، دافع او معارج په صیغو پای ته رسېدلي، که څلورم او پنځم آیت یو وګڼلی شي نو له شپږم او اووم آیت سره به د ټولو فواصل ورته او د جمیلا، بعیدا، قریبا هموزنه صیغې به وي، د اتم او نهم آیتونو فواصل ئې مُهل او عِهن دي، او د لسم ئې حمیما چې شپږم او اووم ته ورته دی، د یولسم، دولسم، دیارلسم او څوارلسم ئې د بنیه، اخیه، تؤویه او ینجیه هموزنه صیغې دي، له پنځلسم تر اتلسم پورې لظی، شوی، تولی او اوعی او بیا تر یووېشتم پورې هلوعا، جزوعا او منوعا دي، له دې وروسته د سورې تر پایه درې وزنه ګورو چې د لومړیو دریو آیتونو د فواصلو په څېر مصلین، دائمون او محروم ته ورته دي، محروم او معلوم د وزن او غږ له مخې دائمون ته ورته دي، چې په دې ترتیب له دوه ویشتم آیته تر پایه همدا دوه وزنه مراعات شوي، ډېر ئې دائمون ته او لږ ئې مصلین ته ورته دي.

دا سوره هم په مکي دور کې او هغه وخت نازله شوې چې په مکې باندې د

قیامت او بیاژوندون په اړه د شدیدې مناقشې او جدل سیوری غوړېدلی وو، د سورې له متنه معلومېږي چې په دې وخت کې قریشو له قیامته د انکار په ارتباط ویل: که قیامت حقیقت لري او د الهي عذاب د راتلو خبره رښتیا وي، نو ولې تر اوسه رانه غی؟ د دومره ځنډ وجه څه ده؟ ولې هغه خلك په الهي عذاب نه اخته کېږي چې ته ئې د عذاب مستحق ګڼې؟ په دې سوره کې دغو پوښتنو ته ځواب ویلی شوی.

د سورې د بیان له اسلوب او لهجې معلومېږي چې پیغمبر علیه السلام خپل دعوت علني کړی او مخالفین په هر محفل او هرې غونډې کې د ده شا وخوا راغونډېږي او د پوښتنو تر هجوم لاندې ئې نیسي، خو لا خبره تصادم او قهرجن چلند ته نه ده رسېدلې. سوره په دې آیت پیل شوې چې وایي: یو سؤال کوونکی د هغه عذاب غوښتونکی دی چې خامخا واقع کېدونکی دی او هیڅوك ئې له کافرانو نه شي دفع کولی، دا عذاب خو د هغه الله له لوري دی چې د معراجونو خاوند دی، د هغه حضور ته د هر پورته تلو لپاره خاص خاص وخت ټاکل شوی، ملائکې او سالار ئې جبرئیل علیه السلام هم د حضور لپاره د پورته تلو لپاره خپل خپل ځانګړی وخت لري، د پنځوسو زرو کلونو منصوبه ورته سپارل کېږي، د خپل مأموریت په پای کې د الله جل شأنه په لوري پورته درومي، ترڅو د تېر مأموریت رپوټ وړاندې کړي او نوې مأموریتونه په غاړه واخلي. هرکار په خپل معین او ثابت وخت کې ترسره کېږي، د آخرت منکرین هسې عجله کوي، د قیامت او الهي عذاب د فوري راتلو غوښتنه کوي، او په دې کې ځنډ د دوی د انکار او تردید لامل کېږي!! د دوی د مخالفتونو په وړاندې صبر وکړه، په پوره ثبات او صبر خپل دعوت او مبارزې ته ادامه ورکړه، د دوی انکار او مخالفت دې تا مأیوس او متردد نه کړي، او ستا ثبات او استقامت دې متزلزل نه کړي، دوی د الهي عذاب راتګ محال او ډېر لرې ګڼي، دا ځکه چې لید واټن ئې لنډ او تنګ دی، لنډه فاصله ورته اوږده برېښي، عجول دي، ورځ او اونۍ د وخت لپاره معیار ګڼي، د دوی د معیارونو له مخې قیامت ډېر لرې برېښي، په داسې حال کې چې د دوی پنځوس زره

کاله د الله تعالی په نزد د يوې ورځې په څېر ده، قيامت به په خپل وخت راځي، نه ئې د دوی انکار او نه ئې د دوی عجله او تلوار په راتلو کې څه اغېز کولی شي، په هر صورت کې به راځي، په هغه ورځ به آسمان د ويلې شوي فلز په څېر وموځ او غرونه به د وربشلو (حلاجي شوو) وړيو په څېر، د دوی په معيارونو کې خو آسمان تر دې ډېر ستر او لوړ برېښي چې ټوټې ټوټې او متلاشي شي، او غرونه تر دې ډېر درانه چې له خپله ځايه وخوځولی شي، نو دوی پرېږده چې په خپلو ماشومانه خيالاتو کې لګيا وي، کله د وخت او زمان په هکله د ماشومانو په څېر قضاوت وکړي او کله د ځمکې او آسمان په اړه، کله ئې مال او دولت مغرور کړي او کله ئې وجاهت او د پلويانو ګڼه ګوڼه، په خپلو ماشومانه انګېرنو سره واقعيتونه معکوس ګوري او باطل ورته حقيقت برېښي، چې کله هغه ورځ راشي، وبه ګوري چې نه ئې په لاس کې مال دولت شته او نه ئې په خوا کې پلويان او حاميان، ټولې پرونۍ اړيکې شلېدلې، هر څوك د ځان په غم کې او له خپلو ټولو دوستانو او خپلوانو بې خبره، که څه هم يو به بل ته ګوري، خو نه به ئې پوښتنه کولی شي او نه مرسته، دومره به هم نه شي کولی چې ترې وپوښتي ولې په دې برخليك اخته شوی؟ مجرم انسان چې جرم ئې د آخرت تکذيب وو او يا خپل جرم او ګناه له آخرته انکار ته هڅولی وو، د دې تمناء به کوي چې کاش د دې ورځې له عذابه په دې وژغورلی شي چې خپل زامن، مېرمن، او ورونه په فديه کې ورکړي، خپله هغه قبيله او ټبر په عوض کې ترې ومنلی شي چې په ښه او بد او روا او ناروا کې به ئې د ده پلوي کوله، کاش د ټولې ځمکې اوسېدونکي د ده په ځای په عذاب اخته او دی ترې وژغورلی شي!! خو د دوزخ اور داسې نه دی چې وچ لانده سوځوي، او د مستحق او غير مستحق ترمنځ توپير نه کوي، بلکې په کامله پوهه او هوښيارۍ عمل کوي، د سوځولو وړ خلك او هغه پېژني چې بايد په خپلې غېږې کې ئې ونيسي او وريت ئې کړي، له نورو به ئې رابېلوي، د ځان په لوري به ئې رابلي، او په اوچت غږ به وايي: چا چې په دنيا کې حقيقت ته شا کړه، له حرامو لارو ئې مال او دولت غونډ کړ، نن دې زما خوا ته راشي، د اوسېدو مناسب ځای ئې زما غېږ ده.

انسان؛ هلوع او عجول دی، قضاوتونه ئې تل د احساساتو تر اغېز لاندې راځي، د درد او رنځ په وخت کې جزع و فزع کوي، او له هر چا او هر څه شکوه او شکايت کوي، خو د (خير) ترلاسه کولو په وخت کې ټول هېر کړي او له بل سره له مرستې او احسانه ډډه کوي، او هيڅوك د دې مستحق نه ګڼي چې په (خير) کې ئې له ځان سره شريك کړي، د چا قضاوتونه چې دومره عجولانه وي او دومره د شخصي اغراضو او احساساتو تر اغېز لاندې ځي، آيا صحيح ده چې د قيامت او الهي عذاب په هکله د ده انګېرنو، خيالاتو او قضاوتونو ته او په دې هکله ئې تلوار او عجلې ته اهميت ورکړو او جدي ئې وګڼو ؟!!

د بې ځايه تلوار او عجلې، حرص، جزع، فزع او بخل له بدو خصلتونو هغه څوك ژغورل کېږي چې دا مواصفات ولري:

الف: تل له الله تعالى سره خپلې اړيکې پالي او خپل لمانځه ته تل پام او اهتمام کوي.

ب: په خپل (مال) کې د سائل او محروم لپاره يوه برخه ټاکي او دا برخه مسکين او بې وزلي ته په دې نامه نه ورکوي چې پر ده ئې کوم احسان کړی او يا دا د ده له لوري صدقه يا پېرزوينه ده، نه بلکې دا د ده مسلم حق ګڼي او مسکينانو ته ئې ورکړه خپله وجيبه بولي.

ج: په آخرت، مکافات، مجازات او د عملونو په بدلې او سزا باور لري.

د: د خپل رب له عذابه وېرېږي، هغه عذاب چې امان ترې نشته.

هـ: پاك لمنه دی، خپل عورت ساتي، د هوس بنده نه دی، خپل جنسي روابط قانونمند کوي، او په هغه څه اکتفاء کوي چې ورته حلال او جائز دي.

و: امين دي او په امانتونو کې له خيانته ځان ساتي.

ز: له نورو سره په خپلو ژمنو او تعهداتو وفا کوي او رعايت ئې په ځان لازم ګڼي.

ح: د حق په پلوۍ شهادت ورکوي او له حقيقته دفاع کوي او په دې شهادت او دفاع کې تل مضبوط او ټينګ ولاړ وي.

ی: د خپلو لمونځونو ساتنه او پالنه کوي، لمونځ ئې هسې بې روح حرکات نه وي، د يوه دود او عادت په توګه ئې په غفلت او بې خبرۍ کې نه ترسره کوي، بلکې په پوره اعتناء او خاص التفات سره لمونځ کوي.

دوی به جنت ته درومي او په بشپړ اکرام او اعزاز سره به په کې د تل لپاره ژوند کوي.

خو له آخرته منکر کافران چې کله د آخرت او مکافات او مجازات په هکله د پيغمبر عليه السلام خبرې اوري داسې ئې محاصره کړي او ډله ډله ترې راتاو شي او مخالفت ئې کوي چې ته به وايې هر يو ئې له خپل مخالفت او دښمنۍ څخه د الله د راضي کېدو او جنت ته د رسېدو طمع لري او ګواکې په هر مخالفت سره به جنت ته د ننوتو سند ترلاسه کوي، که څه هم دوی خو په آخرت، جنت او دوزخ باور نه لري خو له پيغمبر عليه السلام سره ئې مخالفت داسې برېښي او دومره شديد دی چې ګواکې له دې کار څخه جنت ته د رسېدو طمع لري!!

ولې دا ډله له بيا ژوندونه انکار کوي او د قيامت په اړه د پيغمبر عليه السلام وينا داسې د نه منلو وړ ګڼي؟! مګر په دې نه پوهېږي چې الله تعالی له څه پيدا کړي؟ له دغې خاورې چې د مور او پلار په وجود کې ئې په نطفې بدله شوې. آيا له دغې خاورې خپل مجدد خلقت محال ګڼي؟ مګر هغه رب چې دا پراخ عالم اداره کوي، لمر له ځانګړې ختيځه راپورته کوي او په خاص لوېديځ کې ئې کوزوي، د انسان له مجدد پيدا اېښته عاجز ګڼي؟ په داسې حال کې چې د مشارق او مغارب رب ته نه يوازې بيا پيدا ايښت آسانه دی، بلکې کولی شي تر دې ئې په غوره بڼه کې راپيدا کړي، هيڅ څه او هيڅ کار ئې نه شي ناتوانه کولی.

دا ډله په خپلو ماشومانه مشغولتياوو کې تر هغې ورځې پرېږده چې وعده ئې درکول کېږي، تر هغې ورځې چې له خپلو خپلو قبرونو نه به په تلوار راپاځي، په ځغاسته به وي، داسې لکه چې د نصب شوو نښو په لور ځغلي، سترګې ئې خړې، وېرې او خوف اخيستي، د ذلت آثار ئې په څېرو کې راڅرګند، ورته وبه ويل شي: دا دی هغه څه چې وعده ئې درکول کېده!!

بسم الله الرحمن الرحيم

---

«‹ $šÆ Ë ÇÈ Öü#Š ¼ç9 § ÿ ûïÌÿ» 6 ü ÇÈ 8ï#r 5 # ‹ èÎ @í$™ A'™

¼çâ#‰ )ÿË b‰. 5öÏ † ÎÏhøÎ ß r”9$r è 6 Í»=J$ß ã? ÇÌÈ Aé $èJ$ “ Ë

ÇÍÈ pZ™ # ß ûüÅ!~

---

۱. وغوښت يوه غوښتونکي يو عذاب واقع کېدونکی! ۲. چې کافرانو ته ئې نشته، هيڅ دفع کوونکی. ۳. له لوري د الله، څښتن د معراجونو. ۴. فرشتې او روح تر ده ورپورته کېږي؛ په داسې يوې ورځ کې چې مقدار ئې دی پنځوس زره کالونه.

---

۱: په دې هکله د مفسرينو تر منځ څو توجيهات ګورو چې (د عذاب له غوښتونکي) نه مراد څوك دی، چا عذاب غوښتی او د ده د خبرې معنا څه ده؟:

الف: مراد له عذاب غوښتونکي نه د آخرت منکرين دي، او له عذاب نه د قيامت عذاب دی، او مقصد ئې دا چې که د قيامت خبره او ادعا رښتيا وی نو تر اوسه به قيامت راغلی وو.

ب: ځينې وايي چې پيغمبر عليه السلام دا عذاب د کافرانو لپاره غوښتی.

ج: ځينې نور وايي چې له دې نه يو معين شخص مراد دی، چې يا (مغان بن حارث) نومېږي يا (نضربن حارث). دوی وايي چې کله په غدير خم کې علي رضي الله عنه په خلافت منصوب شو او دا خبره خوره شوه نو نوموړی شخص سخت غصه

شو ، پیغمبر علیه السلام ته راغی او ورته وئې ویل: آیا دا کار تا له خپلې خوا کړی که الله تعالی درته ویلي؟ پیغمبر علیه السلام ورته وویل چې دا د الله تعالی له لوري ویل شوي!! هغه لا زیات غصه شو او وئې ویل: خدایه! که دا حق وي او ستا له لوري وي نو پر مونږ له آسمانه تیږې وورو، په همدې وخت کې یوه ډبره له آسمانه د ده په سر راپرېوته او وئې واژو ...!!

په ډېر لږ دقت سره پوهېدی شو چې دوهمه توجیه ډېره کمزورې او درېیمه ډېره ډېره بې بنسټه او غلطه، د سورې له محتوی سره بې ربطه ده او له ټولو وروستیو آیتونو سره تصادم کوي، په دې دلایلو:

الف: له دې آیته د سورې تر پایه چې په دې آیت ختمېږي (ذلك الیوم الذی کانوا یوعدون)، د قیامت په اړه بحث کېږي، آیتونه داسې سره تړلي دي او په همدې یوې موضوع ترکیز لري چې د سورې په هیڅ ځای کې انقطاع نه ګورو ، بېلول ئې امکان نه لري او بل مطلب ترې اخیستل ممکن نه دی. په هیڅ استدلال سره نه شو کولی د لومړي آیت مطلب د قیامت له عذابه پرته بل څه وګڼو.

ب: پنځم آیت او پیغمبر علیه السلام ته د صبر سپارښتنه په ډېر وضاحت سره ښیي چې دا عذاب به په خپل ثابت او ټاکلي وخت راځي، د دوی لجاجتونه دې تا بې صبره نه کړي.

ج: شپږم آیت د هر ډول شك او تردید مجال له منځه وړي او صریحاً ښیي چې له سائل نه مراد یو شخص نه، بلکې یوه ډله ده، ګورئ چې د (هم: دوی) لفظ چې د جمع غائب مذکر صیغه ده، د (هو) په ځای راغلې، همدا راز دا آیت ښیي چې دوی د دې ورځې راتګ بعید او له امکانه لرې ګڼې ، حال دا چې په الهي معیارونو کې نږدې ده او ژر به رارسي.

د: وروستي آیتونه په لازیات تفصیل سره دا عذاب او هغه ورځ توضیح کوي چې په کې نازلېږي، او فرمایي: په دې ورځ به آسمان د ویلې شوي فلز په څېر شي او غرونه به د وریشل شوو وړیو په څېر.

د ډېر تعجب او حیرت ځای دی چې څنګه دا ټول وضاحتونه او صراحتونه له

پامه غورځوي، له نورو آیتونو سره ئې ارتباط ته توجه نه کوي او پرته له دې چې وګوري د سورې د بحث موضوع څه ده او دا آیت له نورو سره په ګډه کوم مطلب افاده کوي، داسې کوږ تأویل او بې بنسټه تعبیر ته به ملا تړي چې له ځرګند تحریف نه پرته بل نوم نه شو ورکولی؟! ګمان کوو چې دا بیماري په اصل کې له ړوند مذهبي تعصبه او له دې راولاړېږي چې ځینې خلك خپل خاص مذهب ته مربوط هر روایت، که څه هم له قرآن سره هیڅ اړخ نه لګوي او سل په سلو کې له قرآن سره په ټکر کې وي، سل په سلو کې ئې مني، هغه روایات معیار ګڼي چې د خپلې مذهبي فرقې له کوم کس ئې اورېدلي وي، که روایت له آیت سره تصادم وکړ؛ دې ته ترجیح ورکوي چې روایت معیار وګڼي او آیت ئې په ګټه تأویل کړي او په تکلف سره داسې څه ترې جوړ کړي چې له روایت سره سمون وخوري، هیڅکله دې ته تیار نه دي چې له قرآن سره متصادم روایات په دېوال ووهي او لرې ئې وغورځوي او له منلو ئې ډډه وکړي، که څه هم دا روایات څو سوه کاله له پیغمبر علیه السلام نه وروسته راغونډ شوي وي او دا ثابتول ډېر ډېر ګران وي چې آیا روایت موثق دی او راوي ئې د اعتماد وړ دی که نه، په داسې حال کې چې د الله تعالی په مقدس کتاب د ایمان تقاضاء دا ده چې د هرې خبرې لپاره ئې وروستی معیار وګڼو او په هغه صورت کې ئې ومنو چې له قرآن سره متصادمه نه وي.

ج: دا سوره نږدې شل کاله له حجة الوداع نه مخکې نازله شوې، هیڅ داسې روایت او د سورې په متن کې هیڅ داسې نښه نه ګورو چې وښیي د دې سورې کومه برخه له نورو بېله، په مدینه کې او مخصوصاً په هغه وخت کې نازله شوې وي چې پیغمبر علیه السلام له حجة الوداع نه وروسته مدینې ته راستنېدو، د سورې آیتونه داسې سره تړلي دي چې په دوو برخو ئې وېشل ممکن نه دي، یوازې هغه څوك به دا بې باکي او جسارت کوي چې په لومړي آیت کې ذکر شوی (واقع کېدونکی عذاب) له قیامته پرته په بله معنا ونیسي چې د سورې له ټولو آیتونو سترګې پټې کړي.

هـ: کوم عقل او ایمان به دا خبره ومني چې پیغمبر علیه السلام به علي رضي

الله عنه د ځای ناستي په حيث ټاکلی وي او صحابه رضي الله عنهم به د خپل محبوب پيغمبر د توصيې خلاف ابوبکر رضي الله عنه، بيا عمر رضي الله عنه او بيا عثمان رضي الله عنه د خليفه په توګه غوره کوي!!! په غدير خم کې يوازې دومره خبره شوې چې پيغمبر عليه السلام ته اطلاع ورسېده چې د علي رضي الله عنه له ملګرو څخه چې د ده په شمول يمن ته لېږل شوي ول، ځينې ئې د ده له اجراءاتو ناراضه دي او د ده په هکله منفي تبليغات کوي، پيغمبر عليه السلام له ده دفاع وکړه او وئې فرمايل: د چا چې زه دوست يم علي به ئې هم دوست وي.

**۳ـ۲:** د دې دواړو آيتونو ترمنځ د ارتباط د څرنګوالي په اړه دوه توجيه مومو:

الف: دا عذاب د کافرانو لپاره مختص شوی، د ذوالمعارج الله له لوري، هيڅوك نه شي کولی هغه له کافرانو دفع کړي.

ب: دا عذاب د کافرانو لپاره دی، د الله تعالی له لوري هيڅ دفع کوونکی ورته نه دی ټاکل شوی.

د ذو المعارج لپاره هم څو د پام وړ تعبيرونه لرو:

الف: ځينو معارج د معرج جمع او د لوړ تلو د مکان او وسېلې په معنا اخيستې او وايي چې مراد ترې آسمانونه او هغه لوړ لوړ ځايونه دي چې فرشتې ئې د الله تر حضوره د رسېدو په بهير کې پلې کوي.

ب: ځينې ئې معنوي مدارج، د فضيلت مراتب او اخلاقي فضائل ګڼي.

ج: غوره تعبير دا دی چې معارج د معرج جمع او د عروج او لوړ تلو د وخت او زمان په معنا ده او مراد ئې دا دی چې د الله تعالی حضور ته د لوړ تلو لپاره خاص خاص وختونه ټاکل شوي.

له وروستي آيته چې وايي د فرشتو او د دوی د سالار لپاره پنځوس زره کلن معرج ټاکل شوی، په وضاحت سره معلومېږي چې له معارج نه مراد هغه وختونه دي چې د الله تعالی حضور ته د لوړ تلو لپاره ټاکل شوي. يعني د الله تعالی په وړاندې هر حاضرېدا او لوړ تګ ثابت موعد او وخت لري.

**۴ـ** فرشتې او د دوی سالار او سردار جبرئيل عليه السلام چې د روح او ژوند

متعلق چارې ورسپارل شوي، د لوړ تلو لپاره ځانګړې او خاص معرج لري، پنځوس زره کلنه منصوبه ورسپارل کېږي، د خپل مأموريت په پای کې لوړ درومي او د الله تعالی په حضور مشرف کېږي، تر څو د مخکنيو مأموريتونو معلومات وړاندې او نوې دندې په غاړه واخلي، يعني دلته هر کار د دقيقې او اوږدمهالې منصوبې له مخې په خپل خپل وخت ترسره کېږي، د قيامت منکران هسې تلوار او عجله کوي او د الهي عذاب د فوري راتلو غوښتنه کوي.

دا مطلب چې د قيامت منکرينو له پيغمبر عليه السلام نه د عذاب د راوستو غوښتنه کړې او د قيامت په راتګ کې ئې ځنډ د دې دليل ښودلی چې قيامت نشته، د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې په بېلو بېلو الفاظو راغلی، لکه چې د حج د سورې په ۴۷ کې لولو:

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَنْ يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ وَإِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ *

او له تا په تلوار سره د عذاب غوښتنه کوي حال دا چې الله هيڅکله له خپلې وعدې ترشا کېږي نه، او يقيناً چې ستا د رب په نزد کې يوه ورځ د داسې زرو کلونو په اندازه ده چې تاسو ئې ګڼئ.

---

Pöqƒ ÇÐÈ $Ÿƒì% ņ1•Rr ÇÏÈ #%‹ë/ ¼çR•ƒ Nåĵ ÇÎÈ x̧ŠÜ_ #Žö¹ ŽÉó $ˆu

DŠÏq @«ó„ Ÿwr ÇÒÈ Çgêl$S ãA$6gø$Šãqã?r ÇÑÈ @ôçkŠ. ã‡J¡ 9$Šãqã?

ïnŠÏ6Î ¥ÍBöqƒ É#‹ã ôÜ “Ï‰Fÿƒ öq9 ãÌôf ßJø$Šqƒ Nåržç 7ãÇÊÈ $VŠÏq

ÇÚ öR$’Î `Br ÇÌÈ ïnƒèéê ÓÉ$ïïï=ŠÅùr ÇËÈ ïnŠÅ&r ¾ïïï6Å»¹ r ÇÊÈ

ÇÍÈ ïnŠÉ Zãšê$Ÿ‹Ïd

---

**۵**- نو صبر وکړه، ښکلی صبر. **۶**- بې شکه چې دوی ئې لرې بولي. **۷**- او مونږ ئې نږدې ګورو. **۸**- هغه ورځ چې دا آسمان به وي په څېر د ويلې شوي فلز. **۹**- او دا غرونه به وي د وربښلو وړيو په څېر. **۱۰**- او هيڅ دوست به د هيڅ دوست پوښتنه نه کړي. **۱۱**- که څه هم ئې تر نظر شي، مجرم به خوښوي چې کاش خپل زامن د دې ورځې د عذاب فديه کړي، **۱۲**- او خپله ښځه او خپل ورور، **۱۳**- او ټبر ئې چې پناه ورکوي، **۱۴**- او ټول هغه چې په ځمکه کې دي، چې وئې ژغوري.

---

**۵**- په دې مبارك آيت کې پيغمبر عليه السلام په ښکلي صبر او استقامت ګمارل شوی، داسې صبر چې نه په کې شکوه او شکايت شته او نه يأس او نا امېدي، نه د ثبات او استقامت د پرېښودو لاملونو ته موقع ورکوي او نه د مبارزې د قطع کولو او په نيمايي کې د پرېښودو اجازه ورکوي، بايد د دښمنانو د لجاجتونو او د آخرت د منکرينو د مخالفتونو په وړاندې تر پايه صابر او ثابت قدمه وې. پيغمبر عليه السلام ته د صبر له دې سپارښتنې معلومېږي چې د مقابل لوري د مخالفتونه د پيغمبر عليه السلام د اذيت او ځورولو تر کچې زيات شوي او کار هغه ځای ته رسېدلی چې ده ته وواييي: که ته په رښتيا د خدای پيغمبر يې او د عملونو د مکافات او مجازات په هکله ستا ادعا حقيقت لري، نو ولې زمونږ له دغو مخالفتونو سره سره دا موعود عذاب نه راځي او مونږ نه پرې اخته کېږو؟ دا ستا د رب عذاب چېرې دی؟ دا ستا قيامت به کله راځي؟ پيغمبر عليه السلام ته توصيه کېږي چې د دوی د لجاجت په وړاندې صابر وې او په الهي عذاب کې ځنډ ئې مشوش نه کړي.

**۶-۷**: په **۶** آيت کې د (انهم) لفظ ښيي چې د (عذاب سائل) يو کس نه بلکې يوه ډله ده او له (يرونهم بعيدا) نه ئې معلومېږي چې له واقع کېدونکي عذابه د دوی منظور او هدف د آخرت د ورځې عذاب وو، د دې آيت مراد دا دی چې د قيامت منکرين بې ځايه قيامت لرې ګڼي، دا ځکه چې دوی خپلې لنډې ورځې او اونۍ

معيار نيولې او د خپلو دغو وړو او محدودو معيارونو له مخې قيامت ورته ډېر لرې برېښي، په داسې حال کې چې الله تعالى ته او په الهي معيارونو کې ډېر نږدې دی، که دوی خپل واړه واړه معيارونه پرېږدي، له خپل تنګ چاپېرياله راووځي او د قيامت موضوع ته د داسې معيارونو له مخې وګوري چې د دې عالم له ستروالي او عظمت سره ښايي نو حتماً به متوجه شي چې په خپلو تنګ نظره قضاوتونو کې ئې اشتباه کړې او د يوه عجول انسان په څېر ئې چلند کړی، د دوی په معيارونو کې قيامت لرې برېښي خو په الهي معيارونو کې، هلته چې يوه ورځ د پنځوس زره کلونو په اندازه ده، نږدې دی. قرآن همدغه حقيقت ته په څو نورو مواردو کې هم اشاره کړې، چې د ټولو مقصد دا دی: زمانه نسبي امر دی، له يوه نه تر بل او له يوه حالت نه تر بل ئې وضع بدلېږي، ويښ او ويده، مړ او ژوندی، لټ او تېز ته يو شان نه وي، هغه زمانه چې يوه ته په يوه حالت کې بې انتهاء برېښي بل ته د څو ثانيو او دقيقو وي، کومه فاصله چې ميږي ته بې انتهاء برېښي د يوې مرغۍ لپاره د څو ثانيو وي، که په يوه اطاق کې له يوه ويده او ويښ نه چې ټوله شپه ئې په خوب او ويښه تېره کړې، پوښتنه وکړئ، ويښ به درته وايي: ډېره اوږده شپه وه، لټ په لټ اوښتم، سخته راباندې تېره شوه، او ويده به درته وايي زه نه يم پوهېدلی چې شپه څنګه تېره شوه او څومره خوب مې کړی!! دا تاسو يئ چې کلونه او پېړۍ درته اوږده زمانه برېښي او په واړه ذهن مو د دې سيوری پروت دی چې په مړو باندې د اوږدې مودې له تېريدو وروسته به څنګه بيا راژوندی کېږي! خو الله تعالى ته دغه ستاسو په نظر اوږده زمانه د څو شېبو په اندازه ده. د نسبيت په هکله د قرآن دغه خبره دولس پېړۍ وروسته، د المان يوه ساينس پوه انشټين، د ساينس په ژبه وکړه او په دې سره ئې د فزيك د پلار نوم وګاټو. د دې وينا په اهميت هغه وخت ښه پوهېدی شو چې وګورو د شلمې پېړۍ ساينس پوهان، د ستور ليکو تر منځ د واټن او فاصلې ټاکلو لپاره دې ته اړ شول چې د ورځې، اونۍ، مياشت، کال او پېړۍ معيار پرېږدي او په ځای ئې هغه واټن معيار وګڼي چې نور (رڼا) ئې په يوه کال کې پلې کوي، او دې ته ئې د نوري کال نوم ورکړ، او وئې ويل: دا ستور ليکی (کهکشان) له

هغه بله څو سوه مليونه نوري کاله فاصله لري. وئې ليدل چې د سپوږمۍ او مريخ ورځې د ځمکې له ورځې توپير لري، هر ستوری خاصه ورځ، مياشت او کال لري، او دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دی، پيغمبر عليه السلام څنګه په دې پوه شو چې هر مقام او مکان ځانګړی زماني معيار لري، کوم معيارونه چې مونږ ئې د ځمکې په سر کاروو دا په بل ځای کې نه شي تطبيقېدی؟

**۹ـ۸**: د دغو کم ظرفو او لنډ ليدو منکرينو په نظر آسمان تر دې ډېر ستر او مضبوط برېښي چې متلاشي او نسکور شي، او غرونه تر دې ډېر درانه چې څوك ئې له خپل ځايه وخوځوي، پرېږده چې دوی په خپلو ماشومانه تصوراتو او خيالاتو کې مشغول وي، کله زمانه په خپلو وړو وړو معيارونو کې او د ورځې او اونۍ په حساب وشمېري او نږدې واټن ډېر لرې وګڼي او کله د ځمکې د غرونو او د آسمان د ستورو په هکله ماشومانه انګېرنې ولري، کومه ورځ چې وګوري آسمان د ويلي شوي فلز په څېر شي او راوڅڅېږي، او غرونه د ورېشل شوو وړيو په څېر خواره واره شي، هله به په خپلې خطا او اشتباه پوه شي.

**۱۰ـ۱۴**: اجتماعي روابط او ځانګړي شرايط ئې کله کله انسان داسې تر اغېز لاندې راولي او د ده ذهن داسې په خپل ګورت کې ونيسي او د ده په افکارو، مشاعرو او عواطفو خپل وزر داسې وغوړوي او انسان داسې راګير کړي چې د وتلو او ځان ايستلو ټولې لارې پرې وتړي او په هغو حقايقو پوهېدا ورته ګرانه کړي چې له دې تنګ محيط او چاپېرياله بهر دي، انسان د دغه اغېز تر سيوري لاندې خپل قومي دود دستور، افکار او اخلاق مقدس ګڼي، يو د بل لپاره پرې منګولې خښې کړي، له هر هغه څه سره مينه او محبت کوي چې په خپل ځانګري تنګ چاپېريال کې ئې مومي او هغه څه ته په بده سترګه ګوري چې له دې دائرې بهر وي، حقيقت د دې لپاره نه مني چې د ده په اړوند ډلې او قبيلې کې څوك پرې باور نه لري او له باطله په دې خاطر دفاع کوي چې له پلار نيکه ورته په ميراث پاتې دی. تل (قوم پالنه) او تعصب د (خدای پالنې) او اسلام په وړاندې خنډ شوی او تل هغه مخور قومي مشران او واکمنان د پيغمبرانو عليهم السلام مقابلې ته راوړاندې

شوي او د مخالفت لپاره ئې ملا تړلې چې خپل نفوذ او د پلويانو ډېرښت مغرور کړي وو، د قيامت په ورځ به دغه په جاهلانه تعصباتو ولاړې اړيکې غوڅې شي، هغه خلك به يو بل سره هېر کړي چې دغو اړيکو سره نږدې کړي وو، د يوه بل مرسته به نه شي کولی، يو به د بل خوا ته تېرېږي، خپل دوستان به په عذابونو اخته ګوري، خو نه به اعتناء او التفات ورته کولی شي او نه به ئې مرسته کولی شي، نه يوازې دا چې د خپل ګران دوست په اړه به بې اعتناء وي بلکې دا تمناء به کوي چې کاش خپل زامن، مېرمن، ورونه، هغه ټبر چې په دنيا کې د ده حامي وو، او د ځمکې ټول اوسېدونکي، له الهي عذابه د نجات لپاره په فديه کې ورکړی شي، تر څو دی له عذابه وژغورلی شي، داسې دی د دغو قومي تعصباتو ماهيت او د دغو اړيکو پای.

---

ì Hdr ÇÐÈ 4q?r •/Š& ôB (qã‰ô? ÇÏÈ 3' q±=Ï pã#“R ÇÎÈ 4 à9 $kX) Ï.

ÇÑÈ Øç¯'ù

---

۱۵- نه داسې نه ده، دا خو يوه لمبه ده، ۱۶- ښه ايستونکې د وريتولو لپاره. ۱۷- وربولي به هغه چې شا ئې اړولې او ډډه ئې ده کړې. ۱۸- او راغونډول ئې، بيا ئې ساتل.

---

۱۵-۱۸: کوم عذاب چې دا دوزخيان ترې تښتي د اور سره لمبه ده چې خصوصيات ئې دا دي:

الف: هغه دوزخيان ښه پېژني چې د وريتولو او سوځولو وړ وي، يو يو به د خلکو له منځه رابېل او د وريتولو لپاره به ئې په خپلې غېږ کې ونيسي.

ب: چا چې په دنيا کې حقيقت ته شا کړې وه، حق ته له تسليمېدو ئې ډډه کوله او له حرامو لارو ئې مال دولت راغونډولو، دا لمبه به ئې ځان ته رابولي.

يعني د دوزخ دا لمبه د دنيا د اور په څېر نه ده چې وچ له لندو نه شي بېلولی او دواړه سوځوي، بلکې درك او تشخيص لري، هغه کسان پېژني چې د سوځولو وړ او مستحق وي، هم به ئې له څېرو پېژني او هم په نوم، ځينې به په خپله رانيسي، او ځينې به په نامه يادوي او ځان ته به ئې وربلي.

ځينو درنو مفسرينو (نزاعة للشوى) داسې ترجمه کړې: د لاس او پښو ايستونکې! او ځينو داسې: د سر او مخ د پوستکي ايستونکې! چې دا دواړه ترجمې غير دقيق او ناسمې دي، دوی (شوی) د (شواة) جمع ګڼي، او په (للشوی) کې (لام) زايد شمېري، په داسې حال کې چې (شوی) اسم مصدر او د وريتولو په معنا ده، او د آيت دقيقه او بې تکلفه ترجمه دا ده: د وريتولو لپاره ښه او ماهر راايستونکې، يعني دا لمبه د مجرمينو په پېژندو او د نورو له منځه ئې په راايستو کې ښه مهارت او استعداد لري، دوی به د وريتولو لپاره د نورو له منځه راوباسي. وروستی آيت هم دغه معنا تائيدوي او د مخکني مطلب په دوام کې وايي: دا لمبه به دوزخيان له څېرې او نامه پېژني او هر هغه څوك به ځان ته رابلي چې له حقيقته ئې مخ اړولی وو، او له حرامو لارو ئې مال او دولت غونډولو.

کله چې زه د دې آيت تفسير ته راورسېدم، له عجيب حالت سره مخامخ شوم، د دې آيت د دقيق تفسير معلومولو لپاره مې ټولو هغو مراجعو ته رجوع وکړه او ټول هغه تفسيرونه او ترجمې او د لغت کتابونه مې ولټول چې راته مقدور وو، خو اشکال مې رفع نه شو او د خپلو پوښتنو ځواب مې ترلاسه نه کړی شو، چا (شویٰ) په غير اصلي معنا اخيستی وو او چا لام زايد ګڼلی وو، او ما ته دا دواړه خبرې صحيح نه برېښې، ما ليدل چې د دې آيت لفظ په لفظ او دقيقه ترجمه دا ده : ښه ايستونکی د وريتولو لپاره. په دغو تفسيرونو او تراجمو کې مې داسې تعبيرونه مخې ته راتلل چې د آيت له دقيقې ترجمې سره ئې سمون نه خوړ، څو ورځې راباندې داسې تېرې شوې چې په تفسيرونو او ترجمو کې مې لټونې وکړې، په وار وار مې دا سوره په لمونځونو کې او له لمانځه بهر تلاوت کړه، له ويدېدو مخکې او چې کله به هم له خوبه راويښ شوم دا سوره به مې تلاوت کوله او په دې آيت کې

به مې غور کاوو، تر څو ئې په دقيقه معنا پوه شم، يوه شېبه ناڅاپي له خوبه راويښ شوم، او د هماغه نيم ويښ نيم ويده حالت کې دا رأيه راته القاء شوه چې: د دوزخ اور په پوهه او هوښيارۍ عمل کوي، دوزخيان له خپلو څېرو پېژني، د وريتولو لپاره ئې د نورو له منځه راباسي، او هغه چې حقيقت ته ئې شا کړې او له حرامو لارو ئې شتمنۍ راغونډې کړې، ځان ته به ئې رابلي، د آيت دقيقه معنا همدا ده. غوښتل مې دا رحماني القاء وليکم چې هېره ئې نه کړم، ساعت ته مې وکتل چې دوو ته څو دقيقې پاتې وې... په سبا ئې د مطالعې په ترڅ کې څو داسې روايات مخې ته راغلل چې همدا تعبير ئې تائيدولو، په يوه کې راغلي چې جهنم به دوزخيان داسې د خلکو له منځه راباسي لکه مرغان چې له ځمکې دانه راټولوي، او په بل کې راغلي: جهنم به ځانګړې منګولې لري، چې ځينې به پرې کلك کلك نيسي او ځان ته به ئې راکښوي، ځينې به پرې وګرځي، او ژوبل به ئې کړي، او ځينې به ئې روغ رومټ تر خوا تېر شي.

قال ابن عباس: تدعو (النار) الكافرين والمنافقين بأسمائهم بلسان فصيح: إلي يا كافر, إلي يا منافق; ثم تلتقطهم كما يلتقط الطير الحب.

عبدالله بن عباس رضي الله عنه وويل: (د جهنم اور به) کافران او منافقين په فصيح ژبه په خپلو نومونو ځان ته رابلي؛ زما خوا ته راشه اې کافره! زما خوا ته راشه اې منافقه! بيا به ئې داسې رانيسي لکه مرغان چې دانه ټولوي.

---

ž̧öøø$ç¡ B #Œĵr ÇÉÈ $Ÿrâ_ ž¨ 9$ç¡ B #Œĵ ÇÉÈ %æqèd ,îä `» ¡ SŸy$bĵ *

ÇÌÈ bqßÍHŠ NÏÍX ¹ 4?ã Nèd ûïÏ%©$ ÇËÈ û,ï Á Bß$ xvĵ ÇÊÈ $ãqãB

ûïÏ%©$r ÇÎÈ Qrãás J$r èÍ$¡ =ĵ ÇÍÈ Pqè=B Am Nïĵ qB& þÎ šú ïÉ9$r

bĵ ÇÐÈ bqàÿôB NÎh É # ‹ ã ôÏB Nèd ûïÏ%©$r ÇÏÈ ÈÏŸ$9$Qöxĵ bqèö Á ã

žvĵ ÇĤÈ bqǻŸÿ»m bĝÅrǻ ǻ ûïǻ ÇĤÈ 5qǻB ǻ bǻ >#‹ã

ǻöGǻÇJù ÇĤÈ ûüBqǻB ǻ bǻù bǻJǻ M3=B $B ǻ óĝÅºrǻ #?ã

ǻüǻ‰ĝãr bǻÉ»Bķ ǻè ûïǻ ÇĤÈ brǻèǻ çǻ 7Í»9rǻ 7ǻŒ ä‘r

bǻËŸ| ¹ 4?ã ǻè ûïǻ ÇĤÈ bqǻ bǻ‰»k¶Î Nǻ ûïǻ ÇĤÈ bqãº‘

ÇĤÈ bqǻ•ǻB ,M»Z_ ’Î 7Í»9rǻÇĤÈ bqǻ$ta

۱۹ـ يقيناً چې انسان دی پیدا شوی ډېر کم ظرفه او بې صبره. ۲۰ـ چې شر ور ورسيږي، زګېروی کوونکی شي. ۲۱ـ او چې خیر ئې شي په برخه سخت مانع (د خير د كار) شي. ۲۲ـ غير له لمونځ کوونکو، ۲۳ـ هغه چې په خپل لمانځه پایښت کوي. ۲۴ـ او هغه چې په مالونو کې ئې ځانګړی معلوم حق وي. ۲۵ـ لپاره د سؤالګرو او بې وزلو. ۲۶ـ او هغه چې د بدلې ورځ رښتونې ګڼي. ۲۷ـ او هغه چې د خپل رب له عذابه وېرېدونکي دي. ۲۸ـ بې شکه چې د رب عذاب ئې بې امانه دی. ۲۹ـ او هغه چې د خپل عورت ساتونکي دي. ۳۰ـ مګر په خپلو جوړه وو (مېرمنو) او یا وينځو، چې بیا نو ملامت نه دي. ۳۱ـ او چا چې له دې پرته څه لټولي دوی تېری کوونکي دي. ۳۲ـ او هغه چې د خپلو امانتونو او ژمنو رعايت کوونکي دي. ۳۳ـ او هغه چې په خپلو شهادتونو په نېغه درېدونکي دي. ۳۴ـ او هغه چې پر خپلو لمونځونو مواظبت کوي. ۳۵ـ دوی به په جنتونو کې وي، معزز او مکرم.

۱۹ـ۲۱: په دې آیتونو کې هغه خوك په دقيقه توګه انځور شوی چې په آخرت ایمان نلري او خصلتونه ئې دا دي:

الف: حريص او بې صبره دی، حرص ئې نه پای لري او نه په څه قناعت کوي.
ب: له ستونزې او کړاو سره د مخامخ کېدو په وخت کې جزع و فزع کوي، له هر چا سرټکوي او شکوه او شکايت کوي.
ج: که ئې (خير)، مال او دولت په برخه شې؛ نو خپل، دوست او ملګری ترې هېر شي، له نورو سره له احسان او ښېګړې ډډه کوي، خپل ډېر نږدې دوست هم په دې خير کې د راګډولو وړ او مستحق نه ګڼي. ي
انسان تل په خپلو قضاوتونو کې د خپلو احساساتو، عواطفو او اغراضو تر اغېز لاندې راځي، د دې په ځای چې حقيقت ته په درنه سترګه وګوري، اهميت ورکړي، د خپلو قضاوتونو مبنا او اساس ئې وګرځوي، خپل شخصي مصلحت مبنا او اساس ګڼي، هر څه په دې تلې او معيار تلي، که ده ته کوم درد، رنځ او کړاو ورورسېږي دا حق ځان ته ورکوي چې جزع و فزع وکړي، په شکوه او شکايت خوله پرانېزي، او له هر چا دا وغواړي چې ده ته پام وکړي او د مرستې لاس وراوږد کړي، خو که دی په خپله هوسا او سوکاله وو، خير ئې په برخه شوی وو، بيا نو د دې پروا نه لري چې بل په څه حالت کې دی، نه د بل (جزع) و (فزع) ته اعتناء کوي، نه ئې کوکارې او زګېروی پرې اغېز لري، او نه ئې د دې وړ ګڼي چې لاس وراوږد کړي او مرسته ئې وکړي. آيا دا سمه ده چې د قيامت په هکله د دغه عجول، کم ظرفه او حريص انسان قضاوتونو ته د اهميت په سترګه وګورو او د الهي عذاب په اړه د ده پوښتنو او په تلوار او عجله غوښتنې ته اهميت ورکړو؟! او که دی په فوري توګه د قيامت او الهي عذاب د راتلو غوښتنه کوي؛ نو غوښتنې ته ئې مثبت ځواب ورکړی شي؟!!
د ستونزو او کړاوونو پـه وخت کـ ې بې صبرې سرټکول، بده ورځ جوړول ا و شکوه او شکايت کول او د شتمن کـ ېدو په صورت کې بخل کول، د خير په لار کې د خپل مال له څرڅولو ډډه او له خپلې شتمنۍ نه د ښېګړې د هر کار د مخنيوی پـه لار کې کار اخيستل، د انسان هغه دوه ناوړه او بد خويونـه دي چـ ې د ده اکثر اجتماعـ ي مشکلات له همد ېنه راولاړ ېږي، له د ېنـه يـوازې (مصـلين) يعنـي لمـونځ كـوونکي

خوندي پاتې کېږي.

**۳۵ـ۲۲**: په دې آیتونو کې د انساني شخصیت بله بېلګه انځور شوې، او څو اساسي خصلتونه ئې ښودل شوي:

الف: د مخکنۍ ډلې له کرکجنو، شنیع او قبیح خصلتونو د لمانځه په سبب خوندي دي، دا لمونځ دی چې انسان له حرص، جزع و فزع او بخل څخه ژغوري او نه پرېږدي چې لمونځ کوونکی انسان ئې تر اغېز لاندې راشي.

ب: کوم لمونځ چې دا کرکجن خصلتونه مهار نه کړی شي؛ هغه لمونځ یا اصلاً لمونځ نه دی او یا په دوامداره توګه نه دی اداء شوی. په لمانځه کې تداوم د دې سبب کېږي چې په انسان کې د دغو خصلتونو د راولاړېدو لپاره هیڅ مجال پاتې نه شي، ځکه چې له خپل رب سره خپلې اړیکې ټینګې وساتلې او خپل لمانځه ته ئې اهتمام وکړ، دا میکروبونه نه شي کولی د ده په زړه او دماغ کې وده وکړي.

هغه به څوك وي چې په دې نه پوهېږي چې په انسان کې داسې محرکات او غرېزې شته چې ګناه ته ئې هڅوي، تل هغه وسوسه کوي چې خپل نفس سورب کړه، ټولو غوښتنو ته ئې ځواب ووایه، په خپل جائز او روا حق قناعت پرېږده، په حلال رزق اکتفاء ته شا کړه، ځان په دې مه مقید کوه چې د خپلو غرایزو د اشباع لپاره به یوازې مشروع او روا لارې لټوې، او خپل تمایلات به مهاروې، پرېږده نور خلك ستا د نفس د خوشحالۍ په لار کې قرباني شي، په کار دا ده چې ټول نفیس، قیمتي، ګټور، غوره، خوندور او ښایسته شیان باید ستا وي، که خوراك وي، که پوښاك وي، که کور، ښځه، موټر، منصب او مقام وي، پروا نه کوي چې له کومې لارې ئې ترلاسه کوې!! دا حریص محرك، دا د ګناه مشوق او د نورو په حق تېري ته هڅوونکی حرص، یوازې په الله تعالی او آخرت باندې ایمان او باور، له الله تعالی سره دائمي تعلق او په لمانځه سره مهار کېدی شي.

ج: کوم اخلاقي ارزښتونه چې په دې آیتونو کې د دغې ډلې ځانګړتیاوې ګڼل شوې، پیل ئې په لمانځه مداومت او پای ئې د لمانځه حفاظت او ساتنه ښودل شوې، او د دې معنا دا ده چې لمونځ د ټولو ښېګڼو پیل او بنسټ دی، په ټولو ئې

احاطه کړې ده، هم ئې د پیل لامل دی او هم ئې د کمال او دوام موجب.

د: که له قیامته منکره ډله حریصه او بخیله ده او سره له دې چې مال دولت ئې په واك کې دی او کولی شي بې وزلی او محتاج انسان له کړاوه وژغوري خو نه یوازې د بخل په سبب د هغه له مرستې ډډه کوي، بلکې خپله شتمنۍ او امکانات د ښېګړو په مخنیوي او د بدیو او بدکاریو په خورولو کې کاروي، خو لمونځ کوونکې ډله له محروم او محتاج انسان سره مرسته خپله وجیبه ګڼي، د مظلوم او بې وزلې انسان په اړه دا احساس ورسره وي چې دا مې همنوع دی، په دې مال کې راسره شریك دی، یوه برخه ئې د ده حق دی، کومه مرسته چې زه ورسره کوم دا بسپنه او صدقه نه بلکې د ده مسلم حق دی، په ورکړې سره ئې په ده کوم احسان او منت نه دی کړی بلکې خپل حق ئې ورکړی.

هـ: قیامت او د عملونو مکافات او مجازات ربښتونې ګڼي او په هغه ئې کلك باور دی.

و: له قیامته منکر انسان د دې لپاره چې عجول دی، الهي عذاب په عجله او تلوار غواړي، دروغ ئې ګڼي او بې پروا دی، خو په قیامت باور لرونکی له الهي عذابه ویرېږي او بې امانه ئې ګڼي او د ګناهونو له ارتکابه ئې راګرځوي.

ز: د هوس بنده نه دی، خپلو جنسي اړیکو ته قانوني او پاکیزه بڼه ورکوي او په هغه څه اکتفاء کوي چې حلال، قانوني او د ده د فطري غوښتنو مطابق دي، په دې توانېږي چې خپل هوس مهار کړي او خپل عورت وساتي.

ح: امین وي او په امانتونو کې خیانت د خپل ایمان منافي عمل ګڼي.

ط: په خپلې ژمنې او عهد وفا کوي، د ژمنو رعایت خپله وجیبه ګڼي، له الله تعالی او د ده له بنده سره عهد خلافي او بې وفايي ګناه او حرام شمېري.

ی: له حقه دفاع کوي، د حق په ګټه شهادت ورکوي او په شهادتونو او له حق او حقیقته د دفاع په لار کې تل ثابت قدمه او استوار وي.

ك: پر خپل لمونځ مواظبت کوي، لمونځ ئې هسې د څو بې روح او بې مقصده حرکاتو مجموعه او یو عادت، دود او عنعنه نه وي او په غفلت او بې خبرۍ سره

ئې نه ادا کوي، بلکې په پوره اعتناء او خاص التفات او د ټولو حقوقو له مراعات سره ئې ادا کوي.

دوی به جنت ته درومي او په اعزاز او اکرام سره به په کې ژوند کوي.

---

ÉA$KË±9$ Çãr ÈüÜ‹ß$Çã ÇÌÏÈ ûüëÜgãã 7=7ï (rãÿ. šú ïÏ%$ÉA$Jù

$RÎ) ›I. ÇÌÑÈ ÕŠèR pZ_ Ÿ@z %ãb& Nãß< ÍÕ$@à2 ßJÕƒ& ÇÌÐÈ ûïÏFã

$RÎ) É>Ì»óR$ ÉÌ»±R$É>•Î ßÅ%é kxù ÇÌÒÈ šc qß=êƒ $ßJÏ Nßg»Y)={

ÇÍÊÈ ûüÏ%qçó JÎ ßtøU $Br Ìà¥ß #Žöz Aä7Ïb& #?ã ÇÍÉÈ brâÏ%»)9

---

**۳۶ـ** نو په دې کافرانو څه شوي چې په تلوار ستا لوري ته راځغلي. **۳۷ـ** له ښي او له کیڼ لوري ډله ډله. **۳۸ـ** مګر هر یو ئې دا طمع کوي چې داخل کړی شي له نعمتونو ډك جنت ته؟! **۳۹ـ** نه داسې نه ده، دا مونږ یو چې له داسې څه مو پیدا کړل چې په خپله پرې پوهېږي. **۴۰ـ** نو نه، د ختیځو او لوېدیځو په رب مې قسم چې مونږ قادر یو، **۴۱ـ** په دې چې تر دوی په غوره ئې بدل کړو، او مونږ مغلوبېدونکي نه یو.

---

**۳۶ـ۳۸:** په دې کافرانو څه شوي چې په قیامت د باور لرونکو او بې باورو تر منځ له اخلاقي او عملي اړخه د دې ژورو توپیرونو له لیدو سره سره له دې انکار کوي چې قیامت یو حقیقت دی او د انکار پایلې ئې خرابې؟ مګر نه ګوري چې د قیامت منکران څنګه پلید او ناولي شخصیتونه لري او په آخرت باور لرونکي څومره غوره او ښکلي شخصیت؟ مګر د دوی ترمنځ دا ژور توپیر، یو ئې له هغو لوړو ښایسته اخلاقو سره او بل ئې له دې ناولي او پرېوتي خصلتونو سره دا

نه ثابتوي چې په آخرت ایمان د انسان د شخصیت په جوړولو کې ژور او اساسي اغېز لري؟! د انسان اخلاقي وضع په دې پورې غوټه شوې، په قیامت نه باور انسان د حرص، تلوار، کم ظرفي، جزع و فزع، مال غونډولو او له حق نه مخ اړولو ته بيايي او په قیامت ایمان ئې له دغو ناولو او ناوړو اخلاقو څخه ژغوري. د دې توپیر له مشاهدې سره سره څنګه او په کوم دلیل له قیامته انکار کوي او په دې هکله د پیغمبر علیه السلام بلنې ته د رد ځواب ورکوي او حساسیت ښیي؟!! له هرې خوا پرې رابرګ کېږي او د مخالفت غړونه اوچتوي؟ او مخالفت ئې هم داسې سخت او جدي چې ګواکې په دې سره به الله تعالی ترې راضي کېږي او د جنت مستحق به ګڼل کېږي!! هر یو ئې دا مخالفت له (خپل حق دین او مذهب) نه دفاع ګڼي او داسې برېښي لکه چې له دې نه تر ټولو غوره او له نعمتونو ډك جنت ته د رسېدو طمع کوي!!!

**۳۹:** دا دومره شدید مخالفت د څه لپاره، او دا دومره حساسیت ولې؟! مګر نه پوهېږي چې مونږ له څه پیدا کړي؟ مګر نه پوهېږي چې مونږ ئې نطفه له خاورو راپیدا کړه؟ ولې خپل مجدد پیدا ایښت او بیاژوندون محال او ګران ګڼي؟! مګر هغه ذات چې دوی ئې له خاورو او بیا له له یوې وړې نطفې پیدا کړل، له خاورو د دوی په بیا پیدا ایښت قادر نه دی؟ !!

**۴۰-۴۱:** یو ځلې شرق او غرب ته پام وکړئ، د لمر راختو او لوېدو ته ځیر شئ، چې هره ورځ له ځانګړې ختیځه طلوع کوي او په ځانګړې لوېدیځ کې پرېوځي، په خپله لار درومي او خپله دنده ترسره کوي، مګر هغه ذات چې دا پراخ عالم، له دغو بې شمېره ستورو سره اداره کوي، هره ورځ لمر په خپل وخت او له خپل خاص ځایه راپورته کوي او په خپل وخت ئې په خپل خاص ځای کې پرېباسي، پرته له کوم تغییر او تأخیره، آیا د انسان په مجدد پیدا ایښت قادر نه دی؟!

په دې ذات مې قسم چې دی نه یوازې په داسې کار ښه قادر دی بلکې کولی شي تاسو تر اوسني حالته په ډېره غوره بڼه کې راپیدا کړي. دی نه یوازې د داسې کار له کولو عاجز نه دی بلکې د هیڅ کار په وړاندې مغلوبېدونکی نه دی.

په ۴۰ او ۴۱ آيتونو کې ځو ظريف ټکي د پام وړ دي:

الف: د لته په (مشارق) او (مغارب) لوړه شوې او ورپسې ويل شوي: مونږ په دې قادر يو چې دوی تر اوسني حالت نه په ښه ښه واړوو او تر دې په غوره کيفيت کې ئې بيارا پيدا کړو او مونږ وروسته پاتي کيدونکي نه يو.

فَلا أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشْرِقِ وَ الْمَغْرِبِ إِنَّا لَقَدِرُونَ * عَلى أَن نُّبَدِّلَ خَيراً مِّنْهُمْ وَ مَا نحْنُ بِمَسْبُوقِينَ *

نو نه، د ختيځو او لويديځو په رب مې قسم چې مونږ قادر يو، په دې چې دوی تر اوسني حالت نه په ښه ښه واړوو (تر دې ئې په غوره کيفيت کې بيارا پيدا کړو) او مونږ وروسته پاتي کيدونکي نه يو.

دلته هم د قرآن د عمومي قاعدې مطابق په يوه څرګند حقيقت لوړه شوې او د دې ادعا لپاره د شاهد په حيث وړاندې شوې چې الله تعالی د انسان په بياراژوندي کولو قادر دی او هيڅ څه ئې په هيڅ کار کې نه شي ناتوانه کولی. د مشارق او مغارب په يالونکي، په هغه ذات چې د ده په اراده دا ستوري او لمر سپوږمۍ، راخيژي او لويږي، لوړه شوې، راشئ وګورو چې مشارق او مغارب څنګه په دې خبرې شهادت ورکوي چې الله تعالی د انسان په بيا راژوندي کولو قادر دی؟

يو ځل مشرق او مغرب ته توجه وکړئ، د لمر او ستورو ختو او لويدو ته لږ په غور سره پام وکړئ، په دې غور وکړئ چې دا لمر څنګه هره ورځ له خاص ځايه طلوع کوي او په خاص ځای کې پرېوځي، هر ستوری همداسې ځانته معين ختيځ او لويديځ لري، ځای او وخت ئې ټاکل شوی، په خپل خاص وخت او په خپل خاص ځای کې ئې ختل او پرېوتل دي، مګر هغه ذات چې دا پراخ او ستر عالم له خپلو ټولو سماوي اجرامو سره اداره کوي، هره ورځ لمر او ستوري له خپل خاص ځای نه، له هيڅ تغيير او تأخير نه پرته، راپورته کوي او پرې باسي، آيا دا ستر او ځواکمن ذات له دې عاجز ګڼې چې انسان له مرګ نه وروسته بيا راژوندی کړي؟!! زما دې په دې ذات قسم وي چې هغه نه يوازې په دې کار قادر دی بلکې کولی شي تاسو په داسې نوې بڼې کې راپيدا کړي چې تراوسني حالت نه مو ډېر ډېر غوره وي، هغه نه

يوازې له دې کاره عاجز نه دی بلکه د هيڅ کار په وړاندې بې وسه او مغلوبيدونکی نه دی.

همدا راز د لمر طلوع او غروب د ژوندون له اساسي عواملو څخه دي، که دا د لمر راختل او پرېوتل نه وی نو د ځمکې په سر به يو ژوندی موجود هم نه وو راپيدا شوی، ټول ژوندي موجودات د خپل پيدا ايښت او د خپل ژوند د دوام لپاره هغې تودوخې او رڼا ته اړ دي چې لمر ئې ځمکې ته ورکوي، که دا نه وی، او په دې سره د ځمکې هوا داسې معتدله نه ساتل کيدی چې ژوندون ورته ضرورت لري، نو د ځمکې پر سر به هيڅ ژوی نه وو راپيدا شوی. که دا مطلب په پام کې ولرو نو په دې خبرې پوهېدل آسانه دی چې په مشارق او مغارب باندې د بيا ژوندون لپاره ولې استناد شوی.

ب: دا مطلب هم د پام وړ دی چې په دې آيتونو کې د (مشارق) او (مغارب) صيغې کارول شوې چې د مشرق او مغرب زياتوالی افاده کوي، او له دې نه معلومېږي چې قرآن کريم د خپلو مطالبو په بيان کې څومره دقيق دی او د څومره دقيقو او ظريفو نقاطو خيال ساتي. په دې پوهېږو چې د لمر طلوع او غروب هره ورځ له بلې نه فرق کوي، نن له يوه ځای نه او سبا له بل ځايه، د کال د ورځو په شمېر مشارق او مغارب لري، د همدې لپاره قرآن کريم د مشارق او مغارب صيغې کارولې، همدا راز لمر په يوه کال کې دوه مشرقه او دوه مغربه په دوبي او ژمي کې لري، يو د دوبي تر ټولو اوږدې ورځ کې او بل ئې د ژمي ترټولو لنډې ورځ کې، د همدې لپاره قرآن په بل ځای کې د مشرقين او مغربين الفاظ کارولي چې دوه مشرق او دوه مغرب افاده کوي.

---

Pöf ÇÍÈ br‰ãqã “ Ï%$FBöf (qà»=ã Á4® m (qçèùr (qàÊ qè‡ óÐdö‹ ù

þèÏ±»z ÇÎÈ bqàÒ Ïiqã5= Ý Á ç4 ‹Î Nå(. %x#ŽÅ Ï^ #‰÷ Ŗ$ `Ï bqã_ ãøt

[illegible]

۴۲. نو دوی پرېږده چې خوشې ګډ وي او لوبې کوي، تر څو له خپلې هغې ورځې سره مخامخ شي چې وعده ئې ورکول کېږي. ۴۳. هغه ورځ چې له قبرو به په تلوار سره راوځي داسې لکه چې د نښو په لور ځغلي. ۴۴. سترګې ئې خړې، په ذلت اخته، دا ده هماغه ورځ چې وعده ئې ورکول کېده.

۴۲-۴۴: که د قيامت منکران په دې دلايلو نه قانع کېږي، له خپلو خوشو خبرو لاس نه اخلي، په خپلو طفلانه او ماشومانه افکارو او لوبو کې مشغول دي، حقايقو ته له اهتمام او سترو سترو واقعيتونو ته له التفات او اعتناء عاجز دي، دوی په همدې خوشې مشغولتيا او لوبو کې پرېږده، تر هغه چې هغه ورځ په خپلو سترګو وګوري چې نن ترې انکار کوي. په هغه ورځ به له خپلو قبرونو په عجله راوځي، داسې به ځغلي لکه چې نصب شوو نښو ته په تلوار د ځان رسولو هڅه کوي، هماغسې لکه نن چې پر تا رابرګ شي، په منډه ستا خوا ته رادرومي، له ښې او کيڼ لوري ډله ډله، او د مخالفت غږ اوچتوي!! پرون ئې په بې شرمۍ مخالفت کاوو نن به شرمنده وي له شرمه ئې سترګې ټيټې د وېرې او خوف آثار ئې په څېرې کې راڅرګند.

پرون ئې په مستۍ، تکبر او غرور مخالفت کاوو، نو ځکه به نن ذليل او سپك وي، او د ذلت او سپکاوي آثار به ئې په څېرو کې راښکاره، او ورته وبه ويلی شي: دا ده هغه ورځ چې وعده ئې درکول کېده او تاسو ترې انکار کاوو.

# نوح

## د سورې معرفي:

(نوح) هم د دې سورې نوم دی او هم ئې د مضامينو لپاره عنوان، ۲۸ آيتونه لري، د لومړي او دوهم آيتونو فواصل ئې د اليم او مبين هموزنه صيغې دي، د درييم او څلورم ئې د اطيعون او تعلمون هموزنه صيغې، بيا له پنځمه د سورې تر پايه (نهاراً) ته ورته صيغې، ډېر ښکلی وزن او سجع لري. دا هم مکي سوره ده، د سورې له متنه معلومېږي چې پيغمبر عليه السلام د دې سورې د نزول په وخت کې له داسې شرايطو سره مخامخ وو چې دا سوره ئې د نوح عليه السلام د قصې په ترڅ کې مونږ ته بيانوي، د دې قصې د ځينو پړاوونو په لوړو ژور کې مونږ ته د دغې مرحلې حالات داسې انځور شوي:

۱ـ نوح عليه السلام له دې رسالت سره د خپل قوم په لوري ولاړ چې دوی ته د کفر او شرك له خطرناکو پايلو خبرداری ورکړي.

۲ـ خپل قوم ته د ده د پيغام خلاصه دا وه: د الله تعالی عبادت وکړئ، ترې ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. په دې عبادت، تقوی او اطاعت سره به ستاسو

ځينې هغه ګناهونه درته وبخښي چې د بخښلو وړ دي، او هغه دردناك عذاب به وځنډولی شي چې په لاره دی، او تر يوې ټاكلې بلې نېټې به تاسو ته مهلت دركړي، په دې پوه شئ چې الهي پرېكړې پرېكنده دي او موعد ئې نه بدلېدونكی.

**۳**-نوح عليه السلام خپل امت په پرله پسې او ستړيا نه منونكې توګه، شپه او ورځ او له هره فرصته په استفادې سره، حق ته راوبلل، خو د ده مفسد او ظالم قوم د دې په ځای چې له فسق او فساده لاس واخلي او د ده دعوت ومني، له ده لرې شول، د ده وينا ته ئې په كركه وكتل، له اورېدو ئې ډډه وكړه، په خپل جهل او كفر ئې ټينګار وكړ، او په غرور او تكبر سره ئې د ده د مخالفت لپاره ملا وتړله، نوح عليه السلام كله په پټه او كله ښكاره او په جګ غږ ورته ويل: له شرك، فساد او ظلمه لاس واخلئ، الله تعالی ته مخه كړئ او د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړئ، تر څو بخښنه درته وكړي او د ګناه له هغو بدو پايلو مو وژغوري چې ستاسو ژوند ګواښي، او ستاسو په ټولنې كې ئې د فتنو اورونه بل كړي، فقر او لوږه ئې رامنځته كړې، تر څو آسمان ته امر وكړي چې د بركت ترلې دروازې دې پرانېزه، د باران له ورولو ډډه مه كوه، ځمكې ته لاربښوونه وكړي چې د دانې او مېوې له راټوكولو ډډه مه كوه، له خپل زړه باغونه راوټوكوه او په خپلې سينې د نهرونو بهېدو ته اجازه وركړه، او په دې سره الله تعالی ستاسو مالونه درته زيات كړي او په اولاد كې مو بركت واچوي، ولې مو د هغه عزت او وقار د لاس ته راوړو هيله او طمع ختمه شوې چې څښتن ئې الله تعالی دی او وروستۍ پرېكړه ئې د ده له لوري كېږي؟ آيا دا سمه ده چې له هغه مهربان رب څخه مأيوس او نااميده وئ چې تل ئې د خپل عنايت او رعايت تر سيوري لاندې پاللي يئ، ستاسو پيدايښت له يوې وړې نطفې پيلوي، ورو ورو او مسلسل وده وركوي، د كمال او رشد پړاو ته ئې رسوي؟! مګر نه ګورئ چې اووه آسمانونه ئې ستاسو د كور چت ګرځولي، سپوږمۍ ئې ځلانده قنديل او لمر ئې روڼ او تود څراغ، اوبه دا د ژوندون ستر لامل له آسمانه راوروي، ستاسو سرې او تياره ځمكې ته رڼا او تودوخه له لمره وركوي، مګر نه پوهېږئ چې الله تعالی تاسو د بوټي په څېر له ځمكې راوټوكولئ، او د ده په امر بېرته ځمكې ته

درومئ او بیا به له دغې ځمکې ژوندي راپاڅئ؟!! مګر دې ته پام نه کوئ چې الله تعالی ځمکه داسې پیدا کړې چې ستاسو لپاره فرش وي په ډاډ او اطمئنان سره ئې پر سینه ژوند وکړئ او پر اوږدو ئې وخوځېږئ؟!!

**۴**- مفسد قوم د خپل زړه سواند مرشد او آګاه لارښود ویناوو ته اعتناء ونکړه، د ده د ملګرتیا په ځای ئې هغه چا ته سر ټیټ کړ چې د زر او زور خاوندان ول، هغه قومي مشران ئې ځان ته لارښود ونیول چې خپل زر او ځواك ئې په باطله لار او د ځان او نورو د تاوان په لار کې کارول، هغه ټګمار او مکار مشران چې د خپل اقتدار او واکمنۍ دوام او بقا په دې کې لټوي چې خلك په جهل او شرك کې غرق وي، دوی د هر الهي دعوت مقابله په دې سره کوي چې په دروغجنو او جعلي معبودانو تأکید وکړي او له شرك او بت لمانځنې دفاع وکړي او هغه د پلار نیکه مقدس میراث او سپېڅلی مذهب وګڼي، او دا د پیغمبرانو علیهم السلام او د هر ناجي لارښود او مصلح دعوتګر په ضد د مفسدینو تر ټولو خطرناك کید او مکر دی، مفسد او ټګمار مشران تل د خپل زر او زور، او د خپلې سلطې او اقتدار نه د دفاع لپاره د پیغمبرانو علیهم السلام او مصلحینو مقابلې ته ملا تړي خو له مذهب نه د دفاع تر نامه لاندې، چې قرآن دا تر ټولو ستر مکر او خطرناك کید ګڼي.

**۵**- نوح علیه السلام له اوږدې مبارزې وروسته او پس له هغه چې متوجه شو په پر له پسې او ستړیا نه منونکو هڅو ئې ډېره لږه نتیجه مرتب شوې او لږو کسانو پرې ایمان راوړ، دې نتیجې ته ورسېدو چې په دې خلکو کې د هدایت استعداد ځپل شوی، د هدایت امکان ئې له منځه تللی، د دې بې لارې ټولنې په زړه کې د کفر، جهل، فساد، شرك او ظلم جرړې دومره ژورې اوپه ګنده ډنډ کې ئې داسې غرق شوي چې راایستل ئې محال دی، دا نسل نه د اصلاح وړ دی او نه د ژوند، نه په خپله سمې لارې ته راګرځي او نه راتلونکو نسلونو ته د دې مجال ورکوي چې د دې مفسدې او ناولې ټولنې له قید او بنده وژغوري او د دې ګنده فضاء له اغېزه خوندي پاتې شي، الله تعالی ته د دعا لاسونه اوچتوي او سره له دې چې پراخه حوصله او لوی زړه لري، د ثبات او استقامت خاوند دی، د اوږدې زر کلنې مبارزې

ټولې ستونزې ئې په سړه سينه ګاللې، په خپل ولس ئې زړه سوی درلود، خو له دې پرته ئې بله چاره نه ليده چې الله تعالی ته شکايت وکړي او ووايي: خدايه! دا قوم اصلاح کېدونکی نه دی، د ځمکې پر سر د ژوند وړ نه دی، له کافر او فاجر پرته بل ترې نه زېږي، د دې وړ دی چې ټغر ئې ټول شي، کورونه ئې رانسکور او تر خاورو لاندې شي.

۶- او وروستۍ دعا ئې دا: خدايه! ما وبخښه، زما مور، پلار، د کورنۍ هر هغه غړی مې چې له ايمان سره زما کورنۍ کې داخل شوی او ټول باايمانه نارينه او ښځې وبخښې او د ظالمانو په حق کې له تباهۍ پرته بل څه زيات نه کړې!

په دې عبرتناکې قصې کې قريشو ته ويل شوي چې ستاسو په ټولنې کې هم نږدې ده هغه د نوح عليه السلام او له ده سره د جاهل او مشرك قوم د مخالفت او د دې مخالفت د پايلو قصه تکرار شي، محمد عليه السلام د خپل دروند جد نوح عليه السلام په څېر په پر له پسې او ستړيا نه منونکې توګه، په جهر او خفيه، سري و علني توګه، شپه او ورځ تاسو د الله تعالی په لوري راوبللئ، په زړه سوي، استدلال، منطق او حکمت سره ئې توحيد او عدالت ته بلنه درکړه، د شرك، کفر او ظلم له بدو پايلو ئې خبرداری درکړ، ټول هغه څه ئې درته وويل چې نوح عليه السلام خپل قوم ته ويلي وو، خو تاسو د ده دعوت ونه مانو، ده په تاسو زړه سوی درلود او تاسو په خپلو زړونو کې ورته کرکه او دښمني، د ده حکيمانه لارښوونو او استدلال ته مو د اعتناء په ځای په خپل جهل او شرك ټينګار وکړ، د هغو ټګمارو او مکارو مشرانو په وړاندې مو سر ټيټ کړ چې زر او زور ئې د فساد او له حق سره د مقابلې په لار کې کارول، هغه مفسد مشران چې له پلرني مذهب نه د دفاع خبره ستاسو د غولولو لپاره کوي، په بتانو تأکيد، له شرك نه دفاع، او په غلط مذهب باندې ټينګار ئې د دې لپاره نه دی چې ګواکې دوی ته حق برېښي او باور پرې لري، بلکې دا ئې دام دی، تاسو پرې غولوي، د خپل اقتدار د بقا او د ناپوه خلکو د غولولو ښه وسيله ئې ګڼي، خبردار چې د نوح عليه السلام د مشرك قوم برخليك درته منتظر دی، کار هغه ځای ته رسېدلی چې نږدې ده پيغمبر عليه السلام له تاسو

مأیوس شي او الله تعالی ته د نوح علیه السلام په څېر شکایت وکړي، چې په هغه صورت کې به د عذاب متروکه ستاسو په سر راپرېوځي، ټغر به مو ټول او د نوح علیه السلام د قوم په څېر به غرق شئ.

بسم الله الرحمن الرحیم

---

ë # ‹ ã óß‹ïÜ b& è7ä `Ë 7 Bö% óÉR& b& ÿäiBö% 4‹Ĵ %nqç$Züä $RĴ

ÿqö)ª7$r ©$ {rß‹ä$ Ë& ÇÌÈ ûüÎB öÉR óä9 'Ĵ Éö)»f A$% ÇÌÈ Öš&

Ÿ@_ & bĴ ' ¡ B @_& #‹Ĵ Näö/ sãr óäÎqç `Ë /ä9 öÿø ÇÌÈ Ëqã‹Û&r

ÇÍÈ šc qß=è? óÖ ä ö ãž sãŸ ä! ` #ŒĴ ‹ $

---

۱ـ مونږ خو نوح خپل قوم ته ورولېږو، چې خپل قوم ته دې خبرداری ورکړه، له دې مخکې چې په دردناك عذاب اخته شي. ۲ـ وئې ویل: اې زما قومه! بې شکه چې زه درته څرګند نذیر یم. ۳ـ چې د الله عبادت وکړئ، پروا ئې وکړئ او زما اطاعت وکړئ. ۴ـ تر څو مو ځینې ګناهونه دروبخښي او تر ټاکلې نېټې مو وځنډوي، بې شکه کله چې الهي نېټه راورسېږي نه شي ځنډول کېدی، کاش که تاسو پوهېدئ!!

---

۱: په دې آیت کې څو مهم ټکي د غور وړ دي:

الف: لکه څنګه چې محمد علیه السلام ستاسو په لوري د الله تعالی استاځی دی، تر ده د مخه نوح علیه السلام د خپل قوم په لوري لېږل شوی وو، قریشو ته د پیغمبر علیه السلام خبرداری داسې وګڼئ لکه د نوح علیه السلام خبرداری خپل

قوم ته، د مخالفت پایله ئې هم سره ورته.

ب: د (انذار) په لفظ تأکید او پیغمبر علیه السلام د نذیر په نامه یادول ښیي چې له پیغمبرانو علیهم السلام سره د خپلو قومونو مخالفت د دوی د دغه صفت په سبب وي، که پیغمبران علیهم السلام یوازې بشارت ورکوونکي وی او د ټولنې په فساد، د واکمنانو په خیانت، ظلم، او د عوامو په جهل او شرك ئې اعتراض او نیوکې نه کولی او ولس ئې د دې حالت له پایلو نه وېرولی، هیڅوك به ئې نه مزاحم کېدو او د دوی د مخالفت لپاره به ئې ملا نه تړله. هغه دعوتګران چې په دعوت او پیغام کې ئې انذار او خبرداری ورکول نشته، له واکمنانو او حاکم نظام سره له تصادم نه ځان ساتي، د ظالم او مفسدو واکمنانو په کړو وړو د انتقاد ګوته نه ږدي، په ناوړه دود دستور اعراض نه کوي او خلك دې ته نه رابلي چې خپله وضعه بدله کړي، خپل افکار او اطوار اصلاح کړي، د ټولنې په سیاسي، اجتماعي او اقتصادي مناسباتو کې تغییر راولي، نېکانو ته د جنت زیری ورکولی شي خو بدانو ته نه د دنیا د عذاب خبرداری ورکولی شي او نه د دوزخ د دردناك عذاب، داسې دعوتګران له مخالفت سره نه مخامخ کېږي، خو هر څوك چې داسې وي، مخالف ونلري او له مخالفتونو سره لاس او ګرېوان نه وي، د پیغمبرانو علیهم السلام په لاره نه دی روان، او هغه دعوتګر نه دی چې د پیغمبر او د پیغمبر د پیغام وارث وي.

ج: د دې آیت له الفاظو په وضاحت سره معلومېږي چې له الیم عذابه منظور د دنیا هغه موعود عذاب دی چې ظالم او باغي ولسونه پرې اخته کېږي، څلورم آیت دا مطلب لازیات توضیح کوي او ښیي چې د الله تعالی د عبادت، تقوی او د ده د پیغمبر د اطاعت په نتیجه کې دا عذاب ځنډېږي.

**۲-۳:** په دې مبارکو آیتونو کې لاندې ټکې زمونږ توجه جلبوي:

الف: نوح علیه السلام خپل قوم ته وایي: زه درته څرګند خبرداری درکوونکی یم، په بشپړ صراحت تاسو د دې وضعې له پایلو وېروم، ستاسو دا تګلاره او فکري او اخلاقي وضعیت مو بدې پایلې لري. ګورئ چې د ده په دعوت کې نه سکوت

شته، نه سترګې پټول، نه سازش، مجامله او مداهنت، بلکې څرګند او صریح خبرداری.

ب: د نوح علیه السلام دعوت په درېو اساسي ټکیو کې خلاصه شوی:

- یوازې د الله تعالی عبادت او د بل هر څه له لمانځنې او عبادت نه ډډه کول.
- ځان ساتنه، له هر هغه څه چې الله تعالی ناراضه کوي او د الهي عذاب باعث کېږي.
- د ده اطاعت هم د الله تعالی د عبادت په څرنګوالي کې او هم له الله تعالی نه د وېرې او تقوا په څرنګوالي کې، که غواړئ دعا او عبادت مو یوازې د الله تعالی لپاره وي او وېره مو یوازې له الله تعالی څخه، نو د ده په پیغمبر پسې اقتداء وکړئ، له ده ئې زده کړئ او دی خپل لارښود او مطاع ونیسئ، پیغمبران علیهم السلام هم تاسو ته د عبادت او دعا حقیقت او څرنګوالی درښیي او هم له الله تعالی د طمعې او وېرې حقیقت او څرنګوالی.

۴- په تفسیرونو کې د دې آیت د لومړۍ فقرې په اړه دوه تعبیرونه مومو:

الف: ځینې وایي: دلته یا (من) زاید دی او د تأکید لپاره راغلی او یا د (عن) په معنا دی، او دا فقره داسې ترجمه کوي: ګناهونه مو دروبخښي او تر یوې ټاکلې مودې مو وځنډوي، دوی وایي چې ایمان د ټولو هغو ګناهونو د بخښل کېدو سبب دی چې له ایمانه مخکې شوي.

ب: او ځینې نور په دې باور دي چې د الفاظو دقیقه ترجمه دا ده: ستاسو ځینې ګناهونه دروبخښي او تر ټاکلې نېټې مو وځنډوي، د قرآن په ترجمې کې احتیاط دا تقاضاء کوي چې نه (من) زائد وګڼو او نه ئې په غیراصلي معنا واخلو، دلته خو (من) د (عن) په معنا اخیستل اصلاً صحیح نه ده ځکه چې (عن) د (یغفر) لپاره صله کېدی نه شي او داسې نه شو ویلی چې (یغفر عن ذنوبکم). دلته د ځینو ګناهونو له بخښلو نه مراد هغه ګناهونه دي چې د الهي عذاب د راتلو سبب دي او د بخښلو په صورت کې د الهي عذاب راتګ ځنډېږي. پر دې دلیل سربېره باید ووایو چې ځینې ګناهونه داسې دي چې د ایمان له راوړو سره سره نه بخښل کېږي، که څوك د کفر په حالت

کې د کوم مسلمان ځمکه او مال غصب کړي، له ایمان راوړو وروسته نه شو کولی دا ګناه بخښل شوې او د مال او ځمکې استرداد منتفي وګڼو!!

دوهم تعبیر دقیق دی، له ټول آیت سره سمون خوري او ښیي چې د نوح علیه السلام د قوم ذنوب او ګناهونه هومره ستر ستر او د مؤاخذې وړ وو چې الهي عذاب ئې د دوی پر سر ودرولی وو، که ئې ایمان نه راوړ، د خپل زړه سواند لاربښود دعوت ئې نه مانو او ګوابښونو ته ئې اعتناء نه کوله نو له ځنډه پرته پر دوی راپرېوتو، یوازې د الله تعالی د عبادت، تقوی او د خپل پیغمبر د اطاعت په صورت کې ترې ژغورل کېدل او راتګ ئې ځنډېدو.

په الهي نېټې او اجل کې د عدم تأخیر معنا دا ده چې هیڅوك او هیڅ څه نه شي کولی په دې مهلت او موعد کې تغییر راولي، د الله تعالی له لوري ټاکل شوي مواعید ثابت او تغییرنه منونکي دي.

متأسفانه ځینې داسې ګمان کوي چې د آیت د لومړۍ او وروستۍ برخې تر منځ څه تباین شته، لومړۍ برخه وایي چې په عذاب کې ځنډ راتلی شي او دوهمه برخه ئې وایي چې الهي نېټه او اجل نه بدلېږي، د دې دواړو ترمنځ د تلفیق لپاره ئې داسې توجیهات کړي چې خبره ئې د عام فهم کولو په ځای مزید پیچلې کړې، او دا نظریه ئې وړاندې کړې چې اجل دوه ډوله دی: معلق اجل او مطلق اجل، یو ئې بدلېدی شي او بل ئې نه!! دوی دې ته پام نه دی کړی چې په دې عالم کې هیڅ څه، هیڅ حادثه او هیڅ کار داسې نه دی چې الله تعالی په خاصو عواملو او اسبابو پورې منوط او معلق کړی نه وي، له هرې پېښې مخکې د هغې لاملونه او عوامل رامنځته کېږي، همدغه عوامل دي چې اړوند پېښه ورپسې راځي، هیڅ داسې دلیل نشته چې ځینې مواعید معلق وګڼو او ځینې ئې ثابت او مطلق. دا آیت ښیي چې د الله تعالی له لوري ټاکل شوی اجل او نېټه ثابت او تغییر نه منونکې ده، خو په اسباب اوعواملو پورې مربوط ده، ګنهګارانو ته تر ثابت او تغییر نه منونکي موعد او تعیین شوې نېټې مهلت ورکول کېږي، که ئې د دې مهلت تر پایه خپلې ګناه ته ادامه ورکړه، الهي عذاب په خپل ثابت موعد رارسي، خو که د عذاب له

راتلو د مخه ئې له ګناه لاس واخیست او د مهلت له پای ته رسېدو مخکې ئې توبه وکړه، عذاب ئې ځنډېږي.

دا آیت مونږ ته لارښوونه کوي چې په عذاب کې ځنډ په دې معنا مه نیسئ چې اجل تغییر مومي، اجل مطلق دی او هیڅکله تغییر په کې نه راځي، په یوه آیت کې د دې دواړو خبرو څنګ په څنګ او یو په بل پسې یادول د همدې لپاره دي چې څوك دا غلطي ونه کړي او اجل مطلق او معلق ونه ګڼي او ګمان ونه کړي چې اجل تغییر مومي او نېټې بدلېږي. خو نه پوهېږو چې ولې او کوم آفت د دې باعث شوی چې ځینې خلك د قرآن له صریح او واضح آیتونو معکوسه انتباه اخلي؟ او ځینې بیا د خپلو کمزورو او بې بنسټه آراوو لپاره د قرآن آیتونه معکوس توجیه کوي، په قرآن د ایمان تقاضا دا ده او د دې اعتقاد چې قرآن د علیم او حکیم الله تعالی کلام دی، غوښتنه دا ده چې مونږ د قرآن د قضاوتونو په وړاندې تل لاسونه اوچت کړو، خپل نظریات لرې وغورځوو او خپل شخصي آراء د قرآن د آیتونو په پښو کې ذبح کړو، دا سمه نه ده چې قرآن اجل مطلق ګڼي او مونږ ئې معلق وګڼو او د اجل معلق په نامه یوه اصطلاح له خپله ځانه جوړه کړو!!

په معلق اجل اعتقاد په دې معنا دی چې ګواکې د الله تعالی علم معلق دی!! حال دا چې د الله تعالی علم مطلق دی، نه کمېږي او نه زیاتېږي، په عواملو پورې مربوط او منوط نه دی، حاضر او غایب، نږدې او لرې، ماضي او مستقبل ورته یو شانته دي، پوهېږي چې د یوې پېښې اسباب او مقدمات برابرېږي که نه، هغه عذاب چې په خاصو عواملو پورې ئې منوط کړی، د راتلو شرایط ئې رامنځته کېږي که نه، د دغه جامع او شامل علم له مخې ئې اجل ټاکلی، کوم موعد او اجل چې عالم الغیب و الشهاده رب تعیین کړی هیڅکله تغییر نه کوي او ځنډ په کې نه راځي، د هغه چا مواعید تغییر کوي چې علم ئې محدود وي او په پېښو او عواملو ئې بشپړه احاطه ونه لري.

---

#Y#•ï žvĵ ű ä‰æŠ ÓèšÌƒ Ð=ù ÇÎÈ #Y$gRr Wø ’ÉÓ% ßŠöãŠ ’ŷ É ‘ A$%

ÏbÍÎ#C#ä þÎ Ìèè¶» ¹ & {þè_ Ó߉9 •ÿóG¹ Ïß‡èþãŠ $J‡ã2 ’Îþr ÇÏÈ

Ïâêþãš ’Îþ Ó€ê ÇÐÈ #Y$6ÔÎÏØ$ {rž9ÔFÏØ$r {ržÀ &r Ïâå$Šš {ö¤±óGÏØ$r

{râÿóFÏØ$Bu‘ù ÇÏÈ #Yžóƒ ÏbÇ; ÏbÏ čó &r ÏbÇ; ÈMZ‡ã& þÎþ ßê ÇÏÈ #Y$gÅ

ÇÏÈ #Y#‘ßÏB /ãøæ ä$J¡ 9$ è@Aêþã ÇÏÈ #Y$ÿî šc %. ¼çRÎ Ïbã/‘

óßã9 $B ÇÏÈ #‹»k¨ óßã©@èþr ÞM»Z_ óßã©@èþr ûüÏ/r Ÿä°qÞ‘Î /äšÏ‰ôþr

ÇÏÈ #‘#qÔ& óß)={ ß%r ÇÏÈ #Y$%r Ï bqã_ör ÷Ý

**۵**ـ وئې ویل: اې زما ربه! قوم مې شپه او ورځ دعوت کړ. **۶**ـ خو بلنې مې له تېښتې پرته بل څه په کې زيات نه کړل. **۷**ـ او چې کله مې بلنه ورکړه چې وئې بخښې، نو خپلې ګوتې ئې په غوږونو کې کړې، په خپلو جامو کې پټ شول، لجاجت ئې وکړ او په عجيب تکبر سره ئې لويي غوښتنه وکړه. **۸**ـ بيا مې په جګ غږ دعوت کړل. **۹**ـ بيا مې (دعوت) ورته علني کړ، بيا مې په ښه پټوالي ورته سري کړ. ۱۰ـ نو ومې ویل: له خپل رب بخښنه وغواړئ، چې بې شکه هغه ډېر بخښونکی دی. ۱۱ـ تر څو له آسمانه پرله پسې ورښت دربانديې راولېږي. ۱۲ـ او په مالونو او زامنو مو مرسته وکړي او باغونه درته جوړ کړي او ويالې درته جوړې کړي. ۱۳ـ ولې د هغه عزت هيله نه کوئ چې (اساسا) د الله دی. ۱۴ـ حال دا چې تاسو ئې په ډول ډول پيدا کړئ.

**۵-۹**: دا آيتونه چې د نوح عليه السلام شکايات له خپل عاصي او لجوج قومه توضيح کوي؛ څو مهمو ټکيو ته اشاره کوي:

الف: هغه خپل رب ته شکایت کوي فرمايي: قوم مې شپه او ورځ دعوت کړ خو زما پرله پسې دعوت په دوی هيڅ اغېز ونکړ، ترمخکې ئې له حق نه تېښته لازياته شوه.

ب: ما دې ته راوبلل چې له فساد او ګناه لاس واخلي، ستا لوري ته راوګرځي، بخښنه وغواړي، خو دوی د دغو خبرو اورېدو ته تيار نه ول او اعتناء ئې ورته نه کوله.

ج: کله مې په جګ غږ او په غونډو کې او په علني او ښکاره توګه دوی ته بلنه ورکړه او کله مې په خصوصي، انفرادي او سري توګه دعوت کړل، خو هيڅ يوه ئې پرې اغېز ونه کړ، ټول توان او ځواک مې وکاراوو، ټولې لارې مې وآزمويلې، زما د ټولو هڅو نتيجه دا وه چې د دوی کرکه او تېښته له ما او زما له دعوته لا هم زياته شي.

۱۰-۱۲: دوی ته مې وويل: له خپل رب بخښنه وغواړئ چې هغه بخښونکی دی، نه يوازې ګناهونه بخښي بلکې په نادم ګنهګار او د مغفرت طلبګار بنده باندې خپل عنايات پېرزو کوي، هغه آسمان ته چې په عاصي او باغي انسانانو ئې د پېرزوينو دروازې تړلې دي، امر کوي چې خپلې تړلې دروازې پرانېزه او خپل بارانونه له سره پيل کړه، اموال ئې نه يوازې ورته زياتوي بلکې د دوی خدمت ته ئې چمتو کوي، نن دوی د خپلو مالونو په خدمت کې دي، د زر او ثروت بنده، هغه ثروت چې د دوی د بغاوت او عصيان او د دوی په ټولنې کې د فتنو او فساد سبب شوی، له دې حالته راووځي، د دوی خادم او ممد شي، زامن ئې مرستندوی شي، نن اړيکې شلېدلې، مور پلار له زويه بې زاره، او زوی د مور پلار د ځورولو وسيله، ګناهونو ژوند ورته ګران کړی او ټولنه ئې د اور کنده ګرځولې، د دوی د نسل دوام او بقاء ئې له ګواښ سره مخامخ کړې، که له ګناه لاس واخلي او خپل رب ته رجوع وکړي؛ له استئصال او تباهۍ به وژغورل شي، الله تعالی به ځمکې ته امر وکړي چې د رزق او روزي خزانې پرانېزي، له خپل زړه دانه او مېوه راوټوکوي او په خپلې سينې د نهرونو بهېدو ته لار ورکړي، تر څو ستاسو باغونه او فصلونه خړوبه

کړي.

۱۳: د دې آیت په اړه په تفسیرونو کې څو تعبیرونه مومو:

الف: ځینو (لاترجون) د (لاتخافون) په معنا اخیستی او آیت ئې داسې ترجمه کړی: ولې د الله تعالی له عظمته نه وېرېږئ؟

ب: ځینو نورو (ترجون) د (تعتقدون) په معنا اخیستی چې د دوی له نظره د آیت معنا دا ده: ولې د الله تعالی په عظمت باور نلرئ؟

ج: او ځینو نورو (لله) د (من الله) په معنا اخیستی او آیت ئې داسې ترجمه کړی: ولې له الله تعالی د عزت هیله نه کوئ. خو په دغو ژباړو کې څو جدي اشکالات شته:

- (رجاء) او (خوف) دوه متضاد مفاهیم دي، په هیڅ توجیه سره نه شو کولی (رجاء) د (خوف) په مفهوم واخلو، دا سمه نه ده چې (لاترجون) د (لاتخافون) په معنا ونیسو.
- (رجاء) د اعتقاد او باور په معنا نه شو اخیستی، د (تعتقدون) او (تؤمنون) صیغې چې کومې صله ته ضرورت لري په دې آیت کې ئې نه مومو، د (لاترجون لله وقاراً ) ترکیب او د (تؤمنون بوقارالله) یا (تعتقدون بوقار الله) ترکیب ترمنځ ډېر توپیر شته!
- همدا راز د آیت ترکیب داسې نه دی، (لاترجون من الله وقاراً)، دا صحیح نه ده چې د دغه ترکیب ترجمه د نوموړي آیت ترجمه وګڼو.

په لږ دقت سره مومو چې (وقاراً) د (لاترجون) مفعول دی، او د آیت ترکیب په اصل کې داسې دی: مالکم لاترجون وقاراً لله)، خو (وقاراً) د دې لپاره د آیت پای ته وړل شوی چې د آیتونو فواصل سره یو شانته شي، دا ځکه چې مخکنی آیت په (انهاراً) او وروستی آیت په (اطوراً) پای ته رسېدلي. که وغواړو د آیت الفاظ په ډېر دقت او احتیاط ترجمه کړو او له څه کمولو او زیاتولو ډډه وکړو او الفاظ په خپل اصلي معنا ونیسو نو د آیت ترجمه داسې کېږي: تاسو لره څه دي چې د هغه وقار هیله نه کوي چې د الله تعالی دی، یعني ولې په امېدوارۍ سره د هغه عزت په لټه

کې نه یئ چې یوازې ئې د الله تعالی په خوا کې موندلی شئ، اصلي خاوند ئې الله تعالی دی، په بل ځای کې ئې نه شئ موندلی. د دې آیت دا تفسیر په خپله په قرآن کې مومو، هلته چې فرمایي:

مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلَّهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا * فاطر: ۱۰

څوك چې عِزت غواړي نو (پوه دې شي چې) عزت ټول له الله سره دی.

تاسو عزت ته د رسېدو لپاره داسې لارې غوره کړې چې هیڅکله په عزت نه منتهي کېږي، څه چې تاسو له الله تعالی لرې کوي له عزت او سرلوړۍ مو هم محروموي، د الله تعالی په لوري تلو سره په حقیقت کې د عزت او شرف په لوري درومئ. یعني له الله تعالی د بخښنې په غوښتو او د الله په لوري رجوع سره به نه یوازې د آسمان او ځمکې د برکتونو دروازې ستاسو په مخ پرانیستی شي، الله تعالی به ستاسو اموال او اولاد درزیات کړي او ستاسو ممد به ئې وګرځوي، بلکې عزت او سر لوړۍ ته به ورسېږئ. نو تاسو ولې د هغه عزت او وقار هیله نه کوئ چې اصلي مالك ئې الله تعالی دی او پرېکړه ئې د ده له لوري کېږي؟!! ولې له غیر الهي لارو عزت ته د رسېدو هیله کوئ؟!

۱۴ـ آیا دا صحیح ده چې له هغه مهربان الله مأیوس او نا امېده شئ چې تل ئې خپل عنایات درباندې پېرزو کړي؟ هغه رب چې ستاسو پیدایښت له یوې نطفې پیل کوي، په پر له پسې توګه وده درکوي، رشد او کمال ته مو رسوي، د ماشومتوب له طفلانه او بېهوده لوبو او مشغولتیاوو مو د ځوانۍ او زړښت وقار او دروندوالي ته رسوي او ستاسو مشغولتیاوې ارزښتمندې او هدفمندې کوي؟ څومره ناپوه دی هغه کس چې د عزت او وقار په لټه کې له الله تعالی پرته د بل ور ټکوي!!

---

#Yqç£ÎŽü •J)$@ë_r ÇÎÈ $$7Û ;N°q»J™ ì ō™ ª! $,={ #ø (• ? Ó9&

ŞĞê ÇĐÈ $%67R ÇÚ öŖ$ `Ë /ãF;ŖÅ ª! $r ÇÏÈ %[ #ŽÅ § ð±9$ Ÿ@è_r

$ÛŴ ¡Î Ú öŖ$ âã9 Ÿ@è_ ª! $r ÇÑÈ %[ #•z) Ĭàб ã Ìƒãr $kŽÏ ðãß‰Šèã

ÇËÈ %[ $ÚÏi WWçß $k]ŠËB (qãèó F) ÇÒÈ

---

**۱۵**- آیا نه ګورئ چې الله څنګه اووه آسمانونه پوړ پوړ پیدا کړل؟ **۱۶**- او سپوږمۍ ئې په کې یوه رڼا او لمر ئې یو څراغ وګرځاوو؟ **۱۷**- او الله له ځمکې په ځانګړې راټوکولو سره راوټوکولئ. **۱۸**- بیا مو بېرته ورګرځوي او په بل راایستو سره مو راباسي. **۱۹**- او الله ځمکه درته خور فرش وګرځوله. **۲۰**- تر څو ئې په پراخو لارو لاړ شئ.

---

**۱۶-۱۵**: مګر نه ګورئ چې ستاسو رب اووه ګونې آسمانونه ستاسو د کور چت ګرځولي، سپوږمۍ ئې د دې کور روڼ قندیل، او لمر ئې ځلانده څراغ؟ د آسمان دا اووه طبقې چې یو د بل د پاسه او د دوی ترمنځ مطابقت او تنسیق دی، نه یوازې اوبه؛ دا د ژوندون اساسي تومنه او ستر ضرورت، ترې راوربږي او ستاسو د تنفس لپاره ضروري هوا ئې په خپلې غېږ کې درته ساتلې، بلکې ستاسو ځمکې ته رڼا او تودوخه ورکوي. په دې تعبیر سره دا آیت د لسم آیت ادامه ده. خو د دې آیت یو بل تعبیر هم زمونږ مخې ته راځي چې دا آیت له مخکنیو آیتونو سره ترړي په دې شرحه:

کوم طبیعي مدارج چې تاسو د آسمانونو په بڼه کې ګورئ، هغه ذات چې دا مدارج ئې پیدا کړي باید د معنوي ارتقا او د عزت او وقار لوړو پوړو ته رسېدا هم د ده خوا کې ولټوئ.

دا آیتونه د قرآن یو بل علمي اعجاز زمونږ مخې ته ږدي، او ښیي چې قرآن په خپلو بحثونو او څېړنو کې څومره دقیق دی او د انسان تر علمي لاس ته راوړونو څومره مخکې!! په دې آیت کې د سپوږمۍ لپاره د نور او د لمر لپاره د څراغ لفظ

راغلی او ښيي چې لمر د ځراغ په څېر له ځانه نور او رڼا توليدوي او سپوږمۍ د بل په نور رڼا کېږي، او د هينداري په څېر د نور وړانګې منعکس کوي، او دا هغه حقيقت دی چې انسان اوس او له ډېرو څېړنو او تحقيقاتو وروسته پرې پوه شوی.

۱۸.۱۷: دا آيتونه څو ډېر ظريف او اساسي ټکي توضيح کوي:

الف: د انسان پيدايښت د ځمکې پر سر او د ځمکې له زړه ترسره شوی.

ب: الله تعالی د انسان نطفه له ځمکې راپيدا کړې او دا پيدا کول ئې داسې وو لکه د يوه بوټي راپيدا کول.

ج: هغه رب چې انسان ئې له ځمکې د نبات په څېر راپيدا کړی، بېرته به ئې همغې ځمکې ته ورګرځوي چې ترې پيدا شوی او بيا به ئې د يوه نبات په څېر بېرته ترې راژوندی کوي.

د: دې آيت د ځمکې پر سر د انسان د پيدايښت څرنګوالی په دومره صراحت او وضاحت سره بيان کړی چې هيڅ شك او شبهې ته مجال نه پرېږدي او د هر ډول تأويل او تعبير مخه نيسي، څوك چې په قرآن ايمان لري او معتقد دی چې د قرآن حرف حرف او هره کلمه د الله تعالی له لوري ده او د الفاظو په انتخاب او ترکيب کې ئې بشپړ او کامل دقت مراعات شوی، هغه بايد د قرآن هره وينا او د حقايقو په اړه د قرآن هره توضيح او شرحه، په بشپړه توګه او له هر راز زياتولو او کمولو پرته ومني، خپله رأيه او د ځان په څېر د کوم بل انسان رايه پر قرآن تحميل نه کړي او د قرآن د آيتونو دقيق الفاظ د خپلې خاصې رايې او نظريې لپاره په تکلف سره تأويل او تعبير نه کړي، که د عظيم الشأن قرآن په صريح او تأويل نه منونکو آيتونو کې لولو چې انسان مو د نبات په څېر له ځمکې راوټوکاوو، همدا بايد زمونږ عقيده وي، آمنا و سلمنا ووايو، د دې خلاف له هر څه ويلو بايد ډډه وکړو او هغه رايه لرې وغورځوو چې له دې صريح بيان سره تصادم کوي، بايد د انسان د پيدايښت د څرنګوالي په هکله زمونږ رايه هماغه وي چې قرآن ويلي، د انسان د پيدايښت د څرنګوالي په اړه د آل عمران او النساء په سورتونو کې مفصل بحث شوی امېد دی هلته مراجعه وکړئ.

هـ: له هغه الله تعالی بخښنه وغواړئ چې ستاسو لومړی پیدایښت د ده له لوري دی، د مرګ او ژوند پرېکړه دی کوي، معاد او رجوع مو د ده په لوري ده، مخکې له دې چې په نه زړه وروګرځولی شئ په خپله رجوع وکړئ، عزت او سرلوړی ته د رسېدو طمع مو باید له ده وي.

۱۹ـ۲۰: په دې آیتونو کې د ځمکې دوو مهمو خصوصیاتو ته اشاره شوې:

الف: الله تعالی ستاسو لپاره غوړولې، د فرش په څېر، سینه ئې آواره ستاسو د اوسېدو لپاره تیاره.

ب: داسې ئې جوړه کړې چې تګ راتګ او له یوې سیمې بلې ته ئې تلل درته آسانه، پراخې لارې ئې په کې راپیدا کړې، نه شګمنه ده، نه نرمه خاوره او نه تمبولې او د ختو د ډنډ په څېر چې تګ په کې ګران، او نه ئې لوړې او غرونه داسې چې له یوې سیمې بلې ته تېرېدل ترې محال، په غرونو کې ئې درې راایستلې او په دښتو کې ئې لارې.

ولې له هغه بخښونکي رب نه بخښنه نه غواړئ او عزت ته د رسېدو طمع ترې نه کوئ چې ځمکه ئې درته فرش کړه چې په ډاډ او اطمئنان ئې په سینې ژوند کوئ او پر اوړو ئې ګرځئ.

---

#Y$¡ z ž√Î ÿϊçå!rr ¼çô$B çŠÌƒ Ó9© `B (qã7?$r ’Îϊ Á ã Ñåî É§ Óϊ qç A$%

#Šr Þâ‹ ? Ÿ wr ðŠGg Ï#ä Þâ‹ ? Ÿw (q9$%r ÇÊÊÈ #Y$7 à2 #[ô3B (rã3Br ÇÊÈ

ŠÌ? Ÿwr #ŽÏ. (q•Ê& ô%r ÇËÌÈ #Ž6 Sr - qãƒr šW qãƒ Ÿwr %æ#qŠ Ÿwr

(r%gÅ Ó=ù #Y$R (qèÅ Šê (qè• ôé Ñ É ÿÜ z $ßÌ ÇËÍÈ W»=Ê ž√Î ûü Ï»ã9$

ÇËÎÈ #Y$Á R& «! $Èr Š `Ï B Mç

**۲۱ـ** نوح وویل: زما ربه! دوی خو له ما سرغړاوی وکړ او د هغه چا متابعت ئې وکړ چې مال او اولاد له تاوانه پرته بل څه ورزیات نه کړل. **۲۲ـ** او مکر ئې وکړ، ستر مکر. **۲۳ـ** او وئې ویل: خپل معبودان مه پرېږدئ، مه له کوم (ود) لاس اخلئ او مه له کوم (سواع) او مه له کوم (یغوث) او (یعوق) او (نسر). **۲۴ـ** سره له دې چې یقیناً ډېر ئې بې لارې کړل او ظالمانو ته له ضلالت پرته بل څه مه زیاتوه. **۲۵ـ** د خپلو ګناهونو په سبب غرق شول او په اور کې داخل کړی شول، نو له الله پرته ئې ځان ته هیڅ مرستندویان ونه موندل.

۲۱: دا آیت له خپل شرك ځپلي قوم نه د نوح علیه السلام یوه ستر شکایت ته ګوته نیسي، داسې شکایت چې ټول دعوتګران ئې د زمانې په هر پړاو کې له جاهل مخاطب او ذلت ته تسلیم شوو ولسونو څخه لري، شکایت له دې چې مخاطبین ئې د دې په ځای چې د الله تعالی لوري ته د دوی حکیمانه دعوت ومني، عزت او آزادۍ ته د رسېدو لار غوره کړي او هغو بې لارې مشرانو ته د رد ځواب ورکړي چې دوي ئې په ذلت او اسارت کې ساتلي، د شر او فساد باعث دي او په ټولنې کې فتنې راولاړوي، برعکس پیغمبرانو علیهم السلام او زړه سواندو دعوتګرانو ته د رد ځواب ورکوي، د دوی له ملګرتیا ډډه کوي او د هغو بې لارې مشرانو د غلامۍ کړۍ په غاړه کې اچوي چې زر او زور لري، واکمن او شتمن دي، سره له دې چې ګوري د دغو مفسدو مشرانو زر او زور تل د دوی په تاوان او د ولس په ضد کارول شوي، په ټولنې کې د فساد او تباهکارۍ سبب شوي، ناپوه مخاطبینو ئې زر او زور معیار ګڼلی، د زر او زور بنده شوي، دا خبره ئې نه شوی درك کولی چې د الله تعالی بندګي ئې باید له بلې هرې بندګۍ وژغوري، له مصلح او ناجي دعوتګرانو سره د ملګرتیا په ځای د زر او زور د خاوندانو پېښو ته لوېدلي، د الله تعالی لوري ته د بلونکو په څنګ کې له ودرېدو ئې په دې خاطر ډډه کړې چې (شتمن) او (واکمن) نه ول، او دوی ئې د مفسدو شتمنو او ظالمو واکمنو مقابلې ته رابلل، د

دغو دواړو جبهو ترمنځ د مبارزې په دوران کې ئې ځکه د الهي دعوتگرانو د جبهې په ځای د شتمنو او واکمنانو جبهه غوره کړې، چې یوه ئې ځواکمنه برېښې او بله ئې د ځواکمنو په ضد مقابله کوي!!

**۲۲-۲۴**: دا آیتونه څو ډېر مهم مطالب زمونږ مخې ته ږدي:

الف: د دې عاصي او باغي قوم هغو مفسدو او بې لارې مشرانو چې د قدرت او شتمنيو خاوندان ول او پر ټولنې ئې حکومت کاوو، د نوح علیه السلام مقابلې ته ملا وتړله او د دې لپاره چې د ټولنې روانه وضعه بدله نه شي، د دوی اقتدار له ګوابې سره مخامخ نه شي، خلك وغولوي او له نوح علیه السلام سره ئې ملګرتیا ته پرې نږدي، خطرناکو توطئو ته لاس کړ.

ب: د دوی تر ټولو ستر شیطاني تدبیر او مکر دا وو چې خپل سیاسي مخالفت ته ئې مذهبي رنګ ورکړ، د مذهب مقابله ئې د مذهب تر پردې لاندې پیل کړه، له زوړ باطل مذهب نه ئې داسې توره جوړه کړه چې د نوي حق مذهب مرۍ پرې غوڅه کړي، له خپل ظالمانه او ناروا اقتدار نه د دفاع په لار کې ئې له مذهب نه وسله او وسېله جوړه کړه، د توحید په ځای شرك، د خدای پالنې په ځای د قبر، بت او شخصیتونو پالنه او لمانځنه، د حق دین په ځای د قومي دود دستور او خرافاتو لمنه کلکه نیول، دا هغه څه دي چې تل مکارو او ټګمارو سیاسي مشرانو ئې سپارښتنه کړې، او دا د پیغمبرانو علیهم السلام، مصلحینو او موحدو دعوتګرانو په ضد د مستکبرینو او مفسدو واکمنانو تر ټولو خطرناکه توطئه او د عوامو د غولولو تر ټولو خطرناك دام دی. همدا د مذهب مقابله په مذهب سره.

د نوح علیه السلام د قوم ټګمارو سیاسي، مذهبي او قومي مشرانو ولس ته وویل: په خپل پلرني دین ټینګ پاتې شئ، نوح علیه السلام او د یوه خدای په لوري د ده بلنې او د ده نوي مذهب ته د رد ځواب ورکړئ، خپل زوړ دین مه پرېږدئ، د خپلو معبودانو له لمانځنې لاس مه اخلئ، هر بت چې د (ود)، (سواع) او (نسر) په نامه لرئ او خپل (یغوث) او (یعوق) مه پرېږدئ، دا الله ته ستاسو د تقرب وسیله او ستاسو د دعاګانو د منل کېدو سبب دي، دا الله تعالی ته د مقربو شخصیتونو او

اولياء الله وو مجسمې او له پلار نيکه راپاتې مقدس ميراث دی!! دا بتان چې د نوح عليه السلام د قوم د بېلابېلو قبېلو د معروفو شخصيتونو مجسمې وې، په سر کې د دوی د درنښت او رايادولو لپاره جوړې شوې، د وخت په تېرېدو سره بتان او معبودان ترې جوړ شول، د خپلو حاجتونو د پوره کېدو او د خپلو مشکلاتو د حل کېدو لپاره د هغوی پښو کې پرېوتل او د هغوی عبادت ئې پيل کړ، ويل به ئې چې لوی الله د دغو بتانو په مخ او د دوی له لارې زمونږ دعاګانې قبلوي، هر يوه ته ئې د ځمکې د يوې برخې واك او د چارو د يوې برخې ترسره کول سپارل شوي. د بتانو عبادت په اصل کې د شخصيتونو د لمانځنې او ستاينې مخکې تلی حالت دی، د شخصيتونو افراطي لمانځنه د بتانو د جوړولو او لمانځلو سبب شي او همدا دواړه د ټګمارو باغي واکمنانو په لاس کې د عوامو د غولولو او پردوی د حکومت کولو وسله او دام شي.

ج: نوح عليه السلام فرمايي: دغه ټګمار مشران وتوانېدل چې ډېر خلك په خپل خطرناك دام کې واچوي، په پلرني دين، مذهب، دود او دستور او په خپلو بتانو او زړو قومي معبودانو باندې د ټينګار په نامه ئې وغولوي او د ځان تابع ئې وساتي او د خپل ناولي او ظالمانه اقتدار عمر اوږد کړي، خدايه! د دوی د اقتدار عمر نه، بلکې دا ورته زيات کړه چې هيڅ غشی ئې په نښه ونه لګېږي، ټولې هڅې ئې هدر شي او خپل هيڅ هدف ته ونه رسېږي.

**۲۵**- ټول د خپلو ګناهونو په سبب غرق شول، مشر، کشر، حاکم او محکوم ئې ټول، هم غرق شول او هم د دوزخ د اور وړ، هيچا ئې مرسته ونه کړی شوه، نه د دوی ټګمار مشران خپل مکر وژغورلی شول او نه ئې جاهل عوام د بتانو عبادت، د دواړو برخليك يو وو، په ستر طوفان کې غرقېدا او په دوزخ کې لوېدا، نه مشر د کشر مرسته وکړی شوه او نه کشر د مشر.

---

bĵ 7Rĵ ÇËÏÈ #‘$ƒŠ ûïíÿ»3$$ `B ÇÚ öŖ$’?ã ö‹? ŴÉ§ ÿqç A$%r

’Í ÖÿôŠ$É §ÇÈ #Ÿ$ÿŸ2 #Å$ù ž√Ï {ÿàÎ/ Ÿr š, Š$6Ã {q»Ô ãÑèö‹?

Šì? Ÿr ÏM»ŸÏBs%ÛJ9$#r ûüÏZÏB÷sßJù=Ï9r $YZÏB÷sãB š_ÏFøŠt/ Ÿ@yzŠ `J9r £“$Ï9ºuqÏ9r

ÇËÑÈ #I$7? žwÎ) ûüÏJÎ=»©à9$#

---

۲۶ـ او نوح وویل: اې زما ربه! پر ځمکې هیڅ کافر اوسېدونکی مه پرېږده! ۲۷ـ که ئې پرېږدې ستا بندګان بې لارې کوي او له کافر او فاجر پرته بل څه نه زېږوي. ۲۸ـ اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه، او زما مور پلار ته، او هر هغه چا ته چې د مؤمن په توګه زما کور ته راننوځي او باایمانه نارینه او ښځو ته، او ظالمانو ته له تباهۍ پرته بل څه مه زیاتوه!

---

۲۶ـ ۲۸: نوح علیه السلام له اوږدې مبارزې او مسلسل دعوت وروسته، او پس له هغه چې وئې لیدل له لږ شمېر کسانو پرته چا پرې ایمان رانه ووړ، د ده بلنه ئې ونه منله، د الله په لوري په دې ملکوتي سفر کې ورسره ملګري نه شول او له کفر او شرك نه ئې لاس وانه خیست، او د نه سوه پنځوس کلن دعوت نتیجه ئې یوازې دومره وه چې د ګوتو په شمېر کسانو پرې ایمان راووړ او دې نتیجې ته ورسېدو چې نور نو اتمام حجت شوی، د دې سرکښ او عاصي قوم د اصلاح امکان له منځه تللی، نه به ئې په مزید دعوت څه نتیجه مرتب شي او نه دوی ته مهلت ورکول څه ګټه لري، دا خلك دومره په ګناهونو کې غرق او د فساد په ګند لړلي، انساني مشاعر او عواطف ئې داسې ځپل شوي چې اصلاح او په سمه لار برابرول ئې امکان نلري، له دې پرته بله چاره نشته چې د دې ګنده او زهرجن بوټي جرړې وایستی شي، د دې نسل فطرت ګنده شوی، له کفر او فجور پرته د بل څه انتظار ترې نه شي کېدی، که د پېړیو پېړیو لپاره نور هم د ځمکې پر سر د ژوند مجال ورکړی شي، د دې په ځای چې اصلاح شي خپل ګنده افکار او اخلاق به نورو نسلونو ته انتقالوي،

باید چې تغر ئې ټول او جرړې ئې قطع شي، باید د ځمکې سر له دې خبیث او ګنده بوټې پاك کړی شي او د نوې نسل لپاره داسې ماحول جوړ کړی شي چې د دغه مفسد قوم له اغېزه خوندي او فطرت ئې سالم او روغ وي، د دې لپاره ئې خپل رب ته داسې دعا وکړه چې:

الف: اې زما ربه! د ځمکې په سر هیڅ کافر اوسېدونکی مه پرېږده!

ب: دوی ته مهلت ورکول ګټه نه لري، هر څومره فرصت او مهلت چې ورکړی شي اصلاح به نه شي او صالح نسل به ترې پاتې نه شي، تل به راتلونکو نسلونو ته کفر او فجور په میراث پرېږدي.

ج: زما له قصور راتېر شه، اشتباهات مې راوبخښه، که نه یم توانېدلی چې خپل مأموریت په سمه توګه ترسره کړم، که مې په هلو ځلو کې کمی او قصور وي ما ته ئې راوبخښه، مور پلار، باایمانه کورنۍ مې، باایمانه نارینه او ښځې وبخښې!

د: مه پرېږده چې د ظالمانو هیلې ترسره شي، شرارتونو ته دوام ورکړي، عمر ئې اوږد شي او په ټولنې کې لازیات فساد خور کړي، له تباهۍ پرته ئې بل څه مه ورزیاتوه.

دا عبرتناکه قصه د پیغمبر علیه السلام مخاطبینو ته خبرداری ورکوي چې ستاسو برخلیك د نوح علیه السلام د قوم برخلیك ته ورته دی، تاسو له پیغمبر علیه السلام سره همغه څه کوئ چې د نوح علیه السلام باغي او عاصي قوم له خپل زړه سواند لارښود سره کول، تاسو هم د پیغمبر علیه السلام د ملګرتیا په ځای د مفسدو او ظالمو مشرانو غلامي غوره وګڼله، تاسو هم د ټګمارو مشرانو په لومو کې ونښتئ، ستاسو سیاسي او مذهبي مشرانو هم د پیغمبر علیه السلام په خلاف خپلې ناروا او ظالمانه مقابلې ته مذهبي رنګ ورکړ، کار هغه ځای ته رسېدلی چې نږدې ده پیغمبر علیه السلام له تاسو مأیوس شي، الله تعالی ته شکایت وکړي او تاسو اصلاح نه منونکې ډله وګڼي، د نوح علیه السلام د قوم په څېر غرق شئ او د الهي عذاب متروکه ستاسو په سر راپرېوځي.

# الجن

## د سورې معرفي:

د دې سورې نوم الجن (پېرى) دى،۲۸ آيتونه لري، د ټولو آيتونو فواصل ئې عجبا او احدا ته ورته دي او ډېر خوندور او ښکلی وزن لري، له مکي سورتونو څخه ده، د بحث اصلي موضوع ئې دا ده چې له غيبه نه پيغمبر عليه السلام خبر دى، نه بل انسان او نه پېريان، د کاهنانو او ټګمارو غيب ويونکو دا خبره او ادعا بې بنسټه ده چې پېريان ئې له غيبه خبروي!! د سورې په سر کې پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې خلکو ته ووايه: ما ته وحي شوې چې يوې ډلې پېريانو دا قرآن واورېدو، د هغه عظمت ته ګوته په غاښ او حيران شول، وئې ويل: عجيب قرآن مو واوريدو، د رشد او کمال په لوري بلنه ورکوي، د دې لارښود کتاب د آيتونو په رڼا کې مو خپل رب وپېژاندو، الله تعالی تر دې ډېر لوړ دى چې شريك ولري، هيڅکله به څوك له الله تعالی سره شريك نه کړو، دى تر دې ډېر لوړ دى چې مېرمن ولري يا زوى، دا خوشې او بېهوده خبرې دي چې زمونږ بې عقلو او ناپوهانو کولې، مونږ مخکې داسې ګمان کاوو چې ښايي هيڅ انسان يا جن به هيڅکله د الله تعالی په هکله دروغ نه وايي، او له ځانه به دروغجنې خبرې الله تعالی ته نه منسوبوي، خو

اوس او د قرآن له اورېدو وروسته پوه شوو چې مونږ اشتباه کړې وه، د الله تعالی په هکله دېرې دروغجنې خبرې شوې، هم انسانانو کړې او هم پېريانو، اوس پوه شوو چې مخکې ځينو انسانانو پېريانو ته پناه وړې او په دې سره يو د بل د طغيان او بغاوت باعث شوي، اوس پوه شوو چې په انسانانو کې هم ځينې داسې ول چې د پېريانو په څېر ئې دا ګمان کاوو چې الله تعالی به هيڅوك بېرته راژوندی نه کړي، او د بيا ژوندون خبره ئې نه منله، اوس پوه شوو چې زمونږ له ډلې ځينو پېريانو د آسمان په لوري د ختو او په اسرارو ئې د پوهېدو هڅه کړې خو هغه ئې له شهاب ثاقب او مضبوطو ساتونکو او محافظانو ډك موندلی، اوس په دې پوهېږو چې که څوك د پورته تلو هڅه وکړي نو شهاب ثاقب به په کمين کې ومومي، نو ځکه مونږ نه پوهېږو چې د ځمکې د اوسېدونکو لپاره د شر اراده شوې او که الله تعالی ورته د هدايت او لارښودنې اراده کړې، او دا چې زمونږ ځينې صالح او ځينې ناصالح ول، په حقيقت کې مونږ په بېلابېلو لارو روان وو، مخکې د دې توپير له درك نه عاجز وو، ټول مو ورته او يوه ډله ګڼل د ښه او بد تفکيك مو نه شو کولی، اوس پوه شوو چې نه په ځمکې کې د الله تعالی د نيونې او مؤاخذې مخنيوی کولی شو او نه په تېښتې سره الله تعالی له خپلې نيونی ناتوانه کولی شو، مونږ د دې لارښود کتاب په اورېدو سره ايمان پرې راووړ، او څوك چې په خپل رب ايمان راوړي نه دې له کوم تاوان او زيان وېره کوي او نه د ظلم او حق تلفي، او دا چې له مونږ څخه به ځينې الله تعالی ته منقاد او تسليم وي او ځينې سرکښ، چا چې الله تعالی ته سر ټيټ کړ او تسليم شو د کمال او رشد لار ئې غوره کړې، خو سرکښان به د دوزخ د اور خس او خاشاك شي، څوك چې په سمه لار نيغ لاړ شي الله تعالی به ئې په پرېمانه اوبو خړوبه کړي، تر څو ئې په دې نعمت کې وآزمويي، او څوك چې د الله تعالی له ذکره ډډه وکړي نو په زياتېدونکي عذاب به ئې اخته کړي. او دا چې عبادت به مو يوازې د الله تعالی لپاره وي او هيڅوك به په دعا او عبادت کې له الله تعالی سره نه شريکوو، او دا چې د زمانې په اوږدو کې کله هم د الله تعالی کوم مخلص او صالح بنده د الله تعالی عبادت ته ملا تړلې د حق دښمنان پرې رابرګ

شوي، هغه ئې ګوابنلی او محاصره کړی!!

دا د قرآن د څو آیتونو له اورېدو څخه د پېریانو د هغې ډلې انتباهات ول چې خپل قوم ته وروګرځېدل او له حقیقته ئې خبر کړل. په لږ دقت سره مومو چې په دغو موجز او مختصر کلماتو کې د قرآن ټول اساسي مطالب بیان شوي، خپل قوم ته د دغې ډلې له وینا معلومېږي چې دوی یا د قرآن ډېره برخه اورېدلې یا داسې کومه سوره چې دا ټول اساسي مطالب په کې راغلي، او بیا دوی نورو ته په دغو الفاظو بیان کړي.

کوم مطالب چې د سورې په لومړۍ برخې کې له لومړي آیته تر ۱۹ پورې او د هغې ډلې د وینا په بڼه کې راغلي، همدا مطالب په دوهمې برخې کې له۲۰ آیته د سورې تر پایه او پیغمبر علیه السلام ته د لارښوونو په ضمن کې راغلي او په دې سره قریشو ته ویل شوي چې ستاسو چلند له قرآن او د قرآن له حامل سره د ډېرې حیرانتیا وړه ده، مګر عجیبه نه ده چې په دې الهي کتاب پیریان هم ایمان راوړي او تاسو ترې انکار کوئ؟! د پېریانو یوه ډله، تر انسان ډېره ټیټه ډله، هغه چې د ابلیس په څېر تر ټولو شریر مخلوق په دوی کې راپیدا شوی، د قرآن د څو آیتونو په اورېدو سره ایمان راوړي، هغه د هدایت او کمال لوړو مدارجو ته د رسېدو عامل او لارښود ګڼي، د هغه په رڼا کې د توحید او خدای پالنې په حقیقت پوهېږي، له شرك او کفر نه خپله بې زاري او برائت اعلانوي، صالح اوطالح سره بېلوي، مسلم او ظالم پېژني، د هغو دروغجنو ویناوو په حقیقت پوهېږي چې انسان یا پېري د الله تعالی او آخرت په هکله کړې، دې ته متوجه کېږي چې یوازې الله تعالی د عبادت وړ دی، هر عبادت باید یوازې د ده لپاره وي، نه به بل ته د بندګۍ سر ټېټوي او نه به د الله تر څنګ بل د عبادت او استعانت وړ ګڼي، ډېره عجیبه او د حیرانتیا وړ ده چې تاسو په داسې حال کې ایمان نه راوړئ چې دا پیغمبر علیه السلام ستاسو له منځه غوره شوی او دغه قرآن چې ستاسو په ژبه نازل شوی ستاسو مخې ته ږدي، او دا دی کلونه کلونه کېږي چې تاسو دې قرآن ته رابلي، خو تاسو نه یوازې د دغو پېریانو په څېر هم نه شوئ بلکې مخالفت ته ئې ملا تړئ!!

پیغمبر علیه السلام ته لارښوونه کېږي چې د خپل دعوت مخاطبینو ته دوایه:

الف: زه د خپل رب عبادت کوم او په عبادت کې ئې هیڅوك شریك نه نیسم.

ب: زه نه درته د ضرر او زیان څښتن یم او نه د رشد او هدایت، د دې پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، زه یوازې دا دنده په غاړه لرم چې د الله له لوري پیغام او هغه رسالتونه درورسوم چې ما ته راسپارل شوي.

ج: نه یوازې د ګټې او تاوان واکمن نه یم، بلکې له الله تعالی پرته نه بل د پناه ځای لرم او نه څوك توانېدی شي چې د ده له عذابه پناه راکړي.

د: څوك چې له الله تعالی او د ده له پیغمبره سرغړاوی وکړي ځای ئې دوزخ دی چې په هغه کې به تلپاتې وي.

هـ: کله چې دا موعود عذاب وګوري نو پوه به شي چې د چا مرستندوی کمزوری او شمېر ئې لږ وو.

و: زه نه پوهېږم چې دا موعود ورځ به ژر راشي او که به زما رب د هغې تر راسېدو کوم وخت او موده وټاکي.

ز: زما رب عالم الغیب دی او په خپلو غیبي اسرارو هیڅوك نه خبروي.

ح: مګر پیغام هغه وړونکي چې د خپل پیغام د انتقال لپاره ئې غوره کوي، او تر مخې او شا ئې څارن او مراقب ټاکي، تر څو وګوري چې د خپل رب پیغامونه ئې رسولي؟ په داسې حال کې چې د دوی په هر څه ئې احاطه کړې او هر څه ئې دقیق او په شمار شمېرلي.

بسم الله الرحمن الرحیم

---

ÇÈ $Y” $R#äœè $Yèjœ $R] (þ$)ù Ç%Ås`Ïß öy‾R ìJG‾$ç®R& ¥<] ÓÇréÛè

‰` 4?»è? ¼çR&r ÇÈ #%n& $Zh‾Î 8Îô‾9` 9r ¾ïhÎ $ZB$«ù ‾Ÿ‰Ö‾9$’<] ûr ‾Ÿ‰ö

«ö $'?ã $Zåÿ™ Aqà/ šc %. ¼çR&r ÇÌÈ #$!r Ÿr p7Å»| ¹ ‹ƒB$$B $Zĥ

¼çR&r ÇÎÈ $YÉ. «ö $'?ã •`ůs ß RyJ$Aqà? `©b& $YZß $R&r ÇÍÈ $ÜÜ©

ÇÏÈ $Zd' Hdrš#"ù Çůs `Ïß A% `Ìî brãqãƒ Ä RyJ$ `Ïß A% `Í b%.

ÇÐÈ #%n&ª! $]èt7 `©b& Ha$YYß $J. (qZß Hå&r

---

۱- ووايه: راته وحي شوې چې د پېريانو يوه ډله ورته غوږ شول او وئې ويل: بې شکه چې مونږ عجيب قرآن واورېدو. ۲- د رشد او کمال په لوري لارښوونه کوي، ايمان مو پرې راووړ، او هيڅکله به څوك له خپل رب سره شريك نه کړو. ۳- او دا چې زمونږ د رب شأن ډېر لوړ دی، نه ئې کومه مېرمن نيولې او نه کوم زوی. ۴- او دا چې زمونږ ناپوهانو به د الله په اړه پوچې چټي خبرې کولې. ۵- او دا چې مونږ گمان کاوو چې انس او جن به هيڅکله د الله په هکله دروغ ونه وايي. ۶- او دا چې د انسانانو ځينو کسانو به د پېريانو ځېنو وگړو ته پناه وړه او د دوی سرکښي به ئې ورزياتوله. ۷- او دا چې دوی هم داسې گمان کاوو لکه تاسو چې گمان کاوو چې الله به هيڅکله څوك بيا نه راپاڅوي.

---

۱-۲: څو ظريف ټکي په دې آيتونو کې زمونږ توجه جلبوي:

الف: د وحي له لارې پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې د پېريانو يوې ډلې د قرآن تلاوت ته غوږ ايښی او دومره ئې تر اغېز لاندې راغلي چې نورو ته ئې ويلي: عجيب قرآن مو واوريدو، د کمال لوري ته لارښود، ايمان مو پرې راووړ او دا پريکړه مو وکړه چې له دې وروسته به هيڅکله د شرك مرتکب نه شو، او د الله

تعالی په څنګ کې به د بل چا او بل څه عبادت ونکړو، پیغمبر علیه السلام دا ډله نه ده لیدلې او د دې سورې تر نازلېدو له دې نه وو خبر چې دوی قرآن اورېدلی او غبرګون ئې دا وو او خپل قوم ته ئې دا وینا کړې. له ټول جریان نه د دې سورې په رڼا کې پوه شو. دا آیتونه هم په دغې خبرې شهادت ورکوي او د احقاف د سورې دا آیت هم چې فرمایي:

وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ* الاحقاف: ۲۹

او هغه وخت چې د پېریانو یوه ډله مو ستا لوري ته راوګرځوله چې قرآن ته غوږ شي چې کله ورته حاضر شول وئې ویل: خاموش شئ، نو کله چې پای ته ورسېدو، خپل قوم ته بېرته وګرځېدل، خبرداری ورکونکي.

دا دواړه آیتونه په ډېر صراحت سره وايي چې پیغمیر علیه السلام په تلاوت لګیا وو چې دا ډله راغلې، قرآن ئې اورېدلی، پرته له دې چې پیغمبر علیه السلام پرې پوه شي.

خو په دې هکله څو روایته زمونږ مخې ته راځي: یو ئې عبدالله بن عباس رضي الله عنه ته منسوب دی او دوه ئې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته، د دغو دواړو جلیل القدره صحابه وو د روایاتو تر منځ تعارض دی، یو ئې د نه لیدو او بل ئې د لیدو خبره کوي، او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته منسوب روایتونه هم په خپلو کې تعارض لري، په یوه کې داسې راغلي چې مونږ یوه شپه پیغمبر علیه السلام ونه موند، ډېر پرېشانه شوو، دا وېره راسره پیدا شوه چې څه نه وي پرې شوي، سهار هغه رامعلوم شو او پوښتنه مو ترې وکړه چې چېرې تللی وې، هغه وفرمایل چې د پېریانو یوې ډلې ته مې قرآن اوراوو، په بل کې راغلي چې زه ئې په یوه ځای کې ودرولم او راته وئې ویل چې له دې ځایه مه خوځېږه او هغه لاړ او د پېریانو یوې ډلې ته ئې قرآن واوراوو. که څه هم ځینو د دې تعارض په اړه څه توجیهات کړي، خو په ډېر تکلف سره، او دا هڅه ئې هم کړې چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنه دا قول ضعیف وښیي چې وايي:

عن ابن عباس قال: ما قرأ رسول الله صلى الله عليه و سلم على الجن وما رآهم.
رواه مسلم و الترمذي
له عبدالله بن عباس رضي الله عنه روایت دی چې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پيريانو ته د قرآن قرائت کړی او نه ئې دوی ليدلي.

ځينو دا دوه بېلې بېلې پېښې ګڼلې، په يوې کې د پېريانو د ليدو او په بلې کې د نه ليدو، خو په قرآن کې نه يوازې په دې دواړو آيتونو کې بلکې په بل ځای کې هم ويل شوي چې تاسو پېريان نه شئ ليدی، لکه چې فرمايي:

يَا بَنِي آدَمَ لاَ يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُم مِّنَ الْجَنَّةِ يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْءَاتِهِمَا إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لاَ تَرَوْنَهُمْ إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاء لِلَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ * الاعراف: ۲۷

اې د آدم اولادې! شيطان دې تاسو دوکه نه کړي، لکه چې ستاسو مور پلار ئې له جنته وايستل، جامې ئې ترې ايستې، تر څو ئې بدنونه وروښيي، يقيناً چې دی او قبيله ئې تاسو له هغه پلوه ليدی شي چې تاسو ئې نه شئ ليدی، مونږ خو شيطانان د هغو کسانو لپاره دوستان ګرځولي چې ايمان نه راوړي.

په قرآن کې صريحاً يا تلويحاً داسې څه نه ګورو چې وښيي پيغمبر عليه السلام پيريان په خپلو سترګو ليدلي، يا ئې بل څوك ليدی شي، اما دا چې سليمان عليه السلام ته پېريان مسخر وو، او په يو شمېر رواياتو کې راغلي چې په متغيره بڼه او شکل کې ليدل شوي، دا به إن شاء الله په خپل ځای کې څېړو.

ب: قريشو ته د دې قصې اورول د دې لپاره وو چې له يوې خوا د جن او پېريانو په هکله د دوی بې بنسټه او له خرافاتو ډکه عقيده تصحيح کړي او له بلې خوا ورته ووايي چې راشئ له قرآن سره ستاسو چلند د هغه چا له چلنده سره مقايسه کړئ چې پېريان دي، نه پيغمبر عليه السلام د دوی له ډلې او نه قرآن د دوی په ژبه، او تر ټولو شرير مخلوق ابليس په دوی کې راولاړ شوی. خو د قرآن د يوې برخې په اورېدو سره ئې له ځنډه پرته پرې ايمان راووړ، د هغه عظمت ته ګوته په غاښ شول او خپل لاربنود ئې ومانو، خو تاسو اې قريشو! په داسې حال کې له ايمان راوړو

ډېره کوئ چې پيغمبر عليه السلام ستاسو له منځه غوره شوی، قرآن ستاسو په ژبه نازل شوی، په فصيح عربي او تاسو ته قابل فهم!!

ج: د شرك آفت او بيماري په پېريانو کې هم خوره وه، دوی هم د الله تعالی د ښه پېژندو او د توحيد په لوري د هدايت لپاره د وحي لارښوونو ته ضرورت درلود، د قرآن په اورېدو سره ئې خپل رب پېژندلی او د توحيد او شرك په حقيقت پوه شوي. په دوی کې هم د آخرت، حساب او کتاب، مکافات او مجازات او نورو بنيادي مسائلو په اړه همغه انحرافات شته چې په انسانانو کې ئې ګورو.

د: له دې آيتونو معلومېږي چې پېريان هم د قرآن په ژبه پوهېدل او هم د تورات او انجيل په ژبه.

**۵.۳**: په دې مبارکو آيتونو کې څو اساسي مطالب د پېريانو د دغې ډلې د هغو اظهاراتو په هکله راغلي چې د قرآن له اورېدو وروسته ئې کړي:

الف: اوس او د قرآن د آيتونو له اورېدو وروسته په دې پوه شوو چې الله تعالی نه مېرمن لري او نه زوی، نه د نصاراوو اعتقاد سم دی چې په درې خدايانو باور لري، پلار، مور او زوی، خدای، مريم او عيسی عليه السلام، او نه د يهودو عقيده چې ځان د خدای خاصه کورنۍ، خپلوان او زامن ګڼي، او نه د نورو پېريانو او انسانانو دا غلطې انګېرنې او باورونه چې ادعا کوي له الله تعالی سره ئې خاصه او ځانګړې نسبي رابطه ده، ګواکې دوی خدای ته منسوب دي او خدای مختص د دوی دی، الله تعالی تر نورو غوره پيدا کړي، ځانګړې اعتناء او التفات ورته لري، دوی د الله تعالی د کورنۍ غړي او پر نورو ورته فضيلت او شرف ورکړی شوی!! اوس پوه شوو چې دا خبرې حقيقت نه لري، الله تعالی د ټولو رب دی، تر دې ډېر ډېر لوړ دی چې مېرمن ولري يا زوی، نه ئې څوك سيال دی او نه ئې وارث او ځای ناستی.

ب: چا چې دا پوچې، چټې او بې بنسټه خبرې کړې سفيه او بې عقله دي او چا چې له ټګمارو مشرانو دا خبرې منلې تر دوی هم ډېر سفيه او بې عقله. دا آيت ښيي چې د پېريانو په منځ کې هم ځينې داسې وو چې له دينه ئې ځان ته دکان جوړ کړی،

د نورو د غولولو لپاره ئې ادعا کړې چې له الله تعالی سره ئې خاصه او ځانګړې رابطه ده، ځان ئې د الله د خاصې کورنۍ غړی او په ځمکې کې د ده وارث او ځای ناستی ګڼلی، او نورو ته ئې ویلې: یوازې زمونږ له لارې خدای ته رسېدی شئ، د خدای رضاء زمونږ په رضاء کې ولټوئ او څه چې خدای ته ورکوئ مونږ ته ئې راکړئ. دعاګانې مو زمونږ له لارې خدای ته رسېدی شي، مونږ ستاسو او د خدای تر منځ واسطه او وسیله یو، سپارښتنه کوو او ستاسو دعاګانې پرې منو.

ج: مونږ ګمان نه کاوو چې څوك به د الله تعالی نوم د نورو د غولولو لپاره کاروي، خپلې دروغجنې خبرې به الله تعالی ته منسوبوي، له دین نه به دام جوړوي، کم عقله خلك به پرې غولوي، نه مو د انسانانو په هکله دا ګمان کاوو او نه د پېریانو په هکله، خو اوس پوه شوو چې اشتباه مو کړې وه، د الله تعالی په هکله ډېرې ډېرې دروغجنې خبرې شوې دي، د قرآن په هینداره کې مو دا دروغجن تېګماران وپېژندل او د دوی د دروغجنو خبرو په حقیقت پوه شوو.

۶ـ د دې آیت لپاره څو توجیه مومو:

الف: اوس پوه شوو چې ځینو انسانانو به ځینو پېریانو ته پناه وړه، او دا کار به د دې سبب شو چې د دغو پېریانو طغیان لازیات شي. په دې توجیه کې په هغه روایت استناد شوی چې وایي: د جاهلیت په زمانې کې به چې کله کومه قافله د شپې له لورې کومې درې ته ننوتله یا به ئې په کومې شاړې ځمکې او ورانې سیمې اړول، نو یوه به ئې په جګ غږ وویل: د دې سیمې سردار او سالار ته د ده د قوم له کم عقلو پناه وروړو. د دوی عقیده دا وه چې هره ورانه ویجاړه سیمه د پېریانو په یوې طائفې او قبیلې پورې تړلې ده او سردار ئې پرې حکومت کوي، د دوی سردار ته د پناه وړلو په سبب به د دې قبیلې له شره ژغورل کېږو!!

ب: ځینو انسانانو به ځینو پېریانو ته پناه وړه او دا خرافي عقیده به دوی مزید بې لارې کړل او په جهالت او فکري انحطاط کې به ئې لازیات غرق کړل.

ج: ځینې انسانان د دې په ځای چې له شیطانانو الله تعالی ته پناه یوسي، برعکس ئې شیطانانو ته پناه وړې او د هغوی اطاعت او متابعت ئې کړی او په دې

سره ئې بې لاریتوب او طغیان لاهم زیات شوی.

دې ته په پام سره چې دلته په ډېرو اساسي مسائلو بحث کېږي، په مخکنیو آیتونو کې د توحید په اړه او له دې آیته وروسته د معاد او آخرت په هکله، نو دلته به هم د دې دواړو اساسي مسایلو په څېر دا اساسي مسئله په نظر کې وي چې د شیطان متابعت او شیطان ته پناه وړل د دوی د طغیان سبب شوی، دا توجیه تر نورو غوره ده او له مخکنیو او وروستنیو آیتونو سره زیات سمون خوري.

۷ـ له دې هم خبر شوو چې په انسانانو کې هم ځینو زمونږ په څېر داسې گمان کاوو چې آخرت نشته او الله تعالی به هیڅکله څوك بیا نه راپاڅوي. له دې پاڅولو نه ځینو مفسرینو دا انتباه اخیستې چې مراد ئې د کوم پیغمبر بعثت دی، خو نورو ویلي چې مراد ترې د قیامت د ورځې پاڅون او بیا راژوندي کول دي. په څو دلایلو دا دوهمه توجیه دقیقه ده:

الف: د (بعث) اصطلاح اکثراً د بیاژوندون لپاره کارول شوې، مگر دا چې تر څنگ ئې د رسول لفظ هم راغلی وي، چې په دې صورت کې د پیغمبر یا فرشتې د لېږلو معنا افاده کوي.

ب: د پېریانو د دې ډلې په دې وینا کې بل داسې مورد نه مومو چې قیامت او بیاژوندون ته په کې اشاره شوې وي، لابد باید په دې آیت کې قیامت ته اشاره شوې وي، تر څو د قرآن د معرفي په اړه د دوی وینا ناقص پاتې نه شي.

ج: د رسالت په هکله د دوی په وینا کې د ۱۹ آیت په ترڅ کې په دې صیغه اشاره شوې: کله چې د الله یو بنده پاڅېدلی او د الله په عبادت لگیا شوی، پرې رابرگ او راغونډ شوي او هغه ئې محاصره کړی.

---

$Zä $R&r ÇÑÈ $Yâ r #%fÏ‰© $Ù•m ôM¥îB $g»R6ô `qù ä$J¡ 9$$Yó J9 $R&r

ÇÌÈ #%| ¹ §$I$kÅ ¼çn9 6ôÅ bF$ÆÜGó„ `Jù ÆGÐ¡ =ï ‰È») B $k]B %ãø)R

$R̄&r Ç¦È #%©' Nâ' Nŭ Š#'& Ô& ÇÚ öŖ $'Î `JÎ ‰ƒ Í éŸ& ü Í6R Ŵ $R̄&r

`©b& $ZYß $R̄&r Ç¦È #Š%Ÿ , Ĺ•Û $Zä 7Ï Œ brŠ $ZÈr bqß Î Á 9$$ZÈ

#‰q$ $ZèÛ™ $9 $R̄&r Ç¦È $I•d ¼ç"Ê è be`9r ÇÚ öŖ $'Î ®$"Ê è be

$ZÏ $R̄&r ÇÎÈ $Zd' Ŵr $Ţ$ ß $ƒ† Ÿù ¾ÏhÎ .`Bs ã `Jù ¾ÏhÎ $YB#ä

$B&r ÇÍÈ #%©' {r$B 7Î 9r ê N¤Ø& ôJù bqË Å»)$$ZÈr bqßÎ ó B$

þ)ƒÌ Ö9$ '?ã {qß»)FØ$ Ë®r ÇÎÈ $7Üm OYg fÏ {qç3ù bqË Å»)$

ç Sè ó „ ¾ÏhÎ Ì ø Ë `ã ôÚ Ì è ã`Br ÏhŠÏ ÈàYÉ ÿZ ÇÌÈ $)‰ Î â$B NßYø)ØV

¼çR̄&r ÇÑÈ #%n& ‹ $ì B {qã6? Ÿù + ‰É » ¡ J$ b&r ÇÐÈ #%è ¹ $I# ‹ ã

ÇÒÈ #%7Ï Ïhøã bqç q3ƒ {rŠ. çqã6ƒ ‹ $R̄ôã P$% $R®

---

۸. او دا چې مونږ آسمان لمس کړی او هغه مو له ساتونکو او لمبو ډك موندلی. ۹. او دا چې مونږ به د هغه په ځینو تم ځایونو کې د اورېدو لپاره کښېناستو، نو څوك چې اوس غوږ ونیسي ځان ته به په کمین کې ناسته لمبه ومومي. ۱۰. او دا چې مونږ نه پوهېږو هغه چا ته چې په ځمکې کې اوسېږي د شر اراده شوې او که به ئې رب ورته د رشد اراده کړې وي؟ ۱۱. او دا چې ځینې مو صالح دي او ځینې مو غیر له دې، او مونږ د بېلو بېلو تګلارو خاوندان وو. ۱۲. او دا چې مونږ ګمان وکړ چې نه خو الله په ځمکې کې

ناتوانه کولی شو او نه ئې هیڅکله په تېښتې سره ناتوانه کولی شو. ۱۳ـ او دا چې کله مونږ دا لارښود (کتاب) واورېدو ایمان مو پرې راوړ، او څوك چې په خپل رب ایمان راوړي نو نه دې له کمښت او تاوانه وېره لري او نه له ظلمه. ۱۴ـ او دا چې ځینې مو مسلمانان دي او ځینې مو په کږو لارو تلونکي، نو چا چې اسلام راوړی دوی د رشد په لټه کې شوي. ۱۵ـ خو په کږو لارو تلونکي به د دوزخ خاشاك وي. ۱۶ـ او دا چې که په دې لار نېغ پاتې شي په پرېمانه اوبو به ئې خړوبه کړو. ۱۷ـ تر څو ئې په دې کې وآزمویو، او څوك چې د خپل رب له یاده ډډه وکړي په زیاتېدونکي عذاب کې به ئې ننباسي. ۱۸ـ او دا چې ټول مساجد د الله دي، نو له الله سره بل هیڅوك مه رابلئ. ۱۹ـ او دا چې کله د الله بنده پاڅېدو، (الله) ئې رابلو، نږدې ول پرې راپنډ (او رابرګ) شي.

---

۸ـ۱۰: په دې مبارکو آیتونو کې څو نور اساسي مطالب چې د پېریانو دغې ډلې د قرآن په اورېدو سره زده کړي، او خپل قوم ته ئې ویلي، داسې توضیح شوي:

الف: له مونږ پیریانو څخه ځینې د آسمان په لوري لوړ تللي، او په خپلو سترګو ئې لیدلي چې آسمان ته د رسېدو امکان نشته، لار ئې له څارونکو او ساتونکو ډکه او سرې لمبې په لار کې خنډ.

ب: مخکې به زمونږ ځینې د دې لپاره د آسمان کنارو ته د رسېدو او په یوې بلې ګوښې کې د کښیناستو هڅه کوله چې پوه شي په آسمان کې څه تېرېږي، څه واوري، او په څه اسرارو خبر شي، خو اوس پوه شوو چې دا کار ممکن نه دی، هر څوك چې دا هڅه وکړي د دې په ځای چې اسرار په لاس ورشي سره لمبه به ځان ته منتظر او په کمین کې ناسته ومومي.

ج: مونږ نه پوهېږو چې په آسمانونو کې څه تېرېږي، الله تعالی د ځمکې د اوسېدونکو په اړه څه اراده کړې، د زیان او تاوان اراده که د رشد او کمال په لوري

د دوی د هدایت او لاربښوونې اراده؟! هغه خبرې چې ځینې ئې کوي او وايي: مونږ له غیبه خبرېږو دروغجنې او بې بنسټه دي، نه جن په غیب پوهېږي او نه انس، هغه چې غیب ویل ئې ځان ته حرفه ګرځولې، له دې لارې خلك شكوي، د خلكو د غولولو لپاره وايي: مونږ له پېریانو سره ارتباط لرو، دا پېریان لوړ آسمان ته درومي، د آسمان كنارو ته رسي، په یوې بلې ګوښې كې مترصد كښېني، د فرشتو ترمنځ خبرو آترو ته غوږ نیسي، له اسرارو خبرېږي، ځمكې ته راګرځي، مونږ خبروي، په همدې خاطر مونږ كولی شو تاسو ته ووایو چې له كومو پېښو سره به په راتلونكې كې مخامخ شئ، څه حالت او كوم برخلیك درته انتظار كوي، شكرانه راكړئ چې په اسرارو مو خبر كړو، له محتمل راتلونكو پېښو مو خبر كړو،... دا ټول ټګمار او دروغجن دي، هدف ئې د خلكو غولول او د خپلو كڅوړو ډكول دي.

۱۱ـ اوس پوه شوو چې مونږ د تګلارو له پلوه متفاوتې ډلې وو، ټول یو شانته نه وو، دا زمونږ غلطي وه چې ټول مو برابر ګڼل، په حقیقت كې زمونږ تګلارې د محتوی او پایلو له مخې ورته او مشابه نه وې، ځینې ئې صالح او ځینې ئې ناصالح ګرځولي وو، مخكې به مونږ ګمان كاوو چې ښه او بد نشته، هر څه كولی او هره لار غوره كولی شو، څه پروا نه كوي چې په كومه لار درومو او په خپل ژوند كې كومه تګلاره غوره كوو، دا تګلارې نه د محتوی او پایلو له لحاظه څه تفاوت او توپیر لري او نه د دغو بېلابېلو تګلارو په غوره كولو سره چا ته ښه او چا ته بد ویلی شو، خو د قرآن د لارښوونو په رڼا كې پوه شوو چې ځینې تګلارې او عملونه ښه دي او نتائج ئې غوره او ځینې ئې بد دي او نتائج ئې خراب او خطرناك.

۱۲ـ اوس په دې باور شوو چې د الله تعالی د مطلقې واكمنۍ تر سیورې لاندې یو، كه د عصیان او سركښۍ لار غوره كړو، حتماً به له الهي عذاب سره مخامخ كېږو، په هیڅ تدبیر سره نه شو كولی له دې محتوم عذابه ځان وژغورو، نه په ځمكه كې كوم پناه ځی موندلی شو او نه په تېښتې سره د الله له نیونې او عذابه ځان ژغورلی شو.

۱۳ـ كله چې مونږ د دې لارښود كتاب لارښوونې واورېدې ایمان مو پرې

راوور، دې کتاب مونږ په الله تعالی باندې ایمان ته هدایت کړو، څوك چې په خپل رب ایمان راوړي نو په داسې مضبوطې کړۍ ئې منګولې لګولې چې نه ئې غوڅېدا شته، نه به له د ې وېره لري چې عملونه به ئې هدر او بې نتیجې پاتې شي او تېری او ظلم به پرې وشي، په دې به ئې کلك باور وي چې مهربان رب به ئې هيڅکله په ده ظلم ونکړي او د صالح عملونو بدله او اجر به ئې ضايع نه کړي.

**۱۵ـ۱۴**: اوس او په قرآن له ایمان او په الله تعالی له باور وروسته مونږ په دوو ډلو وېشل شوي يو: الله تعالی ته مطيع او تسليم ډله او له الله تعالی باغي او سرکښه ډله. هغه څوك به رشد او کمال ته رسي او معنوي ارتقاء به ئې په برخه کېږي چې د الله تعالی په وړاندې د انقياد او اطاعت لار غوره کړي، او څوك چې په کږو لارو سر شي؛ هغه ظالم دی او د دوزخ د اور وړ، هغه له خپل فطري مقامه راپرېوتی، د خس او خاشاك په څېر منحط او په جهنم کې د سوځېدو مستحق دی.

**۱۷ـ۱۲**: ځينو درنو مفسرينو دا آيتونه په دې خاطر د پېريانو د هغې مؤمنې ډلې د وينا ادامه نه ده ګڼلې چې وايي: نه شو کولی دا الفاظ (لأسقيناهم: دوی به خړوبه کړو) د دغې ډلې قول وګڼو، خو په څو مقنع دلايلو دا د دوی د قول ادامه ده:

الف: دا آيت د نورو په څېر د (و إن) په لفظ پيل شوی.

ب: د پېريانو دې ډلې دا ټولې خبرې له قرآن څخه د نقل قول په توګه او د قرآن د تشريح په مقام کې کړې دي، د دوی خپلې خبرې نه دي، دلته ئې مراد دا دی چې دوی ويلي: د قرآن يوه لارښوونه دا ده چې که د اسلام په مستقيمه لار نيغ لاړ شي په پرېمانه اوبو به ئې خړوبه کړو، چې مراد ئې يا پرېمانه رزق دی، هماغسې لکه چې د نوح په سوره کې راغلي: يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَاراً * ۱۱ـ تر څو له آسمانه پرله پسې ورښت درباندې راولېږي.

او يا ئې مراد دا دی چې د پېريانو لپاره اوبه د ژوندي پاتې کېدو اساسي وسيله او بنيادي رزق او روزي ده.

ج: که له ۱۲ تر ۱۹پورې آيتونه د مخکني کلام ادامه ونه ګڼو نو کوم معلومات چې د پېريانو دغه ډله ئې د قرآن په هکله ورکوي ناقص پاتې کېږي او څو

اساسي مطالب نه احتوا کوي، يوازې د دغو خبرو په علاوه کولو سره د قرآن د مضامينو په هکله يو جامع او بشپړ تصور وړاندې کېږي او ټول اساسي ټکي په کې نيول کېږي.

د: له لومړي آيته تر نولسم پورې ټول آيتونه چې په يوه (قل) پيل او په بل (قل) پای ته رسېدلي او لحن ئې ورته او يوه تړلې او په خپلو کې مربوطه مجموعه ده، په دې کې انقطاع منل د کلام ښايست او نظم ته تاوان رسوي او د آيتونو تر منځ تنسيق او يووالی له منځه وړي.

په دې آيتونو کې څو اساسي مطالب توجه جلبوي:

الف: پېريانو خپل قوم ته ويلي: قرآن دا الهي وعده ورکوي چې: که جن او انس د الله تعالی په وړاندې د اسلام او انقياد لاره غوره کړه، او په دې کې ئې ثبات او استقامت وکړ، الله تعالی به پراخ او پرېمانه نعمتونه ورپه برخه کړي، په پريمانه اوبو به ئې چې د ټولو حياتي نعمتونو سرچينه ده، خړوبه کړي، او دا يو له هغو اساسي مطالبو څخه دی چې د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې راغلی، لکه چې فرمايي:

وَلَو أنّ أهلَ القرىءامَنوا وَاتّقَوا لَفَتَحنا عَلَيهم بَركت منَ السّماء وَالأرض وَلكن كَذّبوا فَأخَذنهم بماكَانوا يَكسبون * الاعراف: ۹۲

او که کليوالو ايمان راوړی وی او تقوی ئې کړې وی نو خامخا به مو د آسمانونو او د ځمکې د برکتونو دروازې پرې پرانيستې وی، خو دوی (دا حقيقت) تکذيب کړ نو مونږ هم د خپلو کړو وړو په سبب ونيول.

ب: خو دا نعمات د دوی د استقامت بشپړه بدله مه ګڼئ بلکې د ابتلاء او آزمېښت وسيله ئې وشمېرئ، د دغو نعمتونو په ورکړې سره دوی آزمويو تر څو وليدی شي چې په دوی کې د مزيد ارتقاء او مخکې تګ اهليت شته که نه؟!

ج: او چا چې د نعمتونو له لاس ته راوړو وروسته الله تعالی هېر کړ او مقطعي او موقتي برياوو داسې وغولاوو چې د الله تعالی له ذکره ډډه وکړي او د الله تعالی په لوري له مزيد مخکې تلو ببرته پاتې شي، نو په زياتېدونکي الهي عذاب به اخته

شي.

يعني په نېغه لار استقامت او ثبات سره د نعمتونو دروازې درته پرانيستل کېږي، او په دې کې د استمرار او دوام په نتيجه کې دا نعمتونه زياتېږي، خو د الله تعالى له ياده غفلت او اعراض او په دې لار کې عدم ثبات او عدم استقامت د نعماتو د زوال باعث او د الهي عذاب د نازلېدو سبب کېږي. لکه چې قرآن په بل ځای کې هم فرمايي:

وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكاً وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيامَةِ أَعْمَى * طه: ۱۲۴

او چا چې زما له ذکره اعراض وکړ، نو د تنګسې او اضطراب ژوند به ئې په برخه وي او د قيامت په ورځ به ئې ړوند راپاڅوو.

۱۸: او د قرآن بل پيغام دا دی چې مساجد ټول الله لره دي، د سجدې ټول ځايونه بايد الله تعالى ته مختص کړی شي، د عبادت او سجدې هره شېبه بايد مختص الله تعالى لره وي، يعني هيڅوك دا حق نه لري چې د عبادت کومه شېبه له الله تعالى پرته د بل لپاره وټاکي، بايد د ماسوی الله لپاره د عبادت ځای جوړ نه شي، د بل په نامه به معبد او مسجد نه جوړوئ، د بل په درشل کې به د عبادت سر نه ټېټوئ او د دعا لاسونه نه اوږدوئ، د بل په پښو کې به نه لوېږئ او لمن به ئې نه نيسئ، نه په مستقله توګه او نه د الله په څنګ کې او د ده د شريك په توګه، پام چې بل څوك د عبادت او دعا په اړه د الله تعالى شريك او سيال ونه نيسئ، او د الله تعالى په څنګ کې له هغه هم مرسته وغواړئ، (فلا تدعو مع الله احدا) په ځمکه او آسمان کې هيڅوك د الله تعالى په څنګ کې مرستې ته مه رابلئ، نه مړ، نه ژوندی، نه کوم انسان او نه کومه فرشته، که چا وويل چې الله او د ده اولياء دې زمونږ مرسته وکړي او زمونږ مشکل دې حل کړي، ده په حقيقت کې دا اولياء د الله تعالى سيالان ګرځولي، حال دا چې الله تعالى سيال نه لري، او دا هغه خبره ده چې قرآن ترې منع کړې يو، بايد ووايې: خدايه! د دعاګانو اورېدونکی ته يې يوازې ته، د مشکلاتو حل کوونکی ته يې يوازې ته، له تا پرته نه د دعاګانو اورېدونکی شته او نه د مشکلاتو حل کوونکی، له تا پرته بله ملجأ او مرجع نه مومو، له تا پرته بل

درشل ته پناه نه وړو، له تا پرته هيڅوك د خپلو مشكلاتو حل كوونكى او د خپلو حاجتونو تر سره كوونكى نه نيسو، ستا اولياء زمونږ په څېر تا ته اړ او محتاج دي او تر نورو زيات ستا عنايت او رعايت ته طمع كوي او ځان اړ او محتاج ګڼي، تا په دې خاطر دوى خپل اولياء نيولي چې تر نورو ډېر ستا عبادت كوي او تر نورو زيات تا ته د دعا او احتياج لاسونه اوږدوي، دوى ستا محبوب بندګان دي، نه ستا او ستا د بندګانو تر منځ واسطه او وسيله، او نه ستا د درشل داسې ساتونكي چې د دوى له اجازې پرته څوك تر تا رسېدى نه شي، ته د ځمكې د سر واكمنانو په څېر نه يې چې فريادونه د واسطو له لارې اورې، او سوالونه په سپارښتونو قبلوې، كه واسطه په منځ كې نه وي نو د خپل رعيت چېغې نه شي اورېدى، او كه د مقربينو سپارښتنې نه وي نو عرايضو ته اعتناء نه كوي او نه يې قبلوي، تا خو خپلو بندګانو ته ويلي: د غاړې تر رګ درنږدې يم، چې هر ځاى وئ درسره يم، ستاسو او زما ترمنځ نه حايل شته نه مانع، نه حجاب او نه حاجب، فريادونه مو اورم او دعاګانې مو قبلوم. څومره كودن او بې عقله دى هغه چې له الله تعالى پرته بل درشل ته لاس اوږدوي، او د دې په ځاى چې خپل عرايض او خپلې غوښتنې مخامخ او له واسطې او وسيلې پرته، له كوم ځنډ او تأخير پرته سميع او عليم، مجيب الدعوات خداى ته وړاندې كړي، موهومې او له خپله ځانه جوړ كړو واسطو او وسيلو ته ئې سپاري!! څومره ناپوه دى هغه انسان چې له دغو صريح، ځرګند او تأويل نه منونكو آيتونو څخه پند نه اخلي، هغه چې پېريانو په يو ځل اورېدو سره پرېكړه وكړه چې نور به له الله تعالى پرته د بل چا عبادت ونكړو او بل ته به لاس اوږد نه كړو.

د مساجد د معنا په اړه په تفسيرونو كې څو رايې مومو:

- ځينو د جوماتونو او د سجدې د محل او مكان په معنا اخيستى، او ويلي ئې دي چې مساجد او جوماتونه الله لره دي.
- ځينو د سجدې د اوه ګونو غړو په معنا اخيستى او ويلي ئې دي چې دا الله تعالى دركړي، له ده پرته بل ته بايد په سجده نه شي.
- غوره توجيه دا ده چې دلته مساجد د مسجد جمع او مسجد د مغرب په څېر د

سجدې د وخت او زمان په معنا ده، يعني د سجدې ټول وختونه بايد الله تعالى ته مختص کړى شي او د عبادت او سجدې يوه شېبه هم له الله تعالى پرته بل چا ته مختص نه شي، يعني هيڅوك دا حق نه لري چې د عبادت کومه شېبه له الله تعالى پرته د بل لپاره وټاکي.

۱۹. په دې آيت کې څو مهم ټکي د پام وړ دي:

الف: د دې آيت لحن او لهجه په صراحت سره ښيي چې دا هم د پېريانو د هغې مؤمنې ډلې د وينا ادامه ده.

ب: پيغمبر عليه السلام ئې د عبادت په حالت کې ليدلى د همدې لپاره ئې د عبد الله نوم ورته غوره کړى.

ج: خپل قوم ته ئې ويلي چې د خلکو غبرګون د الله تعالى د دغه بنده د الهي دعوت په وړاندې ډېر افسوسناك او د حيرت وړ وو، نږدې وو چې پرې راپنډ او رابرګ شي او تر هجوم لاندې ئې ونيسي!! او دا هماغه مطلب دى چې د معارج د سورې په ۳۲ـ۳۸ آيتونو کې راغلى.

هغه رايه چې دا آيت د مخکني قول ادامه نه ګڼي او د الله تعالى مستقل کلام ئې شمېري څو اشکاله لري:

الف: بايد پيغمبر عليه السلام ئې د مخاطب په صيغه ياد کړى وى نه غائب په صيغه.

ب: د (نفر) له لفظه معلومېږي چې د پېريانو د دې ډلې شمېر تر لسو لږ وو، د هجوم او ازدحام اصطلاح دوى ته نه شو راجع کولى او دا آيت د دوى د حالت په شرح کې نه شو نيولى.

---

#ĬĬŇ ďß9 ǎ7 îß& Ŵ 'ÎĎ ©Ȅ ÇÉÈ #%n& ýĵĥÎ ǟĨõ ěWr 'Ĥ {qãŠ& $JŘĴ ©Ȅ

¾ĥȐrǨ `Ȅ ‰É& ô9r Ŵn& «ł $`Ȅ 'ĨŽ•ŷȂ `9 'ÎĎ ©Ȅ ÇÉÈ #%©' Ŵr

bîù ¼ãqß'r ®$ÄÈ èƒ `Br ¾ïïi»=»™ír «ł $`Ï $ž»=/ žvĵ ÇËÈ #‰s Gùä

brß ãqã $B (r& #ŒĴ óL̈m ÇËÌÈ #%o/& $kŽï ûïï$#» z OŸg_ '$R ¼çg9

ÇËÍÈ #Š%ã @%&r #ŽÂ $R ß# èÊ & ôB bqß=è« ¡ ù

---

۲۰ـ ووایه! یوازې خپل رب ته مې دعا کوم، هیڅوك ورسره نه شریکوم. ۲۱ـ ووایه! یقیناً چې زه تاسو ته نه د کوم تاوان څښتن یم او نه د کوم هدایت او رشد. ۲۲ـ ووایه! (په دې باور یم چې) ما ته خو له الله نه هیڅوك پناه نه شي راکولی او له ده پرته هیڅ پناه ځای نه شم موندلی. ۲۳ـ مګر دا چې د الله له لوري د یوه ابلاغ او د ده د پیغامونو (مالك یم)، او څوك چې له الله او د ده له پیغمبره سرغړاوی وکړي، نو ده لره د دوزخ اور دی چې تل تر تله به په کې اوسي. ۲۴ـ تر څو چې هغه څه ووینې چې وعده ئې ورسره کېږي، نو پوه به شي چې د چا مرستندوی ضعیف او شمېر ئې لږ دی.

---

۲۰: پیغمبر علیه السلام ته لارښوونه کېږي چې خلکو ته ووایي: ووایه: یوازې خپل رب ته مې دعا کوم، هیڅوك ورسره نه شریکوم. له الله تعالی پرته هیچا ته د دعا لاس نه اوږدوم، په دعا او عبادت کې بل څوك ورسره نه شریکوم. او دا همغه مطلب دی چې د پېریانو مبلغینو له قرآنه زده کړی او خپل قوم ته ئې بیان کړی. یعني د قرآن لومړنی پیغام د بل هر معبود له عبادت او بندګۍ نه د آزادۍ پیغام دی، بل چا ته د لاس له اوږدولو او د بل د لمنې له نیولو د استغناء او بې نیازۍ پیغام، له الله تعالی پرته بلې ملجأ او مرجع ته له پناه وړلو د اعراض پیغام. د پېریانو هغې ډلې له قرآنه همدا انتباه اخیستې او زه هم همدا کار کوم.

۲۱ـ۲۳: د دې آیتونو ترکیب داسې دی:

۲۳ آیت د ۲۱ آیت تتمه ده، او ۲۲ آیت د دې مطلب شرح ده چې پیغمبر علیه السلام نه یوازې تاسو ته د ګټې او تاوان څښتن نه دی بلکې دی په خپله داسې دی چې که د خپل رب له لارښوونو مخالفت وکړي، هیڅوك نه شي کولی د الله تعالی په وړاندې پناه ورکړي، او له الله تعالی پرته به هیڅ پناه ځی ونشي موندلی، څه چې پیغمبر علیه السلام ئې په خپل واك کې لري هغه الهي پیغامونه دي چې باید خلکو ته ئې ورسوي او هغه رسالتونه دي چې باید ترسره ئې کړي.

او دا آیتونه څو اساسي مطالب افاده کوي:

الف: پیغمبر علیه السلام مکلف شوی چې دا مطلب په خپله ژبه او په پوره صراحت او بشپړ وضاحت او په زیات تأکید سره خلکو ته بیان کړي چې زه د خلکو لپاره د ګټې او تاوان واکدار نه یم، د ګټې او تاوان پریکړه د الله تعالی له لوري کېږي نه زما له لوري.

ب: د هدایت او لارښوونې توفیق د الله تعالی له لوري وي، زه چې په دې هکله څه کولی شم هغه یوازې دا ده چې الهي پیغامونه تاسو ته دررسوم، نه بل څه.

ج: نه یوازې د ګټې او تاوان واکدار نه یم، بلکې په دې باور یم چې له الله تعالی پرته بل پناه ځی نه مومم. او تاسو پوهېږئ چې داسې باور د شرك او له ماسوی الله د استعانت جرړې باسي، که پیغمبر علیه السلام له خپل هغه لوړ معنوي عظمت او د الله تعالی په نزد کې له هغه تقرب سره سره د ګټې او تاوان واك او اختیار له ځانه نفي کوي، او په دې هکله ځان کاملاً بې وسه او بې اختیاره ګڼي او وایي چې له الله تعالی پرته بل پناه ځی نه مومي، نو نور څه کاره دي چې دوی په خپله یا مریدان ئې ادعا وکړي چې د اختیار خاوندان دي، ملجأ او منجأ دي، مشکلات حلولی او حاجتونه پوره کولی شي؟!!! آیا د هغو خلکو په عقل ژړا نه ده په کار چې په داسې دروغجنو خبرو باور کوي او د دغو ټګمارانو او د دوی د دروغجنو ادعاګانو له پېژندو عاجز دي؟

د: څوك چې له الله تعالی او د ده له پیغمبر علیه السلام نه سرغړاوی وکړي، عمل ئې د یوه عاصي او سرکښ انسان عمل وي او اعتقاد ئې هغه اعتقاد نه وي

چې پیامبرصلی‌الله علیه وسلم ورته بلنه ورکوي، د دوزخ مستحق او په کې د تل پاتې کېدو ور دی.

۲۴ـ دا ډله به تر هغه په خپلې غلطې تګلارې ټینګار کوي او تر هغه به په خپل عدد او عدة، زور، ځواك او شمېر مغرور وي چې موعود عذاب او د قیامت ورځ په خپلو سترګو وګوري، هلته به پوه شي چې اتکاء او اتکال ئې پر خپل زور، ځواك او شمېر څومره بې بنسټه وو، مرستندویان ئې څومره ضعیف او شمېر ئې څومره بې ارزښته؟!!

---

**ãÎ»ã ÇËÎÈ #‰B& þÎhí ¼çq9 @èø÷ Q& br‰ãqê $B Ò ƒÎ‰& ü” íŠ& bÎ) @è**

**¼çRîù Aqߧ `Ë 4Ó?ö$ÇB ÷vÎ) ÇËÏÈ #‰n& ÿ¾Ïn?ã 4?ã ãgâ¤Ïù Ë øó$**

**ÏM»=»™Í {qã=ö ô‰ b& O=è÷Ï ÇËÐÈ #Y ¹ ‘ ¾Ïnÿùz ôÏr Ïn‰ƒ Èû/ .`Ë ã7 èó„**

**ÇËÑÈ #Šã ãó« @ä4Â ôn&r ßí‰9 $JÎ Þ%n&r ßí**

---

**۲۵ـ** ووایه: نه پوهېږم چې آیا هغه څه رانږدې دي چې وعده ئې درکول کېږي او که رب به مې د هغې تر راسېدو کوم وخت او موده وټاکي. **۲۶ـ** عالم الغیب رب چې په خپلو غیبي اسرارو هیڅوك نه خبروي. **۲۷ـ** مګر هغه پیغام وړونکي چې د (خپل پیغام د انتقال لپاره ئې) غوره کوي، نو دی ئې تر مخې او شا څارن او مراقب ټاکي. **۲۸ـ** تر څو وګوري چې د خپل رب پیغامونه ئې رسولي؟ په داسې حال کې چې د دوی په هر څه ئې احاطه کړې او هر څه ئې دقیق او په شمار شمېرلي.

---

**۲۵ـ۲۸:** دا آیتونه څو اساسي ټکې په ګوته کوي:

الف: پیغمبر علیه السلام ته لارښوونه شوې چې خلکو ته ووایي: له غیبي اسرارو خبر نه یم، نه پوهېږم چې الهي عذاب به کله رارسي، قیامت به کله وي، ژر به راشي او که له څه ځنډه وروسته.

ب: زما رب عالم الغیب دی، هیڅوك په خپلو غیبي اسرارو نه خبروي.

ج: که د وحي له لارې پیغمبرانو علیهم السلام ته د غیبي امورو په اړه څه معلومات ورکول کېږي دا اطلاع د دوی ذاتي کار نه دی، په خپله نه دي پرې پوه شوي، بلکې د وحي په ذریعه او د هغو فرشتو په واسطه پرې پوه شوي چې د وحي د انتقال دنده ورسپال شوې.

د: دا (وحي) د هغې فرشتې په لاس پیغمبر علیه السلام ته رسي چې الله تعالی ئې غوره کوي او د هغې تر مخ او شا داسې څارونکي او ساتونکي لېږي چې وکولی شي په پوره امانت او صیانت سره د دې وحي رسېدل تضمین کړي، نه په کې لاسوهنه ممکن وي او نه څه کمی زیاتی.

هـ: دا انتظامات د دې لپاره دي چې (الهي وحي) په مصئونه توگه د ده پیغمبر ته ورسېږي، سره له دې چې الله تعالی په هر څه احاطه لري، نه هیڅ څه ترې پټ پاتې کېږي او نه هیڅ څه د هغه د قدرت، سلطې او سیطرې له دائرې وتلی شي.

و: الله تعالی عالم الغیب دی، د هر څه دقیقه احصائیه له ځان سره لري، د هغه پیغام حرف حرف ئې ثبت کړی چې د فرشتو په لاس ئې خپل پیغمبر علیه السلام ته لېږي، په هغه کې هیڅ تغییر او تبدیلي ممکن نه ده.

ز: د غیبي اسرارو په اړه چې کوم علم او پوهه خپلو پیغمبرانو علیهم السلام ته ورکوي، هماغه علم او پوهه ده چې په نازل شوو کتابونو کې درج شوې، الله تعالی دغه مقدار غیبي علم خپلو پیغمبرانو علیهم السلام او د دوی له لارې خپلو نورو بندگانو ته د درك او فهم وړ گرځولی.

په دې رکوع کې د توحید په اړه دوه اساسي موضوعات تر بحث لاندې نیول شوي:

الف: الله تعالی د دې عالم د ادارې او د چارو په سمبالولو کې ئې هیڅ شریك

نلري، د ده ډېر مقرب بندګان هم د ګټې يا تاوان واك نه لري او هيچا ته په فوق العاده توګه ګټه او تاوان نه شي رسولی.

ب: الله تعالی عالم الغيب دی، هيچا ته ئې علم غيب نه دی ورکړی.

د دې دواړو اساسي موضوعاتو د توضيح لپاره لږ مفصل بحث مفيد ګڼو.

## آيا الله تعالی د امورو په سمبالولو کې شريك لري؟

له قرآنکريم نه د بېلتون او غفلت په سبب د مسلمانانو په منځ کې ګڼ شمېر داسې عقايد خواره شوي چې د اسلام له اساساتو سره ټکر کوي او قرآن ئې د توحيد منافي او د شرك عامل شمېري او د هغه د نفي لپاره ئې مفصل بحثونه کړي.

له دغو عقيدوي انحرافاتو نه يو هم په ربوبيت کې شرك دی، په دې معنا چې ځوك د کائناتو په اداره او د امورو په سمبالولو کې ئې له الله تعالی سره بل ځوك شريك وګڼي او دا عقيده ولري چې الله تعالی د کائناتو اداره او د امورو تدبير ئې په يوازې توګه نه کوي بلکه کارونه ئې له نورو ذواتو سره ويشلي، ځينې په خپله کوي او ځينې نور ئې هغوی ته سپارلي او هغوی ته ئې دا واك ورکړی چې د خپلې خوښې مطابق په کې تصرف وکړي. دا ډله خلك يا دا ګمان کوي چې: الله تعالی د دنيا او عالم له پيدايښت او په هغه کې د ضوابطو له وضعه کولو نه وروسته دا مخلوقات په خپل حال پرېښي، امور او کارونه په خپله د الهي مقدراتو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، ټول کارونه همداسې په خپل سر د الهي سننو مطابق روان دي، الله تعالی نه هيڅ مداخله په کې کوي او نه دې ډول مداخلې ته څه ضرورت ليدل کېږي!! او يا دا ګمان کوي چې: الله تعالی هم لکه د دنيوي واکمنانو په شان د خپلې پاچايۍ د چارو د ادارې او سمبالولو په خاطر هره برخه يوه چاته سپارلې ده او په همدې برخه کې ئې همدا کس خپل نائب او د چارو (قيم) او (متصرف) منلی دی!! اوس که ځوك په دې برخه کې له کوم مشکل سره مخامخ کېږي نو بايد د همدې برخې قيم، وصي او متصرف ته مراجعه وکړي، له هغه مرسته وغواړي او له دې لارې خپل مشکل حل کړي، په دې معنا چې د الله تعالی دربار ته له رجوع نه مخکې بايد دغو متصرف او قيم ذواتو ته مراجعه وشي، له دوی نه د خپلو

مشکلاتو د حل غوښتنه وشي او یا له همدې لارې، د مراتبو د تسلسل مراعات سره پوړ په پوړ پورته ولاړ شي او خپل سوال د الله تعالی در بارته وړاندې کړي، دوی وايي: که د الله تعالی د پاچايۍ دا واکمن مأمورين، هغه چې ته ئې د امورو په تدبير او د چارو په اداره کې د الله جل شأنه نائب او وکيل شمېرې؛ که دا متصرفين ستا د مشکلاتو د حل وس او توان لري، ستا فرياد اورېدی شي او ستا دعاګانې اجابت کوی شي، نو بيا څه ضرورت دی چې د مراتبو د تسلسل له مراعات نه پرته او مستقيما د الله دربار ته د مراجعې بې باکي کوې؟!! خپل حيثيت دې وپېژنه، هغه ځای ته د تلو بې ځايه هڅه مه کوه چې نه ئې اهليت لرې او نه توان، دا خبره ومنه چې د الله تعالی دربار داسې دروازې لري چې د هر چا په وړاندې نه پرانيستل کېږې او داسې ساتونکي لري چې هرچا ته د نږدې کېدو اجازه نه ورکوي!! دې دربار ته د رسېدو لپاره وسيلې، واسطې او سپارښت کوونکي ته اړتيا شته، دا واسطې او سپارښت کوونکي وپېژنه، د هغوی لاس او لمن ونيسه، ترڅو د الله دربار ته لار پيدا کړې او دروازه ئې در ته پرانيستل شي، دا د الله جل شأنه په هکله د مشرکينو ګمان وو، راشئ وګورو چې قرآن په دې هکله څه وايي:

إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ* يونس: ٣

بې شکه چې ستاسې رب هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړه، بيا ئې په عرش استوا وکړه، چارې سمبالوي، هيڅ داسې شفاعت کوونکی نشته چې د ده له اذن او اجازې پرته شفاعت وکړی شي، دا ستاسې رب دی، نو د ده عبادت وکړئ، آيا عبرت نه اخلئ.

دا مبارك آيت لاندې مهم مطالب بيانوي:

- الله تعالی ځمکه او آسمانونه په شپږو تکويني مراحلو کې پيدا کړل.
- آسمانونه او ځمکه ئې له پيدايښت نه وروسته مهمل او خپلې مخې ته نه ده پرېښې، بلکې په هغه عرش ئې د ټولو موجوداتو د مالك، حاکم او واکدار په حيث

استوا وکړه چې ځمکه آسمانونه ورنه لاندې دي. د دې پراخې هستې د ټولو امورو تدبير ئې په خپل واك او اختيار کې ساتلی دی.

- هيڅوك د الله تعالی له اذن او اجازې پرته د هغه په وړاندې د شفاعت او سپارښت توان او صلا حيت نلري، هغه د دنيا د پاچايانو په څېر نه دی چې د نورو سپارښت او شفاعت ته اړ وي، داسې نه ده چې بايد بل څوك يو مظلوم ور معرفي کړي، بل څوك د چا د لياقت او اهليت په هکله معلومات ورکړي او د ده او بنده ترمنځ واسطه شي.
- هغه رب او پالونکی چې بايد يوازې د هغه عبادت وکړې او يوازې له هغه نه مرسته وغواړې، صفات ئې دا دي: د ټولې هستۍ خالق، ستا او د ټولو مخلوقاتو رب او پالونکی دی، په عرش ئې استوا کړې، د هرڅه مالك او واکدار دی، د هستۍ د ټولو امورو د تدبير اختيار ورسره دی، ستا او هغه ترمنځ د رابطې لپاره هيڅ وسيلې، واسطې، سپارښت او شفاعت کوونکي ته ضرورت او اړتيا نشته. دا درس بايد درته پند وي او د هغه په رڼا کې نېغه لاره له کړېږ نه ببله کړې او د الله تعالی له دربار نه پرته بل دربار ته له رجوع او پناه وړلو نه ځان وساتې. قرآنکريم په بل آيت کې په دې هکله فرمايي:

قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنْ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَمَّنْ يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَمَنْ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنْ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنْ الْحَيِّ وَمَنْ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ * يونس:۳۱

ووايه: څوك له آسمان او ځمکې نه تاسې ته روزي درکوي؟ او څوك ستاسې د غوږونو او سترګو مالك دی؟ او څوك ژوندی له مړه نه او مړی له ژوندي نه راوباسي؟ او څوك چارې سمبالوي؟ دوی به حتماً وايي: چې الله، نو ورته ووايه: آيا نه ويريږئ (ځانونه نه ساتئ)؟

په دې مبارك آيت کې دا اساسي مطالب زمونږ مخې ته ابښودل شوي:

- دا خو يوازې الله تعالی دی چې د رزق او روزي انتظام ئې په واك کې دی ،که له آسمانه باران راوربږي، که د لمر وړانګې پرځمکه لګېږي او له ځمکې نه ميوې او

داني راټوکېږي او که څمکه ستاسې لپاره په خپله غېږ کې د ځښنلو او به ساتي او په دې ترتيب سره ستاسې د روزۍ اسباب او وسايل برابروي، ووائئ داسې کوم څوك شته چې په دې کارونو کې له الله تعالی سره شريك وي؟

- ستاسې د غوږونو او سترګو اصلي او حقيقي مالك څوك دی؟ دا نعمتونه چا درکړي او دا د چا په ارادې ستاسې په خدمت کې دي او تاسې ته لار ښيي؟ که خدای اراده وکړي چې دا سترګې او غوږونه درنه واخلي، آيا داسې څوك شته چې بېرته ئې درکړای شي؟
- آيا له الله تعالی نه پرته په دې ټولو موجوداتو کې داسې څوك شته چې له مړي نه ژوندی او له ژوندي نه مړی راوباسي؟ د مرګ او ژوند فيصله څوك کوي؟ د چا په حکم سره مړه خاوره په دانو او مېوو بدلېږي او بيا د انسان او حيوان په بدن کې ژوندی نطفه ترې جوړېږي؟
- په دې پراخ کائنات کې چې په هره برخه کې ئې حرکت، خوځښت او د کمال په لور هاند او تحرك دی، هرې خوا ته ئې نظم او نسق، ښکلا او ښايست دی، هرڅيز له نيست نه هست کېږي، بيا وده مومي، د کمال په لور درومي او کله چې د کمال او ودې يوه ثابت حد ته ورسېږي نو د زوال مرحله ئې پيل شي او په مرګ محکوم شي، پناه شي او ځای ئې بل ته تش شي. څوك دی چې دا ټول امور اداره او تنظيموي؟ آيا له دې پرته چې ووايو او اعتراف وکړو چې د دې هستۍ د ټولو امورو تدبير د الله تعالی په لاس کې دی، آيا له دې اعتراف نه پرته بله چاره لرو؟ قرآنکريم څه ښه فرمايي:

اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَفْعَلُ مِنْ ذَلِكُمْ مِنْ شَيْءٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ * الروم:۴۰

الله هغه ذات دی چې تاسې ئې پيدا کړئ، بيا ئې تاسې ته روزي درکړه، بيا تاسې وژني، بيا مو بېرته راژوندي کوي، آيا ستاسې له شريکانو نه داسې څوك شته چې له دې کارونو نه کوم يو وکړای شي؟! پاکي ده الله لره او هغه لوړ دی له هغه څه نه چې دوی ئې ورسره شريك ګرځوي.

يعني ستاسې په پيدايښت کې، ستاسې په رزق او روزي کې او ستاسو په مرګ او ژوند کې هيڅوك له خداى سره شريك نه دى، الله تعالى له دې عيبه پاك او له دې نه لوړ دى چې په دې کارونوکې څوك د ځان شريك ونيسي. قرآنکريم په يوه بل آيت کې لکه څرنګه چې خلقت په الله تعالى پورې مختصوى او د ماسوى الله اشتراك په کې له بنياده نفي کوي همداراز د امورو تدبير او انتظام هم په الله پورې مختص شمېري او په دې کار کې هم د بل چا شراکت نفي کوي، فرمايي:

إِنَّ رَبَّكُمُ اللّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلاَ لَهُ الْخَلْقُ وَالأَمْرُ تَبَارَكَ اللّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ * الاعراف:۵۴

بې شکه چې ستاسې رب هغه الله دى چې ځمکه او آسمانونه ئې په شپږو ورځو (شپږو تکويني مراحلو)کې پيدا کړي، بيا ئې په عرش استواء وکړه، د شپې پرده په ورځې غوړوي، (يوه بله) په تلوار لټوي، لمر، سپوږمۍ او ستوري د هغه حکم ته تابع دي، پوه شه چې پيدايښت او امر ده لره مختص دى، د عالمونو رب او پالونکى بابرکته دى.

قرآنکريم په خلقت او امر کې د ماسوى الله يعنې له الله نه پرته د بل هرچا هر راز ونډه نفي کوي او فرمايي:

يَاأَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَن يَخْلُقُوا ذُبَاباً وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ وَإِن يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئاً لَا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ* مَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ *

الحج: ۷۳-۷۴

اې خلکو! يو مثال راوړل کېږي، ورته غوږ شئ: بې شکه څوك چې تاسې له الله پرته خپلې مرستې ته رابولئ، يو مچ هم نه شي پيدا کولی او که دا مچ څه ترې وتښتوي نه ئې شي ورنه ژغورلی، طالب او مطلوب دواړه بې وسه شول، د الله تعالى قدر ئې لکه څنګه چې له ده سره ښايي نه دى پېژندلی، بې شکه چې الله زورور عزتمند دى.

یعني له الله تعالی نه پرته چې تاسې له بل هر څه او هرکس نه مرسته وغواړئ، که دا په آسمان کې وي او که په ځمکه کې، انسان وي که فرشته، ژوندی وي که مړ، یو هم نه شي کولی یوه وړه او حقیره حشره پیدا کړي او که دا حشره څه ترې وتښتوي نو د هغه د ژغورنې توان هم نه لري، نه څه شی پیدا کولی شي او نه ئې ژغورلی شي، په دې معامله کې طالب او مطلوب دواړه کمزوري او بې وسه دي، مطلوب کمزوری او بې وسه دی ځکه چې نه د کوم څیز د خلقت او پیدا کولو توان لري او نه پر نورو د حکمرانۍ او واکمنۍ قدرت ورسره شته او طالب ځکه کمزوری او ضعیف دی چې په داسې یوې بې وسه او کمزورې متکاء ئې تکیه وکړه او مرسته یې ترې وغوښته چې د هیڅ څه واك او توان نلري.

د قرآنکریم لومړنی درس، د دې الهي کتاب په لومړني آیت کې په دې ټکي ټینګار کوي چې:

**الحمد لله رب العالمین:** ټولې ستاینې هغه الله لره دي چې د عالمیانو رب او پالونکی دی.

یعني دا کائنات داسې رب او پالونکی لري چې د هرڅه پالنه کوي، د هستي د هرې برخې ساتنه او د چارو سمبالول ئې په واك کې دي او په ټولو امورو کې د رب په حیث تصرف کوي. د خدای د ربوبیت نفي یا **تعطیل** او دا اعتقاد چې الله تعالی د مخلوقاتو له پیدا کولو وروسته د امورو اداره او د چارو سمبالول ئې په کائناتو حاکمو ضوابطو او سننو ته پرېښې، همداراز په ربوبیت کې شرك یعني دا باور چې د کائناتو د امورو په اداره کې خدای شریك لري، دا دواړه (د ربوبیت نفي او په ربوبیت کې شرك) د قرآنکریم له بنیادي او اساسي مفاهیمو سره ټکر او تناقض لري. نه پوهېږو هغه کسان چې د دې ډول شرك مرتکب کېږي، د قرآن هغه په سلګونو آیتونه څنګه توجیه کوي چې په پوره صراحت او قاطعیت سره په دې خبرې ټینګار کوي چې یوازې الله تعالی د ټولو امورو متصرف او پالونکی دی؟! دا ډله د دې آیتونو په هکله څه وایي:

وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُور الحج: ۴۱

د ټولو امورو پایله الله لره ده

وَإِلَى اللّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ* البقره: ۲۱۰

ټول کارونه د الله په لوري ګرځول کیږي

أَلا إِلَى اللّهِ تَصِيرُ الأُمُورُ* الشورى: ۵۳

پام چې ټول کارونه د خدای لور ته ورګرځي

قُلْ إِنَّ الأَمْرَ كلَّهُ للّه آل عمران: ۱۵۴

ووایه چې بې شکه کارونه ټول الله لره دي

پداسې حال کې چې قرآنکریم؛ رسول الله علیه السلام ته فرمايي چې ته د هيڅ شي واك او اختيار نلرې، دا په الله تعالی پورې اړه لري چې د چا توبه قبلوي او چا ته عذاب ورکوي، دا يوازې د خدای جل شأنه کار دی، نه په تا پورې اړه لري او نه بل چا پورې، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هکله چې حکم دا وي نو د نورو عادي خلکو په هکله به حکم څه وي؟

الله تعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته فرمايي:

لَيْس لَك مِنَ الأَمْرِ شيْءٌ أَوْ يَتُوب عَلَيهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظلِمُونَ*

آل عمران:۱۲۸

د چارو هيڅ څه په تا پورې اړه نلري، يا به ئې توبه قبلوي او يا به ئې د دې لپاره تعذيبوي چې ظالمان دي.

قرآنکریم په ربوبيت کې د شرك د نفي او ترديد لپاره په دې قاطع دليل او حجت استدلال کوي چې که په ځمکه او آسمان کې له يوه خدای نه پرته نور خدايان وی نو حتماً به د ځمکې او آسمان ټولې چارې مختل او هر څه به تباه شوي وو، دا ځکه چې په هغه صورت کې به هر خدای له خپلی خوښې سره سم د دی عالم اداره غوښتله، د آراوو اختلاف، په اجراءاتو او تصرفاتو کې د ارادو تعدد به حتماً په ټکر او تصادم منتج کېدو او دا به په کائناتو کې د لويې تباهی سبب جوړېدو. په هستي او کائناتو کې دا حاکم نظم او نسق په دې دلالت کوي چې د مخلوقاتو د امورو د تدبير واك او اختيار له يوه ذات سره دی.

لَوْ كانَ فِيهِمَا ءَالِهَةٌ إِلا اللّهُ لَفَسدَتَا فَسبْحَنَ اللّهِ رَب الْعَرْشِ عَمّا يَصِفُونَ * الانبياء:۲۲

که په آسمان او ځمکې کې له الله پرته نور خدايان وی؛ دواړه حتماً تباه کېدل، نو د دوی له ستايلو نه د عرش پالونکي الله لره پاکي ده.

د قرآنکريم ترټولو ستر او مبارك آيت (آيت الکرسي) په دې رابطه فرمايي چې الله تعالی د ټولو موجوداتو د امورو مدبر او قيوم دی، د هرڅه قوام له ده نه دی، يوه لحظه هم د کائناتو له ادارې څخه نه غافل کېږي، د ځمکې او آسمان د هرڅه مالك دی، هيڅوك ئې په وړاندې له اجازې پرته د شفاعت توان نلري، په پټو او ښکاره شيانو عالم دی، د نورو علم هم د ده ورکړه ده، د ده په حکم او اذن سره له څه خبرېدی او په څه پوهېدی شي، د هغه د اقتدار کرسۍ پر آسمانونو او ځمکې احتواء کړې ده، ټول شيان ورنه لاندې دي، د دې ارت عالم ساتنه او تنظيم د هغه د ستړيا سبب نه کېږي. فرمايي:

اللّهُ لَا إِلَهَ إِلّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلّا بِإِذْنِه يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِه إِلّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ * البقرة:۲۵۵

الله هغه ذات دی چې له ده پرته بل معبود نشته، همغه ژوندی قيوم ذات، نه خوب ورباندې راځي او نه پرموښی، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکې کې دي، ټول هغه لره دي، دا به څوك وي چې د ده له اجازې پرته د ده په وړاندې شفاعت وکړی شي، په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخې ته دي يا ئې شاته دي او دوی د ده له علم څخه يوازې په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي، د قدرت او واکمنۍ کرسۍ ئې پر آسمانونو او ځمکې حاوي ده او د دوی دواړو ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه لوړ ستر ذات دی.

قرآنکريم د ربوبيت د جزئي او کلي تعطيل د نفي او د دې مفهوم د اثبات لپاره چې خدای په دايمي او دوامداره توګه له يوې شېبې غفلت نه پرته د عالم امور اداره

او سمبالوي او همدا راز د دې مطلب د اثبات لپاره چې ټول مخلوقات د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره الله ته رجوع کوي او هغه ئې اړتیاوې پوره کوي، فرمايي:

يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ * الرحمن:۲۹

څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي ټول ده ته سوال کوي ، دی هره شيبه په يوه کار کې دی.

دا او په لسګونو نور آيتونه د دې لپاره کافي دي چې ووايو: هرڅوك چې د هستي د چارو په اداره او تدبير کې له خدای سره شريك ونيسي، هغه په حقيقت کې قرآنکريم تکذيب کړی، د شرك مرتکب شوی او د توحيد له دايرې او د موحدينو له ډلې وتلی دی.

## علم غيب

د جن د سورې د بحث محوري او اساسي موضوع دا ده چې په غيب له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي، نه پيغمبر عليه السلام پوهېږي، نه فرشتې او نه جن. د سورې پيل په دې شوی چې پيغمبر عليه السلام حتی له دې هم خبر نه شو چې د پېريانو يوې ډلې د ده تلاوت اورېدلی او ايمان ئې راوړی، او د سورې په پای کې دا ويل شوي چې:

عَالِمُ الْغَيْبِ فَلاَ يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَداً * الجن: ۲۶

په غيب پوه رب چې هيڅوك په خپلو غيبي اسرارو نه خبروي.

دا مطلب په دې سوره کې هم مکرر راغلی او د قرآن په ډېرو نورو آيتونو کې هم په تکرار او تأکيد سره راغلی چې په ځمکه او آسمان کې له الله تعالی پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي. په دې هکله تفصيلي بحث د آل عمران د سورې د ۱۷۹ آيت په شرحه کې راغلی امېد دی هلته رجوع وشي.

د قرآن دغه قاطع او صريح آيتونه کافي دي چې د هغو رواياتو په منلو کې ډېر تأني، دقت او احتياط وکړئ چې پيغمبر عليه السلام يا بل چا ته علم غيب

ثابتوي، او هغه مذهب او مسلك لرې وغورځوئ چې له الله تعالی پرته بل څوك عالم الغيب او متصرف الامور ګڼي.

# المزمل

**د سورې معرفي:**

د دې سورې نوم المزمل (ځان په جامه کې نغښتونکی) دی، شل آیتونه لري، لومړی آیت ئې د مزمل په صیغه ختم شوی، له دوهمه تر نولسم پورې د آیتونو فواصل قلیلا ته ورته وزن لري، او شلم آیت ئې که څه هم تر نورو آیتونو ډېر اوږد دی خو له څو لنډو فقرو جوړ شوی او د رحیم په لفظ پای ته رسېدلی، ښکلی غږ او خوندور مد و جذر لري. د سورې له متنه معلومېږي چې لومړۍ برخه ئې (له لومړي تر نولسم آیت پورې) په مکه کې او هغه وخت نازله شوې چې د پیغمبر علیه السلام د دعوت لمنه پراخه شوې، د ده ورځني مصروفیتونه ئې زیات کړي، دښمن د خطر احساس کړی، د ده او د ده د یارانو په ځورولو ئې لاس پورې کړی، له یوې خوا درنو مصروفیتونو او له بلې خوا د دښمن ورځ په ورځ زیاتېدونکو مخالفتونو له ده تقاضا کوله چې لا زیات صبر وکړي، خپلې اړیکې له خپل مهربان رب سره لازیاتې مضبوطې کړي، په قیام الیل، د شپې په زړه کې د قرآن تلاوت، او د الله تعالی په مسلسل ذکر سره خپل زړه لازیات مضبوط کړي، خپل عزم ټینګ، خپله اراده پخه، او خپل عزم او همت لا زیات لوړ کړي.

د سورې دوهمه برخه چې وروستی اوږد آیت احتوا کوي، په مدینه منوره کې

او په هغه وخت کې نازله شوې چې د مسلحانه جهاد مرحله پیل شوې وه.

لومړۍ برخه په دغو اساسي ټکیو ترکیز کوي:

الف: پیغمبر علیه السلام ته لارښوونه کوي چې د ورځنیو داعیانه مصروفیتونو د زیاتېدو په تناسب باید خپلو معنوي چارو، تلاوت او د شپې لمونځونو ته تر مخکې زیات توجه وکړي، د شپې یوه برخه په لمانځه او تلاوت تېره کړي او خپل خوب راکم کړي.

ب: د شپې په خاموش او آرامه فضاء کې د قرآن تلاوت او لمونځ تا د رسالت د ګران بار د حمل لپاره چمتو کوي او په درنو، لوړو او عظیم الشأن الهي پیغامونو د لا ښه پوهېدو توفیق درکوي، د شپې په زړه کې راوېښېدا او په هغې کې د الله تعالی عبادت په انسان کې دا استعداد تقویه کوي چې په دروند قول ښه پوه شي او خپل ما في الضمیر په ښه او واضح توګه بیان کړي.

ج: ورځني مصروفیتونه، ازدحام، شور او ځوږ ئې د انسان زړه، دماغ، سترګې، غوږونه او ټول حواس مشغول ساتي، په مهمو قضایاوو او په ژورو خبرو د غور او تفکر مجال او امکان ترې سلبوي.

د: نه یوازې دا چې د شپو په خلوت کې په لمانځه او تلاوت سره باید په ورځنیو مشغولتیاوو کې خپل مصروفیت جبران کړي، بلکې باید هغه رب د ځان لپاره د کفیل او وکیل په حیث کافي وګڼې چې له ده پرته بل اله نشته، شپه ورځ د ده په اراده راځي، لمر دی له مشرقه راپورته کوي او دی ئې په مغرب کې پرېباسي، له ده پرته په بل څه زړه مه تړه.

هـ: د دښمن د تبلیغاتو، آزار، اذیت او ځورونو په وړاندې صابر او ثابت قدمه اوسه، په غوره او نېکه توګه ترې بېل شه او خپلې اړیکې ورسره غوڅې کړه.

و: هغه چې تا نه مني، ستا د مخالفت او ستا د دعوت د تکذیب لپاره ئې ملا تړلې، خپل ثروت او قدرت ستا په خلاف استعمالوي، د دوی کار الله تعالی ته مفوض کړه، لږ مهلت ورکړه، مطمئن اوسه چې حسیب خدای به حتماً دوی ته مناسبه سزا ورکوي.

ز: د دغو شتمنو مکذبینو لپاره د الله تعالی په نزد کې عبرتناك عذابونه، د دوزخ لمبې، په ستونې کې نښتونکی خوراك او دردناك عذابونه دي.

ح: دا رنګ رنګ عذابونه به په هغه ورځ د دوی په برخه کېږي چې غرونه او ځمکه به په کې وخوځي او غرونه به د شګو ډېران ته ورته شي.

ط: ستا د مخالفینو پایله به همغسې وي لکه د فرعون، دوی دې خپل برخلیك او د خپل عصیان او بغاوت پایله د فرعون د عصیان او بغاوت په عبرتناك داستان کې ولولي، هغه ته هم الله تعالی یو پیغمبر ورولېږو، چې د هغه دښمني ته ئې ملا وتړله، او الله تعالی په شدید عذاب مجازات کړ، د الهي عذاب متروکې ئې پرله پسې پر سر سر راپرېوتې. تاسو ته مو هم شاهد استاځی درولېږو، پام چې چلند او پایله مو د فرعون د چلند او پایلې په څېر نه شي.

ی: که د کفر او بغاوت لار مو غوره کړه، نو څنګه به د قیامت د هیبتناکې او سترې ورځې له شدید عذابه خوندي پاتې شئ، هغه ورځ چې رعب او هیبت ئې ماشوم بوډا کوي، هغه ورځ چې له هیبته به ئې آسمان ټوټې ټوټې شي!! دا ورځ یقیني ده خامخا به راځي.

ك: د هغې ورځې له رارسېدو نه مخکې الله ته رجوع وکړئ، الله تعالی ته د رسېدو لار غوره کړئ، هغه لار چې الله تعالی ته مو ورنږدې کوي.

د سورې په دوهمې برخې کې چې له لومړۍ برخې څو کاله وروسته نازله شوې لاندې اساسي مطالب لولو:

الف: پیغمبر علیه السلام به د مخکنۍ الهي لارښوونې په حکم کله د شپې دوه برخې، کله نیمایي او کله دریمه برخه په قیام لیل او د قرآن په تلاوت تېروله.

ب: د ده ډېرو یارانو به هم په دې سنت عمل کاوو او د شپې یوه برخه به ئې قیام لیل او تلاوت ته بېلوله.

ج: اوس او د دغه آیت د نزول په وخت کې مسلمانان په داسې وضعیت کې ول چې په قیام لیل کې د تخفیف اجازه ورکړې شوه، دا تخفیف یا د دې لپاره وو چې د دعوت او مبارزې په کار کې د مسلمانانو مصروفیتونه پراخ او زیات شول، او یا د

دې لپاره چې اوس ئې کافي روزنه شوې، په خپله هم پوخوالي ته رسېدلي او ټولنه ئې هم داسې چې د خیر لاملونه په کې فعال او نشیط دي، محیط نظیف او فضاء ئې شفاف ده، او د شر او فساد عوامل په کې ځپل شوي، په داسې سالم محیط کې که د قیام لیل په سنت کې تخفیف راشي او د ځان جوړولو او معنوي ارتقاء لپاره تر مخکې لږ وخت وټاکلی شي، جدي ستونزه نه راولاړوي، په مخکني کثیف محیط او شرك ځپلې ټولنې کې چې په هر لوري کې ئې د شر او فساد عوامل فعال وو او هر څه انسان ګناه ته رابلو او عصیان او فساد ته ئې هڅاوو، هلته دې ته ضرورت وو چې د افرادو معنوي روزنې او ځان جوړونې ته زیات اهتمام وشي او زیات وخت ورته مختص کړی شي.

د: اوس کولی شي په دې منصوبې کې تعدیل راولي، د قیام لیل موده او وخت رالنډ کړي، او په هغه کې د قرآن تلاوت هم دومره مختصر او محدود کړي چې دوی ته میسور او مقدور وي.

هـ: ډېرو مسلمانانو به په دې سنت عمل کاوو، څوك به چې بیمار شو، یا به په سفر ووتو او تجارت به ئې کاوو او یا به د جهاد په سنګرونو کې مصروف شو، په دې سنت التزام به ورته ګران شو، د دې آیت له نزوله وروسته د دوی پېټی سپك کړی شو او د قرآن د ممکن او میسر مقدار په تلاوت اکتفا وشوه.

و: د دې مختصر او آسان قیام لیل په څنګ کې باید د خپلو نورو لمونځونو اقامې ته جدي اهتمام او پاملرنه وکړئ، د خپل مال زکات ورکړئ، د الله تعالی په لار کې خپلې شتمنۍ انفاق کړئ او ډاډه اوسئ چې هر څه د الله تعالی لپاره قربانۍ ته وړاندې کړئ، الله تعالی به ئې په خپلې ذمې د پور او قرض په توګه نیسي، حتماً به ئې د ده په خوا کې بیامومئ، همدا ستاسو لپاره غوره دي او د ستر اجر د لاس ته راوړو وسیله.

ز: تل باید له رب نه بخښنه وغواړئ، د شپو قیامونه، د قرآن تلاوتونه، لمونځونه، زکاتونه، او د الله تعالی په لار کې قربانۍ باید تاسو له استغفار او د بخښنې له غوښتو مستغني نه کړي، په هر حالت کې باید داسې احساس درسره وي

چې د خپل رب د بندګۍ حق مو نه دی ادا کړی، لکه څنګه چې ښايي هغسې مو د ده عبادت نه دی کړی، کمی او قصور درنه شوی، لاډېر وروسته پاتې يئ او د الله تعالى بخښنې ته محتاج يئ.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

---

۱۔ آی اې په جامو کې نغښتيه!! ۲۔ د شپې پاڅه پرته له لږ. ۳۔ نيمايي ئې يا ترې راکم کړه لږ. ۴۔ يا پرې زيات کړه او قرآن لوله په صفا لوستلو. ۵۔ بې شکه چې ژر به نازل کړو پر تا درنه وينا. ۶۔ بې شکه چې تر پښو لاندې کولو کې د شپې پاڅېدونکی مضبوط وي او په وينا کې تکړه. ۷۔ يقيناً چې تا لره د ورځې اوږده مشغولتيا وي. ۸۔ او د خپل رب نوم يادوه، او د ده په لوري په ښه بېلېدو بېل شه. ۹۔ د ختيځ او لوېديځ رب، چې له ده پرته بل اله نشته، نو ځان ته ئې وکيل نيسه.

---

۱۔۴: په دې آيتونو کې پيغمبر عليه السلام د مزمل (په جامه کې نغښتی) په نوم ياد شوی، د (مزمل) لفظ هغه حالت افاده کوي چې انسان د وېده کېدو لپاره

څادر په ځان راخوروي، که څه هم دلته خطاب پیغمبر علیه السلام ته متوجه دی خو د دې لپاره چې د مزمل په لفظ سره خطاب عام شوی نو ځکه ویلی شو چې دا خطاب د قرآن هر مخاطب ته هم راجع دی، د پیغمبر علیه السلام صحابه وو له دې آیته همدا مطلب اخیستی، د همدې لپاره ئې په قیام لیل کې د خپل لاربنود ملګرتیا کوله، د دې سورې په شلم آیت کې د دې رایې په تائید کې څه نښې هم ګورو: هلته لولو چې نه یوازې پیغمبر علیه السلام د شپې دوه برخې، نیمایي او درییمه برخه په قیام لیل او د قرآن په تلاوت تېروله بلکې د ده یارانو هم په دې سنت عمل کاوو، او په هماغه آیت کې لولو چې اوس ئې درته عفوه وکړه او دا اجازه ئې درکړه چې په دې کې تخفیف وکړئ او هومره تلاوت وکړئ چې درته آسانه وي، که په لومړني آیت کې خطاب عام نه وی او ټول مخاطبین ئې نه احتوا کولی نو باید په شلم آیت کې د جمعې د صیغې (فتاب علیکم) په ځای د مفرد صیغه (فتاب علیك) او (فاقرءوا) په ځای (فاقرأ) راغلې وی.

څلور لومړني آیتونه د قیام لیل په اړه لاندې مطالب هم زمونږ مخې ته ږدي:

الف: د شپې پاڅه، له لږ برخې پرته ئې په وېښه، لمونځ او د قرآن په تلاوت تېره کړه، داسې نه چې ټوله شپه دې څادر پر ځان غوړولی او په خوب ئې تېره کړې، د اوږدو اوږدو خوبونو دور تېر شوی، نور نو له ځان جوړونې نه د غفلت، او د ټولنې د جریاناتو په هکله د بې اعتنائي مرحله پای ته رسېدلې، له خوبه پاڅه، ملا وتړه.

ب: د شپې نیمایي دې د قیام لیل لپاره وټاکه، کولی شې چې کله څه پرې زیات کړې او کله څه ترې کم.

ج: قرآن په پوره فصاحت، وضاحت او په بشپړ تأمل او دقت تلاوت کوه، ستا د قیام لیل تر ټولو مهمه برخه په تأمل او دقت سره د قرآن تلاوت دی.

**۵**: په دې آیت کې مونږ ته ویل شوي چې د (قیام لیل) ګټه څه ده، ولې تاسو ته د دې سپارښتنه شوې چې د شپې یوه برخه د لمانځه او تلاوت لپاره مختص کړئ؛ وایي: د دې سپارښتنې موخه دا ده چې په دې سره ته په قول ثقیل (درنه وینا) د

پوهېدو جوګه کېږي، کوم دراك استعداد او حساس ذهن چې د ثقيل قول، درنې وينا او ژور کلام په پېچلو، پراخو او ظريفو ابعادو د ښه او دقيق پوهېدا لپاره ضروري دی، هغه د همدې قيام ليل په ترڅ کې په انسان کې وده کوي. له (قول ثقيل) نه مراد قرآن مجيد دی چې د آيتونو محتوی او مفهوم ئې لوړ او ژور، وعدې ئې ګرانې، انسان ته چې کوم مسئوليتونه سپاري هغه ډېر ستر ستر او درانه، عمل پرې ګران او د لوړ همت او عزم غوښتونکی، د قرآن له القاء نه مراد يا دا دی چې خطاب متوجه پيغمبر عليه السلام ته دی او هغه ته ويل شوي چې په قيام ليل او د قرآن تلاوت سره به د قرآن د نورو درنو درنو برخو ترلاسه کولو ته لازيات چمتو شې، دا درنې برخې به ډېر ژر پر تا نازلې کړو، او يا ئې مراد دا دی چې د شپې په زړه کې د قرآن په تلاوت سره به ته د قرآن د آيتونو په ژورو او پراخو معانيو او مفاهيمو لا ښه پوه شې، د قرآن د اسرارو دروازې به ستا پر مخ پرانيستی شي.

۷ـ د (ناشئة) لپاره دوه ترجمې او د همدغو ترجمو له مخې د دې آيت لپاره دوه تفسيرونه مومو:

الف: ځينو (ناشئة) په مصدري معنا اخيستې او آيت ئې داسې ترجمه کړی: دا د شپې پاڅېدا سخته ده (د نفس) ترپښو لاندې کولو په سبب، او ښه محکمه ده د وينا کولو لپاره. يعني د شپې له خوبه راپاڅېدا ګران کار دی، په نفس پښه ايښودل او د مشقت منلو ته ئې د تيارولو مترادف ده، او د قرآن د ويلو لپاره مناسب وخت دی.

ب: خو نورو (ناشئة) په خپلې اصلي معنا، (اسم فاعل) نيولې، او د دوی له نظره د آيت ترجمه او تفسير داسې دی: بې شکه چې تر پښو لاندې کولو کې د شپې پاڅېدونکی مضبوط وي او په وينا کې تکړه. يعني د شپې پاڅېدونکی د خبرو مغز ته د رسېدو او په ټولو اړخونو ئې د ښه پوهېدو لپاره جوګه وي او د خپل ما في الضمير په بيانولو کې ښه تکړه وي.

دا دوهم تعبير په دوه دليله دقيق او غوره دی:

- د (ناشئة) اصلي معنا په کې مراعات شوې. دا سمه نه ده چې هسې او له کوم

دليل او مجبوريته پرته د لفظ اصلي معنا پرېږدو او محتمل غير اصلي معنا ئې اختيارکړو.

- د دې لفظ مصدري معنا د دې آيت واضح او روښانه مفهوم نه شي افاده کولی، چا چې دا معنا غوره کړې د آيت د واضح مطلب په بيانولو کې له اشکال سره مخامخ شوي او په تکلف سره توانېدلي چې د فهم وړ تعبير وړاندې کړی شي، خو دومه توجيه هم واضح ده او هم دا آيت له مخکنيو سره همغږی کوي.

د (اشد وَطْأً) په ارتباط هم د مخکني اختلاف رأی په وجه څو تفسيرونه مومو:

- قيام ليل ګران کار دی، د انسان په نفس ګران تمامېږي، د انسان نفس مهاروي او انسان ته د دې مجال ورکوي چې خپل هوس تر پښو لاندې کړي. دا خبرې په خپل خپل ځای کې سمې دي خو د دې آيت الفاظ دا مفاهيم نه افاده کوي، مګر په ډېر تکلف سره او د الفاظو د اصلي معنا په ځای د غيراصلي معاني راوړلو سره.
- د شپې پاڅېدونکی انسان کولی شي د خبرو مغز ته ورسېږي او په ټولو اړخونو ئې ښه وپوهېږي، ذهن ئې حساس شي، ځيرکتيا ئې په برخه شي، او په ژورو خبر د پوهېدو جوګه شي او د خپل ما في الضمير په بيانولو کې ښه تکړه شي. يعني که څوک غواړي د قرآن په دې باعظمته کتاب پوه شي، د شپې له پلوه دې د هغه تلاوت ته ملا وتړي، او که څوک غواړي د خپل ذهن او فکر خبرې په اغېزمنه بڼه کې نورو ته انتقال کړي نو د شپې له پلوه دې هغه ترتيب کړي.

که دا آيت له مخکې او وروسته آيتونو سره په ګډه وڅېړو نو په واضح توګه پوهېدی شو چې دوهم تعبير دقيق دی، دا ځکه چې په مخکني آيت کې د (ثقيل قول) د القاء خبره شوې او دا آيت وايي چې ولې شپه د قرآن د تلاوت لپاره وړ او مناسب ده، څه مزيت لري او څنګه په دې اړه ستا مرسته کولی شي چې په درنو خبرو پوه شې؟ او د ورځې په نسبت څه امتياز لري؟ په شپه کې کولی شې په ثقيل قول ښه پوه شې، په ټولو ابعادو ئې احاطه وکړې او ژورو برخو ته ئې ورسېږې، او بيا د خپلو انتباهاتو د بيان لپاره مناسب، جامع او ښکلي الفاظ پيدا کړې. که په

قيام ليل او د شپې له لوري د قرآن په تلاوت عادت شوې نو د قرآن په اسرارو او رموزو د پوهېدو دروازې به دې په مخکې پرانيستې شي، له قرآن نه خپل دقيق انتباهات به مضبوط خپل ذهن ته سپارې او د دغو ژورو انتباهاتو ښه او تکړه وياند به شې.

قيام ليل څو امتيازات لري:

الف: فضاء ئې آرامه او خاموشه، ټول په خوب ويده، سکوت هرې خوا ته سيوری غوړولی، نه مزاحم غږ چې ستا حواس مصروف کړي، نه جالبې صحنې ځان درښيي چې سترګې دې جلب او ذهن دې مشغول کړي، حواس دې فارغ او د ذهني تمرکز مناسب فرصت درته ميسر، دماغي ستړيا دې رفع او د تفکر لپاره مستعد او چمتو، د ورځې په دوران کې د انسان دماغ سخت مصروف وي، هغه بې شمېره غږونه چې په فضاء کې خواره دي په مسلسل توګه او حتی پرته له دې چې انسان ورته متوجه وي، اوري، تجزيه کوي ئې، خطرناك له ناخطرناکه بېلوي، ډول ډول صحنې او مناظر د سترګو له لارې ويني، دقيق انځور ئې، له لوړو ژورو او رنګونو سره په خپلې حافظې کې ساتي، د غذا په هضمولو او د وجود سلول سلول ته د ضروري توکو د رسولو په کار کې مصروف وي، ټول حواس ئې فعال وي او دماغ ئې مشغول کړی وي، خو په شپه کې ستا دماغ له ډېرو دغو مصروفيتونو فارغ او دې ته چمتو وي چې په ژور غور کولو کې ستا مرسته وکړي.

ب: ستا قيام ليل ستا د اخلاص او جديت ننبه ده او ښيي چې ته په خپل کار کې جدي يې، د مسئوليت احساس راويښ کړی يې، خپل مأموريت ته په درنه سترګه ګورې، د الله تعالی د راضي کولو په موخه دې د يوه مقدس، اوږد او شاق سفر اراده کړې، د الله تعالی مرستې ته ځان اړ ګڼې، د شپې په خلوت کې له هغه سره راز او نياز کوې، د نيازمندئ لاسونه اوچتوې، له خپل مهربان رب نه غواړې چې ستا لارښوونه وکړي، خپل توفيق او عنايت ستا په برخه کړي، ستا اضطراب، پرېشاني، تشويشونه او اندېښنې ختمې کړي، د سمې لارې د پېژندو او په هغې د تلو توفيق درکړي، د همدې لپاره دې د قرآن په وړاندې زنګون په ځمکه ايښی او

په اسرارو کې ئې د غور لپاره دې د شپې زړه انتخاب کړی، چې نه په کې د رياء او ځان ښودنې شائبه شته او نه دې تلاوت عادي تلاوت، بلکې تلاوت دې داسې په اهتمام سره چې د شپې زړه دې ورته غوره کړی او له خوبه ورته راپاڅېدلی يې، نرم او ګرم بستر دې ورته پرېښې، تر ټولو حساس او مناسب وخت دې ورته غوره کړی. سميع او عليم خدای هم تا ته رانږدې شوی او د دنيا له نږدې آسمانه درته فرمايي: آيا څوك شته چې بخښنه وغواړي چې بخښنه ورته وکړم؟ آيا کوم توبه کوونکی شته چې توبه ئې قبوله کړم؟ آيا کوم دعا کوونکی شته چې دعا ئې اجابت کړم؟

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ فَيَقُولُ مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ وَمَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ وَمَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ *

رواه مسلم

ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالی د هرې شپې په وروستۍ دريمه برخه کې د دنيا آسمان ته نزول کوي او فرمايي: څوك راته دعا کوي چې قبوله ئې کړم؟ او څوك له ما نه څه غواړي چې ورئې کړم؟ او څوك رانه مغفرت غواړي چې بخښنه ورته وکړم؟

۷ـ دا آيت دوه مطالب افاده کوي:

الف: د دې سورې د نزول په وخت کې پيغمبر عليه السلام ډېرې مصروف ورځې درلودې، د دعوت لمن خوره شوې وه او هغه ته ئې زيات مصروفيتونه راپيدا کړي وو.

ب: ورځ داسې وي چې هر انسان په کې په يوه او بل ډول مصروف وي، يا ئې لاس پښې، يا ئې زړه او دماغ، او يا ئې سترګې او غوږونه مصروف وي، دا مصروفيتونه ئې نه پرېږدي چې په ذهني تمرکز او پوره غور سره قضايا وڅېړي او تفکر وکړي.

پيغمبر عليه السلام چې څه ته بلنه ورکوي هغه ژور تفکر ته ضرورت لري، د دې لارې لاروی بايد خپل لوری په بصيرت، فراست، غور او دقت سره غوره کړي،

هر ګام باید په احتیاط او هوښیارۍ سره اوچت کړي، عمل ئې باید شعوري او هدفمندانه وي، څوك چې غواړي د پیغمبر علیه السلام ملګرتیا وکړي او د ده په لار روان شي باید په خپل ژوند کې د تعمق، تفکر او غور شپېې ولري، قیام لیل د دغه غور او تفکر فرصت درته برابروي.

هغه قرآن چې د الله تعالی په لوري ستا د سفر توښه، او د دې لارې په لوړو ژورو کې ستا لارښود او ځلانده مشعل دی، تعمق ته ضرورت لري، څوك چې غواړي د دې ځلانده مشعل حامل او د هغه په رڼا کې د الله تعالی په لوري حرکت وکړي باید تر ټولو مناسب فرصت (د شپې زړه) د هغه د دقیق او ژور تلاوت لپاره انتخاب کړي. ورځنۍ مصروفیتونه انسان نه پرېږدي چې په ثقیل قول سم او دقیقاً پوه شي.

۸ـ خو دا ورځنۍ مصروفیتونه باید د دې باعث نه شي چې خدای هېر کړې، که د ورځې له پلوه په پوره تعمق او تدبر سره د قرآن د تلاوت مناسب فرصت نه مومې او د شپې فارغې شپېې دې د دې لپاره غوره کړې، د ورځې په اوږدو کې د مصروفیتونو ترڅنګ الله تعالی یادوه او هیڅ شېبه ترې مه غافله کېږه.

له تبتل (انقطاع او پرېکون) څخه یا مراد دا دی چې د شپې په زړه کې خپلې اړیکې له هر څه او هر چا سره غوځې کړه او په پوره انهماك او دقت د الله تعالی په ذکر او د قرآن په تلاوت لګیا شه. او یا ئې مراد دا دی چې له بل هر چا طمع او توقع غوځه کړه، د الله تعالی له درشل پرته هیچا ته طمع او امېد مه ساته، اتکاء او اتکال دې باید یوازې او یوازې په الله تعالی وي او انتظار او امېد دې یوازې ده ته.

۹ـ ستا تبتل باید د هغه رب په لوري وي چې هم ستا رب دی او هم د مشرق او مغرب رب، هغه چې لمر د ده په اراده د ورځې راخېژي او د شپې پرېوځي، شپه او ورځ د ده په اراده راځي، په عالم کې هر تحول او بدلون د ده له لوري دی، له ده پرته بل معبود نشته، باید دی خپل وکیل ونیسې او اتکاء او اتکال دې یوازې په ده وي.

۱۰: او په هغه څه صبر وکړه چې دو ی ئې وايي، او په غوره او نېکه توګه ترې بېل شه. ۱۱ : او ما او هغه مکذبين سره پرېږده چې د نعمت خاوندان دي، او مهلت ورکړه لږ. ۱۲: يقيناً چې له مونږ سره عبرتناك عذابونه او دوزخ دی. ۱۳: او په ستونې کې نښتونکی خوراك او دردناك عذابونه دي. ۱۴: هغه ورځ چې غرونه او ځمکه به وخوځي او غرونه به د شګو ډېرۍ ته ورته شي. ۱۵: يقيناً چې مونږ ستاسو په لوري يو داسې پيغمبر ولېږو چې پر تاسو به شاهد وي، همغسې لکه چې د فرعون په لوري مو يو پيغمبر ولېږو. ۱۶: او فرعون له دې پيغمبره عصيان وکړ، نو مونږ په سختې نيونې سره ونيو. ۱۷: نو که کافر شئ له هغې ورځې به ځان څنګه ساتئ چې واړه زاړه

کوي. ۱۸: دا آسمان پرې دړې وړې کېږي، وعده ئې ترسره کېدونکې ده. ۱۹: یقیناً چې دا یو تذکر دی، نو چا چې غوښتي وي د الله په لوري دې د رسېدو لار غوره کړي.

---

۱۰: د شپې عابد او د ورځې مجاهد شه، نیمایي شپه په لمانځه، دعا او تلاوت کې تېروه، په خلوت کې او له خلکو بېل، او ورځې په مبارزه کې، د الله تعالی لوري ته د خلکو په رابللو کې، په صبر سره، او د دښمن تبلیغاتو او مخالفتونو ته په پوره بې اعتنائي سره، کله چې د خلکو په دعوت او بلنې لګیا یې په صبر سره عمل کوه او کله چې له دوی بېلېږې په غوره توګه ترې بېلېږه، د دوی لوري ته د بیا بیا راګرځېدو او د مجدد دعوت په نیت ترې بېلېږه، د هغه چا په څېر مه کېږه چې له خلکو بېلېدل ئې مرور ته ورته وي، حوصله ئې ختمه شوې او له خلکو مأیوس شوی وي، له خپل مخاطب سره داسې مقاطعه کوي چې نه ئې د بیا دعوت او رابللو عزم او اراده لري او نه ترې د توافق او ملګرتیا طمع، نه بلکې حکیم او صابر، ستړیا نه منونکی او هېله من دعوتګر شه.

۱۱ـ په دې آیت کې څو حساس او ظریف ټکي زمونږ توجه جلبوي:

الف: ته باید دا اندېښنه کاملاً پرېږدې او هیڅکله دا تمناء ونکړې چې ستا او ستا د دعوت مخالفین دې تباه شي، ټغر دې ټول او له منځه دې ولاړ شي، او په الهي عذاب دې اخته شي، دا کار ستا له لوړ شأن سره نه ښايي، ستا کار د خلکو دعوت او اصلاح ده، تل باید د دوی د اصلاح په فکر کې وې، که ئې یو ځل مخ واړاوو، که ئې دوه ځلې او که لس ځلې، ستا مأموریت او مسئولیت دا دی چې خلك به د الله تعالی لوري ته رابلې، په پرله پسې توګه او په صبر او استقامت سره، د هغو کسانو مجازات خپل رب ته حواله کړه چې ستا له دعوت سره مخالفت ته ملا تړي، پرېږده ستا رب په خپله او څنګه چې غواړي دوی مجازات کړي او مناسبه معامله ورسره وکړي.

ب: په ټولنې کې د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت مکذبین او مخالفین تل

هغه خلك وي چې شتمن دي، له حرامو لارو شتمن شوي، مرفه دي، د ټولنې موجود وضعیت او حاکم اقتصادي نظام د دوی د رفاه او سوکالۍ او د نورو د فقر، لوږې او محرومیت شرایط برابرکړي، هغه چې په ټولنې کې هر تحول او بدلون ځان او خپلو ناروا ګټو ته ګواښ ګڼي، که له دعوت سره مخالفت کوي، که له زاړه او منحط مذهبه دفاع کوي او د ټولنې د موجود وضعیت سرسخته حامي او مدافع وي، دا ټول د دې لپاره وي چې دا مذهب د دوی په خدمت کې وي، د عوامو د غولولو او د مترفینو او مستکبرینو د رفاه او تنعم وسیله وي، دا مذهب د ټولنې د مترفینو او مستکبرینو په پښو کې د مستضعفینو قرباني کېدا توجیه کوي، دې وضعې دوی ته شتمنۍ او ثروت ورکړی، نو دا ډله به خود هڅه کوي چې نه دا مذهب بدل شي او نه د اوضعه.

ج: د دغې ظالم او ستمګر ټولګي دوران پای ته رسېدلی، ډېر ژر به ئې ټغر ټول شي، لږ صبر وکړه، پرېږده چې دوی له خپل شوم او محتوم برخلیك سره مخامخ شي.

**۱۳-۱۲**: د دنیا عبرتناك عذابونه او د آخرت د دوزخ کنده زمونږ په واك کې ده، د دنیا او آخرت د عذاب پرېکړه مونږ صادروو، مطمئن اوسه چې په دنیا کې به ئې داسې تعذیب کړو چې د نورو لپاره د عبرت باعث شي، او په آخرت کې به ئې د اور په کنده کې واچوو، په دنیا کې ئې له حرامو لارو ځان ته غوړ، خوندور او خواږه خوراکونه برابرول، اوس به ئې خوراك تریخ، اغزن، ګنده، بدبوی او په ستوني کې نښتونکی وي او عذاب به ئې سخت دردناك.

**۱۴**- د دې دردناك اخروي عذاب لړۍ به په هغه ورځ پیل شي چې ځمکه او غرونه به ئې خوځي او داسې به ټوټې ټوټې شي لکه د شګو ډېران.

**۱۵-۱۶**: دوی دې د خپل عبرتناك دنیوي عذاب څرنګوالی د فرعون د عبرتناك برخلیك په هینداره کې وګوري، هغه ته هم دغسې پیغمبر ولېږلی شو، له دې پیغمبر سره ستاسو مخالفت همغسې دی لکه له موسی علیه السلام سره د فرعون مخالفت، ستاسو د مخالفت پایله به هرو مرو همغسې وي چې فرعون

ورسره مخامخ شو؛ د الله تعالی سخته نیونه.

دلته پیغمبر علیه السلام د شاهد په نامه یاد شوی او معنا ئې دا ده چې اې قریشو! د ځان او د خپلو کړو وړو په اړه د پیغمبر علیه السلام قضاوت وروستی قضاوت وګڼئ، داسې لکه په یوې محکمې کې د شاهد شهادت، چې قاضي ئې وروستۍ او پرېکنده وینا ګڼي، او د هغه له مخې د مجرم په اړه پرېکړه کوي. د ده انذار او خبرداری جدي وګڼئ، ستاسو د موجوده وضعې او ستاسو د کړو وړو، افکارو، عقایدو او اخلاقو په هکله د پیغمبر علیه السلام قضاوتونه او څرګندونې داسې وګڼئ لکه په الهي محکمې کې د شاهد څرګندونې، که ستاسو وینا د ده له وینا سره او ستاسو کړه وړه د ده له کړو وړو سره مغایرت درلود، نو په الهي محکمې کې به ستاسو د محکومیت او مجازات پرېکړه کېږي.

۱۸.۱۷: که مو د کفر او انکار لاره غوره کړه او ګمان مو وکړ چې له بد برخلیك سره به مخامخ نه شئ او احیاناً ستاسو ځینې له دنیوي عذاب سره له مخامخ کېدو وړاندې له دنیا ولاړل، د آخرت له عذابه به ئې څوك ژغوري؟! د هغې ورځې له عذابه چې حتماً راځي او هومره هیبتناکه ده چې واړه په کې زاړه کېږي او آسمانونه په کې دړې وړې کېږي. څنګه به د دغه محتوم الهي وعید مخنیوی کوئ؟

دا آیت ښیي چې مشقت او ستونزې د انسان د ژر او له وخته مخکې زړښت باعث کېږي او وېښتان ئې سپینوي.

هغه ورځ دومره هیبتناکه ده چې آسمان له دې ټول ستروالي او عظمت سره سره د هغه په وړاندې د مقاومت تاب او توان نه لري، ټوټې ټوټې به شي، نو ته اې انسانه!! ووایه چې په دې ورځ به ستا حالت څنګه وي؟

۱۹ـ باید وګورو چې دلته په (هذه) سره د دې سورې ټولو مضامینو ته اشاره شوې، یا ټول قرآن ته او یا په قریشو کې د پیغمبر علیه السلام بعثت او د فرعون په لوري د موسی علیه السلام له لېږلو سره د هغه تشبیه ته، چې په مخکنیو آیتونو کې ورته ګوته نیول شوې؟! د دې لپاره چې په کار ده ضمیر تر ټولو نږدې مرجع ته راجع کړو، دلته باید (هذه) دغې قضیې ته راجع کړو، یعني دا تاسو ته یوه یادونه

ده، د الله تعالى له پيغمبر نه د سرغړاوي او عصيان يوه تاريخي بېلګه ستاسو مخې ته ږدي، تر څو په دې هينداره کې له پيغمبر عليه السلام سره د خپل مخالفت پايله وګورئ، تاسو په خپل انتخاب کې آزاد يئ، له پيغمبر عليه السلام سره ملګرتيا کوئ او الله تعالى ته د رسېدو لار غوره کوئ که د فرعون لار غوره کوئ او د ده په برخليك اخته کېږئ.

---

pÿÍ$Ûr ¼çW èr ¼çÿÓÁÏr È@ø$ÓÁÏè `Ë 4Ťš& ãqà? 7®& Ð=è/ 7/‘ bÎ *

>$Gù çqÃtø `©b& OÎæ ‘$k]9$# Ÿ@ø$ãŭd)ãª!$#r 7èB ûïÏ%©$`Ë

Ó4 Ì éE OãZÏË ãqã‹™ b& NÎæ È#äöjá$`Ë Ž©ëš? $B (râ•%$u ÐBøæ

bqè»)ãbrãz#är «!$È@ÓÒù `Ë bqãGö/ Ç Ú öF{$’Î bqçÎØ/ brãz#är

oq4."9$(qè#är oq4=Á9$(qßŠÏ&r çZÏË Ž©ëš? $B (râ•%$u «!$È@‹Î™ ’Î

%ZÏã çr%Ŷ 9öz ôÏË /ä3Å¡àÿRL{ (qãÏd)è$Br $Y¡m $Ê öÌ% ©!$(qãÊÌø%r

ÇËÈ 7Ïm§‘Ö qàÿî ©!$bÎ ©!$(rãÿøótGó™$#r #\ô_& Nàã&r #Žöz qèd «!$

---

۲۰. بې شکه چې ستا رب پوهېږي چې ته هم نږدې دوه برخې د شپې، او نيمايي او درېيمه ئې پاڅېږې او ستا د ملګرو يوه ډله هم، او الله شپه او ورځ اندازه کوي، پوه شوی چې هيڅکله ئې نه شئ احاطه کولی، نو تاسو ته ئې بخښنه وکړه، نو اوس د قرآن هومره مقدار تلاوت کړئ چې درته آسانه وي، پوه شوی چې ستاسو ځينې به ناروغه وي، او نور به په ځمکه د الله د فضل

په لټه کې په سفر وځي، او نور به د الله په لار کې جنګېږي، نو څکه هومره قرائت وکړئ چې درته آسانه وي، او لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ، او الله ته ښه پور په پور ورکړئ، او د ځان لپاره چې د ښېګړې هر څه مخکې لېږئ او د الله په خوا کې ئې بیامومئ، دا غوره دی او د اجر له پلوه ستر، او له الله بخښنه وغواړئ، بې شکه چې الله دی مهربان بخښونکی.

---

۲۰. دا آیت چې د دې سورې وروستی او تر ټولو اوږد آیت دی څو اساسي مطالب زمونږ مخې ته ږدي:

الف: معلومېږي چې دا بیله برخه ده او له لومړۍ برخې ډېره وروسته نازله شوې، په لومړۍ برخې کې د قیام لیل سپارښتنه شوې وه او دلته ویل شوي چې هو؛ تاسو په دې لارښوونې عمل وکړ، کله مو نږدې دوه برخې د شپې، کله نیمایي او کله دریمه برخه په ویښه او قیام لیل تېروله، له دې پلوه هم معلومېږي چې دا آیت تر مخکنۍ برخې ډېر وروسته نازل شوی چې اوږدوالی ئې مدني سورتونو ته ورته دی، د لومړۍ برخې آیتونه لنډ لنډ او د مکي سورتونو په څېر دي او دا آیت اوږد او مدني سورتونو ته ورته دی.

ب. د پیغمبر علیه السلام یارانو د سورې په لومړیو آیتونه کې د قیام لیل په اړه امر ځان ته هم متوجه ګڼلی، د همدې لپاره دوی هم په قیام لیل کې د پیغمبر علیه السلام ملګرتیا کوله، او په دې سنت ئې عمل کاوو.

ج: له دې وینا (فتاب علیکم: تاسو ئې وبخښلئ) معلومېږي چې په ابتداء کې د قیام لیل لارښوونه لزومي او وجوبي او د قرآن هر باایمانه مخاطب ته راجع وه، خو اوس او د دې آیت له راتلو وروسته تخفیف په کې راغی.

د: د دې تخفیف لپاره څو دلایل بیان شوي:

- د دعوت لمن پراخه شوې، په لیکو کې ځوان، زوړ، روغ او بیمار شته، د ضعفاوو او بیمارانو شته والی د دې تقاضاء کوي چې په مخکني حکم کې د مقدار او مورد له اړخه تخفیف راشي، ځینې ترې مستثنی شي او ځینو ته راکم او

مختصر.

• په مدينه منوره کې ستاسو وضع د مکې په څېر نه ده چې نه مو آزادانه سفر کولی شو او نه تجارت، او نه د حلال رزق په لټه کې له يوې سيمې بلې ته تګ راتګ، اوس به ځينې سفرونه کوي، په دې تخفيف کې د دوی مشکلات هم په پام کې نيول شوي.

• اوس به له جنګونو سره مخامخ کېږئ، ځينې به د الله په لار کې جهاد ته وځي او په سنګرونو کې به پاتې کېږي، دوی ته به په قيام ليل عمل کول ګران وي، د دوی لپاره دا تخفيف راغلی.

هـ: د قتال او جنګياليو ذکر صريحاً ښيي چې د سورې دا برخه په مدينه منوره کې نازله شوې، د (قتال في سبيل الله) په اړه بحث د مدني سورتونو ځانګړتيا او خصوصيت دی، د کلام له فحوا معلومېږي چې دا آيت د قتال د إذن له راتلو وروسته او په عملي توګه د قتال له پيل کېدو د مخه نازل شوی.

و: دغو معاذيرو ته په پام سره، ستاسو د قيام ليل مقدار ستاسو شرايطو او ظروفو ته او ستاسو خپل انتخاب ته پرېښودل شوی، څومره چې درته مقدور او ميسور وي او درباندې ګران نه تمامېږي؛ د قرآن تلاوت وکړئ. که څه هم د قيام ليل په ارتباط د لمانځه يادونه نه ده شوې، او د هغه په ځای د قرآن تلاوت ياد شوی، خو له قيام نه مراد د تهجد لمونځ دی، چې دلته د قرائت په نوم ياد شوی. او دا يا په دې خاطر چې د لمانځه يوه ډېره مهمه او اساسي برخه د قرآن تلاوت دی، او يا په دې خاطر چې قيام ليل اصلاً د قرآن د تلاوت لپاره دی خو د لمانځه په حالت کې د هغه تلاوت لازيات اغېزمن او د ثواب ترلاسه کولو ذريعه ده.

ز: د شپې له لورې د قرآن د تلاوت ترڅنګ بايد خپل پنځه وخته لمونځونه په سمه توګه ادا کړئ، د خپل مال زکات ورکړئ، له فرض زکات نه علاوه هم د خپلو شتمنيو څه برخه د الله تعالی په لار کې انفاق کړئ، دا انفاق که مخلصانه وي، له رياء او غرض پاك او منزه او مخصوصاً د جهاد په چارو کې وي، نو الله تعالی ئې په خپلې ذمې د قرض او پور په څېر نيسي او هغه حتماً خپل پور ادا کوي او څو

برابره به ئې بېرته درګرځوي. دا هر څه به د الله تعالی په خوا کې بیامومئ.

ح: څه چې مو د الله تعالی لوري ته لېږلي او هغه ته مو د حسنه پور په توګه ورکړي او د ده په لار کې انفاق سره مو د ده په خوا کې ساتلي، همدا ستاسو تر ټولو غوره مال، او د ستر اجر ترلاسه کولو وسیله ده. دا مطلب د يوه روايت په ضمن کې داسې بیان شوی:

قال عَبْدُ اللّه : قال رسولُ اللّه صلى الله عليه وسلم: «أيُكُمْ مالُهُ أحَبُّ إليه منْ مَالِ وارثه»؟ قالوا: يا رَسُولَ اللّه، ما منّا أحَدٌ إلّا مالُهُ أحَبُّ إليه منْ مال وارثه. قالَ: «اعْلَمُوا ما تَقُولونَ»، قالوا: ما نَعْلَمُ إلّا ذاكَ يا رَسُولَ اللّه، قَالَ: «مَا منْكُمْ رَجُلٌ إلّا مالُ وارثه أحَبُّ إليه منْ ماله». قالوا: كَيْفَ يا رَسُولَ اللّه؟ قالَ: «إنّما مالُ أحَدكُمْ ما قَدَّمَ، ومالُ وارثه ما أخَّرَ».رواه ابن حبان

عبد الله رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په تاسو کې څوك خپل مال د خپل وارث تر مال غوره ګڼي؟ صحابه وو وويل: يا رسول الله په مونږ کې هيڅوك داسې نشته چې خپل مال د خپل وارث تر مال پرې ګران نه وي، وئې فرمايل: ځير شئ چې څه وايئ، وئې ويل: يا رسول الله له دې پرته په بل څه نه پوهېږو، وئې فرمايل: ستاسو هيڅوك داسې نه دی چې د وارث مال دې تر خپل مال پرې ګران نه وي، وئې ويل: دا څنګه يا رَسُولَ اللّه ! وئې فرمايل: ستاسو د هر يوه خپل مال يوازې همغه مال دی چې مخکې ئې لېږلی او د وارث مال ئې هغه دی چې راتم کړی ئې دی.

ط: تل له رب نه بخښنه وغواړئ، په هيڅ حالت کې دا ګمان مه کوئ چې کمال مطلوب او لوړ معنوي مقام ته رسېدلي يئ، پام چې داسې غلطه انګېرنه مو له مخکې تلو راتم نه کړي، په خپل اوسني ځای مو په ټپه ونه دروي، خوځښت مو متوقف نه کړي، د الله تعالی په لوري تګ او لوړو لوړو معنوي پوړو ته د رسېدو تکل او هڅه مو ټکنی نه کړي، په هر حالت او هر مقام کې، که هر څومره لوړ وي، بايد د قصور او وروسته پاتې کېدو احساس وکړئ، هره شېبه چې پر تا تېرېږي، که څه هم دا دې د الله تعالی په عبادت کې او حتی په جهاد في سبيل الله کې تېره

کړې، بايد احساس دې دا وي چې په دې شېبو کې دې تر دې زيات څه کولی شوی، د الله تعالی په لوري دې تر دې زياته فاصله پلې کولی شوی، تر دې مزيد لوړ تلی شوی، دا احساس به تاسو د مغفرت غوښتنې ته هڅوي، ستا استغفار په حقيقت کې د دې نښه ده چې په تا کې د مزيد معنوي ارتقاء، مزيد ځان روزنې، روحي او اخلاقي تربيت عزم ژوندی او ځواکمن دی. بخښنه وغواړئ چې ستاسو رب مهربان بخښونکی دی، نه يوازې دا چې ګناهونه بخښي، بلکې خپل رحمت او پېرزوينه د هغه ګنهګار بنده په برخه کوي چې بخښنه غواړي. د توبه کوونکي بنده په توبې دومره خوښېږي لکه تاسو چې د داسې يو څه په بيا موندلو خوښېږئ چې ژوند مو پورې تړلی دی.

عن أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّه صلى الله عليه وسلم : «للّهُ أَشَدُّ فَرَحاً بِتَوبَة عَبْده، حينَ يَتُوبُ إِلَيْه، منْ أَحَدكُمْ كَانَ عَلَىٰ رَاحلَته بِأَرْضِ فَلاَة. فَانْفَلَتَتْ منْهُ. وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ. فَأَيِسَ منْهَا. فَأَتَى شَجَرَةً. فَاضْطَجَعَ في ظلّهَا. قَدْ أَيِسَ منْ رَاحلَته. فَبَيْنَا هُوَ كَذَلكَ إِذْ هُوَ بِهَا، قَائمَةً عنْدَهُ. فَأَخَذَ بِخطَامهَا. ثُمّ قَالَ منْ شدّة الْفَرَح: اَللّهُمّ أَنْتَ عَبْدي وَأَنَا رَبُّكَ. أَخْطَأَ منْ شدّة الْفَرَح». رواه مسلم

له انس رضي الله عنه روايت دی چې رَسُولُ اللّه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقيناً چې الله تعالی د خپل بنده په توبه، هغه وخت چې ده ته توبه کوي، ستاسو تر هغه چا هم زيات خوشحاله کېږي چې په يوې بېديا کې په خپلې سورلۍ سور وو، خو ترې ورکه شوه، خوراك او څښاك ئې هم پرې بار وو، نو مأيوس او ناهيلی شو، يوې ونې ته راغی، په سيوري کې ئې ډډه ولګوله، له خپلې سورلۍ په قطعي توګه نااميده شوی، دی په همدې حالت کې وو چې سترګې ئې وغړولې، سورلۍ ئې خوا ته ولاړه، تر واګې ئې ونيوله، بيا ئې له ډېرې خوشحالۍ وويل: بارئ ربه! ته مې بنده او زه دې رب يم!! له ډېرې خوشحالۍ ئې خبره غلطه کړه.

# المدثر

## د سورې معرفي:

د دې سورې نوم المدثر (د خوب څادر په ځان راغوړوونکی) دی، چې له لومړې آیته اخیستل شوی، **۵۹** آیتونه لري، د لومړیو اوو آیتونو فواصل ئې مدّثِّر ته ورته وزن لري، د اتم ناقور او د نهم او لسم ئې د عسیر او یسیر هموزنه صیغې، له یولسمه تر اولسم پورې وحیدا ته ورته وزن، له اتلسمه تر اوه دېرشمه پورې قدّر ته ورته اوزان، که اته دېرشم له نه دېرشم سره او دوه څلوېښتم له درې څلوېښتم سره یو ځای ولوستی شي نو له اته دېرشمه تر نه څلوېښتمه پورې به د ټولو آیتونو فواصل یمین او یقین ته ورته هموزنه صیغې شي، د پاتې اووه آیتونو فواصل د مستنفره په څېر وزن لري. له **۳۱** آیته پرته ټوله سوره په مکه مکرمه کې او په دوو مرحلو کې نازله شوې، اووه لومړي آیتونه ئې د بعثت په لومړیو کې او نور ئې په هغې مرحلې کې نازل شوي چې د قریشو سردارانو د پیغمبر علیه السلام په خلاف شدید تبلیغات پیل کړي، هغه ته ساحر وایي او قرآن د ده خپله وینا ګڼي.

د سورې په سر کې پیغمبر علیه السلام ته د (مدثر) په نامه خطاب شوی او ورته ویل شوي:

الف: د خوب وخت تېر شوی، پاځه او خلکو ته د روان وضعیت له بدو پایلو خبرداری ورکړه.
ب: خپل رب ستر ګڼه، د ستر رب په لوري بلنه ورکړه، په جګ غږ اعلان کړه چې خدای تر هر ستر ستر دی، او یوازې دی ستر دی، پام چې په خپل مأموریت او دندې (قیام او انذار) کې د ضعف او ناتوانۍ احساس ونکړې، د مأموریت دروندوالی او ستر والی یا د دښمن کبر او لویي او غولوونکی ظاهر ئې په تا کې وېره راولاړه نه کړي، د الله تعالی په ستروالي ستا باور باید تا ډاډه او مطمئن کړي، نه د ضعف احساس وکړې او نه د وېرې او خوف، په خپل ستر رب اتکاء او اتکال سره خپل قیام او انذار ته ادامه ورکړه.
ج: جامه دې پاکه ساته، مه پرېږده چې په پاکه لمنه دې د ګناه داغ کښېني، سپینه جامه دې داغجنه شي، ځوك چې د نورو د اصلاح لپاره ملا تړي، د ټولنې د اصلاح لپاره (قیام) کوي او د ګناه له بدو او خطرناکو پایلو خلکو ته خبرداری ورکوي، باید له ګناهونو په لرېوالي کې د ټولو لپاره قدوه او اسوه وي، د پاك لمنۍ ښېلګه، لمن ئې له داغونو پاکه.
د: رجز، تذبذب او زړه نازړه کېدا پرېږده، راسخ عزم سره مبارزې ته دوام ورکړه، متین او مصمم، استوار او ثابت قدمه اوسه.
هـ: پام چې د مبارزې اوږدوالی او طولاني کېدا دې مأیوس او ستومانه نه کړي، داسې نه چې د الله تعالی په لوري د خلکو مسلسل بلنه او د دوی منفي ځواب د دې باعث شي چې ووایې: نور نو بس ده، ډېرې هلې ځلې مې وکړې نتیجه ئې ورنکړه، نور نو له دې خلکو د خیر طمع نه شي کېدی، د اصلاح انتظار ئې عبث دی، په کار ده خپل دعوت متوقف کړم او د مبارزې دا لړۍ قطع کړم!! نه؛ هیڅکله داسې مه کوه، دعوت او مبارزه دې مه قطع کوه، مه خپل کار ډېر ګڼه او مه ئې په نیمایي لارې کې د پرېښودو پرېکړه کوه.
و: د خپل رب لپاره صابر او ثابت قدمه اوسه، ستا صبر باید په الله تعالی ستا له ایمانه خړوبه شي او په دې باور او اعتقاد ولاړ وي چې (مبارزه) دې یو الهي

مأموریت دی، په دې پورې هیڅ اړه نه لري چې د خلکو عکس العمل څه دی، مثبت که منفي، نه ئې د مخاطب منفي ځواب منتفي کولی شي او نه ئې مثبت ځواب پای ته رسولی شي.

د سورې په دوهمې برخې کې بحث د قیامت له سختې او هیبتناکې ورځې نه پیل کېږي او وایي چې په د ې ورځ به په شپېلۍ کې پو شي، هیبتناکه ور ځ به وي، د کافرانو لپاره ډېره سخته، په دې پسې متصل د هغه چاحالت د حیرانتیا و ړ ګڼې چې الله تعالی په خپله، یوازې او د بل له ګډون پرته پیدا کړ، نه یوازې دا چې د بل له اشتراکه پرته ئې پیدا کړی، بلکې پرېمانه مال ئې ورکړی، مطیع او د ده خدمت ته چمتو زامن ئې ورکړي، په زړه پورې شرایط او امکانات ئې ورته برابر ک ړي، خو دی پر اکتفاء نه کوي، مزید او مزید غوا ړي، دا په داسې حال کې چې د الهي آیتونو په وړاندې له سختې دښمنۍ ډك چلند کوي، نو خود به الله تعالی ده ته خپل نعمتونه نه بلکې عذاب به ئې زیاتوي، په زیاتېدونکې نقمت او مشقت به ئ ې اخته کوي، دی همغه دی چې د حق په مقابله کې ئې تدبیرونه سنجول، هرې خوا ته به ئې سترګې رغړولې چې تر ټولو خطرناکه او اغېزمنه وسیله په لاس ورشي، د حق مخه پرې ونیولی شي، خلك پرې وغولولی شي، هغه چې د پیغمبر علیه السلام مخالفت ته ئې ملا ت ړلې وه، او د قرآن په هکله به ئې ویل: دا له جادو پرته بل څه نه دی، له مخکنیو نقل شوی، هغه چې د الله تعالی دا باعظمته کتاب ته ئې په داسې سپکه سترګه وکتل، جادو ئ ې وګڼلو، د انسان کلام ئ ې وشمېرو، ژر به ئې د سقر کندې کې وغورځوو، هغه کنده چې نه څه پرېږدي او نه ئې خوشې کوي، څېرې تکې تورې کوي، د عذاب د ملائکو نولس ډلې پرې ګمارل شوې، چې هره ډله به ئې په ځانګړې توګه دوزخیان تعذیبوي، او دا بیان د دې لپاره دی چې اهل کتاب یقین وکړي او د مؤمنانو ایمان لاهم مضبوط شي، اهل کتاب او مؤمنان باید په دې کې شك ونکړي، او دا د دې لپاره هم دی چې منافقان او د بیمارو زړونو خاوندان او کافران ووایي: په دې مثالونو سره خدای څه ویل غوا ړي؟ هو ؛ د الله تعالی سنت همداسې دی چې د هر حقیقت په وړاندې خلك په دوو ډلو وېشل کېږي، ځینې پرې

ایمان راوړي او منې ئې او ځینې ترې انکار کوي، د چا د لارښوونې سبب شي او د چا د مزید ضلالت موجب، د بیمارو زړونو خاوندان وايي: خدای د عذاب د فرشتو د شمېر په بیانولو سره څه ویل غواړي؟ دوی نه پوهېږي چې د الله تعالی د لښکرو شمېر له حد او حصر بهر دی، له الله تعالی پرته هیڅوك پرې نه پوهېږي، د ځمکې او آسمانونو هر څه د الله تعالی لښکري دي،دا خو یوه یادونه ده، ستاسو لپاره یو پند ، ولې د دغې ورځې له رارسېدو انکار کوئ؟ ولې هغه محال ګڼئ؟ مګر ستاسو د اقناع لپاره دا سپوږمۍ او بدلېدا رابدلېدا ئې کافي نه ده؟ دغه‌چې د شپې په راتلو سره راڅرګنده شي اوپه تلو سره ئې له ستر ګو پټه، مګر نه ګورئ‌چې شپه پای مومي او ورځ ئې ځای نیسي، دغسې به د دې دنیا دوران هم د شپې په څېر پای ته رسي، دغسې به قیامت هم د ورځې په څېر راڅرګند شي، او هغه ستره پېښه به رامنځته شي، هغه ورځ چې هر څوك به د خپلو کړو وړو په ګرو کې وي، ښه عمل به ئې غوره مقام ته رسوي او بد عمل به ئې بد مکان ته،اصحاب الیمین به جنت ته درومي، له مجرمینو به پوښتي: څه شي دوزخ ته ورسولئ؟ په‌ځواب کې به ئې وايي: مونږ خو لمونځ کوونکي نه وو ، مسکینانو ته مو یوه ګوله مړۍ هم نه ورکوله، د بې هدفو او چټي خلکو په څنګ کې په خوشو لوبو مشغول وو او تر هغه مو له یوم الدین انکار کاوو چې مرګ مو راورسېدو!! نو ځکه به په دغه ورځ د هیڅ شفاعت کوونکي شفاعت ګټه ورونه رسوي، د ټېکي‌ځای به ئې د چا د شفاعت او سپارښتنې له مخې نه؛ بلکې د دوی د عملونو له مخې ټاکل کېږي. دا ولې دوی له دې تذکر او نصیحت نه‌ډډه کوي، تښتي، عجیبه تښتنه؛ له زمري نه د صحرايي خره تېښتې ته ورته‌دوی ته دا تذکر او نصیحت کافي نه دی ، غبرګون ئې دې ته ورته دی لکه چې هر یو ئې غواړي د الله تعالی له لوري بېل کتاب پرې نازل شي، په اصل کې دوی نه په آخرت باور لري او نه وېره ترې لري او دا قرآن هم د دې لپاره نه دی راغلی چې‌دوی خامخا ایمان ته اړ کړي، دا خو یوازې تذکر او نصیحت دی، انتخاب د دوی‌په لاس کې دی، خوښه ئې چې د ایمان او هدایت لار غوره کوي او که د کفر او نفاق لار، الله تعالی همداسې غوښتي چې انسان په خپل انتخاب کې

آزاد پرېږدي الهي سنن ثابت او تغيير نه منو  نکي دي، ځوك چې د دغو الهي سننو له مخې شقي او بد بخت وي په هيڅېند او نصيحت سره ئ ې ځوك‌نه شي هدايت کولی. د سورې په پای کې ويل شوي : يوازې الله تعالی د دې ور دی چې ترې وېره ولرئ او بخښنه ترې وغواړئ.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

ÇÍÈ ëgÜù 7 /$‹Ïr ÇÌÈ ŽÉ3ù 7 /‘r ÇËÈ ö‘ÉR'ù óOè ÇÊÈ ãÏoO£‰ßJø9$ $pkš‰¯»tƒ

ÇÐÈ ŽÉ9ô¹$$sù š•În/tÏ9ur ÇÏÈ çŽÏYõ3tGó¡n@ `ãYôJs? Ÿwur ÇÎÈ öàf÷d$$sù “ô`”9$#ur

---

۱. اې د خوب ځادر په ځان راکښونکيه. ۲. پاڅه او خبرداری ورکړه. ۳. او خپل رب ستر ګڼه. ۴. او جامه دې پاکه ساته. ۵. او تزلزل پرېږده. ۶. او مه (ئې) غوځوه زيات (ئې) ګڼونکی. ۷. او خپل رب لره صبر کوه.

---

۱: په دې مبارك آيت کې پيغمبر عليه السلام ته د مدثر (د خوب ځادر په ځان راکښونکی) په نامه خطاب شوی، په دې خطاب سره هغه ته ويل شوي چې نور نو د خوبونو وخت تېر شوی، د وېښېدو، پاڅېدو او قيام وخت رارسېدلی، له دې وروسته به د ټولنې د روان حالت په هکله بې اعتنائي نه کوې، په ناخوالو به سترګې نه پټوې، داسې نه چې د مسئوليت احساس ونکړې، انزوا غوره وګڼې او بې تفاوته پاتې شې!!

۲: د قيام او پاځون وخت دی، مه پرېږده چې دا وضعه دوام وکړي، او ټولنه له تباهۍ سره مخامخ کړي، مخې ته ئې ودرېږه، د ټولنې په دردناك حالت اعتراض وکړه، او د بدلون لپاره ئې ملا وتړه، خلکو ته د کفر او شرك له بدو او خطرناکو پايلو او د ټولنې د موجوده حالت له وخيمو عواقبو خبرداری ورکړه. د پيغمبرانو عليهم السلام د دندو کومه برخه چې ډېره درنه ده، له ډېرو مخالفتونو سره ئې

مخامخ کوي، د ډېر صبر او لوی عزم او همت غوښتنه کوي هغه انذار او خبرداری ورکول دي، خلکو ته ويل چې دا نظام ظالمانه دی، بايد رانسکور شي، ستاسو فردي او اجتماعي حالت بدې پايلې لري بايد بدل شي، دا وضعيت به تاسو له بد او خطرناك عاقبت سره مخامخ کړي بايد ټغر ئې ټول کړئ، ستاسو سياسي مشران ظالمان دي، ستاسو مذهبي مشران ټګماران دي، ستاسو عقيده خرابه، ستاسو اخلاق بد، ستاسو مذهب له خرافاتو ډك دی، په ظلم اعتراض، د فساد مقابله، په خرافاتو نيوکې او له پايلو ئې خلکو ته خبرداری ورکول؛ پيغمبران عليهم السلام له مخالفتونو سره مخامخ کړي. څوك چې دا کار نه کوي، يوازې خلکو ته زيري ورکوي، فضايل ورته ښيي، د آرام اوسېدو، له سياست نه ځان لري ساتلو خبرې ورته کوي؛ طبيعي ده چې له مخالفتونو سره به نه مخامخ کېږي، خو دا دعوتګران د پيغمبرانو عليهم السلام په لاره روان نه دي او د انذار دندې ته ئې شا کړې.

۳: د خپل رب په عظمت او ستروالي دې باور ټينګ وساته، تل ئې په عظمت اعتراف کوه، خپل ستر رب ځان ته کافي ګڼه، پام کوه چې د دښمن غولوونکی او ډاروونکی ظاهر په تا کې رعب، وېره او واهمه راولاړه نه کړي، د زر او زور خاوندانو په وړاندې د ضعف احساس مه کوه!! په ستر رب ستا ايمان او باور کافي دی چې ته د حق هر دښمن، که هر څومره ځواکمن وي او په وسلو سمبال، حقير، ضعيف او کمزوری وګڼې، او هر ستر کار آسانه وګڼې.

۴: د دې آيت دوه ترجمې شوې:

- جامه دې پاکه کړه.
- جامه دې پاکه ساته.

لومړۍ ترجمه اشکال لري، د دې معنا دا راوځي چې داغجنه لمنه دې پاکه کړه، د پيغمبر عليه السلام په شأن کې دا خبره نامناسبه او ناسمه ده. دوهمه ترجمه دقيق ده او معنا ئې دا چې مه پرېږده د ګناه ناولي داغونه دې سپينه لمن داغجنه کړي، مه پرېږده چې کوم تور داغ دې په سپينه لمن کښېني، تا خو په ټولنې کې د خور فساد په خلاف ملا تړلې او خلك د ظلم، فساد او ګناه له بدو پايلو وېروې،

باید خپل لوړ او پاکیزه شخصیت تل صاف او شفاف وساتې او له ګناهونو لرې.

**۵**: د دې آیت هم دوه ژباړې شوې:

- ځینو رجز د رجس یعني ناپاکي په معنا اخیستی او ویلي ئې دي له ناپاکۍ ډډه وکړه او ځان ترې لرې ساته.
- خو نورو رجز په خپلې اصلي معنا اخیستی، اصلي معنا ئې تذبذب او تزلزل دی او آیت ئې داسې ترجمه کړی: تذبذب او اضطراب پرېږده، هیڅکله شیطان ته دا موقع مه ورکوه چې تا زړه نا زړه کړي، له راسخ عزم او کلك هوډ سره میدان ته راووځه، ثابت قدمه اوسه، په ډاډه زړه مبارزې ته دوام ورکړه، هیڅ حالت باید په تا کې واهمه، تزلزل، او تشویش راولاړ نه کړي. دوهمه ژباړه دقیق ده او لومړۍ ناسمه.

**۶**: د دې آیت په اړه په تفسیرونو کې ګڼ شمېر تعبیرونه ګورو چې دوه ئې د یادولو وړ دي:

- له چا سره داسې احسان مه کوه چې تر هغه د زیات څه ترلاسه کولو طمع کوې.
- دعوت دې مه غوځوه او نیمګړی ئې مه پرېږده، له دې احساس سره چې ډېر ئې ګڼې، او وایې: نور نو بس ده، ډېرې هلې ځلې مې وکړې؛ نتیجه ئې ورنکړه، نور نو له دې خلکو د خیر طمع نه شي کېدی، د اصلاح انتظار ئې عبث دی، په کار ده خپل دعوت متوقف کړم او د مبارزې دا لړۍ قطع کړم!! پام چې د مبارزې اوږدوالی او طولاني کېدا دې مأیوس او ستومانه نه کړي، داسې نه چې د الله تعالی په لوري د خلکو مسلسل بلنه او د دوی منفي ځواب تا مأیوس کړي، هیڅکله داسې مه کوه، دعوت او مبارزه دې مه قطع کوه، مه خپل کار ډېر ګڼه او مه ئې په نیمايي لارې کې د پرېښودو پرېکړه کوه. خپل کار زیات ګڼل، نتیجه ئې ناڅیزه شمېرل، او د همدې لپاره خپله مبارزه ناتمامه او نیمګړې پرېښودل یوه اشتباه ده، پام کوه چې د دې اشتباه مرتکب نه شې.

**۷**: ستا دعوت او مبارزه یو الهي مأموریت دی، د دې الهي مأموریت په ترسره کولو کې صابر او ثابت قدمه اوسه، ستا صبر او استقامت دې د الله تعالی

لپاره وي، د خلکو له غبرګون سره ئې مه تړه، داسې نه چې که دوی ستا دعوت ته مثبت ځواب وایو خپل کار جاري وساتې او که ئې نه مانو نو لاس ترې واخلې او مأیوس شې او صبر له لاسه ورکړې.

د دغو آیتونو د ترجمې او تفسیر په اړه د څو ټکیو یادول مفید ګنم:

- لومړۍ لارښوونه په لومړي آیت کې د خوبونو د پرېښودو او د پاڅون او انذار غوښتنه کوي او وروستۍ ئې په اووم آیت کې د صبر او استقامت سپارښتنه. په دې جامع لارښوونو کې دا لومړۍ او وروستۍ لارښوونې ښیي چې نور ئې هم له قیام او انذار سره تړاو لري او د دغه ستر جهادي مأموریت بېلې بېلې برخې توضیح کوي. ټول آیتونه باید د دغې اساسي موضوع په ارتباط او د هغې په رڼا کې تفسیر شي، نه د مستقلو آیتونو په توګه او له اصلي موضوع سره له ارتباط پرته.

چا چې په پنځم آیت کې د (رجز) لفظ د رجس (پلیتي او ناپاکي) په معنا اخیستی څو اشتباهات ئې کړې: لومړی دا چې د رجز اصلي معنا ئې له پامه غورځولې، اصلي معنا ئې ناپاکي نه بلکې تزلزل او اضطراب ده. دوهم دا چې که رجز د ناپاکۍ په معنا ونیولی شي نو پنځم آیت د څلورم تکرار جوړېږي، او د کلام بلاغت ته تاوان رسوي. او درېیم دا چې رجز ئې په داسې معنا اخیستی چې د پیغمبر علیه السلام په هکله هیڅ مصداق نه لري، دوی دا د بت لمانځنې په معنا اخیستی، حال دا چې پیغمبر علیه السلام له بعثت نه مخکې هم له بتانو بې زاره او ترې متنفر وو. دا خبره د ده له شأن څخه ډېره لرې ده، له بعثت نه وروسته او په لومړنیو لارښوونو کې به دا خبر څنګه پیغمبر علیه السلام ته شوې وي چې د بتانو له پلیتي ځان لرې کړه!! مګر دی بتانو ته نږدې وو، چې ورته وویلي شي: ترې لرې شه!! د رجز اصلي معنا اضطراب ده، او دا په دعوت پورې تړلې موضوع ده، او هر دعوتګر باید متوجه کړی شي چې ځان ترې وساتي.

- چا چې شپږم آیت داسې ترجمه کړی: (داسې احسان مه کوه چې ترې زیات ئې غواړې)، تعبیر ئې په څو دلایلو ضعیف او کمزوری دی: د لا تمنن اصلي معنا ئې نه ده رااخیستې، اصلي معنا ئې مه غوځوه ده، او په دې معنا د قرآن په څو ځایونو

کې راغلې ده، لکه د التين په سوره کې چې ويل شوي: لهم اجر غيرممنون: دوی لره نه غوڅېدونکی اجر دی. دې ته ئې پام نه دی کړی چې دا لاربنوونه د داسې لاربنود کلام په ضمن کې راغلې چې په سر کې د ويښېدو، قيام او انذار غوښتنه کوي او په پای کې د صبر او استقامت سپارښتنه، او د بحث اصلي موضوع ئې دعوت، مبارزه او مقتضيات ئې ده، نه د منت او احسان په څېر مسايل، دې ته هم نه دی متوجه شوی چې منت په هر صورت کې، که لږ وي او که ډېر، قبيح عمل دی، خو د دوی په تعبير کې يوازې هغه منت قبيح ګڼل شوی چې له ډېرې غوښتنې سره توأم وي. او دا موضوع چې د وړې هديې او واړه احسان په مقابل کې د لويې هديې او لوی احسان طمع مه کوه، داسې موضوع نه ده چې پيغمبر عليه السلام ته په لومړنيو لاربنوونو کې ذکر شي او مخصوصاً د داسې لاربنوونې په ضمن کې چې دی قيام او پاڅون ته رابلي.

---

žöî ûïíÿ»3$'?ã ÇÈ Î•Åã Pöƒ 7ÍBöƒ 7Ï‹ù ÇÈ íq$Z9$'Î•Éç#Œîù

ÇÈ #Ÿr&ôB Z$B ¼ç9 &Mù_r ÇÈ #%‹Ïmr &Mù=z ôBr 'ÎöŒ ÇÈ 9Å„

H. ÇÈ ‰ƒÎ& b& BJÖƒ ßêÇÈ #%‹ĝð? ¼ç9 N%gBr ÇÈ #Ÿqâ ûüŽ/r

ÇÈ '£%r •Çù ¼çR) ÇÈ #Šqã¹ ¼çàÜöŒ™ ÇÈ #%ŠŽã $ZÏ»ƒK b%. ¼çR)

Ž£0r § 6ã ßêÇÈ •àR ßêÇÈ '£% #ø Ÿÿè ßêÇÈ '£% #ø Ÿÿàù

žv) ‹»d b) ÇÈ ã0sãÖŽ žv) ‹»d b) A$)ù ÇÈ Ž9FÖ$ •/Š& ßêÇÈ

ÇÈ Î³;$Aö%

---

۸ـ نو کله چې شپېلۍ کې پو شي. **۹**ـ نو دا ورځ به وي، ډېره سخته ورځ. ۱۰ـ پرکافرانو ناآسانه. ۱۱ـ ما پرېږده او هغه چې پيدا مې کړ يوازې. ۱۲ـ او ورته ومې ګرځاوو زياتېدونکی مال. ۱۳ـ او حاضر چمتو زامن. ۱۴ـ او تيار مې کړ ده ته پراخوالی. **۱۵**ـ بيا طمع کړي چې زيات ئې کړم. ۱۲ـ نه داسې نه ده، هغه خو دښمن شوی دی زما د آيتونو. ۱۷ـ ژر به ئې واچوو په زياتېدونکي مشقت کې. ۱۸ـ دی خو همغه دی چې فکر او سنجش ئې وکړ. ۱۹ـ نو مرګ پر ده چې دا څنګه سنجش ئې وکړ. ۲۰ـ بيا هم مرګ پر ده چې څنګه (بد) سنجش ئې وکړ. ۲۱ـ بيا ئې نظر وکړ. ۲۲ـ بيا ئې مخ تريو او تندی ګونځې کړ. ۲۳ـ بيا ئې شا کړه او ځان ئې ستر وښود. ۲۴ـ بيا ئې وويل: دا خو له نقل شوي جادو پرته بل څه نه دی. **۲۵**ـ دا خو د انسان له وينا پرته بل څه نه دی.

---

۸ـ۱۰: دا مبارك آيتونه څو مطالب زمونږ مخې ته ږدي:

- د قيامت راتګ محال مه ګڼئ، د ناممکن کار په سترګه ورته مه ګورئ، قيامت به په شپېلۍ کې له يوه پو کېدا سره پيل شي.
- دا ورځ به د کافرانو لپاره ډېره سخته او د نه زغملو ورځ وي.
- څوك چې نن د پيغمبر عليه السلام او اسلام په ضد تبليغات کوي، د تبليغاتو په ناقور او سورني کې پوه کوي او فتنې راولاړوي، بايد پوه شي چې سخته ورځ ئې په مخکې ده، هغه ورځ به په يوه داسې ناقور کې پو کړی شي چې د قيامت راتګ به اعلانوي.

۱۱ـ**۲۵**: دا آيتونه د هغه چا په هکله بحث کوي چې د الله تعالی له آيتونو سره ئې د دښمنۍ لپاره ملا تړلې، خپل مال ثروت، نفوذ او وجاهت له حق سره د دښمنۍ لپاره کاروي، تل په دې اندېښنو کې چې څنګه د پيغمبر عليه السلام او د ده د دعوت مقابله وکړي، څه تبليغات وکړي، څه تهمت او افتراء پسې وتړي، خلکو ته څه ووايي چې د ده مخالفت او دښمنۍ ته ئې وهڅوي!! له ډېر غور او دقت وروسته، او په بېلو بېلو لارو چارو له فکر کولو وروسته ئې يوې خوا بلې خوا ته

وکتل، مخ ئې تریو او تندی ئې ګونځې کړ، ژوره کینه ئې په څېرې کې راڅرګنده شوه، حق ورته معلوم وو خو ډډه ئې ترې کوله، په ډېر تکبر او غرور سره ئې وویل: دا قرآن چې پیغمبر علیه السلام ورته بلنه ورکوي، له جادو پرته بل څه نه شي کېدی، مګر نه ګورئ چې په ولس کې ئې اختلافات راولاړ کړي، پلار ئې له زویه او ورور ئې له وروره بېل کړی!! دا د کوډو او جادو داسې کتاب دی چې د مخکنیو کوډګرو له کتابونو اقتباس شوی، دا ستاسو په څېر د یوه انسان کلام دی، نه الهي کلام او پیغام، یوه انسان له ځانه جوړ کړی او خدای ته ئې منسوب کړی!! ولید بن مغیره د قریشو ستر او مخور مشر او په ټولو اجتماعي قضایاوو کې د دوی مرجع یو له هغو کسانو څخه دی چې د پیغمبر علیه السلام او قرآن مجید په هکله ئې دا خبرې کړې وې، د قریشو د مشرانو په هغې غونډې کې چې په (دارالندوة) کې جوړه شوې وه او مقصد ئې په هغو لارو چارو غور کول وو چې باید د پیغمبر علیه السلام په خلاف ئې غوره کړي، ده برخه والو ته ویلي وو: خپلې خبرې مو د دې سړي (پیغمبر علیه السلام) په هکله یوه کړئ، د خلکو پوښتنو ته په ګډه یو ځواب ورکړئ، ووایئ چې د ده په هکله به خلکو ته څه وایو؟ ځینو وویل: ښه به وي چې د شاعر نوم ورکړو، ولید تندی تریو کړ او وئې ویل: عربو شعرونه ډېر اورېدلي، د ده خبرې له شعر سره هیڅ شباهت نه لري، نورو وویل چې د کاهن په نامه به ئې یاد کړو، وئې ویل: څوك چې د ده خوا ته ولاړ شي، خبرې به ئې د کاهنانو په څېر ونه مومو، نورو وویل: ښه ده چې لیونی ئې وګڼو، هغه وویل: څوك چې له ده سره مخامخ شي د جنون او لیونتوب نښه به ئې په خبرو او حرکاتو کې ونه ګوري، نورو وویل: وبه وایو چې جادوګر دی، هغه وویل: ساحر په کومه معنا؟ ځواب ئې ورکړ: هغه چې په خلکو کې اختلافات او دښمني راولاړوي، دوستان سره بېلوي، ده وویل: هو دی جادوګر دی او همدا کار کوي!!

د دې آیتونو شرح او تفصیل داسې ده:

الف: د ۱۱ آیت په اړه د مفسرینو ترمنځ دوه د پام وړ رایې مومو:

لومړی: ما له دغه کس سره یوازې پرېږده، زه به یوازې او په خپله د ده چاره

کوم.

دوهمه: داسې کس چې ما په خپله او د بل له مرستې او اشتراك پرته پیدا کړی، ما ته پرېږده، زه به ورسره حساب کتاب کوم.

دوهمه توجیه په دوه دلایلو غوره او دقیق ده:

- د (وحیداً) صیغه باید تر ټولو نږدې ضمیر ته چې په (خلقت) کې مضمر دی راجع شي، نه (من) ته چې ترې فاصله لري، لومړی توجیه مو په هغه صورت کې سمه ګڼلی شوی چې د آیت ترکیب داسې وی: ذرنی و من خلقته وحیداً
- ورپسې آیتونه ښیي چې دا کلام د نعمتونو په لړ کې راغلی او معنا ئې یوازې دا کېدی شي چې ما په خپله پیدا کړی. یوازې په دې تعبیر سره ئې له وروستیو آیتونو سره یووالی او همغږي تأمین کېږي.

ب: له ۱۲تر ۱۴ آیتونه ځینې نور هغه نعمتونه بیانوي چې په دغه مغرور دښمن د الله تعالی له لوري پېرزو شوي:

پراخ او زیاتېدونکی مال، داسې ډېر زامن چې تل ئې خدمت ته چمتو ول، کافي امکانات او مساعد شرایط مو ورپه برخه کړل، دا ټول الهي نعمتونه ئې کافي ونه ګڼل، د شکر احساس ئې په کې راولاړ نه کړ، د لازیات نعمتونو طمع لري.

ج: تمناء به ئې څنګه ترسره شي، الله تعالی به څنګه نورې پېرزوینې پرې کوي، په داسې حال کې چې الهي نعمتونو طغیان ته هڅولی، د الله تعالی د آیتونو دښمنۍ ته ئې ملا تړلې، د نعمت په ځای به نقمت او عذاب ورته زیات کړي او په زیاتېدونکې مشقت به ئې اخته کړي.

د: له ۱۸ تر ۲۵ آیتونو پورې د الله تعالی د آیتونو په اړه د دې معاند انسان د عناد او دښمنۍ څرنګوالی توضیح شوی؛ لومړی په اندېښنو کې لاړ، داسې حالت ئې غوره کړ چې ښیي په هغو لارو چارو غور کوي چې وکولی شي د پیغمبر علیه السلام مقابله وکړي، په دې فکر کوي چې د پیغمبر علیه السلام په هکله څه ووایي چې خلك ئې ومني، مرګ پر ده او پر دې غور او فکر ئې، حقیقت ورته څرګند وو خو غرض، مرض او کبنې نه پرېښودو چې وئې مني، د پیغمبر علیه السلام او قرآن

په حقانیت پوهېدو خو تعصب او تکبر مخالفت ته هڅولو، ښه پوهېدو چې نه پیغمبر علیه السلام جادوګر دی او نه قرآن د انسان کلام، خو له دې سره سره ئې وویل: دا د کوډو کتاب دی، له مخکنیو کتابونو اخیستل شوی، دا د انسان کلام دی چې خدای ته ئې منسوب کړی!!

---

pm#§9 ÇÌÈ â‹? ŵr ’ÆŒèŵ ÇÌÈ ã)™ $B 71‘Š& $Br ÇÌÈ •)™ ï‹Îô É™

$Br ¨Z3Í»=B ŵƒÎ Í$Z9$=»tô¾& $Zùè_ $Br ÇÌÈ Ž³ ã pèóÎ $kÎöæ ÇÌÈ Î³ 6ŭÌ

=»G$Å$ {qèr'é ûïÏ%©!$ `ÏŠóŠÏ {rãŸ. ûïÏ%©!$ ¨Z!Hi ŵƒÎ NåkŠã $Zùè_

bqãBs÷G$$r =»G$Å$(qè?réûïÏ%©!$>$?ö¨ ŵr $ZÞKƒÎ {pBä ûïÏ%©!$Š#Š¼ƒr

%WB #‹»kÍ ª!$Š#'& ÏŒ$B brãŸ»3$$r ÖÚ •BE Níkqè ’Î ûïÏ%©!$ Aqã)‹Ïr

ŵƒÎ 7Îtf Šqãã_ D=è/ $Br â$±„ `B “Ï‰ör â$±„ `B ª!$@Ô/ã 7Ï‹.

ÇÌÈ Î³ 6ûÌ 3¢ •øÈ ŵƒÎ ‘Ïd $Br qèd

---

۲۲. حتماً به ئې سقر کې واچوو. ۲۷. او څه شي خبر کړې چې سقر څه دی؟ ۲۸. نه پرېږدي او نه خوشې کوي. ۲۹. د څېرو بدلوونکی. ۳۰. نولس پرې ګمارل شوې. ۳۱- او د دوزخ ساتونکي مو له فرشتو پرته بل څوك نه دي ګرځولي، او د دوی شمېر مو د کافرانو له تعذیب پرته د بل څه لپاره نه دی ګرځولی، ترڅو اهل کتاب پرې یقین وکړي او د مؤمنانو ایمان زیات کړي، او تر څو اهل کتاب او مؤمنان څه شك ونکړي، او تر څو د بیمارو زړونو

خاوندان او کافران ووايي: الله تعالی په دې مثال سره څه ویل غواړي؟ همداسې الله چې څوك غواړي بې لارې کوي ئې او څوك چې دی ئې غواړي هدایت کوي ئې، او ستا درب په لښکرو له ده پرته هيڅوك نه پوهېږي، او دا نه ده مګر د انسان لپاره یوه یادونه.

---

**۲۲**: سقر د دوزخ یوه هولناکه طبقه ده، دا د هغه چا لپاره مناسب ځای دی چې مغرور او متکبر دی، له حق نه ئې مخ اړولی، د الهي دعوت کینه کښ دښمن دی، د پیغمبر علیه السلام او د قرآن په هکله ئې قضاوت په دښمنۍ ولاړ او ظالمانه قضاوت دی. د ده له وضعیت سره مناسبه سزا همدا سقر دی.

**۲۷-۲۹**: پوهېږې چې سقر څه دی؟ تا ته ئې په څرنګوالي پوهېدا ګرانه ده، ستا په قاموس کې داسې الفاظ نه موندل کېږي چې د دې هولناکې کندې څرنګوالی توضیح کړی شي، دا د دنیا د اور په څېر نه دی چې څه په کې ولوېږي فوراً ئې سوځوي او په هیرو ئې بدلوي، دا داسې اور دی چې روح او جسم، دننه او بهر، د وجود سلول سلول ته ځان رسوي، دوزخیان په خپلې غېږې کې کلك نیسي، د تېښتې لار پرې بنده وي، یوه شېبه ئې آرام نه پرېږدي، نه په هغه کې مرګ شته او نه هیرې کېدا، او نه یوه آرامه شېبه، مرګ او ژوند سره لاس او ګرېوان، ژوند مرګ ته ورته کړي، څېره تکه توره کړي.

**۳۰**-د دوزخ مأمورین نولس ډلې دي، هره ډله ئې ځانګړې دنده په غاړه لري او په ځانګړې توګه دوزخیان تعذیبوي، لکه څنګه چې ګناهونه رنګ رنګ دي، سزا ئې هم بېله بېله، او سزا ورکوونکي ئې هم بېل بېل دي، د فرشتو بېلې بېلې ډلې به د هرې ګناه لپاره ټاکلې سزا ورکوي، لکه څنګه چې د هرې ګناه په ارتکاب کې د انسان یو غړی او عضو اساسي ونډه ترسره کوي، په ځینو کې لاسونه، په ځینو کې زړه، په ځینو کې سترګې او دماغ او ... عذابونه هم باید بېل بېل وي او هر غړي ته باید مناسبه او وړ سزا ورکړی شي، په دې آیت کې د نولس فرشتو ذکر ښیي چې دوزخیانو ته به نولس ډوله عذابونه ورکول کېږي، دا عذابونه قرآن داسې بیان کړي:

۱ـ د عذاب يوه ډله به دوزخيان پرمخې دوزخ ته کښوي.
يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ * القمر : ۴۸
۲ـ يوه ډله به ئې د تندې له وېښتانو کلك نيسي او
۳ـ بله به ئې له پښو او په ګډه به ئې په دوزخ کې غورځوي.
يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالأَقْدَامِ * الرحمن: ۴۱
۴ـ يوه ډله به ئې پر مخ مخ وهي.
۵ـ او بله پر شا شا.
وَلَوْ تَرَى إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ كَفَرُوا الْمَلاَئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ * الانفال: ۵۰
۶ـ بله ډله به د دوی غاړو ته غړوندي وراچوي.
وَأُوْلَئِكَ الأَغْلاَلُ فِي أَعْنَاقِهِمْ... الرعد: ۵
۷: ځينې به د دوی لاسونو او پښو ته ولچك او زولنې وراچوي.
وَتَرَى الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِي الأَصْفَادِ * ابراهيم : ۴۹
۸ـ بله ډله به دوی د دوزخ له ستنو سره په داسې اوږدو اوږدو زنځيرونو تړي چې اوږدوالی به ئې اويا ګزه وي.
ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعاً فَاسْلُكُوهُ * الحاقه : ۳۳
۹ـ بله ډله به ئې په سر سر په ګرزونو وهي.
وَلَهُمْ مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيدٍ * الحج: ۲۲
۱۱ـ ځينې به په دوی باندې د زخمونو د نو خوراك خوري.
فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هَا هُنَا حَمِيمٌ * وَلاَ طَعَامٌ إِلاَّ مِنْ غِسْلِينٍ * الحاقه : ۳۵ـ۳۶
۱۲ـ ځينې به په دوی بوی ناکې او تودې اوبه څښې.
وَيُسْقَى مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ * ابراهيم : ۱۲
۱۳-۱۴ـ ځينې به د قطران جامه وراغوندي چې تورې، بد بوی، غوړې او ژر سوځېدونکې به وي. او ځينې به د دوی مخونه ورورېتوي.
سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ وَتَغْشَى وُجُوهَهُمْ النَّارُ * ابراهيم : ۴۹

۱۵- ځینې نور به د اور جامې وراغوندي او
۱۶- ځینې به ځوښ اوبه پر سر ورتویوي.
فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ *
الحج: ۱۹

۱۷- ځینې به د دوی سوځېدلي پوستکي وربدلوي ترڅو عذاب ښه احساس کړي.
كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُوداً غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ * النساء: **۵۲**

۱۸- یوه ډله به د هغو سرو او سپینو زرو په سیکو د دوی تندی، اړخ او شا داغي چې په دنیا کې ئې کنز کړې وي.
يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هذَا مَا كَنَزْتُمْ لأَنْفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ * التوبة: **۳۵**

۱۹- او ځینې به د هغو ستنو اور ورو ورو زیاتوي چې دوزخیان به په کې ساتل کېږي او پر سر به ئې برغولي ایښي وي.
مَّأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيراً * الاسراء: **۹۷**

۳۰-۳۱- دلته څو خبرو ته خاص پام وکړئ:

- په ۳۰ آیت کې ویل شوي چې په دوزخ باندې نولس ټاکل شوې، او په ۳۱ آیت کې د دې وضاحت شوی چې د دوزخ ساتونکي ملائکي دي او د آیت په وروستۍ برخې کې ویل شوي چې د فرشتو شمېر له الله تعالی پرته هیچا ته معلوم نه دی، او د دې معنا دا ده چې له نولس څخه مراد د بې شمېره ملائکو نولس ټولګي دي.
- بیا ویل شوي چې د فرشتو دا لوی شمېر د کافرانو د تعذیب لپاره دی، یعني د دوزخ ساتونکي مو څکه په دومره لوی شمېر کې او په نولس ټولګیو کې ټاکلي چې کافران ښه تعذیب کړي.
- بیا دا خبره شوې چې د دې وینا په اړه به د خلکو غبرګون څلور ډوله وي:

۱- اهل کتاب به پرې یقین کوي، ځکه دوی په خپلو کتابونو کې هم دا خبرې مومي.

۲ـ د مؤمنانو ايمان پرې مضبوطېږي. دا ځکه چې د هر نوي حقيقت په پوهېدو سره د مؤمنانو ايمان زياتېږي.

**۴ـ۳**: د بيمارو زړونو خاوند منافقين او بې ايمانه کافران د داسې آيتونو په مقصد له پوهېدو عاجز وي، نه پوهېږي چې په دې کې څه پيغام او څه خبرداری پروت دی. دوی به وايي: الله تعالی په دې وينا سره څه ويل غواړي؟

- او په پای کې ويل شوي چې په دې سره د الله تعالی له ثابت سنت سره سم ځينې هدايت کېږي او ځينې بې لارې کېږي، او دا په داسې حال کې چې دا کتاب په اصل کې د ټولو انسانانو لپاره له پند پرته بل څه نه دی.
- د ۳۱ آيت په اړه څو ټکي په پام کې وساتئ.

الف: د آيت اوږدوالی مدني آيتونو ته ورته دی، د آيت په متن کې اهل کتاب او د بيمارو زړونو خاوندانو (منافقينو) ته اشاره شوې او تاسو ته معلومه ده چې د دې دواړو ډلو په هکله بحث د مدني سورتونو ځانګړتيا ده، يوازې په هغو آيتونو کې دا بحث موندلی شو چې په مدينه کې نازل شوي وي. د همدې لپاره په پوره ډاډ سره ويلی شو چې دا آيت په مدينه منوره کې نازل شوی.

ب: دا آيت د مخکني آيت د شرحې په مقام کې راغلی چې له تسعة عشر نه مراد څه دی؟ وايي چې دا د دوزخ ساتونکي فرشتې دي، چې شمېر ئې له الله تعالی پرته هيچا ته معلوم نه دی.

ج: په دې اړه چې د دوی شمېر مو د کافرانو لپاره فتنه ګرځولې؛ دوه تعبيرونه مخې ته راځي: لومړی ئې دا چې فتنه د عذاب په معنا ده او مقصد ئې دا دی چې د فرشتو دا شمېر ډلې مو د کافرانو د زيات تعذيب لپاره ټاکلې. چې همدا دقيق او سم تعبير دی، ځکه چې د قرآن په ډېرو ځايونو کې فتنه د عذاب په معنا راغلې، او دوهم تعبير دا دی چې د دې عدد په بيانولو سره غواړو کافران وآزمويو، دا تعبير ناسم او مبهم دی.

هـ: د دې حقايقو د بيانولو موخه او هدف دا دی چې خلکو ته پند ورکړی شي، نه دا چې د فرشتو شمېر وښودی شي، په شمېر ئې له الله تعالی پرته هيڅوک نه

پوهېږي.

و: دې ته مو هم پام وي چې دا آيت له مخکني نه ډېر وروسته نازل شوی، مخکې له دې چې دا آيت نازل شي، د مخکني آيت په اړه ډېرې پوښتنې راولاړې شوې، کافرانو او منافقينو ويلې چې د دې عدد معنا څه ده؟ دا خو يوه مبهمه خبره ده چې په دوزخ مو نولس ګمارلې، که دا يوازې ۱۹ملائکې وي نو دوی به دا لوی شمېر دوزخيان څنګه ساتي، تر څا به ورسېږي؟ د دوی په ځواب کې ويل شوې چې دا د بې شمېره فرشتو نولس ټولګي دي.

---

“ ‰n Ž $kXĵ ÇÌÍÈ •ÿö™& #Œĵ Ëx6Á 9$r ÇÌÌÈ •/Š& 6ĵ È@d$r ÇÌËÈ ÌK)9$r ž .

ÇÌÐÈ •¨ż 'Gƒ #& P‰) Gƒ b& ó ZË ä$© ` Jÿ ÇÌÏÈ Î ³ 6ÿ #\ƒÉR ÇÌÎÈ Î9a$

---

**۳۲**- داسې نه ده، قسم په سپوږمۍ. **۳۳**- او په شپې چې ترشا شي. **۳۴**- او په سباوون چې روڼ شي. **۳۵**- بې شکه چې دا يوه له سترو (پېښو) څخه ده. **۳۶**- انسان ته خبرداری ورکوونکی. **۳۷**- ستاسو هغه چا ته چې غواړي مخکې ولاړ شي يا وروسته پاتې شي.

---

**۳۲-۳۵**: دلته په درېو شيانو لوړه شوې: په سپوږمۍ، په شپې چې ترشا شي، او په سباوون چې روڼ شي، او بيا ويل شوي چې دا يوه لويه پېښه ده. تر دې د مخه چې د قسمونو او ځواب په اړه ئې څه ووايو؛ بايد دا واضح شي چې په ځواب کې کومې پېښې ته اشاره شوې او د (ها) ضمير څه ته راجع دی؟ او دا د کومو سترو ځيزونو څخه دی؟

که قسمونو او له قسمونو نه مخکې آيتونو ته لږ ځير شو نو د دواړو پوښتنو ځوابونه په آسانۍ سره موندلی شو؛ په قسمونو کې درېيو سترو ځيزونو ته اشاره شوې: سپوږمۍ، د شپې ببرته ګرځېدو او د سباوون راختو ته، له اتم آيت نه د

قيامت په اړه بحث پیل شوی، خو مخکې له دې چې بحث پای ته ورسېږي؛ د هغه چا په اړه خبره شوې چې مال، ثروت او قدرت مغرور کړی او له پیغمبر علیه السلام او د ده له دعوت سره ئې دښمنۍ ته هڅولی، دروغجنو تبلیغاتو ته ئې ملا تړلې او د مخالفت او مقابلې د بېلو بېلو اغېزمنو او مؤثرو لارو په لټه کې دی، دا بحث له یولسم آیت نه پیل شوی او تر ۳۱ آیت پورې ئې دوام کړی او بیا له ۳۲ آیت نه وروسته د قیامت په اړه ناتمام بحث بېرته پیل شوی او د پورتنیو قسمونو په ترڅ کې د قیامت د اثبات دلائل وړاندې شوي. د څواب په ترڅ کې د قیامت ورځ د دغو سترو سترو پېښو په څېر یوه بله ستره پېښه ګڼل شوې، د سپوږمۍ د رابره کېدو په څېر او د شپې بېرته ګرځېدو او د سباوون د راختو په څېر. په دې قسمونو سره قرآن خپل مخاطب ته وايي: ته ولې د قیامت له ورځې انکار کوې او راتګ ئې محال ګڼې؟ مګر ستا د اقناع لپاره د سپوږمۍ رابره کېدل، له مختلفو پړاوونو تېرېدل، له سترګو پټېدل او بیا راڅرګندېدل کافي نه دي؟ مګر همدا تا ته نه وايي چې له یوه حال نه بل ته اوښتل یو عام الهي سنت دی، د یوه حالت پای د بل حالت پیل دی، مګر ته نه ګورې چې د شپې پای د ورځې پیل وي، همدا راز چې شپه پای مومي؛ دا نړۍ به پای مومي، خو د دې نړۍ پای د بلې نړۍ پیل دی، ته هسې بې موجبه او بې دلیله دا نړۍ ثابته او تغییر نه منونکې ګڼې او ګمان کوې چې دا حالت به د تل لپاره دوام کوي!! او ستا دا ګمان هم غلط دی چې که دا عالم ختم شو نو په دې سره هر څه پای مومي، نه بیا ژوندون شته او نه بله دنیا!! ستا دا باور داسې دی لکه چې څوك ووايي: د سپوږمۍ او لمر غروب د دوی د عمر پای دی، له دې شپې وروسته به بله ورځ نه وي او له دې ورځې وروسته به بله شپه نه وي، خو ګورې چې تیاره شپه خپل ځای روڼ سباوون ته پرېږدي او سپوږمۍ له پټېدو وروسته بیا رابره شي. د الشفق په سوره کې هم دې ته ورته، شفق، د شپې راتګ او د سپوږمۍ بشپړه کېدل د قیامت د راتلو او بیاژوندون لپاره د دلیل په څېر وړاندې شوي.

ځینو مفسرینو په (انها لاحدی الکبر) کې د (ها) ضمیر، (سقر) ته راجع کړی او ځینو نورو (جنود) ته، خو دا نه یوازې ضعیف توجیهات دي بلکه د قسمونو او

ځواب ترمنځ ژور او عميق ارتباط په کې له پامه غورځول شوی، د دوی توجيه داسې ده لکه چې ځوك ووايي: په سپوږمۍ لوړه کوم چې دوزخ شته، د شپې په بېرته ګرځېدو او د سباوون په بيارا ختو لوړه کوم چې د الله لښکري بې شمېره دي!! داسې توجيه نه د قرآن کافر مخاطب ته قناعت ورکولی شي او نه ورته د فهم وړ ده. عجيبه دا ده چې ځنګه دغو محترمو مفسرينو د الشفق په سوره کې د همدې قسمونو واضح او څرګند تفسير له پامه غورځولی، هلته همدا قسمونه د قيامت او بياژوندون لپاره د دليلونو په حيث وړاندې شوي او ويل شوي چې د شپې ورځې تګ راتګ، د سپوږمۍ طلوع او غروب، او سترېدل او وړېدل، پټېدل او څرګندېدل ئې دا ښيي چې دا نړۍ د مسلسل او مستمر تحول او بدلون صحنه ده، هر څه له يوه حالت نه بل حالت ته درومي، په هيڅ مقطع او هيڅ نقطه کې توقف او سکون نه شئ موندلی، د بيا ژوندون منکرين هسې او بې ځايه، مرګ ته د سکون او توقف او د بدلون د پای په سترګه ګوري، دا انګېرنه له هغه څه سره ټکر او تصادم کوي چې د نړۍ له مشاهدې نه ئې ترلاسه کوو. د دې غلطې او بې بنسټه انګېرنې د اثبات لپاره هيڅ دليل، د دې ټولې پراخې نړۍ له هيڅ ګوټ نه نه شو وړاندې کولی.

**۳۲-۳۷**: د قيامت يادونه د ټولو انسانانو لپاره تذکر او پند دی، د هغه لپاره هم چې غواړي د الله تعالی په لوري مخکې ولاړ شي، د معنوي ارتقاء په لوري ګړندي او مضبوط ګامونه واخلي او د مزيد مخکې تګ اراده لري، او د هغو لپاره هم چې شا ته پاتې کېږي، د خپل رب په لوري له مخکې تلو ډډه کوي او د مخکې تګ همت نه لري، دواړو ډلو ته خبرداری ورکول کېږي او د ګناه او عصيان له بدو پايلو ئې وېروي.

---

M»Z_ 'Î ÇÌÈ ÈüÜŠ$$ = »t©¾& WĴ ÇÌÈ þY‹Ü' ßM6¡ . $JÎ ¤§ ÿR @ä

Ó9 {q8$% ÇÏÈ •)™ ’Î Óã 6 =™ $B ÇÏÈ ûüÏBÓ G8$Çã ÇÏÈ bq8ä$¡ Ff

ÌÚ qã$Zà2 r ÇÏÈ ûüÅóÏ%$Ñ‚ÏÖçã R Ó9r ÇÏÈ û‚fÁ G8$šÆ Ï ã R

ÇÏÈ ûüÉ8$Y9?& ÓL m ÇÏÈ ÈïÏ9$Q ö×Î Ü É3çZär ÇÏÈ ûüÅ Í$ƒø$ì B

۳۸۔ هر څوك د هغه څه په ګرو کې دی چې ترلاسه کړي ئې دي. ۳۹۔ مګر اصحاب اليمين . ۴۰۔ چې دوی به په جنتونو کې يو له بله پوښتي: ۴۱۔ له مجرمينو نه: ۴۲۔ څه څه په سقر کې واچولئ؟ ۴۳۔ وايي به: مونږ له لمونځ کوونکو څخه نه وو، ۴۴۔ او مسکين ته مو خوراك نه ورکاوو. ۴۵۔ د خوشو خلکو په څنګ کې په چټي لوبو مشغول وو. ۴۶۔ او انکار به مو کاوو له يوم الدينه. ۴۷: تر هغه چې راورسېدو مرګ مو!!

۳۸: هر انسان د خپل عمل په ګرو کې دی، ښه او نېك اعمال به ئې له ځان سره د جنت غوره ځای ته بيايي او بد اعمال به ئې د دوزخ بد ځای ته له ځان سره وړي، هغه څه چې د ده برخليك ټاکي او د ده د راتلونکې واګې او مهار ئې په خپل لاس کې نيولی، د ده له کړو وړو پرته بل څه نه دي.

۳۹: (کينږ لاسي) چې په دنيا کې (کاږه) روان ول، او په چپو کږو لارو سر، او په الهي محاکمه کې ئې عمل پاڼې په کينږ لاس کې ورکړی شوې، دوی به د خپلو کړو وړو په منګولو کې يرغمال وي، خو (ښی لاسي) چې په دنيا کې په سمه لار روان ول، او په الهي محاکمې کې ئې عمل پاڼه په ښي لاس کې ورکړی شوې، دوی به د خپلو کړو وړو يرغمال نه بلکې اعمال به ئې د دوی په خدمت کې وي، د جنت په لوري به ئې له ځان سره بيايي او د جنت دروازې به د دوی پر مخ پرانېزي.

۴۰-۴۲: دوی به په جنت کې په خبرو آترو او يو له بله په پوښتنو لګيا وي، له مجرمينو څخه به پوښتي: ولې له دې برخليك سره مخامخ شوئ، څه شي او کومو

عملونو دې ځای ته ورسولئ؟ دلته څو ټکي د غور او توجه وړ دي:

الف: هم به د جنتيانو تر منځ خبرې او يو له بله پوښتنې وي او هم د جنتيانو او دوزخيانو ترمنځ.

ب: په دې پوهېږئ چې د يوه عادي مسلمان جنت به هومره پراخ او ستر وي چې سور به ئې د آسمانونو او ځمکې په اندازه وي. او دوزخ هم دومره ستر او پراخ چې ټولو دوزخيانو ته په خپلې غېږ کې ځای ورکولی شي، د جنتيانو تر منځ او د دوی او د دوزخيانو تر منځ خبرې آترې داسې وګڼئ لکه نن چې څوك د يوه ستور ليکي له يوه ډېر لرې ستوري څخه د بل ستور ليکي په يوه لرې ستوري کې له چا سره خبرې کوي، له دې نه معلومېږي چې د راتلونکي عالم ضوابط به له اوسني عالم نه ژور توپير لري، او د انسان استعدادونه او حواس به هم له اوسني حالته ډېر توپير لري.

**۴۳-۴۷**: (مجرمين) به د (اصحاب اليمين) په ځواب کې وايي: پنځو ګناهونو له دې برخليك سره مخامخ کړو:

۱: مونږ لمونځ کوونکي نه وو.

۲: مسکين ته مو خوراك نه ورکاوو.

۳: له خوشو خلکو سره په چټي لوبو لګيا وو

۴: له يوم الدين نه مو انکار کاوو.

**۵**: او دې انکار ته مو تر هغه دوام ورکړ چې مرګ مو راورسېدو!!

يعني نه مو د الله تعالی عبادت وکړ، او نه مو پر مسکين او بې وزلي ترحم او زړه سوی، د يوه بې هدفه او لاابالي انسان په څېر د نورو بې هدفو او خوشو خلکو په خوا کې په خوشو لوبو لګيا وو، له ژوند نه مو يوه بې مقصده ملعبه جوړه کړې وه، نه يوازې دا چې په آخرت مو باور نه وو بلکې هغه مو دروغ ګاڼو، تر هغه په ګناهونو کې غرق پاتې شوو چې مرګ مو مېلمه شو، او زمونږ ماشومانه او خوشو لوبو ته ئې د پای ټکی کېښود. په دې اوږده موده کې مو نه په خپلو کړو وړو کې تجديد نظر وکړ، او نه مو د (يقين)، (باور) او (عقيدې) په نامه څه پېژاندو، تر هغه

چې مرګ راغی، زمونږ سترګې ئې راپرانیستې، او (یقین) ئې مونږ ته راوپېژاندو.

---

ÇÍÎÈ ûüÆ Ìèã ó•Ï õG9$Çã Ðç $Jù ÇÍÎÈ ûüèÿ»ì 9$pè»ÿ© óßãÿZ? $Jù

Ðãß < ÌÐ$@ä ß/Ìãó/ ÇÎÎÈ ¥ qó% `Ë ÐSù ÇÎÈ ••ÿZFóB ÖÐãn ÐgR(.

ÐŸ2 ÇÎÎÈ o•Å¥$šc qè/† ž @/ ž . ÇÎÈ Ž¤ YB $ZßS ß 4Ä¬ã b&

qè ª! $ä$±„ b& Wĵ brãäõ ƒ $Br ÇÎÎÈ ¼ŸŸ2 Œ ä$© ` Jù ÇÎÎÈ ••Ï õ? ¼R)

ÇÎÎÈ ó•ÿó@ã$@ d&r 3' q)G9$ã@ d&

---

**۴۸ـ** نو د هیڅ شفاعت کوونکي شفاعت به ګټه ورونه رسوي. **۴۹ـ** نو سره له دې څه پرې شوي چې له دې تذکر نه ډډه کوي؟ **۵۰ـ** داسې لکه چې ترېدلې صحرايي خره وي، **۵۱ـ** چې له زمري تښتېدلي. **۵۲ـ** نه، بلکې هر يو ئې غواړي چې ورکړی شي پرانیستې پاڼې. **۵۳ـ** نه داسې نه ده، بلکې له آخرته نه وېرېږي. **۵۴ـ** نه داسې نه ده؛ بلکې دا يوه يادونه ده. **۵۵ـ** نو څوك چې غواړي پند دې ترې نه واخلي. **۵۶ـ** او پند نه ترې اخلي مګر دا چې الله ئې وغواړي، همدی د وېرېدو وړ دی او د بخښنې غوښتو وړ.

---

۴۸: د چا لمن چې په دغو ګناهونو لړل شوې وي د هیڅ شفاعت کوونکي شفاعت به ګټه ورونه رسوي. نه به ئې له الهي عذابه وژغورلی شي او نه به ئې عذاب راکم کړی شي.

دا آیت مونږ ته د (شفاعت) حقیقت په ښه توګه توضیح کوي او وايي:

الف: ګمان مه کوه چې شفاعت په هر حالت او هر صورت کې ګټه دررسولی

شي.

ب: ته د خپلو کړو وړو او عملونو په ګرو کې يې، د بل (شفاعت) به يوازې هغه وخت ښايي ګټه دروړسوي چې ستا خپلو عملونو ته د شفاعت وړ ګرځولی وې، او دا وړتيا ئې تا ته درکړې وي چې الله تعالی ستا په اړه د چا شفاعت قبول کړي.

ج: بايد متوجه وې چې د (شفاعت قبلېدا) د الله تعالی کار دی نه د شفاعت کوونکي کار، او الله تعالی ثابت او تغيير نه منونکي سنن لري، د دغو سننو له مخې پرېکړه کوي چې چا ته د شفاعت اجازه ورکړي او د چا په هکله، کوم شفاعت ومني او کوم شفاعت ته اعتناء ونکړي.

د: نو ته د دې په ځای چې د چا شفاعت ته زړه ښه کړې، هغه د نجات وسيله وګڼې، او بروسه پرې وکړې (صالح عمل) د نجات اصلي لامل وګڼه او (شفاعت) د صالح عمل په څنګ کې ګټور وګڼه نه په مستقله توګه.

هـ: پام کوه چې په (شفاعت) باندې ستا اعتقاد د دې باعث نه شي چې بې باکه او جسور شې او دا اعتقاد دې ګناه ته وهڅوي، بې ځايه طمع او توقع درکې راولاړه نه کړي، او د خپلو ايماني مسئوليتونو له ادا کولو دې غافل نه کړي.

**۴۹ـ۵۱**: له دې ټولو سره سره څه د دې باعث شوي چې له دې الهي پند او تذکر نه متنفر او منزجر دي؟ ستا له بلنې تښتي، تېښته ئې هم د حيرانتيا وړ، داسې لکه صحرايي خر چې له زمري تښتي.

**۵۲**ـ يوازې تېښته نه، بلکې هر يو ئې دا انتظار کوي چې د الله تعالی له لوري پرانيستی ليك ورته راشي، وايي: که پر پيغمبر عليه السلام کتاب نازل شوی او وحي ورته راغلې، ولې پر مونږ هر يوه همداسې پاڼې نه نازلېږي، تر څو چې همداسې پاڼې راباندې نازل نه شي ايمان نه راوړو او د قرآن وينا ته اعتناء نه کوو!!

**۵۳**ـ ګمان مه کوئ چې دا خلك به په هغه صورت کې خامخا ايمان راوړي او له خپلو بدو او کرکجنو کړو وړو به لاس واخلي چې له آسمانه داسې پاڼې پرې نازله شي، نه، نه، دوی بې باکه دي، د ګناه او عصيان له بدو پايلو وېره نه لري، له آخرته بې پروا دي، بايد پوه شې چې بې باکه او باغي ګنهګاران اصلاح کېدونکي نه وي.

**۵۲.۵۴**: دا آيتونه څو اساسي مطالب زمونږ مخې ته ږدي:

الف: قرآن د يادونې او تذکر لپاره نازل شوی، له قرآنه دا انتظار مه لرئ چې ټول، ښه او بد، د هدايت تږی او له هدايته منزجر او متنفر به دې ته اړ باسي چې حقايق ومني او په سمه لار روان شي.

ب: څوك چې د هدايت کېدو تلوسه لري، د هدايت تږی دی، کمال ته د رسېدو په لټه کې دی، په حقيقت د پوهېدو تکل کوي، حق او حقيقت د ده ورکه شوې متاع ده، دا کس کولی شي له دې لارښود الهي کتاب نه ګټه واخلي او د هغه په رڼا کې حقيقت وپېژني او خپله لار او ورکه متاع ومومي.

ج: د دوی (غوښتنه) په يوازې توګه کافي نه ده، داسې ګمان مه کوئ چې د حقيقت په موندلو کې يوازې د انسان عقل او حقيقت ته په رسېدا کې يوازې د ده خپل هوډ او عزم کافي دی، نه؛ د خپل (عقل) او (ارادې) ترڅنګ (الهي لارښوونو او الهي توفيق) ته ضرورت لري.

د: په دغو دواړو بنسټيزو خبرو بايد همزمان باور ولرئ: ۱- په هغې خبرې چې په **۵۴** آيت کې په دې مفهوم راغلې: (څوك چې غواړي نو پند دې ترې واخلي) يعني ته په خپل انتخاب کې آزاد يې، د پند اخيستلو پرېکړه به په خپله کوې، کولی شې له دوو لارو څخه يوه غوره کړې، يا موافقه وکړې يا مخالفت. ۲- او په هغې خبرې چې د **۵۵** آيت په سر کې په دې مفهوم راغلې: (او پند نه شي اخيستی مګر دا چې الله تعالی وغواړي)، يعني له الهي توفيق او د ده له إذن او ارادې پرته نه شي کولی څه وکړي او خپل مقصد ته ورسي.

ځينې د دغو دواړو خبرو په تلفيق کې له مغالطې سره مخامخ کېږي، کله (جبر) ته متمايل شي او کله (اختيار) ته، او کله قضيه دومره پېچلې کړي چې نه په خپله له کړکېچ وتلی شي او نه بل د قضيې په حقيقت پوهولی شي او نه ئې پوښتنو ته ځواب ويلی شي. حال دا چې قضيه ډېره ساده او روښانه ده: الله تعالی انتخاب تا ته پرېښی او توفيق ئې ځان ته منسوب کړی. کله چې په تا کې د هدايت تنده او تلوسه راپيدا شي، ودې غوښتل چې په حقيقت پوه شې او په سمه لار هدايت شې،

او الله تعالی ته رجوع وکړه او مرسته ترې وغواړې، هغه به حتماً د هدايت دروازې ستا په مخ پرانيزي، توفيق به درکوي او حقيقت ته په رسېدو کې به دې مرسته کوي. د خپلو بندګانو د لارښوونې په اړه د الله تعالی سنت دا دی چې که څوك ده ته مخه کړي، په چا کې حقيقت ته د رسېدو تلوسه او تنده راپيدا شي، ترلاس ئې نيسي، خړوبه کوي ئې او د هدايت دروازې ئې پر مخ پرانيزي، (يهدی اليه من ينيب) په چا کې چې انابت وي الله تعالی ئې د ځان په لوري هدايت کوي. او چا چې د کفر او نفاق لار غوره کړه او همدا ئې انتخاب وو، دی په خپل لاس د هدايت دروازې په خپل مخ تړي او د الله تعالی له عنايت او توفيق څخه ځان محروموي.

(د دې موضوع تفصيل د التکوير د سورې د وروستي آيت په اړوند حاشيې کې مطالعه کولی شئ)

هـ: يوازې الله تعالی د دې وړ دی چې ترې وېره ولرئ او د دې وړ چې ترې بخښنه وغواړئ، ستاسو وېره بايد يوازې له الله تعالی وي او د ګناهونو بخښنه غوښتل مو د ده له درباره.

# القيامة

**د سورې معرفي:**

د دې سورې نوم القيامه (قيامت) دی، ۴۰ آيتونه لري، د شپږو لومړيو آيتونو فواصل ئې قيامه ته ورته هموزنه صيغې دي، له اوومه تر ديارلسمه پورې بصر ته ورته هموزنه صيغې، بيا له څوارلسمه تر پنځه ويشتمه پورې بصيره ته ورته هموزنه صيغې، له شپږويشتمه تر دېرشمه پورې راق او ساق ته ورته صيغې، او لس وروستي آيتونه ئې صلی او تولی ته ورته صيغې، ډېر ښکلی غږ، ښايسته وزن او خوندور مد و جذر لري. مکي سوره ده، په متن کې ئې داسې نښې ګورو چې ښيي دا سوره د مکي دور په لومړيو کې او هغه وخت نازله شوې چې پيغمبر عليه السلام لا د وحي په ترلاسه کولو کې کافي مهارت او تجربه نه درلوده، د وحي ترلاسه کولو په وخت کې به ئې دا اندېښنه وه چې څه ترې پاتې يا هېر نه شي، د همدې لپاره به ئې له فرشتې نه د اورېدو په وخت کې، تر دې د مخه چې هغه خپل پيغام بشپړ کړي، ده به له ځان سره تکرارول.

دا سوره د (قيامت په ورځ) او (ملامتوونکي نفس) باندې قسمونو سره پيل شوې، د بحث اصلي موضوع ئې (قيامت) ده. په دې حتماً پوهېږئ چې په انسان کې د (ملامتوونکی نفس) شته والی د قيامت د اثبات لپاره يو مضبوط او قوي دليل

دی، په دې معنا: که په انسان کې دا مَلَکَه او غریزه شته چې په هر بد او کرکجن کار کې هغه ملامتوي، د ده د کړو وړو په اړه قضاوت کوي او بد کارونه ئې غندي، نو آیا هغه ذات چې انسان ئې پیدا کړی او دا ملکه ئې په ده کې ایښې، هغه به په همدې صفت متصف نه وي؟ د انسان د عملونو په هکله به قضاوت نه کوي او په خپلو بدو کړو وړو به ئې نه ملامتوي؟! هر عقلمن انسان به په دې اعتراف کوي چې د انسان پیدا کوونکی خدای به حتماً په دې صفت متصف وي، ستا ملامتوونکی نفس په دې شهادت ورکوي چې ستا رب حتماً د قضاوت په صفت متصف دی، حتماً به د قیامت ورځ راولي او ستا د عملونو په اړه به قضاوت کوي. په قرآن کې معمولاً د قیامت په څېر د سترو سترو قضایاوو د اثبات لپاره په ملموس او مشهود شیانو لوړه شوې، خو دلته په استثنائي توګه لومړی په (قیامت) او بیا په (نفس لوامه) لوړه شوې، په نورو مواردو کې تل د قسمونو ځواب له قسمونو وروسته او اکثراً ورپسې متصل راځي، خو دلته د قسمونو په پای کې کوم ځواب نه مومو! برعکس (یوم القیامة) چې د قرآن د اسلوب له مخې باید د قسم د ځواب په توګه راغلی وی، د شاهد او یوه (مسلم حقیقت) په توګه ذکر شوی، او قسم په ( نفس لوامه) چې د (قیامت د اثبات) لپاره دلیل او شاهد دی له ځوابه وروسته راغلی!!

تعبیر داسې دی: نه، د قیامت له ورځې ستا انکار واهي او بې بنسټه دی، د قیامت راتګ یو مسلم حقیقت دی، ستا (نفس لوامه) په دې شهادت ورکوي چې قیامت به حتماً راځي، او هغه رب چې ستا په وجدان کې ئې ملامتوونکې ملکه ایښې، حتماً به ستا د عملونو په اړه قضاوت کوي، آیا انسان داسې ګمان کوي چې الله تعالی به ئې وراسته هډوکي راغونډ نه کړي، د ده کالبوت به جوړ نه کړي او بیا به ئې راژوندی نه کړي؟!! حال دا چې الله تعالی نه یوازې د انسان په بیا ژوندون قادر دی بلکې کولی شي د ګوتو سرونه ئې په مخکنۍ بڼې کې جوړ کړي، له قیامته د ده د انکار وجه دا نه ده چې د ده عقل ئې نه شي منلی او یا مقنع دلایل ورته نلري، په قیامت باور خو د ده په ختې کې ایښودل شوی، د ده وجدان په خپله د قیامت

لپاره شاهد دی، انکار ئې له جهل او ناپوهۍ نه دی راولاړ شوی، بلکې له دې راولاړ شوی چې د بیا بیا ګناه اراده لري، د ده مشکل دا دی چې (هوس) ئې دې ته اړ کوي چې خپل وجدان تکذیب کړي او له قیامته انکار وکړي، مګر نه ګورئ چې دی تل د خپل وجدان له مخالفت او ملامتولو سره سره ګناه ته ملاتړي، هوس پرې غالب شي، قضاوتونه ئې تل له هوس نه خړوبېږي، نه د خپل عقل پرېکړو ته غاړه ږدي او نه د خپل وجدان قضاوت مني، هغه له قیامته د انکار لپاره یوازې یو دلیل لري، او هغه دا چې: قیامت به څه وخت راځي؟ ولې تر اوسه رانغی؟ که قیامت رښتیا وی باید تراوسه واقع شوی وی!! دې انسان ته چې نه د خپل انکار لپاره کوم دلیل لري او نه د بل دلایل مني، د هوس بنده دی، د خپل عقل له پرېکړې او د خپل وجدان له قضاوته انکار کوي، فقط یو ځواب ویلی شو: لږ انتظار وکړه، عجله مه کوه، د دې ورځې هولناکې صحنې به په خپلو سترګو وګورې، له سترګو به دې پردې لرې شي، سپوږمۍ به تیاره شي، لمر او سپوږمۍ به یو بل جذب کړي، په دې ورځ به له قیامته منکر انسان، هغه چې د دې حقیقت له منلو تښتېدو، وایي: ملجأ او مفر چېرې دی؟ چېرې او چا ته پناه یوسم؟! خو د الله تعالی په وړاندې له ودرېدو پرته به هیڅ ملجأ او مفر نه شي موندلی. په هر هغه څه به پوه شي چې په دنیا کې ئې کړي وو، یا ئې د کولو اراده کړې وه خو نه وو توانېدلی او فرصت ئې په لاس نه وو ورغلی، یو یو به ئې د سترګو په وړاندې مجسم شي، په خپله به پوه شي چې کوم کوم بد عملونه ئې څرګند یا په پټه کړي او کومې کومې بدې ارادې ئې په زړه کې وې؟!! په خپل حال ښه پوه، او د خپل زړه په اسرارو ښه خبر، که څه هم د خپلو بدو عملونو د توجیه او له خپلو پلیتو افکارو او عزائمو نه د دفاع لپاره دلایل او عذرونه وړاندې کړي، دی په خپله ښه پوهېږي چې ولې له قیامته انکار کوي، او کوم عمل او اراده ئې هغه له قیامته انکار او د مکافات او مجازات تکذیب ته هڅولی؟!! دغه پلیته ډله د خپل باطني خبث په وجه د قیامت په هکله د قرآن مضبوط او محکم دلایل هم نه مني، هغه قرآن چې پیغمبر علیه السلام به له فرشتې څخه د اورېدو په وخت کې داسې تراغېز لاندې راغی چې ژر ژر به ئې له ځان سره

تکراراوو تر څو ئې ښه حفظ کړي، څه ترې پاتې نه شي، کوم حرف او لفظ ترې بې ځایه نه شي، ژر او بشپړ ئې خلکو ته ورسوي، د قرآن د جالب او جذاب آیتونو په اورېدو سره به داسې په وجد راغی او دومره تلوار او تلوسه به ئې په ده کې راولاړه کړه او د قرآن قوي او قانع کوونکي استدلال به داسې اغېز پرې وکړ چې فرشتې به لاخپل پیغام نه وو خلاص کړی چې ده به له ځان سره تکراراوو چې ژر ئې حفظ کړي او ډاډه به شو چې که له دې مخکې ځینو خلکو ورسره مخالفت کاوو نو اوس به د قرآن د دې دلایلو په اورېدو سره حتماً له مخالفته لاس اخلي. د ده همدغه تلوار ته په پام سره الله تعالی ورته لارښوونه وکړه چې د هېرېدو اندېښنه ئې مه کوه، د وحي د اورېدو په وخت کې ژر ژر ژبه پرې مه خوځوه، ستا رب د دې ذمه وار دی چې قرآن به ستا په حافظه کې جمع کوي او ستا په ژبه به ئې جاري کوي، نه به ئې په حفظ کې څه ستونزه لرې او نه به ئې په بیانولو کې، د اورېدو په وخت کې ئې له ځان سره مه تکراروه، تلوار مه کوه، په دقت سره ئې واوره، حفظ او بیانول ئې زمونږ په ذمه دی!! ګورئ چې د قرآن په اړه د دغو دوو شخصیتونو چلند کې څومره ژور توپیر دی؟! یو ئې حقیقت تکذیبوي، نه په دې سبب چې کوم دلیل ورته نلري، بلکې په دې خاطر چې د (ګناه اراده) ئې دې تکذیب ته هڅوي، او بل ئې داسې د حقیقت تږی چې د اورېدو په وخت کې ئې دومره تلوار او عجله لري، داسې ژر ژر خپله ژبه پرې خوځوي.

هر دلیل چې دوی ئې د قیامت د تکذیب او انکار لپاره جوړوي بې بنسټه دی، انکار ئې یوازې یوه وجه لري: دنیا ئې غوره کړې او د دنیا لپاره له آخرته عمداً انکار کوي، د دلایلو نشتوالی د دوی د انکار لامل نه دی بلکې دنیا پرستي او د آخرت عمدي انکار د دې تکذیب باعث او لامل دی.

په دې ورځ به ځینې مخونه خوښ او ځلانده وي، د خپل رب په لوري ناظر او کتونکي، او ځینې څېرې عبوس، خړې او ملاماتونکي عذاب ته منتظر. ګمان مه کوئ چې دنیا نږدې او ستاسو خوا کې، او آخرت لرې دی او ستاسو او د آخرت ترمنځ اوږد واټن، نه! دا یوه اشتباه ده، حقیقت دا دی چې کله روح حلق ته ورسي او

له هر لوري دا غږ اوچت شي: څوك كولی شي د ده طبيب شي؟ څوك به ئې له مرګه وژغوري؟!! خو هيڅ ځواب به نه اوري او څوك به دا توان نه لري چې د مرګ له بيماري ئې وژغوري او د روح قبضېدا ئې وځنډوي، يقين ئې راشي چې نور نو د فراق شېبه ده، بايد د دنيا له هر څه سره خپلې اړېكې غوڅې كړي او د الله تعالی په لوري وخوځېږي، د درد له شدته به خپلې پښې سره تاو كړي، او د الله تعالی په لوري به خپل سفر پيل كړي!! ستا مرګ د آخرت په لوري د سفر پيل دی، ولې هغه لري ګڼې او اعتناء ورته نه كوي او دنيا نږدې شمېرې او پرې نښتی يې؟!! خو د دې ټولو دلايلو سره سره هغه نه آخرت تصديق كړ، او نه ئې لمونځ وكړ، برعكس آخرت ئې تكذيب كړ او له لمانځه ئې ډډه وكړه، په ډېر غرور او تكبر سره خپلې كورنۍ ته وروګرځېدو. وای وای په تا او په دې حالت چې تا په دنيا كې غوره كړی!! وای وای په تا او هغه حالت چې په آخرت كې به ئې لرې!! آيا دې مكذب انسان دا ګمان كړی چې مهمل به پرېښودی شي؟!! آيا ګمان كوي چې د ده رب به ئې پرېږدي چې ومري، هډوكي ئې وراسته شي، په ځمكه كې تجزيه شي، په همدې حالت كې به ئې پرېږدي، بېرته به ئې راژوندی نه كړي، محاسبه به ورسره ونكړي؟ آيا داسې كار ورته ګران او محال برېښي؟ او يا الله تعالی ترې عاجز دی؟ مګر دی يو وخت يوه حقيره نطفه نه وو چې په رحم كې لوېدلې وه ؟! مګر دې ته نه ګوري چې يو وخت ځوړنده توكی او علقه وو؟! مګر دې ته متوجه نه دی چې خپل رب سم او موزون پيدا كړ؟! او الله تعالی له همدې حقيرې نطفې څخه د (نر) او (ښځې) جوړه پيدا كړه؟! آيا د ده لومړنی پيداكوونكی ذات چې انسان ئې له خاورې، بيا له نطفې او بيا له علقې پيدا كړ، له دې عاجز ګڼې چې مړي راژوندي كړي؟! هر سالم عقل په دې شهادت وركوي چې داسې پيدايښت تر لومړي پيدايښت ډېر سهل او آسانه دی.

بسم الله الرحمن الرحیم

Ü|¡tø& ÇÏÈ ïþB#§=9$Ä ÿZ9$Î ãNÅ¡ø%é& Iwr ÇÊÈ ïþJ»Šu‹É)ø9$Ö Qöq Î/ ãNÅ¡ø%é& Iw

ÇÍÈ ¼çmtR$Z/ “ hÅ¡• b& #’?tã úïÍ‘Ï‰»s% 4’n?t/ ÇÌÈ ¼çntB$sàÏã yìJøgªU `©9r& ß»|¡RM}$

ÇÏÈ ïþJ»Šu‹É)ø9$Pöqtƒ b$u‹r& ã@t«ó¡o„ ÇÎÈ ¼çntB$tBr& •ãàôfu‹Ï9 ß»|¡RM}$# ߉ƒÌãƒ ö@t/

۱ـ نه، زما دې قسم وي د قيامت په ورځې. ۲ـ او نه، زما دې قسم وي په نفس ملامتونکي. ۳ـ آيا دا انسان انګېري چې راغونډ به نه کړو د ده هډوکي؟ ۴ـ ولې نه، په دې برلاسي يو چې برابر ئې کړو د ګوتو سرونه. ۵ـ بلکې دا انسان غواړي چې فجور وکړي ترې ورمخکې. ۶ـ نو پوښتي: کله به وي د قيامت ورځ؟!

۱-۲: دلته په (يَوْمِ الْقِيَمَةِ) او (النَّفْسِ اللَّوَّامَةِ) لوړه شوې، خو د قسمونو نه وروسته په ټولې سورې کې داسې څه نه مومو چې د قسمونو ځواب وي. د قرآن په ټولو نورو سورتونو کې معمول دا ده چې لومړی په څرګند او منل شوي شي لوړه کېږي، بيا د قسم ځواب د يوې داسې مسلمې او انکار نه منونکې دعوا په څېر ذکر کېږي چې همدا قسمونه ئې په حقانيت شهادت ورکوي، د دې عامې قاعدې مطابق بايد لومړی په (نفس لوامة) لوړه شوې وی او بيا د قيامت راتګ د دې قسم د ځواب په حيث ورپسې راغلی وی، خو دلته (يوم القيٰمة) د داسې يوه حقيقت په حيث ذکر شوی چې د قرآن هر مخاطب بايد د هغه په اړه شك او ترديد ونلري او د مسلم او قطعي حقيقت په حيث ئې ومني او بيا د قيامت د اثبات لپاره په (نفس لوامة) استناد شوی. دا چې ولې دلته د نورو سورتونو په څېر د قسم ځواب په څرګند طور نه دی ذکر شوی او ولې د قرآن د عمومي قاعدې مغاير په داسې څه لوړه شوې چې

څرګند نه دی؟! په دې پوهېدل لږ غور غواړي. په لږ دقت سره په دې خبرې پوهېدی شو چې د قسمونو ځواب په خپله په قسمونو کې نغښتی دی، او هغه داسې: د انسان په وجود کې د وجدان په نامه د داسې یوې مَلَکې شاهد یو چې د هر بد عمل او ګناه په مقابل کې انسان ملامتوي، د ده بد عمل غندي، دا استعداد کسبي نه دی بلکه د ده په فطرت او خټه کې ایښودل شوی، په هر ښه او بد، صالح او طالح انسان کې شته، دا وجداني محاکمه په هرچا کې تل فعاله وي، نه یوازې د هرعمل په اړه قضاوت کوي بلکې د مجازات پرېکړه هم کوي، مګر نه ګورئ چې انسان کله د یوه غلط کار نه وروسته خپل مخ په څپېړه وهي، کله ئې وجدان دې ته اړ کړي چې محکمې ته رجوع وکړي او په خپل داسې جرم اعتراف وکړي چې له ده پرته هیڅوك پرې خبر نه وي، کله بیا د وجدان له عذاب نه د نجات لپاره ځان وژنې ته پناه وړي، وجدان ئې د دې فیصله کوي چې دی د مرګ وړ دی، په خپله ځانته همدا سزا ورکوي. په انسان کې دا (ملامتوونکی نفس) د قیامت د اثبات لپاره قوي دلیل دی، دا ځکه چې په انسان کې د قضاوت او محاسبې دا صفت په دې شهادت ورکوي چې د انسان خالق او پیداکوونکی به هم خامخا په دې صفت متصف وي، د (مخلوق) او (مصنوع) هر کمال او نېك صفت، په (خالق) او (صانع) کې د همدې صفت په شته والي شهادت ورکوي، ممکن نه ده چې په مصنوع کې دې داسې کوم غوره صفت وي چې د ده په صانع کې دې همدا صفت په اتم او اکمل طور نه وي. نو هغه ذات چې انسان ئې پیدا کړی او په ده کې ئې (ملامتوونکی نفس) ایښی او د وجدان مَلَکه ئې ورکړې او هغه ئې داسې جوړ کړی چې د هر بد عمل او هرې ګناه په اړه ئې قضاوت کوي، حتی خپل ځان ملامتوي او مناسبه سزا ورکوي، دا ذات به حتماً په دې صفت متصف وي، حتماً به د انسان د کړو وړو په هکله قضاوت کوي، ستا وجداني محاکمه په دې خبرې شهادت ورکوي چې د قیامت ورځ به هرو مرو راځي او هغه ذات به ستا د عملونو په اړه قضاوت کوي چې ستا وجدان او ملامتوونکی نفس د ده ودیعه او پیرزوینه ده. که انسان د هرې پېښې او صحنې په اړه خامخا قضاوت کوي، یوې ته په بلې ترجیح ورکوي، یوه تائیدوي، بله

تردیدوي، دوه کسان د دوو بېلا بېلو کړو وړو په حال کې ګوري، یوه ته ښه او بل ته بد وايي، دوه کسان د جګړې په حالت کې ګوري، یو ظالم او بل مظلوم، د یوه په نسبت په خپل زړه کې ترحم او زړه سوی احساسوي، غواړي د هغه مرسته وکړي، د بل په نسبت په خپل زړه کې کرکه محسوسوي، غواړي د هغه مخنیوی وکړي، که ئې له وسه پوره وه حتماً د مظلوم مرستې ته راوړاندې کیږي او د ظالم مقابله کوي، ظالم ته د خپل ظلم جزا ورکوي. ووایاست: په انسان کې دا د قضاوت استعداد چا ایښی، دا د مکافات او مجازات تصور چا ورکړی، دا د ښه او بد د تفکیك او تمییز فهم ئې له کومه کړی؟ ته څنګه دا منې چې په انسان کې دې دا صفت وي او د ده پیدا کوونکی ذات دې په دې صفت متصف نه وي؟ د عقل تقاضا خو دا ده چې د انسان پیداکوونکی او خالق باید په اتم او اکمل صورت کې د (قضاوت) او مکافات او مجازات په صفت متصف وي، هغه به حتماً د قیامت ورځ راولي ترڅو دا قضاوت ترسره کړي.

د دغې شرحې په پام کې نیولو سره د دې قسمونو مطلب او په خپلو منځونو کې ئې تړاو ښه څرګندیږي او دا معلومیږي چې دلته هم د نورو قسمونو په څېر د قرآن عمومي قاعده مراعات شوې. دلته د قرآن مخاطب ته داسې ویل شوي چې: نه، قیامت یو مسلم حقیقت دی، حتماً به راځي، له قیامت نه ستا انکار خوشې بې بنسټه انکار دی، ستا (نفس لوامة) په دې شهادت ورکوي چې د قیامت او محاکمې او محاسبې ورځ به حتماً راځي.

وروسته په همدې سلسله کې فرمایي: آیا انسان دا ګمان کوي چې د ده وراسته هډوکي او په خاورو بدل شوي اندامونه د بیا راغونډولو نه دي او الله به بیا د ده جثه جوړه نه کړي او هغه ته به سا ورنکړي!! په داسې حال کې چې الله نه یوازې د ده په بیا راژوندي کولو قادر دی بلکه په دې هم قادر دی چې د ده د ګوتو د سرونو لیکي او ګاري په خپل مخکني شکل کې بیاجوړې کړي. د قیامت په اړه د انسان د انکار وجه دا نه ده چې هغه ته کافي او قانع کوونکي دلایل په لاس نه دي ورغلي او یا له دې حقیقت نه د ده انکار د جهل او ناپوهۍ په وجه ده، داسې نه ده ،

برعکس د ګناه اراده او په راتلونکې کې د فجور او بدکارۍ عزم ئې دې ته هڅوي چې له قيامت نه عمداً انکار وکړي. په قيامت باور خو د ده د وجود په ختې کې اينښودل شوی، د ده وجدان د قيامت او حساب کتاب يوه څرګنده بېلګه ده، د ده مشکل له دې نه راولاړ شوی چې (هوی او هوس) ئې دې ته اړ کوي چې د خپل (وجدان) او (عقل) پرېکړه تکذيب کړي، د ده قضاوتونه له هوس نه راخوټېږي، تل د خپل وجدان د حکم او غوښتنې خلاف ګناه ته ملا تړي. که دی د خپل هوس فرمان ته غاړه کښېښږدي، او د ګناه د ارتکاب اراده او عزم پرېږدي نو د ده او قيامت ترمنځ به ټول حجابونه له منځه ولاړ شي او په خپل نفس کې به د هغه لپاره شواهد ومومي.

په (لاأُقْسِمُ) کې د (لا) په اړه د مفسرينو ترمنځ اختلاف شته، صحيح رأيه دا ده چې په (لا) سره د مخاطب رأيه او نظر رد شوی، بيا مکث دی، او بيا لوړه شوې، د دې تفصيل د البلد د سورې د قسمونو په شرح کې وګورئ.

**۴ـ۳**: په دې مبارکو آيتونو کې د قرآن يو بل علمي اعجاز زمونږ مخې ته راځي: وايي: آيا له قيامته منکر انسان داسې ګمان کوي چې وراسته هډوکي به ئې بيا راغونډ نه کړو؟ آيا بيا ژوندون ورته محال برېښي؟!! په دې دې پوه شي چې نه يوازې بيا به ئې ژوندی کړو بلکې د ګوتو د سرونو ګاري به ئې هم په مخکنۍ بڼه کې جوړي کړو؟ تحقيقات ښيي چې د هر انسان د ګوتو د سرونو ګاري تر بل فرق لري، د همدې لپاره اوس پوليسان تر عکس د ګوتو د سرونو نښو ته اهميت ورکوي، له هر متهم نه تر هر څه دمخه د ګوتو د سرونو نښنه اخلي، د جرم په ځای کې د ګوتو په نښو پسې ګرځي، او په دې باور دي چې په دنيا کې د دوو انسانانو د ګوتو د سرونو ګاري يوه بل ته ورته نه دي!!

**۲ـ۵**: داسې نه ده چې د قيامت منکرين د قيامت د اثبات لپاره قانع کوونکي دلايل نه مومي او په راتلو کې ئې شك لري، او دا ورته حقيقتاً ګرانه برېښي چې د انسان وراسته هډوکي دې بيا راغونډ او ژوندي شي، له قيامته د دوی د انکار وجه دا نه بلکې دا ده چې د ګناه قصد او هوډ ئې دې ته هڅوي، دی په راتلونکې کې د

ګناهونو د تکرار اراده لري او په آخرت باور ئې له ګناه راګرځوي، د ګناه لپاره له آخرته انکار کوي، نو په حقیقت کې دا انکار د ده د عقل حکم نه بلکې د ده د هوس غوښتنه ده، عقل ئې په آخرت ایمان ته رابلي خو هوس ئې د قیامت تکذیب ته، که د هوس غوښتنو ته تسلیم نه شي او د ګناه اراده پرېږدي، د ده او د قیامت ترمنځ به ټول حجابونه لرې شي، هیڅ څه به د ده عقل په آخرت له باور کولو منع نه کړی شي. دی د قیامت د تکذیب لپاره یوازې یوه خبره د کولو لپاره لري: هغه قیامت چې تاسو ئې د راتلو خبرداری راکوئ؛ کله به راځي؟ ولې تراوسه رانغی؟ که د قیامت د راتلو دعوا ربښتونې وی باید تراوسه راغلی وی!! هغه په دې نه پوهېږي چې هره پېښه په خپل خپل وخت راځي! له خپل وخت نه مخکې د یوې پېښې د راتلو غوښتنه سفاهت دی.

---

Ãqà/ ÇÌÈ ãJ)%r ß§ Ke9$ìÏär ÇÑÈ ãJ)%$# ¡ zr ÇÐÈ ÇÇ 7%$-ì/ #Œfù

”)Góç$>ÍBöq 7Ìh 4k) ÇÊÈ ‘–r Ÿw ž. ÇËÈ •y(%$ûø >ÍBöq ß» ¡ RM$

¾ÏhÅyR 4?ã ß» ¡ RM$è/ ÇÌÈ •¨z &r P£‰ $JÎ ¥ÍBöq ß» ¡ RM$(ä6-ãÇËÈ

ÇÎÈ ¼çœ/ Ë$èB 4+% öq9r ÇÍÈ ×•Å/

---

۷ـ نو کله چې سترګې شي رډې رډې. ۸ـ او سپوږمۍ شي تکه توره. ۹ـ او یوځای کړلی شي لمر او سپوږمۍ. ۱۰ـ وایي به انسان چې چېرې دی د تېښتې ځای؟ ۱۱ـ داسې نه ده، هیڅ پناه ځی به نه وي. ۱۲ـ په دې ورځ به تمځای ته د تلو لار وي ستا د رب په لوري. ۱۳ـ په دې ورځ به انسان خبر کړی شي په هغه څه چې مخکې ئې لېږلي او شا ته ئې پرېښي. ۱۴ـ بلکې انسان ښه

سترګه ور دی په خپل ځان. ۱۵ـ که څه هم وړاندې کړي خپل عذرونه.

۷ـ۱۰: دا آیتونه څو اساسي مطلب توضیح کوي:

الف: د چا چې خپل غرض او مرض په حقایقو باندې د اعتراف مانع شي، په استدلال سره ئې نه شو قانع کولی، له عمدي انکار ئې نه شو منع کولی، باید پرې ئې ږدو چې حقایق په خپله راشي، د سترګو مخې ته ئې ودرېږي، سترګې ئې ورپرانېزي، څوك چې قیامت نه مني، عمداً ترې انکار کوي، ده ته باید ووایو: لږ صبر وکړه، په خپلو سترګو به ئې وګورې، یوازې د قیامت هولناکې صحنې کولی شي د ده سترګې ورپرانېزي.

ب: په دې ورځ به سپوږمۍ تیاره شي، او د دې معنا دا ده چې لمر به له ځلېدا ولوېږي، سپوږمې ته به رڼا نه شي ورکولی.

ج: لمر او سپوږمۍ به سره یو ځای شي، یعني د لمر جاذبه به دومره زیاته شي چې سپوږمۍ به د ځمکې له جاذبې وشکوي.

د: دا آیتونه د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز وړاندې کوي، کوم حقیقت چې په دغو آیتونو کې اشاره شوې ساینس پوهان د شلمې پېړۍ په پای کې پوه شول، له ژورو او اوږدو څېړنو وروسته دوی ته څرګنده شوه چې د خاصو عواملو په وجه په ځینو سماوي اجرامو او ستورو کې داسې تغییرات رامنځته شي چې په نتیجه کې ئې جاذبه دومره زیاته او ځواکمنه شي چې د نور وړانګې ئې ترې بېلېدی او تښتېدی نه شي، په اصل کې روڼ وي، رڼا او نور ترې وځي خو د قوي جاذبې په سبب ترې جلا کېدی نه شي، د ستورو دې حالت ته ئې د **black hole** (تیاره کنده) نوم ورکړی، دا داسې حالت دی چې یو ستر ځلانده ستوری ناڅاپي له سترګو غائب شي، پرته له دې چې له منځه تللی وي، شته وي خو رڼا ئې نه تر سترګو کېږي، په لمر به دغسې حالت راشي، د جاذبې قوه به ئې چېره لوړه لاړه شي، دومره چې له یوې خوا به د نور وړانګې نه ترې ساطع کېږي او له بلې خوا به سپوږمۍ ځان ته جذب کړي. که تاسو نن یوه منصف ستور پوه ته چې له ژورو څېړنو وروسته د دغو

تيارو کندو په حقيقت پوه شوی، ووايئ: (قرآن څوارلس پېړۍ مخکې ويلي چې يو وخت به لمر له ځلېدو ولوېږي، ورپسې به سپوږمۍ تياره شي او بيا به ئې لمر ځان ته جذب کړي) يقيناً چې هغه به په ډېر حيرت او ژور تعجب کې لوېږي او په دې به اعتراف کوي چې دا وړاندوينه د يوه عادي انسان له لوري ممکن نه ده. دا هغه ستر حقيقت دی چې مونږ اوس پرې پوه شوي يو. د دې موضوع تفصيل د تکوير په سوره کې مطالعه کولی شئ.

هـ: څوك چې نن په قيامت له اعترافه تښتي د قيامت په ورځ به د مخوف او هولناکو صحنو په ليدو سره د مفر په لټه کې وي، له هر چا به پوښتي: کومې خوا ته وتښتم؟ چېرې پناه يوسم؟

۱۱-۱۲: خو په دې ورځ به هيڅ پناه ځی نه شي موندلی، هيڅ د ټېکې ځای به په نظر نه ورځي، د الله تعالی له درباره پرته به بل مستقر نه وي، د تېښتې ټولې لارې به تړلې وي، نه د پناه لپاره کوم ځای او نه ټېکې لپاره محل، هر لار به د الله تعالی په وړاندې ودربدو منتهي کېږي، د ده په لوري به درومي او د ده په وړاندې به ودرېږي.

۱۳:د قيامت د نه منلو په وجه ئې چې کومه ګناه کړې وه، او د کومو ګناهونو لپاره ئې چې له قيامته انکار کاوو، ټول به په خپلې عمل پاڼې کې وګوري، په خپل ژوند کې ئې چې څه کړي وو، يا ئې د کولو اراده کړې وه خو پرې قادر شوی نه وو، د ټولو دقيق فهرست به خپلې مخې ته بيامومي.

۱۴-۱۵: ګمان مه کوئ چې يوازې د خپلې عمل پاڼې په لېدو سره به له خپلو کړو وړو خبر شي، نه، بلکې په خپله به پرې پوهېږي، په ځان پوه دی، له خپلو کړو وړو ښه خبر دی، په خلاصو سترګو ئې ګناه ته لاس اوږد کړی، د ملامتونکي نفس له اعتراض او ملامتولو سره سره ئې ګناه کړې، کوم معاذير چې دی ئې د خپلو ګناهونو د توجيه لپاره وړاندې کوي، واهي او جعلي دي، په خپله ئې په سست والي پوهېږي، ورته وبه ويلی شي: کفی بنفسك اليوم عليك حسيبا: ستا خپل نفس ستا په سر د حسيب په حيث کافي دی.

#Œîù Ç‌ÐÈ ¼çR#äœèr ¼çè‡d $Zǒøã ƀĵ Ç‌ÏÈ ¼ÿïĥÎ Ÿ f èGï 7 R$ ¡ ï ¾ïĥÎ 8ìtÉ ẅ

Ç‌ÔÈ ¼çR$Š/ $Zǒøã ƀĵ §éÇ‌ÑÈ ¼çR#äœèôÎ?$ì ç»Rû%

۱۶. ژبه دې مه خوځوه، د دې لپاره چې تلوار پرې کوې. ۱۷. راغوندول او وېل ئې دي زمونږ په ذمه. ۱۸. نو چې کله ئې لولو د لوستلو متابعت ئې کوه. ۱۹. بیا ئې بیانول هم زمونږ په ذمه دی.

۱۶-۱۹: ځینو مفسرینو دا څلور آیتونه د معترضه جملو په توګه نیولي او وایي چې له مخکنیو او وروستنیو آیتونو سره خاص ارتباط نه لري!! په داسې حال کې چې له څو اړخونو د دوی ترمنځ ډېر ژور او ظریف ارتباط شته:

الف: په مخکنیو آیتونو کې د هغه چا چلند ته ګوته نیول شوې چې نه یوازې د قیامت په اړه د قرآن وینا او دلایل نه مني؛ بلکې عملاً او په دې خاطر ئې تکذیبوي چې له ګناهونو لاس اخیستو ته چمتو نه دی، په قیامت باور له ده دا غوښتنه کوي چې له ګناهونو ډډه وکړي خو دی د ګناه په ارتباط د خپل وجدان او ملامتونکي نفس قضاوت هم نه مني، خو د قرآن په اړه د دې مفسد انسان د دغه ظالمانه چلند په مقابل کې د پیغمبر علیه السلام معاملې ته پام وکړئ او وګورئ چې په دې دواړو کې څومره ژور توپیر دی، پیغمبر علیه السلام د قرآن د هرې نوې برخې په اورېدو سره داسې په وجد راځي او هڅه کوي چې په تلوار سره ئې زده او حفظ کړي، څه ترې پاتې نه شي، هیڅ لفظ ئې هېر نه کړي، او دا احساس ورسره راپیدا کېږي چې که د ده مخاطبینو تر اوسه د ده هیڅ مخکنۍ خبره نه ده منلې خو اوس او د دغو آیتونو په اورېدو سره به خامخا ایمان راوړي، د خپلو ټولو پوښتنو ځواب به په کې مومي، باید ژر ترلاسه کړي او ژر ئې د خپلو مخاطبینو مخې ته کېږدي. عجله او تلوار ئې دومره چې الله تعالی ورته د تلوار نه کولو توصیه کوي او فرمایي:

د قرآن د نويو آيتونو د ترلاسه کولو په هکله ډېره عجله مه کوه، کله چې ئې د وحي فرشته پر تا لولي ته ئې په تلوار له ځان سره مه تکراروه، پرېږده چې فرشته خپل پيغام بشپړ کړي، د وحي له القاء فارغ شي، په تأني او دقت سره ئې واوره، د هېرېدو تشويش ئې مه کوه، مونږ د دې ذمه وار يو چې هغه ستا په حافظې کې خوندي کړو، ستا په ژبه ئې جاري کړو او شرح او تفصيل ئې بيان کړو.

ôŽÅÎ$R 7ÍBöÿ ×qã_ã ÇËÈ o•ÅÿF$brâ‹?r ÇËÈ '#Å$èø$bq7ïÎ @/ žx .

$kÎ Ÿ@èÿÿã b& •`Ýø? ÇËÈ ×ŽÅ$/ ¥ÍBöÿ ×qã_ãr ÇËÈ o•ÏB$R $kÍh 4<Ĵ ÇËÈ

ÇËÈ o•Ï$ù

۲۰ـ نه داسې نه ده، بلکې دنيا خوښوئ. ۲۱ـ او آخرت پرېږدئ. ۲۲ـ ځينې څېرې به په دې ورځ وې تازه خوښې. ۲۳ـ د خپل رب په لوري کتونکې. ۲۴ـ او ځينې څېرې به په دې ورځ وې خړې. ۲۵ـ گمان به کوي چې ملاماتونکی چلند به ورسره وشي.

۲۰-۲۱: د دې آيتونو په اړه دوه توجيه مومو:

الف: هر دليل چې د قيامت د تکذيب لپاره وړاندي کوئ بې بنسټه دی، ستاسو د انکار اصلي وجه دا ده چې: دنيا مو غوره کړې، د دنيا مينه مو په زړه سيوری غوړولی، آخرت ته مو قصداً شا کړې، له قيامته ستاسو د انکار اصلي وجه همدا ده.

ب: له عاجل، و ړو او ژر ترلاسه کېدونکو اغراضو سره ستاسو علاقه او له لوړو اهدافو او په ځنډ ترلاسه کېدونکو اوچتو مقاصدو سره ستاسو عدم علاقه، د دې سبب شوې چې له قيامته انکار وکړئ او د قرآن مخالفت ته ملا وتړئ. مگر نه

ګورئ څوك چې معنوي تنده لري او لوړو مقاصدو ته د رسېدو تلوسه لري په قرآن د ژر او ژور پوهېدو په اړه څومره تلوار او عجله لري؟! خو تاسو چې دا تنده او تلوسه در کې ځپل شوې او ځاى ئې له پرېوتو دنيوي اغراضو سره افراطي مينې نيولى، قصداً او عمداً د تکذيب لپاره ملا تړئ!!

دوهمه توجيه هم دقيق ده او هم د تحبون، عاجلة او تذرون اصلي معاني په کې مراعات شوې.

**۲۲-۲۳**: ځينې څېرې به په دې ورځ خوښې او ځلانده وي، د خپل رب په لوري کتونکې، دا هغه بختور کسان دي چې په دنيا کې به تل او په هر کار کې د خپل رب په فکر کې ول، حرکت ئې د ده په لوري، لار ئې د ده لار، هغه لار چې الله تعالى ته پرې رسي، هدف ئې د الله تعالى رضا ترلاسه کول، غوښتل ئې هغه کار وکړي چې د الله تعالى خوښ دى، او هغسې ئې ترسره کړي چې الله تعالى پرې راضي کېږي، دوى به په دې ورځ خپل مقصد ته رسېدلي وي، د خوښۍ نښې به ئې په څېرو کې برېښې، د هغه ذات د جمال ننداره به کوي چې په دنيا کې ئې غائبانه د هغه عبادت کاوو، په دې طمع او باور چې د قيامت په ورځ به ورسره مخامخ کېږي، مرګ ژوند ئې د ده لپاره وو، کړه وړه، هڅه هاند، جهاد او مبارزه ئې د ده لپاره وه، په دې ورځ به حجابونه لرې شي، منتظرې سترګې به ئې د خپل معبود په جمال روښانه او تږې زړونه به ئې خړوبه شي.

د الله تعالى په لوري د نظر د څرنګوالي په اړه د مفسرينو څو رأيې مومو:

الف: ځينې وايي چې دا لېدل او کتل د زړه په سترګو، باطني ليدا او معنوي مشاهده ده نه حسي مشاهده او د سر په سترګو، دا ځکه چې په حسي مشاهدې سره يوازې هغه څه ليدلى شو چې جسماني وي او جسماني شيان خاص جسماني کيفيت او حالت لري او مکان ته اړ وي، حال دا چې د الله تعالى ذات له دغو ټولو منزه دى.

دوى د دې رايې د دفاع لپاره په دې آيت استناد کوي:

لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ * الانعام: ۱۰۳

سترګې ئې لېدى نه شي او دى سترګېويني، او دى ښه باخبره لطيف دى.

ب: ځینو (ناظرة) د (انتظار کوونکي) په معنا اخیستې او وایي چې مؤمنان به په دې ورځ یوازې الله تعالی ته منتظر وي او پر له پسې به د خپل رب رحمت، پېرزوینو او نعمتونو ته انتظار کوي.

ج: خو نور مفسرین (ناظره) په اصلي معنا اخلي او وایي چې دغه آیت په جنت کې د الله تعالی د لیدو او مشاهدې په حقیقت دلالت کوي، (د باطني شهود) او (د زړه په سترګو د لیدو) په ځای د سر په سترګو د لیدو خبره کوي او د دې تعبیر لپاره په دې روایت استناد کوي:

عن ابن عمر(رض) قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان ادنی اهل الجنة منزلة لمن ینظر الی جنانه، و ازواجه و نعیمه و خدمه و سرره مسیرة الف سنة و اکرمهم علی الله من ینظر الی وجهه غدوة وعشیة ثم قرأ رسول الله صلی الله علیه وسلم : وجوه یومئذ ناضرة الی ربها ناظرة. رواه الترمذي

له عبدالله بن عمر رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د جنتیانو تر ټولو ټیټه درجه به د هغه چا وي چې خپل جنتونه، مېرمنې، نعمتونه، خادمان او تختونه به د زرو کلونو په واټن کې ګوري، او الله ته تر ټولو مکرم به ئې هغه وي چې سهار ماښام به د هغه وجهې ته ګوري، بیا ئې دا آیت تلاوت کړ: وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ * إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ * : ځینې څېرې به په دې ورځ خوښ تازه وي. د خپل رب په لوري کتونکې.

په څو دلایلو دربیمه رأیه دقیقه ده:

الف: د (ناظرة) اصلي معنا په کې مراعات شوې، مونږ باید ځان ته دا حق ورنکړو د خپلو شخصي واهمو په وجه د قرآن د الفاظو اصلي معنا پرېږدو او د الفاظو هغه غیر اصلي معنا او د آیت هغه تعبیر غوره کړو چې زمونږ واهمې مرفوع کړي، لومړی په خپل ذهن کې داسې څه انځور کړو چې زمونږ اجتماعي موقعیت، افکار، عقاید او خاص ذهنیت ئې غوښتنه کوي، بیا دا الفاظ د هغه په ګټه تأویل او توجیه کړو، دا له هغه چا سره نه ښایي چې قرآن د الله تعالی کتاب ګڼي، دې ته وایي تفسیر بالرأی.

ب:كه په يو ې قضيې پورې اړوند دوه‌په ظاهر كې متباين آيات مومو ، نو د دوی ترمنځ د تلفيق مناسبه لار دا نه ده چې‌يو حذف كړو يا ئې الفاظو ته غيراصلي او محتملې معاني ولټوو او د بل په ګټه ئې تأويل كړو ، د الله تعالی په مقدس كتاب د ايمان تقاضاء دا ده چې‌په هر يوه ئ ې په خپل خپل ځای او په خپله خپله ځانګړې معنا بشپړ ايمان ولرو ، نه‌څه تر ې كم يا څه پرې زيات كړو او يا يو د بل په ګټه توجيه‌او تأويل كړو. دا سمه نه ده چې د الله تعالی د ليدو په اړه دا آيت (لاتدركه الابصار و هو يدرك الابصار: سترګې ئې لېدی نه شي او دی سترګې ويني) په مطلقه توګه ومنو او په مقابل كې ئې دا آيت(وجوه يومئذ ناضرة الی ربها ناظرة : ځينې څېرې به په دې ورځ خوښ تازه وي. د خپل‌رب په لوري كتونكې) مطلق ونه ګڼو ، د مخكني آيت په ګټه ئې‌تأويل ئې كړو ، (ناظره) د باطني مشاهدې په معنا ونيسو!! ولې نه وايو چې په دواړو بشپړ ايمان لرو ،حرف حرف ئ ې‌منو ، يو ئې په دنيا پورې مربوط دی او بل ئ ې په آخرت پورې، په دنيا كې هيڅوك‌نه شي كولی الله تعالی په خپلو سترګو وګوري خوپه آخرت كې به ئې جنتيان په خپلو سترګو ګوري.

كه ومنو چې د (لاتدركه الابصار) آيت عام دی او په دنيا پورې ئې بايد مختص نه كړو نو بايد دې ته متوجه وو چې په آيت كې (لاتدركه) راغلی نه (لاتراه)، د (لېدو) او (درك كولو) ترمنځ ژور توپير شته، هيڅوك نه شي كولی چې الله تعالی داسې وګوري چې كاملاً پرې احاطه وكړي او په بشپړه توګه ئې (درك) كړي، فقط ويني به ئې او د جمال له ليدو به ئې خوند اخلي.

دا هم صحيح ده چې موسی عليه السلام ته ويل شوي: لن ترانی (هيڅ كله مې ليدی نه شې) خو پوښتنه كوو: هغه وخت د غره د ټوټه ټوټه كېدو او د موسی عليه السلام د بې هوشه كېدو وجه څه وه؟ آيا دا پېښه د غره په لوري د الله تعالی له تجلي رامنځته نه شوه؟ مګر ويلی شو چې هلته هيڅ څه نه دي شوي او موسی عليه السلام هيڅ څه نه دي ليدلي؟! كه د قيامت د ورځې ليدا په دې دليل باطني مشاهده ګڼئ چې د حسي مشاهدې په منلو سره الله تعالی ته جسم ثابتېږي!! نو

پوښتو: له موسی علیه السلام سره د الله تعالی تکلم به څنګه توجیه کوئ؟ مګر له یوې مبارکې ونې ئې ده ته (نداء) ونکړه او په خاص کلام سره ئې له هغه سره تکلم وکړ؟ دا (نداء)، (تکلم) او (تجلي) به څنګه توجیه کوئ؟ آیا ستاسو د معیارونو او اسلوب له مخې (تکلم) د جسم تقاضاء نه کوي؟! آیا کولی شو هغه باطني (تکلم) او (نداء) وګڼو؟

ج: د آخرت سنن او ضوابط باید د دنیا د سننو او ضوابطو په څېر ونه ګڼو، مګر نه پوهېږئ چې په جنت کې نه زړښت شته او نه مرګ، نه ئې اوبه ګنده کېږي او نه شېدې، په کوم لوري چې وغواړې هغه خوځولی شې، شراب ئې نه څوك بې خوده کوي او نه ئې چتې او بې هوده خبرو ته هڅوي، نه به زمونږ زړه، سترګې او غوږونه د دنیا په څېر وي او نه مو حواس محدود، کمزوري او د اوس په څېر، هلته به جنتیان دوزخیان په داسې حال کې ګوري او غږ به ئې اوري چې د دوی ترمنځ واټن به له یوه ستوري تر بله ستوري له واټنه هم زیات وي، هلته نه حجابونه ستا مخه خنډ کولی شي او نه واټنونه د غږونو اورېدو مانع کېدی شي، هلته به کافر محجوب وي او راندہ ته ورته او مؤمن به د تېزو سترګو خاوند او د الله تعالی له لیدو معموره او خړوبه.

۲۵ـ۲۴: او د دې مؤمن ټولګي په مقابل کې به بله ډله داسې مومې چې څېرې ئې عبوس، تندي ئې ګونځې ګونځې، رنګ ئې الوتی، سترګې ئې خړې، او ملاماتونکي عذاب ته منتظر.

---

ÇËÑÈ ä#•ÿ$ç® £ßr ÇËÐÈ 5#‘ ôB ÿ@Šr ÇËÏÈ ’Ž$ÏMó=/ #Œ) Hx.

ÇÌÉÈ ä$¡ J$>ÍBç/ 7Îr 4) ÇËÒÈ É$¡ 9$) ä$¡ 9$ÏMyG$r

---

۲۶ـ نه داسې نه ده، کله چې ورسي تر ستوني. ۲۷ـ او غږ شي چې شته کوم دم

کونکی؟ ۲۸ـ او ګمان وکړي چې دا وخت دی د فراق. ۲۹ـ او راتاو شي ساق په ساق. ۳۰ـ په دې ورځ به د تلو لار وي ستا د رب په لوري.

---

۲۲ـ ۳۰: په دې آيتونو کې څو مهم ټکي توضيح شوي:

ګمان مه کوئ چې (آخرت) لرې دی او ستاسو او قيامت ترمنځ اوږد واټن دی! داسې نه ده؛ ستا مرګ د قيامت په لوري لومړی ګام او ستا د سفر پيل دی، کله چې ستا روح ستوني ته ورسېږي، د حاذق طبيب او دموونکي په لټه کې شئ، خو ډېر ژر دې نتېچې ته ورسېږئ چې نور نو د فراق او بېلتون وخت رارسېدلی، بايد له دنيا او لذتونو ئې وداع وکړي او له هر هغه څه بېل شي چه په دنيا کې داسې پرې نښتی وو چې الله تعالی او آخرت ئې ترې هېر کړی وو، ټول بايد نورو ته په مېراث پرېږدي او کله چې د ځنکدن او نزعې له سخت درد نه پښې يوه په بلې راتاو کړي، همدا د الله په لوري د تلو پيل دی، ستا نزع د هغه سفر د پيل نقطه ده چې د الله تعالی په وړاندې ودرېدو منتهي کېږي!! ولې دې آخرت لرې ګڼلی، او په دنيوي اغراضو دې منګولې ښخې کړې او د هغوی لپاره دې الله تعالی او آخرت هېر کړی؟!!

---

¾ÏÎ¢d& #‹Ĵ =dŒ ŞêÇÌÈ 4‹q?r >¤. `Å9r ÇÌÈ 4© ŸŸr -£ ¹ Ÿxù

ß» ¡ RŊ$Ü ¡ Ø& ÇÌÎÈ #‹ŧ'ù 7 9 4‹ŧ& ŞêÇÌÎÈ 4‹ŧ'ù 7 9 4‹ŧ& ÇÌÎÈ # ÖJGƒ

ƥZ)=æ b%. ŞêÇÌÐÈ Ó_ðã ØÓB `Ï ƥZyÖç ã7 ƒ Ó9& ÇÌÏÈ “ %ß 8Žƥã b&

7ÏŒ § ŏ& ÇÌÒÈ ó\RŲ$r •.®!$Ê_ ŧ“9$ŋZB Ÿègú ÇÌÑÈ 3‘ §¡ ù ,=Üù

ÇÍÈ 4Aq(Ř$ ‘ Åa b& #?ã Ä‰»)Î

---

**۳۱ـ** نو نه ئې تصديق کړ او نه ئې لمونځ وکړ. **۳۲ـ** برعکس تکذيب ئې کړ او مخ ئې واړاوو. **۳۳ـ** بيا په کبر سره ولاړ تر خپل ټبره. **۳۴ـ** وای وای دی ستا په حال. **۳۵ـ** بيا وای وای دی ستا په حال. **۳۶ـ** آيا گمان کړي دا انسان چې مهمل به پرېښودی شي. **۳۷ـ** مگر نه وو يوه نطفه د تويېدونکې مني ؟ **۳۸ـ** بيا وو ځوړند توکی چې پيدا او برابر ئې کړ. **۳۹ـ** بيا ئې ترې جوړه کړه د نارينه او ښځينه جوړه. **۴۰ـ** مگر دا ذات به قادر نه وي چې مړي کړي ژوندي؟

---

**۳۱ـ ۳۵**: دا د قيامت منکر عاصي او گنهگار انسان چې په راتلونکې کې هم د گناه هوډ لري، او همدغه هوډ ئې په قيامت له ايمانه منع کوي، له دغو ټولو قانع کوونکو دلايلو سره سره نه په قيامت باور کوي او نه په الله تعالی ايمان راوړي او نه په لمانځه سره خپل رب ته د احتياج لاس اوږدوي، برعکس د تکذيب او انکار لار ئې غوره کړې، له حقيقته مخ اړوي او په غرور او تکبر سره خپلې کورنۍ ته ورگرځي او په دې افتخار کوي چې د حق مخالفت ته ئې ملا تړلې، نه پوهېږي چې وضعه ئې څومره د افسوس وړ ده او څومره بد عاقبت ورته منتظر!! د ده حال په دنيا او آخرت کې افسوسناک دی.

**۳۶ـ۴۰**: په دغو آيتونو کې څو مهم او اساسي ټکي مومو:

الف: آيا دا له قيامته منکر انسان داسې انگېري چې له مرگه وروسته به مهمل پرېښودی شي، وراسته هډوکي به ئې ترخاورو لاندې پاتې او بيا به راژوندی نه شي؟! آيا گمان ئې دا دی چې مرگ ئې د هر څه پای دی او داسې څوك نشته چې بيا ئې راژوندی کړي؟

ب: آيا ده خپل لومړنی پيدايښت هېر کړی؟ آيا نه پوهېږي چې پيدايښت ئې له يوې داسې نطفې پيل شوی چې په رحم کې څڅېږي، او په رحم کې له څڅېدو وروسته ئې نه پلار د ده په ترکيب او ودې کې څه اغېز لري او نه ئې مور په څرنگوالي که څه تصرف کولی شي. وه‌وايه! څوك له دې نطفې انسان جوړوي؟ د چا تر څارنې او مراقبت لاندې وده کوي، علقه ترې جوړه شي، د ژوندي موجود په څېر

ئې وده پيل شي؟ د چا په امر له دې نطفې ځينې (نارينه) او ځينې (ښځينه) جوړېږي او دغه جوړه د انسان د نسل دوام تضمينوي؟ مګر دا ټول ستا د رب د تصرف مظاهر او نښې نه دي؟

ج: مګر هغه ذات چې خاوره په نطفه بدلوي، له نطفې علقه جوړوي، د انسان پيدا ايښت له علقې پيل کړي، هر څه ئې ورته سم او برابر کړي، د نر ښځې جوړه ترې جوړوي، آيا دا ذات د مړو له بيا راژوندي کولو عاجز ګڼئ؟! دا څومره له انصافه لرې او د عقل خلاف قضاوت دی؟ هر عقلمن انسان په دې پوهېږي د مړي بېرته راژوندي کول تر دې ډېر ډېر آسان کار دی چې مړه خاوره په نطفه بدله کړی شي.

د: په دې آيت د قرآن مجيد يو بل ستر علمي اعجاز ګورو: قرآن د مور په رحم کې د نطفې د ودې دوهمه مرحله د علقه په نامه يادوي، چې معنا ئې ځوړند توکی دی، يعني دا نطفه په دوهم پړاو کې داسې حالت غوره کړي چې د رحم په جدار پورې راځوړند وي!! او دا هغه حيرانوونکی حقيقت دی چې انسان اوس او وروسته له هغه پرې پوه شوی چې د لېزري وړانګو په ذريعه ئې د مور په رحم کې د نطفې د ودې مختلف پړاوونه ولېدل او ورته معلومه شوه چې د نطفې د جوړېدو په لومړي پړاو کې هغه د رحم په جدار پورې راځوړند وي. په دې حقيقت له دې د مخه انسان نه پوهېدل ممکن نه وو!!!

# الدهر

**د سورې معرفي:**

د دې سورې نوم هم الدهر (زمانه) ده او هم الانسان (انسان) دی، ۳۱ آيتونه لري، د ټولو آيتونو فواصل ئې مذکورا او سبيلا ته ورته وزن لري. ځينې مفسرين ئې مکي سوره ګڼي او ځينې ئې مدني، او ځينو له ۸، ۹ او ۱۰ پرته ټوله سوره مکي ګڼلې.

خو د سورې په متن کې ځو دلايل ښيي چې دا سوره مکي ده:

الف: د سورې مضامين او د بيان اسلوب ئې کاملاً مکي سورتونو ته ورته دي.

ب: د مدني سورتونو مربوط هيڅ مضمون په کې نه مومو. د بيان اسلوب ئې هم قطعاً مدني سورتونو ته ورته نه دی.

ج: له ۲۶ آيته ئې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره بايد د (مزمل) له سورې وروسته نازله شوې وي. آيت دا سې دی:

و من الليل فاسجد له و سبحه ليلا طويلا (او د شپې لخوا ورته سجده کوه او د شپې په اږدو کې ورته تسبيح وايه)، (د شپې په اوږدو کې د تسبيح له حکمه معلومېږي چې دا آيت د قيام ليل په اړه لومړنۍ لارښوونه ده، او حتماً د (مزمل) له

سورې وروسته نازله شوې، دا ځکه چې د مزمل په سوره کې د قیام لیل په اړه لاربښوونې مشخص او مشرح دي، وخت ئې ټاکل شوی، په لومړي سر کې د شپې دوه برخې، نیمايي او دریېمه برخه ئې ورته غوره شوې، بیا په کې تخفیف راغلی او مقدار ئې د مسلمانانو ظروفو او شرایطو ته پرېښودل شوی، په قرآن کې معمولاً د یوې قضیې په اړه لومړی عام حکم راځي، بیا مزید لاربښوونې او مشخص احکام راځي او حد او مقدار ئې مشخص کېږي، شاق حکم اکثراً په تخفیف مقدم او ترې مخکې وي، لکه چې له دښمن سره د مقابلې په ارتباط لومړی دا حکم صادر شو چې د نښتو په دوران کې به مسلمانان د لس برابره دښمن مقابله کوي، خو وروسته بیا په دې کې تخفیف راغی او د دوه برابره فوځ مقابله پرې لازمه شوه. نو ځکه ویلی شو چې د (شپې په اوږدو کې د تسبیح او تهجد عام حکم) باید له تخفیف نه مخکې وي. د همدې لپاره په پوره ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چې الدهر سوره به د مزمل له سورې مخکې نازله شوې وي، هغه متعارض آراء او روایات چې دا سوره مدني ګڼي د سورې له متن سره اړخ نه لګوي. دا سوره په داسې پوښتنې پیل شوې چې هر مخاطب به ناچار مثبت ځواب ورکوي او د دې مجال ورته نشته چې منفي ځواب ورکړي، پوښتي: آیا په انسان باندې داسې وخت تېر شوی چې د ذکر وړ شی نه وو؟ د پلار په رګونو کې یوه قطره، مهین او بې اهمیته قطره، چې نه یوازې جدي او مهمه ئې نه ګڼې بلکې کرکه ترې لري!!

ودې وایې: چا له دې ناڅیزه او مهین شي پیدا کړ؟ الله تعالی په خپله دې پوښتنې ته ځواب وایي او فرمایي: دا مونږ یو چې انسان مو د نر، ښځې له مختلطې نطفې راپیدا کړ، او ډول ډول تطورات او تحولاتو سره ئې مخامخ کوو، له مختلفو پړاوونو ئې تېروو، په هر تطور کې ئې وړتیاوې او په هرې مرحلې کې ئې د بقا او پایښت استعداونه آزمویو، وده ورکوو، د کمال په لوري ئې خوځوو، او یو حساس اورېدونکی لیدونکی انسان ترې جوړوو، دا مونږ یو چې د ده په ختې کې لاربښود استعدادونه ږدو، داسې وړتیاوې او ځواکونه ورکوو چې د لارې په موندو کې او د ښه او بد، مفید او مضر په تشخیص او پېژندو کې د ده مرسته

وکړي، په زړه کې ئې روڼ لاربنود څراغ او ملامتونکی وجدان او نفس ورکوو چې سمه لار وپېژندی شي او د ښايسته او کرکجن توپير وکولی شي، داسې وجدان چې که ئې خاوند په سمه لار لاړ شي، راضي کېږي، پیاوړی کېږي، وده کوي، وزرونه ئې غوړېږي او که په بده او ناسمه لار لاړ ملامتوي ئې، سترګې، غوږونه، او د ده په وجدان کې دا لاربنود استعدادونه په هر حالت کې د ده په خدمت کې دي، که څه هم د الهي نعمتونو پاس ساتي او که ناشکري کوي، که د خپل منعم رب په وړاندې مطيع دی که سرکښ او باغي، په دنيا کې له خپلو بندګانو سره د الله تعالی معامله داسې ده، خو په آخرت کې به خلك په دوو ډلو وېشي:

• کافر چې په لاس پښو او غاړه کې به زولنې او ځنځيرونه وي، تمځای ئې د دوزخ سرې لمبې، په دنيا کې ئې بغاوت او سرغړاوی، خپل ځواکونه او استعدادونه ئې په غلطه کارول، نو ځکه ئې الله تعالی د دې وړ ګڼي چې اوس ئې لاس پښې په ځنځيرونو وروتړي او له خپلو ټولو نعمتونو ئې محروم کړي.

• نېکان او صالحان چې په جنت کې به وي، د هغو جنتي شرابونو جامونه ئې په لاس کې چې کافور ورګډ وي، د هغې چينې اوبه چې د الله تعالی مقرب بندګان به ئې په کنارو کې ناست وي، اوبه به ئې په هر لور او ډول چې وغواړي بهولی او خوځولی شي، هم به ئې فواره د دوی په خوښه وي او هم بهېدا، دا ځکه چې دوی په دنيا کې د خپل رب نعمتونه په سمه او ښايسته توګه کارولي او د هغوی پاس ئې ساتلی وو، دوی په خپلو نذرونو وفا کوله، له محاسبې او هغې ورځ وېرېدل چې خلاصون ترې نشته، له خپلو بې وزلو همنوعانو سره ئې مرسته کوله، مسکين، يتيم او اسير ته ئې طعام ورکاوو، تر ټولو غوره طعام، خو په همدې وخت کې د حال او قال په ژبه وايي: تاسو ته د اطعام له درکولو له دې پرته بل مقصد نه لرو چې د خپل رب رضاء ترلاسه کړو، نه له تاسو د منندې غوښتونکي یو نه د بدلې، مونږ له خپل ربه وېرېږو، له هغې ورځې چې عبوس او تندی ئې تريو دی، نو ځکه به الله تعالی د دغې ورځې له کړاوه ژغوري او خوښې او خوشحالي به ئې په برخه کړي، د دوی د صبر په سبب به ئې تمځای جنت وي او جامه ئې د ورېښمو، په تختونو تکيه

وهلي ناست، نه به د لمر تودوخه وي او نه څه یخني، سیوری پرې غوړېدلی، مېوې ئې نږدې، او تل تیارې، د سپینو زرو لوښي او د بلورو پیالې په ښکلا ښکلو اندازو کې ئې خدمت ته وړاندې کېدونکې، دا سې جامونو به په شونډو رډي چې ممزوج او مخلوط به ئې د زنجبیل د چینې وي، دا د جنت هغه چینه ده چې نوم ئې (سلسبیل) دی، چارچاپېر ئې تنکي زلمي خدمه د خورو مراوریدو په څېر. که هغه ځای له نږدې وګورې نو په حقیقت کې دې بې انتهاء نعمتونه او ستر ملك لیدلی، د ورېښمو په نازك او پربړ شین بخنو جامو ملبس او د سپینو زرو په لاس وندیو مزین، خپل رب به ئې په پاکیزه شراب خړوبه کړي، او ورته وایي به: دا ستاسو بدله ده او ستاسو د هڅو قدرونه.

دا مونږ یو چې قرآن مو جزء جزء درباندې نازل کړ، نو د خپل رب د حکم تر راتلو صبر کوه، او د دوی د هیڅ ګنهګار او کفور خبره مه منه، د خپل رب نوم سبا ماښام یادوه، د شپې له لوري ورته سجده کوه او د شپې په اوږدو کې ئې په تسبیح لګیا اوسه، دوی لنډ او پرېوتي دنیوي اهداف غوره کړي او د آخرت درنه ورځ ئې هېره کړې، او پروا ئې نه کوي، آیا په دې نه پوهېږي چې مونږ پیدا کړي او مونږ ئې د وجود بندونه ورمضبوط کړي، او چې کله وغواړو دوی ته ورته به ئې راپیدا کړو!! او د سورې په پای کې ویل شوي چې دا یو تذکر او پند دی د هغه چا لپاره چې غواړي الله تعالی ته د رسېدو غوره لار ومومي، او د ده په لوري د تلو لپاره ئې غوره کړي، انتخاب ستاسو په لاس کې دی، دا لار فقط د الله تعالی په توفیق سره پلې کولی شئ، د الله تعالی مشیت په دې تللی چې که هر څوك د الله تعالی لار غوره کړي هغه ته د تلو توفیق ورکوي، او د ځان په لوري ئې هدایت کوي، د الله تعالی لار د هغه ذات لار ده چې په ټولو اسرار پوه دی، په هر حکم او لارښوونه کې ئې ژور حکمتونه مضمر دي، څوك چې د رحمت او پېرزوینې وړ ومومي د خپل پراخ رحمت سیوری پرې غوړوي، خو هغه چې ظالمان دي، نه ئې له یادونو پند واخیست او نه ئې د الله تعالی لار خپله تګلاره وګرځوله، دردناك عذاب ئې ورته تیار کړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

$RĴ ÇÌÈ #‹qäõB $\ø© `ãƒ Ŋ9 ÌelŚ!$ `Ë ûüïm Ç»¡ $ÍyM$ ’?ã 4A& @d

$RĴ ÇÌÈ #ž•Ã / $è‹Ü™ ŗÿùè f ù Ïh‹ÎGö7R 8 $±Ƀ& pÿÕÞe`Ë `»¡ $ÍyM$$Y)ç z

ÇÌÈ #‹qà. $BÎr #[Ï $© $BÎ Ÿ@‹Î¡ 9$ŗZƒ‰d

۱ـ آیا په انسان داسې وخت راغلی چې د یادولو وړ شی نه وو؟ ۲ـ دا مونږ یو چې انسان مو له مختلطې نطفې پیدا کړ، چې آزمویو ئې او لیدونکی اورېدونکی مو ترې جوړ کړ. ۳ـ بې شکه چې مونږ لار وروښوده، که شاکر وي او که بې پاسه او کفور.

۱: دا آیت هر مخاطب ته دا پوښتنه راجع کوي چې انسان له پیدا ایښته مخکې څنګه وو؟ له څه پیدا شوی؟ آیا داسې کوم وخت پرې تېر شوی چې د یادولو وړ شی نه وو؟ خاوره، د سپکو او کرکجنو اوبو یو څاڅکی، د خپل پلار په ملا کې، د خپلې مور په رحم کې، چې نه یوازې مهم او جدي نه تلقي کېدو بلکې کرکه ئې ترې درلوده!! که جواب مثبت وي (ناچار باید مثبت وي) نو په دې صورت کې باید ووایې: چا له دغه نا څیز شي پیدا کړ؟ مګر د ده پیدا ایښت له دغو مهین او سپکو اوبو دا حقیقت نه ثابتوي چې د ده رب به ئې بیا هم راپیدا کړي، دا دوهم ځل پیدا ایښت تر لومړي ځل ډېر آسانه دی!!

۲ـ د دې آیت لپاره دوه تفسیرونه مومو:

الف: ځینو ګمان کړی چې په دې آیت کې د ابوالبشر آدم علیه السلام خلقت ته اشاره شوې، او د دې خبرې چې (انسان د یادولو وړ شی نه وو) مراد هغه حالت دی

چې د ده د جد له پیدا ایښته مخکې ئې درلود.

ب: نور په دې باور دي چې د آیت نطاق عام دی او د هر انسان پیدا ایښت ته اشاره کوي او د دې خبرې مراد چې (انسان د یادولو وړ شی نه وو) هغه حالت دی چې هر انسان ئې د خپلې نطفې له جوړېدو مخکې لري، خاوره په مني بدله شي په (مهین او سپکو اوبو) چې انسان ئې له نوم اخیستو هم حیاء کوي.

په څو دلایلو دوهمه رایه دقیقه ده:

- د (لم یکن شیئاً مذکوراً) له الفاظو معلومېږي چې په دې آیت کې د انسان د نطفې له جوړېدو مخکې هغه حالت ته ګوته نیول شوې چې لا د مور او پلار په بدن کې وي، د سپکو اوبو په څېر، د نه یادولو، دا ځکه چې د آدم علیه السلام پیدا ایښت له خاورې شوی، د ده د پیدا ایښت لپاره داسې الفاظ نه شي کارېدی.
- په وروستي آیت کې د همدې انسان پیدا ایښت له (ګډې شوې نطفې) ښودل شوی چې معنا ئې له شکه پرته د مور او پلار مختلطه نطفه ده، د همدې لپاره ویلی شو چې د آیت معنا دا ده: آیا په انسان باندې داسې وخت تېر شوی چې د ذکر وړ شی نه وو؟ د پلار په رګونو کې یوه قطره، مهین او بې اهمیته قطره، چې نه یوازې جدي او مهمه ئې نه ګڼې بلکې کرکه ترې لري!! ودې وایې: چا له دې ناڅیزه او مهین شي پیدا کړ؟ الله تعالی په خپله دې پوښتنې ته ځواب وایي او فرمایي: دا مونږ یو چې انسان مو د نر ښځې له مختلطې نطفې راپیدا کړ، او ډول ډول تطورات او تحولاتو سره ئې مخامخ کوو، له مختلفو پړاوونو ئې تېروو، هر پړاو د ده لپاره یوه آزموینه ده چې د هغې په ترڅ کې د ده د بقا توان او طاقت آزمویل کېږي! آیا انسان له الله تعالی پرته داسې څوك مومي چې له نطفې د ده په پیدا ایښت او د بشپړ انسان تر پوړې د ده په رشد او ودې کې څه اغېز ولري!؟

**٣-** د دې آیت په هکله لومړی باید وګورو چې د هدینه السبیل )لار مو وروښوده) معنا څه ده؟ آیا مراد ئې فطري هدایت دی او که د پیغمبرانو علیهم السلام او کتاب په ذریه د انسان لارښوونه او هدایت؟

په څو دلایلو ویلی شو چې مراد ترې فطری هدایت دی:

الف: د آیت الفاظ او ترکیب داسې دی چې ښيي هر انسان د دې الهي پېرزوينې مشمول دی او الله تعالی ئې دا هدايت په برخه کړی. دا الفاظ او ترکیب ئې يوازې په فطري هدايت منطبق کېدی شي، دا ځکه چې دا راز لارښوونه د هر انسان په برخه شوی خو د پيغمبرانو عليهم السلام په لاس لارښوونه داسې ده چې ځينې ئې منی او ګټه ترې اخلي او ځينې ئې نه منې او ترې محرومه کېږي.

ج: له دې نه مخکې يا وروسته آيتونو کې هيڅ داسې قرينه نه مومو چې د پيغمبر بعثت او د کتاب نزول ته ئې اشاره کړې وي تر څو وکولی شو په دې آيت کې (هدايت) د ارشاد او دعوت له لارې هدايت وګڼو.

ثانياً بايد وګورو چې د (اما شاکراً و اما کفوراً) معنا څه ده؟

دوه تفسيرونه مخې ته راځي:

الف: مونږ لار وروښوده، کتاب مو ورولېږو او پيغمبر مو په دوی کې مبعوث کړ، اوس دا په دوی پورې اړه لري چې د دې الهي لارښوونې قدر کوي، او که ناشکري، انتخاب د ده په لاس کې دی، مونږ ئې نه مجبوروو.

ب: مونږ دا د هدايت او لار موندو اسباب، زړه، عقل، سترګې، غوږونه، د ده په خته کې کېښودلي، چې زمونږ په اراده د ده په خدمت کې دي او د ښه او بد، سمې او خرابې لارې ترمنځ تفکيك او توپير کې د ده مرسته کوي، که څه هم دی د دغو الهي نعمتونو قدر کوي او که ناشکري، د ناشکري په حالت کې هم دا استعدادونه نه ترې سلبوو.

په دوه دليله دوهمه توجيه دقيقه ده:

الف: د آيت د الفاظو دقيقه ترجمه په کې مراعات شوې، که د آيت ترکيب داسې وی: (فمن شاء فليشکر و من شاء فليکفر) نو بيا لومړی توجيه سمه وه، خو ترکيب داسې دی: (اما شاکراً و اما کفوراً: که شاکر وي که کافر)، دا ترکيب له لومړی توجيه سره سمون نه خوري، دقيق تعبير ئې په دوهمه توجيه کې راغلی.

ب: د لومړی ډلې رأيه کې د (إما شاکراً و إما کفوراً) دقيق تعبير نه دی وړاندې شوی، دا يوازې فطري هدايت دی چې هم د شاکر بنده په برخه وي او هم د کفور او

ناشکره بنده.

---

‘#•ŀΗ$ b̂ ÇÍÈ #ž•ë™r Ŵ»=ô&r 6ÅÅ»=™ šú ïÌŸ»3ü $RÔFã& $RĴ

Š$7Ë $kÍ Ü Žô„ $Žéã ÇÎÈ #‘qè$Ÿ2 $gã_#“Ë šc %. <¨ (û `Ë šc qŽô ƒ

¼çŸ b%. $Bqƒ bqè$ƒ†r ÍõZ9$Î bqèqã ÇÏÈ #ŽÉ ÿ? $kXrã É ÿã «! $

ÇÑÈ #ž•Å&r $VŠÏƒr $ŽÅóÎ ¾ÏÎm 4?ã P$èÛ9$ bqßÏÈÔã r ÇÐÈ #ŽÜGó Ã

`Ë ß$ $ƒU $RĴ ÇÒÈ #‘qä@ Ÿr ä!“_ óaZË %ƒÌçŸ «! $Ïô_q ÏßÎÈÔç $ÿÇÔ

ÇÌÈ #•ƒÌÜô% $Üqçã $Bqƒ $ZÎS

---

۴. بې شکه چې مونږ د کافرانو لپاره زنځیرونه، غړوندي او د اور لمبې تیارې کړې. ۵. یقیناً چې نېکان به له داسې جامونو څښي چې مخلوط به ئې د کافور وي. ۶. هغه چينه چې د الله خاص بندګان به ئې خوا کې څښي، روانوي به ئې (څنګه ئې چې) روانول غواړي. ۷. په نذرونو وفا کوي او له هغې ورځې وېرېږي چې شر به ئې خور وي. ۸. او مسکین، یتیم او اسیر ته په داسې حال کې طعام ورکوي چې خوښېږي ئې. ۹ - یوازې د الله د رضاء لپاره طعام درکوو، نه بدله درنه غواړو او نه مننه. ۱۰- بې شکه چې مونږ له خپله ربه وېرېږو، له هغې ورځې چې تریو مخې قهرجنه ده.

---

۴: په دنیا کې وضعه داسې ده چې الله تعالی له خپلو نعمتونو خپل ټول بندګان برخمن کوي، که ئې شکر په ځای کوي او که ناشکري کوي، خو په آخرت

کې به ببېله وضعه وي، هلته به کافران په زنځيرونو او زولنو تړلي او د اور په لمبو کې وي، هغه چې په خلاص لاس ئې تېرى کاوو، پښې ئې د ګناهونو په لوري تلو کې کارولې، خپل استعداونه او ځواکونه ئې د ظلم او فساد په لار کې استعمالول، او فتنې ئې راولاړولې، نن به دلته په دارالحساب کې، د مکافات او مجازات عالم کې، د اور په لمبو کې پروت وي، په لاسونو، پښو او غاړه کې ئې زنځيرونه.

**۵-۶**: خو ابرار (نېکان) چې د الله تعالی د نعمتونو پاس ئې ساتلى وو، ښه ئې وکارول، سمه ګټه ئې ترې واخيسته، او کړه وړه ئې ښه وو، نن به ئې د بريا موسکا په شونډو وي، د هغو شرابو جامونه ئې په لاس کې چې ممزوج او مخلوط به ئې کافور وي، دا هغه چينه ده چې د الله تعالی خاص او مقرب بندګان به ئې په کنارو کې ناست وي او د خپل خاص ښناك جامونه ئې په لاس کې، داسې چينه چې دا مقربين به له خپلې خوښې سره سم په هر لوري بېولی شي، دوی ته تابع او منقاد ، د خوځېدو لوری او څرنګوالی ئې دوی په خپله غوره کوي، فوران او خوټېدا به ئې د دوی له خوښې سره سم بدلېږي رابدلېږي. دا هم د انسان يوه فطري غريزه ده چې د اوبو د خوټېدو او بهېدو له له ببېل ببېل حالته خوند اخلي، له يوه حالته ئې ستومانه شي په بل ډول کې ئې غواړي. لکه اوس چې د لويو لويو مخکې تللو ښارونو په پارکونو کې فوارې داسې جوړوي چې هر څو ثانيې وروسته ئې حالت بدلېږي.

۷ـ دا (ابرار) هغه کسان دي چې په خپلو (نذرونو) ئې وفا کوله او د قيامت له ورځې وېرېدل، په (نذرونو) به ئې وفا کوله؛ يعني څه چې به ئې په خپله ذمه اخيستل هغه به ئې له ځنډ او کمښته پرته ترسره کول. فقهاوو (نذر) په څلورو ډولونو وېشلى:

اول: دا چې څوك له الله تعالی سره ژمنه وکړي چې د ده د رضاء لپاره فلانی نېك کار ترسره کوي.

دوهم: دا چې څوك ووايي: که الله تعالی زما دا حاجت ترسره کړ په بدل کې به ئې دا نېك کار ترسره کوم.

درېيم: دا چې څوك ژمنه وکړي چې کوم ناروا کار به ترسره کوي او يا به کوم

واجب کار پرېږدي.

ځلورم: دا چې څوك کوم مستحب کارپه ځان لازم کړي او يا دا چې تعهد وکړي چې فلانی مباح کار به نه کوي.

دوه لومړي صورتونه ئې فقهاء د نذر تبرر (د نېکۍ نذر) په نامه يادوي او وفا پرې واجب ګڼي.

او درېيم او ځلورم صورتونه د نذر لجاج (د جهالت او لجاجت نذر) نوموي، د درېيم صورت په اړه ئې ټول فقهاء متفق دي چې اصلاً نه منعقد کېږي او هيڅ اعتبار نه لري او په کار ده چې عمل پرې ونشي، خو د ځلورم صورت په اړه ئې په خپلو کې اختلاف لري، ځينې په دې نظر دي چې بايد په دې نذر وفا وشي او ځينې وايي چې بايد نقض شي او د قسم کفاره ئې ورکړې شي. او ځينې ئې د نذر کوونکي خوښې ته پرېږدي چې پرې وفا وکړي او يا ئې د قسم د ماتولو کفاره ورکړي. د شافعي او مالکي فقهاوو له نظره دا نذر هم نه منعقد کېږي، خو زمونږ د احنافو فقهاوو په نظر په دواړو صورتونو کې کفاره لازمېږي.

د نذر تر ټولو غوره ډول دا دی چې يوازې د الله تعالی د رضاء لپاره وي او موخه ئې فقط د الله تعالی رضاء ترلاسه کول وي، تر دې ټيټه درجه ئې هغه دی چې د حاجتونو د ترسره کېدو لپاره وي خو د حاجت له پوره کېدو ترمخه ادا شي، په خپل نذر د دې لپاره ترمخه وفا کوي چې په خپل رب ئې دا اعتماد وي چې هيڅ نېك عمل او هيڅ صدقه او (نذر) نه ضايع کوي. او تر ټولو ټيټه درجه ئې هغه نذر دی چې د حاجاتو رفع کېدو سره مشروط کړی شي او د حاجاتو له ترسره کېدو وروسته ترسره شي، دا ډول نذر يا د الله تعالی په هکله له بې اعتمادۍ خړوبه کېږي يا له بخل څخه. عبدالله بن عمر رضي الله عنه د داسې نذر په هکله وايي:

> اخذ رسول الله صلی الله عليه وسلم ينهی عن النذر و يقول انه لا يرد شيئاً و انما يستخرج به من البخيل. اخرجه الجماعة الاالترمذي

پيغمبر عليه السلام له داسې (نذر) نه د مخنيوي لړۍ پيل کړه او وئې فرمايل: نذر نه شي کولی هغه څه دفع کړي چې کېدونکی دی، له دې لارې د بخيل

انسان له لاسه مال راباسي.

همداراز عبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت کوي چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل: په دې نذر سره نه کوم کار راوړاندې کېدی شي او نه ځنډېدی، په دې سره يوازې د بخيل له جېبه مال رااېستی شي.

ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل:

ان النذر لايقرب من ابن آدم شيئاً لم يکن الله قدره له ولکن النذر يوافق القدر فيخرج بذلك من البخيل مالم يکن البخيل يريد ان يخرج.

دا نذر، داسې کوم څه چې الله تعالی انسان ته مقدر کړي نه شي ورنږدې کولی، خو احياناً (نذر) له (قدر) سره سمون وخوري، په دې سره د بخيل له لاسه هغه څه راباسي چې رايستو ته ئې تيار نه وو.

عبدالله بن عمرو بن عاص روايت کوي چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل: انما النذر ما ابتغی به وجه الله: حقيقي نذر دا دی چې د الله تعالی رضاء لپاره وي. رواه احمد

بايد متوجه وو چې فقط هغه (نذر) په ځان ومنو چې:

الف: جائز وي.

ب: توان او استطاعت ئې ولرو.

ج: د هيچا حق په کې تر پښو لاندې نه شي او د فرايضو او واجباتو د نقض او نه ادا کولو سبب نه شي.

داسې نه چې ووايي پلې به حج ته ځم، ټول مال مې وقف کوم، ټوله ورځ د لمر تودو وړانگو ته ودرېږم، څو ورځې پرله پسې او له افطاره پرته روژه نيسم، له لرې ځايه ځان بيت المقدس ته رسوم چې څو رکعته لمونځ په کې وکړم... دې ته ورته نذرونه چې مالايطاق او د انسان له وسه پورته وي او په هغه کې د نورو حقوق تر پښو لاندې کېږي، ناسم نذرونه دي. د آيت په پای کې چې څه ويل شوي ښيي چې د دغو نېکانو د (نذر) موخه د الله تعالی د رضاء ترلاسه کول وي، نه دنيوي اغراض.

۸ـ۱۰: څو ډېر مهم مطالب په دې آيتونو کې مومو:

الف: (ابرار) په خپل نیازمند، مسکین، یتیم او اسیر همنوع ترحم او زړه سوی لري، مرسته ورسره کوي، دا ئې نه لوربږي چې په خپله موړ وي او بل وږی، تر دې هم آخوا له خپل غوره او محبوب طعام څخه هغوی ته خوراك ورکوي.

ب: له بې وزلو او محتاجو سره د مرستې په وخت د حال او قال په ژبه وايي: يوازې د الله تعالى د رضاء لپاره له تا سره مرسته کوو، د دې په مقابل کې نه د بدلې طمع لرو او نه د منني.

ج: د (ابرار) مقام ته هغه څوك رسېدی شي چې تر ټولو غوره شتمني د الله تعالى په لار کې وقف کړي، په هر نېك كار كې ئې موخه د الله تعالى رضاء ترلاسه كول وي، له الله تعالى پرته له هیچا د اجر او بدلې طمع نه لري، نه په چا منت باروي او نه د ستاینې او منني انتظار ترې کوي.

د: وېره ئې يوازې له الله تعالى وي، د قيامت له سختې ورځې وېره ئې په ټول ژوند او ټولو تصرفاتو سیوری غوړولی وي.

هـ: په دې آیتونو کې د (ابرار) وړتیا او ځانګړتیاوو ته په اشارې سره قرآن غواړي مونږ ته وښيي چې په قيامت باندې د ایمان نتایج څومره پراخ او ژور دي، دغه ایمان دوی د (ابرار) او نېکانو په زمره کې راوستي، تر ټولو غوره انسانان ئې ترې جوړ کړي، د قيامت له سختې ورځې وېرې دوی دې ته هڅولي چې په خپلو نذرونو وفا وکړي، له مسکین، یتیم او اسیر سره مرسته وکړي، همغه باور د دې باعث شوی چې له اخلاقي او معنوي پلوه هغې لوړې مستوا ته ارتقاء وکړي چې نه په چا منت ږدي او نه د ستاینې او توصیف توقع له چا کوي، حتی له هغه چا هم چې د مجبوریت او احتیاج په وخت کې ئې له هغه سره مرسته کړې، خپل ترټولو غوره طعام ئې د هغه مخې ته ایښی، هغوی ته وايي: زمونږ ښېګړه د یادولو وړ نه ده، مونږ خپله وظیفه ترسره کړې، له مونږ مننه مه کوئ، له تاسو هیڅ بدله نه غواړو، مونږ د خپل رب د رضاء په لټه کې یو، د قيامت د سختې ورځې له حسابه وېرېږو، څه چې مو تراوسه کړي د هغې ورځ د محاسبې لپاره ئې کافي نه ګڼو.

ګورئ چې په (۱۰) آیت کې د ابرارو له قوله داسې حکایت کوي:

(مونږ له خپل رب څخه وېرېږو، له هغې ورځې چې تريو مخې او قهرجنه ده)؛ له الله تعالى وېره او هغه هم د قيامت په سختې ورځ کې، دې ظريف ټکي ته اشاره کوي چې که له الله تعالى وېره انسان له ګناه او تېري منع کوي او د ده د معنوي او اخلاقي ارتقاء باعث کېږي، په آخرت باندې ايمان، دا وېره په انسان کې راپيدا کوي او وده ورکوي. همداراز دا ظريف ټکی افاده کوي چې که مونږ نن له فقير او مسکين سره په خپل چلند کې له دې ځان ساتو چې تندی ورته تريو کړو او سترګې پرې برګې، دا ځکه چې د الله تعالى له قهر او د قيامت د سختې ورځې له هيبته وېرېږو، داسې نه چې د دې ګناه په عوض کې مو ورتېي او سزا ئې د قيامت د سختې ورځې په څېره کې راکړی شي.

[illegible]

**Oãåê™ b‰.r ¨‹“_ ǿ‰9 b‰. #‹»d ߉Ï ÇÊÈ #‹qßÛ $I#•© ‰Ôâ‘ ‰Ûß9)™r**

**ÇÊÈ #‹qãåB**

---

۱۱- نو الله د دغې ورځ له شره وساتل، او له تازګۍ او خوښۍ سره ئې مخامخ کړل. ۱۲- او د دې لپاره ئې د جنت او وربښمینو جامو بدله ورکړه چې صبر ئې وکړ. ۱۳- په تختونو به ئې په کې ډډه وهلې وي، نه به د لمر تودوخه په کې ګوري او نه یخني. ۱۴- او سیوري به ئې پرې رانږدې وي، او مېوې به ئې په عجیبه توګه په خدمت کې او ترلاس لاندې. ۱۵- او د سپینو زرو لوښي او د بلورو جامونه به پرې راګرځول کېږي. ۱۶- د سپینو زرو شیشه ئې (لوښي)، چې په ظریفه توګه اندازه شوي. ۱۷- او هلته به په داسې جامونو خړوبه کړی شي چې ممزوج به ئې د زنجبیل وي، ۱۸- د جنت یوه چینه چې سلسبیل نومول شوې. ۱۹- او شا او خوا کې به ئې تنکي تلپاتې زلمیان ګرځې راګرځي، که ئې وګورې د خورو ورو ملغلرو ګمان به پرې وکړې. ۲۰- که هغه ځای وګورې نو پریمانه نعمتونه او ستره پاچایي به دې لیدلې وي. ۲۱- ملبس په پرېږ او نازك شین بخن حریر او د سپینو زرو په لاس وندیو مزین، او خپل رب به ئې په پاکیزه شرابو خړوبه کړي. ۲۲- (او ورته وایي به:) دا ستاسو بدله ده او ستاسو هڅې منل شوې په قدرونې سره.

---

۱۱: نو د دغو ورټیاوو په وجه الله تعالی نه یوازې دا ابرار د قیامت د ورځې له سختیو ژغوري بلکې جنت ته ئې بیایي او له تازګۍ او خوښۍ سره ئې مخامخ کوي. په خپل نذر وفا، له قیامته وېره، له بې وزلو سره مرسته او خپل غوره طعام ورکول، د الله تعالی د رضاء لپه، او له ده پرته له بل چا طمع نه کول، له دې ځان ساتل چې په بل منت بار کړي یا د ستاینې او توصیف انتظار ترې ولري، او له الله

تعالی وېره د دې باعث شوه چې جنت ئې په برخه شي.

۲۲.۱۲: په دې مبارکو آیتونو کې د ابرار او نېکانو په اړه او په جنت کې د دوی د وضعیت په هکله مزید وضاحتونه شوي:

- صبر جنت ته ورسول، دا د دوی صبر وو چې په دوی کې ئې جنت ته د رسېدو ورتیا راپیدا کړه، د دوی ټول هغه خصلتونه چې جنت ته د رسېدو سبب کېږي؛ له صبره څرګنده شوي.
- په دنیا کې ئې ملبس حلال وو، له حرامو جامو ئې ځان ساتو، نه ئې له حرامو لارو ترلاسه کړې وې، او نه ئې د ګناه په تور داغ داغلې وې، نو اوس به د جنت ورېښمیني جامې ورپه برخه کېږي. ورېښمني جامې ځکه چې په دنیا کې ئې د داسې جامو له اغوستو زړه صبر کړی وو.
- په لوړو لوړو تختونو به ئې ډېره لګولې وي، نه به ئې د لمر تودې وړانګې اذیت کوي او نه سخته یخني. او دا ځکه چې دوی په دنیا کې په تختونو ډډه لګول او آرامه ژوند پرېښی وو، د الله تعالی په لار کې ئې کړاوونه ګالل.
- د جنت ونو به خپل سیوری پرې غوړولی وي او مېوې به ئې دوی ته نږدې نږدې او هره شېبه راشکولو او خوراك ته تیارې. او دا ځکه چې دوی له حرام رزق نه ډډه کوله او حرامو ته ئې له لاس اوږدولو ځان ساتو.
- د سپینو زرو لوښي له خوندورو مېوو ډك، د بلورو جامونه له فرحت بخښونکو څښاك او شرابو ډك، د هغو جنتي خدمه وو په لاس کې چې تنکي تنکي زلمیان به وي او د دوی شاوخوا به ګرځي راګرځي، او دا ځکه چې دوی په دنیا کې له داسې مرفه ژوند نه لاس اخیستی وو، نه ئې د زرو جامونه کارول، نه ئې شراب څښل او نه ئې د عیش او عشرت محفلونه په تنکیو خدمه وو ښایسته شوي وو.
- دا د سپینو زرو لوښي او دا شیشه ئې جامونه به په ښېلو ښېلو اندازو کې جوړ شوي وي، د هر خوراك لپاره بېل لوښی او د هر څښاك لپاره بېل جام. او دا ځکه چې دوی په دنیا کې له اسراف نه ځان ساتو، په ضروري شیانو ئې اکتفاء کوله، ځان ته د اشرافي ژوند برابرولو په ځای ئې له فقیر، مسکین او اسیر سره مرسته

کوله.

- د سپينو زرو له شيشه ئې جامونو نه يا مراد دا دی چې په ژی او بېخ کې به ئې سپين زر کارول شوي وي، او يا دا چې دا سپين زر به هومره شفاف وي چې بلور او شيشې ته به ورته وي.
- داسې ډك جامونه به په لاس کې ورکول کېږي چې د جنت د يوې لوړې چينې نه چې نوم ئې (سلسبيل) دی ډك شوي او (زنجبيل) پرې علاوه شوي.
- د جنت خدمتگاران به تنکي زلميان وي، تل په همدې عمر کې پاتې کېدونکي، په هرې گوښې کې خدمت ته ولاړ، او داسې به برېښي لکه له مرواريدو جوړې شوې ښايسته مجسمې چې دلته هلته ولاړې وي.
- د جنت عظمت او ستروالی او د نعمتونو پرېماني به ئې هلته درك کړی شې چې په خپلو سترگو ئې وگورې، يوازې په دې صورت کې به پوه او په دې اعتراف ته اړ شې چې ستر ملك او بې شمېره نعمتونه دې ليدلي.
- دا جنتيان به د جنت په مجللو قصرونو کې، په تختونو ډډه وهلي، د ونو تر سيورې لاندې، د داسې خدمه وو په احاطه کې چې له مېوو او خوراك څښاك ډك لوښي او جامونه به ئې په لاس کې وي، وگورې، په نازکو او پربړو ورېښمنو جامو ملبس او په مړوندونو ئې د سپينو زرو لاس وندي. قرآن په دې سره له يوې خوا د جنت شاهانه ژوند انځور کړی، ترڅو د دنيا له عيش عشرت نه د دوی پام د جنت په لوري واړوي، د زر او زور د خاوندانو اشرافي ژوند ئې سترگې خړې نه کړي، په دنيا کې ځان ته د داسې مرفه ژوند له جوړولو ځان وساتي، په حلال رزق اکتفاء وکړي، له اسراف او تبذير نه ډډه وکړي، او له بلې خوا ئې په ډېر ظرافت سره د انسان غرايز او نفسي غوښتني او تمايلات انځور کړي، ټول هغه څه ئې دقيقاً په گوته کړي چې د انسان نفس او هوس ئې تمناء کوي، او ورته وايي: چا چې په دنيا کې او له حرامو لارو د دغو د لاس ته راوړو هڅه وکړه په جنت کې به ترې محروم وي. په جنت کې د سپينو زرو لاس وند ته اشاره هم د انسان دې تمايل ته اشاره ده چې غواړي د سپينو زرو لاس وند ئې په لاس وي، مگر نه گورئ چې اوس اکثر

لاسونه، که د نارینه دي که د ښځو ، په لاس وند مخصوصاً د ګړې بند سره ښایسته شوي، او اکثراً ګورو چې سپینو زرو ته ورته تر نورو زیات خوښوي.

- او پر دغو ټولو نعمتونو سربېره، او تر ټولو لوړ ئې، (شراب طهور) چې د دوی د رب له لوري به ورکول کېږي، تر هغه شراب هم لوړ چې ممزوج به ئې کافور وي، او تر هغه هم غوره چې د سلسبیل له چینې به وي او ممزوج ئې زنجبیل، او ساقي ئې د جنت خدمتګاران، هغه شراب چې نوم ئې (طهور) دی او ساقي ئې د دوی رب جل شأنه، تر ټولو غوره شراب، له هر نقص او عیبه منزه، چې انسان صفا کوي؛ له هر نقص او عیبه.
- او په پای کې به دوی ته وویلی شي: دا ټول ستاسو د هڅو بدله ده، تاسو د دغه مقام او د دې استقبال وړ یاست، الله تعالی ستاسو هڅې په قدرونې سره ومنلې او په عوض کې ئې دا بدله درکړه.

---

ðÜê Ẅr 7Ĥ ÈßÛÏ ǍÉó $ı ÇÌÈ Ŵ/Í\? b#äȯj$ 7øã $ZØR ßŧU $RĴ

ŠÆ Ïr ÇÎÈ Ŵ‹Ï¹ &r ž•ßç 7Ĥ NŏŤ$ìä6$r ÇÍÈ #Yqã. #& $ÿJÏ#ä ÑäB

ÇÌÈ x fÈÛ Ŵø ųš ĤŤr ¼ç9 6ÓÓŤ$ı È@ø$

---

۲۳۔ دا مونږ یو چې قرآن مو پرتا نازل کړ، په غوره او جزء جزء نازلولو سره. ۲۴۔ نو د خپل رب تر حکمه صبر وکړه، او د دوی د هیڅ ګنهګار او کفور خبره مه منه. ۲۵۔ او د خپل رب نوم دې سهار ماښام یادوه. ۲۶۔ او د شپې په یوې برخې کې سجدې ورته کوه او د شپې په اوږدو کې ئې په تسبیح لګیا اوسه.

---

۲۳۔۲۶: په دغو آیتونو کې څو نقاط زیاته توجه غواړي:

الف: دا آيتونه د مزمل د سورې لومړنيو آيتونو ته ورته دي، هلته د قرآن تلاوت، قيام ليل، د الله تعالی ذکر، د دښمنانو په وړاندې صبر ته اشاره شوې او دلته د الله تعالی له لوري د قرآن نزول، د الله تعالی د حکم تر رارسېدو صبر، له دښمن سره له جوړ جاړي ډډه کول، د الله تعالی ذکر، د شپې په يوې برخې کې سجدې، او د شپې په اوږدو کې په تسبيح لګيا اوسېدا راغلي. د دغو دواړو سورتونو د دغو آيتونو له محتوا او د بيان له اسلوبه په وضاحت سره معلومېږي چې همزمان او يو په بل پسې نازل شوي.

ب: که د الدهر د سورې ۲۳ آيت (نحن نزلنا عليك القرآن تنزيلا : مونږ دا قرآن په ځانګړي نزول سره پر تا نازل کړی)، د المزمل د سورې له ۴ آيت (و رتل القرآن ترتيلا: او قرآن په ښه واضح توګه لوله) سره څنګ په څنګ کښېږدو او قضاوت وکړو نو په آسانۍ سره متوجه کېږو چې د الدهر د سورې ۲۳ آيت؛ د المزمل د سورې له ۴ آيت نه مخکې نازل شوی، دا ځکه چې په لومړي کې د قرآن تدريجي نزول ته اشاره شوې او په دې بل کې د قرآن د نزول څرنګوالي ته له اشارې پرته د قرآن په تلاوت تأکيد شوی.

ج: د الدهر د سورې په آيتونو کې د قيام ليل د مقدار او د ذکر او تسبيح د څرنګوالي په اړه الفاظ (عام) دي خو د المزمل په سوره کې (خاص) او د قيام ليل مقدار او د قرآن تلاوت په کې مشخص شوی. او مونږ ته معلومه ده چې په قرآن کې تل هغه آيتونه چې احکام په عامه صيغه په کې راغلي تر هغو آيتونو مخکې وي چې د احکامو ابعاد په کې مشخص او محدد شوي وي، لومړی د يوې قضيې په هکله عام حکم راځې او بيا د دې حکم حدود او ابعاد واضح کېږي. په دې خاطر په قاطعيت سره ويلی شو چې د (الدهر) او (المزمل) سورتونه مکي دي، لومړی الدهر او بيا المزمل نازله شوې، يوازې هغه روايات د اعتناء او منلو وړ دي چې د الدهر سوره مکي ګڼي.

د: قرآن په تدريجي توګه او جزء جزء پر پيغمبر عليه السلام نازل شوی، دا مطلب نه يوازې د الدهر د سورې د۲۳ آيت د (تنزيلا) صيغه توضيح کوي بلکې د

قرآن ګڼ شمېر آیتونه ئې په تفصیل او تأکید سره بیانوي، داسې چې د هر ډول شك او تردید مجال له منځه وړي او د بشپړ او یوځایي نزول احتمال منتفي ګڼي.

هـ: له دې کبله چې مونږ قرآن جزء جزء درلېږو، نو ته د هرې برخې له حکم سره سم خپله دنده په صبر او استقامت سره ترسره کوه او د بلې برخې او نوې حکم او لارښوونې تر راتلو انتظار کوه.

و: داسې نه چې بې صبره شې، د دښمن ګواښونه دې ووېروي، فشارونو ته ئې تسلیم شې، او د ګنهګار او بې پاسه دښمن د جوړ جاړي وړاندیزونو ته مثبت ځواب ووایې!! له دې آیت نه هم په وضاحت سره معلومېږي چې د الدهر سوره په مکې کې نازله شوې، دا ځکه چې له دښمن سره د مقاطعې، عدم مداهنت او د جوړ جاړي وړاندیزونو ته ئې د نه ځواب ویل، یوازې په هغو سورتونو کې مومو چې په مکه کې نازل شوي. نه په هغو کې چې مدني دي.

ز: که غواړې چې تل صابر او ثابت قدمه وې، د دښمن ګواښونه او فشارونه دې سازش ته ونه هڅوي، عزم او اراده دې کمزورې نه کړي، نو تل او سهار ماښام خپل رب یادوه.

ح: د شپې یوه برخه په سجده (لمانځه) کې تېروه، او د شپې په اوږدو کې په تسبیح او ذکر لګیا اوسه. د پیغمبر علیه السلام په یوه مبارك حدیث کې راغلي چې که څوك د ویدېدو په وخت کې په تسبیح لګیا شي او په همدې حالت کې ویده شي، که څه هم ټوله شپه په خوب تېره کړي اجر به ئې له هغه چا سره برابر وي چې همدا شپه ئې په ذکر او تسبیح تېره کړې.

---

ßtW ÇÈ W‹Ê $Bq/ bèä!‘r brâ‹ƒr '#Å$è$bq7Ïä äIwàd žc Î

bÎ ÇÈ x ƒÏ‰7? bg»WB& $Z%/ $ZÏ© #ŒÎr bè•Ó& $RŠ%©r bg»Y}={

b& Wî brâ$±@ $Br ÇÈ W‹Î™ ¾ÏÎh 4Î ‹ƒB$ä$© `Jù •Ïõ? ¾ÍÉd

¾ïïFHq‘ ’Î ãt±„ `B @Åô‰ãÇÌÈ $V‹Åm $¸JŠÎã b%. ©$Šbĵ ª! $ãš±„

ÇÌÈ $Vkö& $ï# ‹ ã Nç¸ £ã& ûüÜÎ»©9$#

---

۲۷. بې شکه چې دغه خلك عاجلة (ژر ترلاسه کېدونکې) خوښوي، او درنې ورځې ته شا کوي. ۲۸. دوی خو مونږ پیدا کړي، او مونږ ئې (د وجود) بندونه ورمضبوط کړي او چې کله وغواړو دوی ته ورته به ئې په عوض کې راپیدا کړو!! ۲۹. بې شکه چې دا یو تذکر او پند دی، نو څوك چې غواړي خپل رب ته د رسېدو غوره لار دې غوره کړي. ۳۰. او نه شئ غوښتئ مګر هله چې الله ئې وغواړي، بې شکه چې الله باحکمته پوه دی. ۳۱. څوك چې وغواړي د خپل رحمت (په سیوري) کې ئې داخلوي، او هغه چې ظالمان دي هغوی ته ئې دردناك عذاب تیار کړی.

---

۲۷: دوی لنډ او پرېوتي دنیوي اهداف غوره کړي او د آخرت درنه ورځ ئې هېره کړې، او پروا ئې نه کوي، یوازې همدا نن ورځ ئې په پام کې ده او له سبا ورځې که څه هم ډېره سخته ده غافل دي، د دوی د لید افق ډېر لنډ دی، له دنیوي اغراضو او پرېوتو اهدافو آخوا نه رسي، د لید آخري نقطه ئې د دنیا منحط لذایذ دي نه تر دې لوړ او اوچت اهداف.

۲۸. آیا په دې نه پوهېږي چې مونږ پیدا کړي او مونږ ئې د وجود بندونه ورمضبوط کړي، او چې کله وغواړو دوی ته ورته به ئې راپیدا کړو!! د دې آیت په اړه څو ژباړې او تفسیرونه مخې ته راځي:

- مونږ پیدا کړي او مونږ ئې د وجود بندونه ورمضبوط کړي او چې کله وغواړو دوی به هلاك کړو او په عوض کې به ئې بله ډله، دوی ته ورته ډله راپیدا کړو، چې عملونه به ئې د دوی په څېر نه وي.

- لکه څنګه چې مو دوی روغ رمټ او له مضبوطو بندونو سره پیدا کړل، کولی شو د دوی شکلونه وربدل کړو، شل، مفلوج، ناتوانه او بیمار ئې کړو.

ج: لکه څنګه چې مو دوی په لومړي ځل پیدا کړل، توان، ځواك او مضبوط بندونه مو ورکړل، بیا ئې هم له مرګه وروسته راپیدا کولی شو، په نوې بڼه کې، له مخکني روح او نوې کالبوت سره.

دریم تعبیر په څو دلایلو دقیق دی:

الف: په مخکني آیت کې د دنیا او آخرت په اړه بحث شوی، او په دې چې کافر انسان دنیا غوره کړې او آخرت ته ئې شا اړولې، په دنیوي لنډو اغراضو پسې نښتی او د آخرت درنه ورځ ئې هېره کړې، د آیتونو ترمنځ همغږي او تنسیق د دې غوښتنه کوي چې په دې آیت کې به هم د مخکنۍ موضوع په ارتباط بحث شوی وي او مقصد به ئې بیا ژوندون وي نه بل څه.

ب: د آیت الفاظ له همدې تعبیر سره سمون خوري (بدلنا امثالهم) همدا مطلب افاده کوي، که د آیت ترکیب داسې وی: (یستبدل قوماً غیرهم) بیا به د لومړۍ ډلې مفسرینو رایه د منلو وړ وه.

۲۹ـ۳۰: دا آیت چې په وار وار د قرآن د مواعظو او لارښوونو په پای کې تکرار شوی، دا مهم مطالب افاده کوي:

الف: دا یو تذکر او پند دی د هغه چا لپاره چې غواړي الله تعالی ته د رسېدو غوره لار ومومي، او د ده په لوري د تلو لپاره ئې غوره کړي.

ب: انتخاب ستاسو په لاس کې دی، پند ترې اخلئ او الله تعالی ته د رسېدو لار غوره کوئ او که مخ ترې اړوئ او په کږو لارو سر کېږئ.

ج: د الله تعالی لار د هغه ذات لار ده چې په ټولو اسرارو پوه دی، په هر حکم او لارښوونه کې ئې ژور حکمتونه مضمر دي.

د: دا لار فقط د الله تعالی په توفیق سره پلې کولی شئ، د الله تعالی مشیت په دې تللی چې انسان د خپلې لارې انتخاب ته آزاد پرېږدي، که څوك د الله تعالی لار غوره کړي هغه ته د تلو توفیق ورکوي او د ځان په لوري ئې هدایت کوي، او که

څوك د شيطان په لارو تلو ته ملا وتړي په همدې کړو لارو د تلو فرصت او توفيق ورکوي، دی په خپل انتخاب سره د الله تعالی د مشيت خلاف نه بلکې عيناً د ده د سننو مطابق کار کړی، دا ځکه چې الله تعالی غوښتي چې انسان په خپل انتخاب کې آزاد وي او وکولی شي له دوه بديلو يو ئې غوره کړي، له دوو لارو يوه د تلو لپاره انتخاب کړي، د هر کار توفيق د ده له لوري دی، دا د ده په إذن او ارادې سره ده چې تاسو يوه لار غوره کولی شئ او د تلو توفيق ترلاسه کوئ، دا سنن د باحکمته پوه رب له لوري وضع شوي، الهي سنن دقيق دي او په کامل او بشپړ علم ولاړ او په هر يوه کې ئې حکمت او مصلحت مضمر دی . د دې موضوع تفصيل د التکوير د سورې د آخري آيت په اړونده حاشيې کې مطالعه کولی شئ.

**۳۱ـ** الله تعالی چې هر څوك وغواړي د خپل رحمت او پيرزوينو په سيوري کې ئې داخلوي، او ظالمانو ته ئې دردناك عذاب تيار کړی. څوك چې د الله تعالی د رحمت وړ وي او عملونو ئې دی د الله تعالی د پېرزوينو او رحمت وړ ګرځولی وي نو رحمان خدای به خپل رحمت او عنايت د ده په حال شاملوي، او څوك چې ظالم او د دردناك عذاب مستحق وي له دې عذاب سره به ئې مخامخ کوي، چا چې د قرآن له لارښوونو او مواعظو پند اخيستی، د حرکت لوری ئې د الله تعالی په لوري وو، الله تعالی ئې هدف او د ده رضاء ئې مقصد وو الهي رحمت به ئې په برخه شي، او څوك چې له سمې لارې منحرف شو، په خپل انتخاب کې ئې تېری وکړ، د خپل رب په اړه ظلم، په خپل ځان او په نورو ظلم، دردناك الهي عذاب ورته منتظر.

# المرسلات

## د سورې معرفي:

د دې سورې نوم المرسلات (لېږل شوې) دی، چې له لومړې آيته اخيستل شوی، ۵۰ آيتونه لري، ډېر ډېر ښکلی وزن لري، له هرو څو آيتونو وروسته دا آيت تکرارېږي: وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ * د شپږو لومړنيو آيتونو فواصل ئې عرفاً ته ورته وزن لري، اووم آيت ئې د واقع په صيغه ختمېږي چې دا مخکنې سجع او وزن لپاره ډېر خوندور توقف دی، له اتمه تر دولسمه پورې فواصل طُمِسَت ته ورته وزن لري، ديارلسم او څوارلسم د فصل په صيغې پای ته رسېدلې، بيا تکراري آيت راځې او له هغه وروسته تر يوويشتمه پورې فواصل مکذبين ته ورته وزن لري، ۲۲او ۲۳ آيتونه د معلوم او قادرون په صيغو پای ته رسېدلي، بيا تکراري آيت راغلی، ۲۵، ۲۶، او ۲۷ کفاتا ته ورته هموزنه فواصل لري، ورپسې تکراري آيت دی، له ۲۹تر ۳۳ آيت پورې فواصل دا دي: تکذبون، شعب، لهب، قصر او صفر، بيا تکراري آيت دی، ۲۵ او ۲۶ آيتونه په ينطقون او يعتذرون پای ته رسېدلي، بيا تکراري آيت دی، له ۲۸تر ۴۴ پوري فواصل دا دي: اولين، فکيدون، مکذبين، عيون، يشتهون، تعملون، محسنين، بيا تکراري آيت دی، ۴۲او ۴۸ د مجرمون او يرکعون په صيغو پای ته رسېدلي او په هر يوه پسې تکراري آيت راغلی، او

وروستی آیت په ډېر ښکلي وزن سره د یؤمنون په صیغې پای ته رسېدلی.
دا هم مکي سوره ده. د سورې له مضامینو او د آیتونو له ترکیبه ئې په وضاحت سره معلومېږي چې د دې سورې د نزول په وخت کې په مکې باندې د قیامت په اړه جدي مناقشې خپل وزر غوړولی وو، قریشو له معاد او قیامته انکار کاوو، د دوی د انکار او تکذیب په ځواب کې دا سوره نازله شوې او ګڼ شمېر مضبوط او مقنع دلایل ئې د دوی مخې ته ایښي، داسې دلایل چې هیڅ باضمیره او باانصافه انسان ترې انکار نه شي کولی، یوازې هغه څوك به ئې نه منې چې د عمدي او قصدي تکذیب او انکار په لټه کې دی، زړه او دماغ ئې قانع دی او په حقانیت ئې اعتراف کوي خو هوی او هوس ئې مخنیوی کوي او انکار ته ئې هڅوي.
د بحث محوري موضوع ئې قیامت او له مرګه وروسته بیا ژوندون او د دې د اثبات دلایل د قیامت د انکار بدې پایلې او په هغه د ایمان نتایج دي.
د سورې په سر کې د بادونو په پنځو صفتونو لوړه شوې:
په معمولي او ورځني خوځښت او چلېدو ئې.
په تند او تیز خوځېدو ئې.
هغه وخت چې وربځې په آسمان کې خورې ورې کړي.
او کله چې د وربځو لويي لويي برخې سره بېلې بېلې کړي او هره برخه په خاص لوري وخوځوي.
او کله چې د تذکار باعث شي، هم هغو ته چې نرم نرم او ښکلی باران ئې پرې ورولی او اړتیاوو ته ئې ځواب ویلی، او هم هغو ته چې تندې سیلۍ ئې پرې راوستې، تند او طوفاني باران ئې پرې ورولی او وېره ئې په کې راولاړه کړې، دواړو ته د پند وسیله شوی.
د قسمونو په پای کې دا ستره ادعاء شوې: هغه څه چې وعده ئې درکول کېږي حتماً واقع کېدونکې ده؛ په وروستیو آیتونو کې دا خبره توضیح شوې چې دا (قطعي او محتومه وعده) د قیامت، مجدد ژوندون او د پرېکړې د ورځې وعده ده. خو دا چې دا قسمونه څنګه د قیامت د راتلو ادعاء ثابتولی شي او د قسمونو او

ځواب ترمنځ ئې څه تړاو شته، د دې موضوع تفصیل به د سورې په تفسیر کې وګورئ، خو دلته په اختصار سره وایو: دا بادونه شهادت ورکوي چې د قیامت وعده رښتوني ده، لکه څنګه چې دا اوس اوس په خپلو سترګو ګورئ چې د ژوندون لړۍ د بادونو په چلېدو سره پیل شي، بادونه د ژوند زېرى ورکوي او د ژوندون لامل کېږي، د ځمکې له سر نه د بخاراتو د پورته کېدو، د وربځو د خوځېدو او لرو لرو سیمو ته د هغوى د انتقال باعث کېږي، د (سقاء) په څېر د اوبو مشك په اوږو اخلي او د تږې بوټې، انسان او حیوان په سر ئې وروي، او په دې سره د ځمکې تر خاورو لاندې د بوټو زړي هڅوي، خوځوي او راژوندي کوي او د ډول ډول نباتاتو د راټوکېدو لامل ګرځي، د نباتاتو د القاح باعث کېږي، او له ونې او بوټي سره د دانې او مېوې په پیدا کولو کې مرسته کوي، کوم ذات چې د بادونو په ذریعه دا ټول کارونه ترسره کوي او مړه ځمکه راژوندۍ کوي، آیا هغه له دې عاجز ګڼئ چې انسان بیا راژوندى کړي؟ آیا د انسان عقل دا منلى شي چې ووایي: بیا ژوندون ناممکن او مستحیل کار دى؟ مګر تاسو هره ورځ د بیاژوندون مظاهر په خپلو سترګو نه ګورئ؟ مګر د بادونو په ذریعه د ژوندون د لړۍ پیل کېدا مو هره ورځ مخې ته نه راڅرګندېږي؟!!

آیا هغه تندې او تېزې سیلۍ چې طوفانونه راولاړوي، ستر ستر ښارونه ورانوي، هر څه سره ځپي، د واړه قیامت صحنې انځوروي او ستاسو په زړونو کې وېره او خوف راپیدا کوي، دا کافي نه دي چې د قیامت د راتلو په اړه تاسو ته قناعت درکړي او ستاسو پوښتنې ځواب کړي؟ قیامت به هم دغو طوفانونو ته ورته وي، خو په لویه کچه او ټوله نړۍ به ویجاړه کړي.

ځوك چې د خپل (عقل) په مرسته او د قیامت د اثبات په دې ټولو دلایلو قانع نه شو، ډېر ژر به د هغه هیبتناکې صحنې په خپلو (سترګو) وګوري، هغه وخت چې ستوري به تیاره شي، آسمان به درې ورې شي، غرونه به له خپل خپل ځایه وخوځېږي، او دغو لېږل شوو بادونو ته به هم بل میقات وټاکلى شي، د دوى دنده به تر یوم الفصل وځنډېږي، او بیا به دغه ورځ ببرته د دوى په ذریعه د بیا راژوندي

کولو لړۍ پیل شي، پوهېږې چې یوم الفصل څه دی؟ اوس ئې په څرنګوالي نه شې پوهېدی، ستره ورځ ده، هیبت او عظمت ئې ستا له درك او فهمه ډېر ډېر لوړ، افسوس افسوس د دغې ورځې په تکذیبوونکو.

مګر د تېرو مجرمو او باغي ډلو د هلاکت او تباهۍ عبرتناکې قصې، دا حقیقت نه په ډاګه کوي چې د دې عالم پالونکی رب له بندګانو سره محاسبه کوي، مجرم ته سزا ورکوي، د زمانې په هر پړاو کې ئې د ظالمانو په سر د عذاب متروکه مسلطه کړې، د خپل جرم سزا ئې ورکړې!! د دغو پېښو له لیدو سره سره څنګه له قیامت او مکافات او مجازاته انکار کوئ؟!! افسوس افسوس په حال د تکذیبوونکو!!

آیا له کرکجنو اوبو (ماء مهین) نه ستاسو پیدایښت، د مور په رحم کې تر معینې نېټې ستاسو موقت استقرار، او بیا له هغې تیاره او تنګې دنیا یوې بلې پراخې دنیا ته ستاسو انتقال، دا نه درته ثابتوي چې:

الف: بیا ژوندون مو سهل او آسانه دی.

ب: په دې دنیا کې ستاسو توقف هم موقتي دی، نېټه او موده ئې له مخکې ټاکل شوې.

ج: د دنیا له کوره د آخرت کور ته ستاسو انتقال داسې دی لکه د مور له رحمه د دنیا رحم ته ستاسو راتګ.

د: هغه ذات چې په دې ټولو کارونو قادر دی ستاسو په بیا راژوندي کولو لازیات قادر دی.

افسوس افسوس د تکذیبوونکو په حال.

دا ځمکه چې تاسو ئې پراوړو ژوند کوئ، ژوندي او مړي ئې په خپلې غېږ کې راغونډ کړي، له لوړو لوړو غرونو خوندورې اوبه، دا د ژوند تومنه، ژوو ته برابروي، دا د چا په اراده داسې جوړه شوې؟ او د چا په حکم دا کارونه درته کوي؟! آیا هغه ذات چې ځمکه ئې د ژوو او مړو لپاره ټاټوبی ګرځولې، له دې عاجز ګڼئ چې دې ته ورته د ژوندون بل ټاټوبی راپیدا کړي؟!! افسوس افسوس د

تکذيبوونکو په حال.

که تاسو دغو ټولو مضبوطو دلايلو ته بې اعتنايي کوئ، دا قانع کوونکي دلايل نه شي کولی تاسو له انکار او تکذيب نه راوګرځوي او په قيامت باندې ايمان ته مو تيار کړي، نو لږ صبر وکړئ، هغه ورځ به راشي چې درته وويلی شي: د هغه څه په لوري وخوځېږئ چې تل مو انکار ترې کاوو، د دوزخ د لوخړو په لوري، په دريو څانګو کې، هغه لوخړې چې آرامښت په کې نشته، او د لمبو مخه نه نيسي، سترې سترې لمبې چې د سوکو ستروالي به ئې سترو سترو قصرونو ته ورته او په رنګ کې ژېړو اوښانو ته ورته. افسوس افسوس د تکذيبوونکو په حال.

په دې ورځ به نه د وينا توان لري او نه به د عذر وړاندې کولو فرصت ترلاسه کولی شي. افسوس افسوس د تکذيبوونکو په حال.

د يوم الفصل هغه ورځ چې تاسو ترې انکار کاوو، او له خپل سلف سره يو ځای کېدا مو محال ګڼله، او په دې لټه کې وئ چې د تکذيب لپاره ئې دلايل وړاندې کړئ، دا ئې تاسو او دا ئې ستاسو مخکني خپلوان او د ا ئې يوم الفصل!! که له مخکنيو مکرونو او چل ول مو څه درسره وي او کولی شئ ځان پرې وژغورئ، دا ئې وخت دی!! افسوس افسوس د تکذيبوونکو په حال.

بې شکه چې پرهېزګاران به د چينو شاوخوا کې تر سيورو لاندې وي، په زړه پورې مېوې ئې په واک کې او ورته وبه ويلی شي: په دنيا کې د خپلو نېکو عملونو په وجه نن په جنت کې چې څه غواړئ په خوند خوند وخورئ وڅښئ، مونږ نېکانو ته داسې بدله ورکوو! افسوس افسوس د تکذيبوونکو په حال.

او تاسو اې مجرمينو! لږ نور هم وخورئ او متمتع شئ. افسوس افسوس د تکذيبوونکو په حال.

او چې ورته وويلی شي: په رکوع شئ، رکوع نه کوي!! افسوس افسوس د تکذيبوونکو په حال.

که په دغو ټولو دلايلو نه قانع کېږي نو په کومې خبرې به باور کوي او کوم دليل به ئې قانع کړی شي؟!!

بسم الله الرحمن الرحيم

---

ÇÌÈ #ŽÕ§ ÏNºŽÅ»Z9$r ÇËÈ $yzó ã ÏM»yÅ»è$$sù ÇÊÈ $]ó ã ÏM»=™ö£ßJø9$#ur

$JRÎ ÇÏÈ #'õçR ÷rr& #'õ ã ÇÎÈ #•ø.ÏŒ ÏM»Š)É)ù=ßJø9$$sù ÇÍÈ $]%öù ÏM»%Ì»ýø9$$sù

ÇÐÈ Óìqø9 br%ã qê

---

۱ـ قسم په دغو لېږل شوو په پېژانده توګه. ۲ـ بیا قسم په دې شیندونکو د شیندلو په حالت کې. ۳ـ قسم په دغو خوروونکو د خورولو په حالت کې. ۴ـ بیا قسم په فرق کوونکو د بېلولو په حالت کې. ۵ـ بیا د ذکر په دغو القاء کوونکو، ۶ـ د عذر یا د خبرداري لپاره. ۷ـ بې شکه چې هغه ژمنه حتماً ترسره کیدونکې ده چې وعده ئې درسره کېږي.

---

۱-۷: په دې آیتونو کې د یوه شي په پنځو حالتونو لوړه شوې او ورپسې ویل شوي: هغه څه حتماً واقع کیدونکی دی چې وعده ئې درکول کېږي. وروستي آیتونه دا (محتومه وعده) په پوره وضاحت سره معرفي کوي او وایي چې له دې وعدې نه مراد د قیامت او بیاراژوندي کولو وعده ده. خو باید وګورو چې دلته په څه څه لوړه شوې او ارتباط ئې د قسمونو له ځواب سره څنګه دی او دا قسمونه څنګه په دې خبرې دلالت کوي چې د بیاژوندون وعده ربښتونې وعده ده او حتماً به تحقق مومي. په دې اړه څو خبرو ته توجه وکړئ:

- د مفسرینو ترمنځ په دې اړه ژور اختلاف ګورو چې دلته په څه څه لوړه شوې،

ځينې ئې (بادونه) ګڼي، ځينې ئې د ملائکو هغه بېل بېل ټولګي ګڼي چې په بېلو بېلو امورو موظف شوي، ځينې لومړي څلور قسمونه په بادونو او پنځم ئې په ملائکو حمل کوي. دا د رأيې اختلاف ښيي چې د دغو آيتونو په اړه مربوط روايات په خپلو کې متعارض دي او داسې واحده رأيه چې په صحيح حديث او د صحابه وو په متفق عليه نظر باندې مستند وي، نشته.

o د قرآن د عمومي قاعدې له مخې دا بايد داسې څرګند شی وي چې د قرآن هر مخاطب ته واضح وي او پر هغه باندې په استناد سره دا خبره ثابته کړی شي چې د بياژوندون وعده ربښتونې وعده ده.

o د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې بادونه د (عاصف) په صيغه ياد شوي او د ملائکو لپاره په هيڅ ځای کې دا صيغه نه ده کارول شوې.

o د قرآن په ډېرو آيتونو کې د بادونو د لېږلو لپاره د (ارسال) صيغه راغلې.

o د قرآن په ډېرو آيتونو کې ويل شوي چې الله تعالی بادونه رالېږي، په سر کې ورو ورو او نرم نرم خوځي، داسې چې تاسو ورنه خوند اخلئ، بيا تند او تېز شي، په سيلۍ او طوفان بدل شي، وربځې په سر واخلي، د آسمان په غېږ کې ئې خورې ورې کړي، د مړو ټاټوبو په لوري ئې وخوځوي ، چېرې باران، چېرې واوره، او چېرې ژلۍ ووروي، چېرې نباتات رازرغونه کړي او چېرې د سيلابونو باعث شي او په خلکو کې ويره او خوف راولاړ کړي.

o که وغواړو چې د دې آيتونو تفسير په خپله په قرآن کې ولټوو او له تفسير بالرأی نه ډډه وکړو نو له بادونو نه پرته په بل څه ئې نه شو تطبيقولی، دا ځکه چې قرآن يوازې بادونه په دې صفاتو ياد کړي نه بل څه.

o دا آيتونو د (فاء) توري له يوه بل سره تړلي او دا ښيي چې دلته د يوه شي څو حالتونو ته اشاره شوې نه بېلو بېلو شيانو ته.

o لکه چې په مخکنيو قسمونو کې تاسو وليدل چې قسمونه د تعظيم لپاره نه بلکه د استشهاد لپاره راغلي، دلته هم په (بادونو) باندې استناد سره د قيامت منکرانو ته دا خبره شوې چې بياژوندون داسې دی لکه هره ورځ چې تاسو ګورئ د

یوه باد په لګیدو سره د ژوندون بهیر پیل شي، بادونه د ژوند پیغام له ځان سره راوړي، په هغو وربځو سره چې پر خپلو اوږو ئې وړي او په هغه باران سره چې له دغو وربځو ئې راوروي، د مړې ځمکې د ژوندي کېدو باعث شي، د ځمکې تر کلك قشر لاندې د ژوندون بڅرکي وخوځوي او په هغه کې سا پوکړي، او سپېره ډاګ په زرغونه چمن بدل کړي. نو ته چې هره ورځ د مړو د بیاژوندي کېدو شاهد یې څنګه مجدد ژوندون محال ګڼې او له هغه انکار کوې؟!! تا چې په وار وار تندې او تېزې سیلۍ لیدلې چې په طوفانونو منتج شي او هرڅه ګډ وډ کړي څنګه ګمان کوې چې ستا نړۍ به د تل لپاره همداسې آرامه او آباده وي او هیڅکله به له داسې کوم ستر طوفان سره نه مخامخ کېږي چې هرڅه ئې وځپي او نظم ئې متلاشي کړي؟!

په څو دلایلو د هغو کسانو رأیه ضعیفه ده چې وایي دلته په ملائکو لوړه شوې.

- لومړی دا چې د دې رأیې لپاره نه له قرآن نه کوم دلیل وړاندې کولی شي او نه انساني عقل ته د منلو وړ دلیل.
- د قیامت د منکرانو د اقناع لپاره په ملائکو استشهاد او استناد نه شو کولی، هغوي ملائکې نه مني، په یوه متنازع فیه شي باندې بل متنازع فیه شی نه شو ثابتولی او دا کار نه معقول دی او نه د مخاطب د قانع کولو لار.
- په قرآن کې معمولاً د معاد، مجدد بعثت، مکافات او مجازات او دې ته ورته قضایاوو د اثبات لپاره په هغو شیانو استشهاد شوی چې هر مخاطب ته د منلو وړ وي، لکه شپه، ورځ، لمر، سپوږمۍ، ستوري، ځمکه او آسمان، تل د غیبي امورو د اثبات لپاره په مشهود او محسوس شیانو استناد شوی، نباید دا عمومي قاعده دلته په استثنائي توګه له پامه وغورځوو او داسې رأیه قائمه کړو چې له عمومي قاعدې سره اړخ نه لګوي.
- په عربي کې په (الف او تاء) سره یا حقیقي مؤنث جمع کېږي او یا د غیرذوي العقولو صفت، پرښتې مؤنث نه دي او په دې پورې متعلق صفات په (الف او تاء) نه شو جمع کولی، مرسلات او عاصفات او ... د دوی جمع نه شو ګڼلی، په قرآن کې د

ملائکو لپاره اکثراً د جمع مذکر صیغه کارول شوې. د دې مطلب شرح د النازعات د سورې په تفسیر کې وګورئ.

- که دا ملائکې وګڼو نو باید په ټولو هغو مواردو کې چې دې ته ورته صیغې راغلې لکه: العادیات، الموریات، المغیرات، النازعات، الناشطات، السابحات، السابقات، المدبرات، الذاریات، الحاملات، الجاریات او ډېر نور موارد، دا ټول باید ملائکې وګڼو، حال دا چې دا کار له یوې خوا ناسم دی، له بلې خوا غیرقابل قبول او غیر قابل تطبیق او له بلې خوا د داسې تکرار موجب چې د قرآن له اوچت بلاغت سره سمون نه خوري.
- د قرآن په هیڅ آیت کې پرښتې د (عاصف) په صفت نه دي ستایل شوې، بر عکس دا صفت دبادونو لپاره راغلی.
- د آیتونو ترمنځ تنسیق او د (فاء) په توري سره د دوی ترمنځ ارتباط دا ښیي چې ټول د (عاصفات) په شان دي او د بادونو بېل بېل حالت په ګوته کوي.
- دغو مطالبو ته په پام سره په کامل ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چې:
- له (المرسلات عرفاً) څخه هغه بادونه مراد دي چې په معروف، معمول او عادي طور خوځي، نرم نرم او ورو ورو.
- له (العاصفات عصفاً) څخه تند او تېز بادونه چې د طوفانونو باعث کېږي.
- له (الناشرات نشراً) نه هغه بادونه چې وربځې په فضا کې منتشر کوي او له یوې سیمې ئې بلې ته انتقالوي.
- د (الفارقات فرقاً) معنا یا دا ده چې دا بادونه وربځې په سترو سترو کتلو او کنډکونو کې متفرق کړي او په مختلفو لوریو ئې وخوځوي او یا دا چې دا بادونه د فرق کولو او تمییز استعداد لري، د ښه او بد، مستحق او غیرمستحق ترمنځ فرق کولی شي، په دې پوهېږي چې څومره چېرې انتقال کړي، چېرې څومره باران ووروي، د کومې سیمې اوسیدونکي د کومې معاملې مستحق دي، د نرم او ورو ورو خوندور باران مستحق دي که د غضبناك سېل او طوفان!! خو دا دوهمه توجیه په دې خاطر ارجح ده چې لومړئ مفهوم په مخکني آیت کې راغلی، نباید له

(الفارقات فرقاً) نه همغه د (الناشرات نشراً) معنا واخلو، قرآن د بې ځایه تکرار له عیب نه منزه دی.

o له (الملقیات ذکراً عذراً او نذراً) څخه هم بادونه مراد دي چې د ذکر او پند باعث دي، انسان ته الله وریادوي، کله داسې چې ګوري الله تعالی د ده عذر او توبه قبوله کړې، د باد په نرمې وږمې سره ئې ده ته د باران زیری ورکړی او کله له دې اړخه چې وېرونکی طوفان په ده کې له الله تعالی نه وېره راولاړوي او د داسې هیبتناکو او وېرونکو پېښو خبر ورکوي چې له شر نه ئې د ځان ژغورنې لپاره له الله پرته د نجات بله مرجع او پناه ځی نه ګوري.

o د (انما توعدون لواقع) معنا او ارتباط ئې له مخکنیو قسمونو سره دا چې: د بادونو دغه بېلابېل حالات په دې شهادت ورکوي چې د قیامت محتومه وعده هرومرو تحقق مومي او مړي به بیاراژوندي کېږي، هغه ذات چې بادونه رالېږي، د ژوندون زیری په لاس، د مړو د بیاژوندي کولو وسیله، دا ذات بې شکه چې د مړو په بیاراژوندي کولو قادر دی او هغه ذات چې په بادونو سره ستر ستر وېروونکي طوفانونه او لوی لوی ورانوونکي سیلابونه راولاړوي بې شکه چې په دې هم قادر دی چې دا دنیا ورانه کړي او په ځای ئې د بلې نوې دنیا بنسټ کېږدي.

---

ŴÿÅêãA$6ø̧Å$#ŒÎr ÇÌÈ ŴM_Ìè â$J¡¡ 9$#ŒÎr ÇÑÈ ŴM¡ ÜÊ ãqãÏ ¥9$#Œîù

$Br ÇÌÈ èÓÁ yÏ$ŠQöxÏ ÇÎÈ ŴM=Å éÐöf ÄL ÇÎÈ ŴMGÏ̧éã@ß"9$#ŒÎr ÇÎÈ

ÇÎÈ ûüÎ̧ÉŸ3Dùj 7ÍBöf ®fr ÇÍÈ èÓÁ yÏ$Šöf $B 71‘Š&

---

۸ـ نو چې کله ستوري تپ تیاره شي. ۹ـ او چې کله آسمان شي دړې وړې. ۱۰ـ او چې کله غرونه وایستی شي. ۱۱ـ او چې کله لېږل شوي بل وخت ته موکول کړی

شي. ۱۲ـ د کومې ورځې لپاره به وځنډولی شي؟ ۱۳ـ د پرېکړې د ورځې لپاره. ۱۴ـ او څه پوه کړې چې د پرېکړې ورځ څه ده؟ ۱۵ـ افسوس په دې ورځ په حال د تکذيبوونکو.

---

**۸ـ۱۵:** دا آيتونه څو اساسي مطالب بيانوي:

الف: د قيامت منکرينو ته وايي: که دا د قيامت د اثبات بې شمېره دلايل نه منئ او سره له دې انکار کوئ نو تر هغه صبر وکړئ چې قيامت راشي او هولناکې صحنې ئې په خپلو سترګو وګورئ.

ب: لومړی به ستوري تپ تياره او له سترګو پټ شي.

ج: بيا به آسمان چاود چاود او دړې وړې شي او دا اوسنی مضبوط نظم به ئې له منځه ولاړ شي. ټول هغه ستوري به خواره واره شي چې نن ئې په خپلې غېږ کې نيولي.

د: دا غرونه چې کلك، ثابت او نه خوځېدونکي ئې ګڼئ او ګمان نه کوئ له خپله ځايه به وخوځي، وبه ئې ګورئ چې له جرړو ايستل شوي.

هـ: او ټول (الرسل: لېږل شوي) به راتلونکي خاصې نېټې ته موکول کړی شي، کار به ئې متوقف شي، د بيا فعالېدو لپاره به بله نېټه ورته وټاکلی شي او تر (يوم الفصل) به وځنډولی شي، خو دا چې د دغو (لېږل شوو) نه مراد څه دی او د توقيت او تر يوم الفصل پورې ئې د ځنډولو معنا څه ده، په دې هکله په تفسيرونو کې ګڼ شمېر آراء زمونږ مخې ته راځي:

- ځينې ئې پيغمبران عليهم السلام ګڼي.
- ځينې ئې د فرشتو په معنا نيسي.
- او ځينې ئې په خپله عامه معنا اخلي.

درېيمه رايه دقيق برېښي چې دلايل ئې دا دي:

۱ـ د (المرسلات) او (الرسل) معنا يوه ده، هغه څه چې په لومړي آيت کې د المرسلات په صيغه ياد شوي په يوولسم آيت کې د الرسل په صيغه تکرار شوي. د

کلام بلاغت دا تقاضاء کوي چې (الرسل) به همغه مطلب افاده کوي چې (المرسلات) ئې افاده کوي.

۲ـ دا د پیغمبرانو علیهم السلام په معنا ځکه نه شو اخیستی چې د قیامت د دغو پېښو په دوران کې به د ځمکې پر سر هیڅ پیغمبر نه وي، هغه وخت چې ستوري تیاره شي، آسمان دړې وړې شي، غرونه وایستی شي، په دې مرحله کې د لېږل شوو د معطله کېدو معنا په هیڅ صورت کې د پیغمبرانو علیهم السلام لپاره د توقیت په معنا نه شو اخیستی، تر یوم الفصل پورې د پیغمبرانو علیهم السلام موکول کېدا او ځنډېدا نه قابل فهم ده او نه د توجیه وړ، مخصوصاً چې د قیامت د سترو سترو حوادثو، د ستورو تورېدا، د آسمان د چاودېدا او د غرونو د خوځېدا په ضمن کې ذکر شوې.

۳ـ په دې آیت کې به خامخا د دریو مخکنیو آیتونو په څېر د قیامت یوې بلې سترې پېښې ته اشاره شوې وي.

۴ـ که د (لېږل شوو) په کار کې توقیت او تأخیر د (المرسلات: لېږل شوو بادونو) په کار کې د توقیت او تأخیر په معنا واخیستی شي نو په دې صورت کې نه یوازې د آیتونو تر منځ همغږي تأمین کېږي، بلکې واضح مفهوم ترې اخیستل کېږي، په دې معنا چې په دې مرحله کې د ستورو له تیاره کېدو، د آسمان له چاودېدو او د غرونو له خوځېدو وروسته به د بادونو هغه کار هم متوقف شي چې اوس ئې کوي، اوس د ژوند قاصد او د ځمکې پر سر د ژوو د راپیدا کېدو ستر لامل دی، خو په دې وخت کې به متوقف شي او تر یوم الفصل پورې به ئې دا دنده معطل شي، او د مجدد بعثت په ورځ به بیا په صور کې پو شي او په همدې سره به د بیا ژوندون لړۍ پیل شي او ټول به له خپلو خپلو قبرونو راپاڅي.

و: ته نن له دې عاجز یې چې د یوم الفصل په څرنګوالي پوه شې، دا داسې ستره او هیبتناکه ورځ ده چې په عظمت او هیبت ئې پوهېدل درته ممکن نه ده.

ز: د هغو خلکو په حال افسوس افسوس چې دا ورځ تکذیبوي، په عقل ئې هم او د قیامت په ورځ د دوی په بد او دردناك حالت هم.

@èÿR 7Ï‹. ÇÈ šú ïÅ F$ äçãÎk ße ÇÏÈ ûüÏrF$ Å Îï O9&

ÇÈ ûüÎ É3Dÿ 7ÍBöf @r ÇÑÈ ûüBÌó 3#

۱۶ـ آیا مخکني مو هلاك نه کړل؟ ۱۷ـ بیا مو وروستني ورپسې نه کړل؟ ۱۸ـ له مجرمینو سره همداسې چلند کوو. ۱۹ـ افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

۱۶ـ۱۹: په دې مبارکو آیتونو کې قیامت، الهي محاسبه او مکافات او مجازات له یوه بله اړخه څېړل شوي، دا ځل د محسوس او مشهود طبیعي دلایلو په ځای تاریخي دلایل وړاندې کېږي، د مجرم او جنایتکارو ډلو بدې پایلې د قیامت د منکرینو مخې ته ږدي او ورته وایي: مګر د تاریخ هره پاڼه په دې شهادت نه ورکوي چې د زمانې په هر پړاو کې کوم قوم معاد او قیامت تکذیب کړی او په آخرت باندې نه باور او له الهي مکافات او مجازاته انکار جرم او جنایت ته هڅولي له بدو پایلو سره مخامخ او په الهي عذاب اخته شوي؟ څوك چې د دوی په لار تللي او د دغو هلاك شوو قومونو په پل ئې ګام ایښی له ورته برخلیك سره مخامخ شوی، دا د تاریخ په اوږدو کې د مجرمو او جنایتکارو ولسونو مجازات مونږ ته څه راښیي؟! آیا له دې پرته بله انتباه ترې اخیستی شو چې حسیب خدای زمونږ د عملونو شاهد او ناظر دی، مجرم ته سزا ورکوي، دلته د مکافات او مجازات ثابت الهي سنت حکومت کوي او دا چې قیامت او الهي محاسبه یو مسلم حقیقت دی. افسوس د هغه چا په حال چې دا ورځ تکذیبوي!!

Õqè B 9‰% 4‹Î ÇËÈ ÁüÅB 9#•% ’Î ç Ÿùè f ù ÇËÈ &üĝB & B `Ï /ãe)¢ ü O9&

ÇÍÈ ûüÎÉ3Þûj 7ÍBöf @ƒr ÇÌÈ brãï‰» )ø$Nèï ù $RÓ‰ )ù ÇËÈ

---

۲۰ـ آیا له سپکو کرکجنو اوبو مو پیدا نه کړئ. ۲۱ـ او آیا په مضبوط تمځي کې مو ځای په ځای نه کړ؟ ۲۲ـ تر یوې معلومې نېټې؟ ۲۳ـ نو وتوانېدو او همدا راز ښه توانېدونکي یو. ۲۴ـ افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

---

۲۰ـ۲۴: په دې آیتونو کې د بیاژوندون د اثبات لپاره یو بل مضبوط دلیل وړاندې شوی، د انسان د پیدایښت په څرنګوالي باندې استناد سره د بیاژوندون امکان ثابتوي، په دې شرح:

الف: مګر تاسو مو د اوبو له یوه کرکجن څاڅکي پیدا نه کړئ؟ ولې مجدد خلقت درته ګران او مستحیل برېښي؟

ب: آیا د (رحم) په تیاره دنیا کې ستاسو استقرار او په هغه کې تر معینې نېټې او مودې ستاسو توقف او بیا مو له هغې تنګې او تیارې نړۍ د ځمکې د سر پراخې او روښانه نړۍ ته راتګ؛ دا نه ثابتوي چې له یوې دنیا بلې ته انتقال مو یو ځل آزمویلی بیا به ئې هم آزمویئ؟ د ځمکې په (رحم) او تنګې محدودې غېږ کې له توقف وروسته به د آخرت پراخې نړۍ ته درومئ.

ج: هغه ذات چې په دې وتوانېدو تاسو له یوه څاڅکي اوبو پیدا کړي، د مور په رحم کې مو ځای په ځای کړي او له هغې تنګې دنیا مو بلې ته راولي، آیا هغه به په دې لا ښه قادر او توانا نه وي چې بیا مو راژوندي کړي؟ څنګه او په کوم دلیل دا مجدد بعثت نه منئ او ترې انکار کوئ؟ افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

---

ÓÅºr‘ $kŽÏi $Zùè_r ÇËÈ $?Yq¨B&r ä!$‹ômr& ÇÊÈ $?$ÿÏ. Ú ö‘F$# È@yèøgwU óOs9&

ÇĖÑÈ ûüÎĴÉ3Ðüĵ 7ÍBöqf ®ŧr ÇĖÐÈ $Ÿ•èå[$B /ã»Zø)Ö™&r ĮM» , Ü»©

۲۵. آیا ځمکه مو راغونډونکې نه ده ګرځولې. ۲۲. د ژوندو او مړو. ۲۷. او آیا دنګ دنګ غرونه مو په کې نه دي جوړ کړي او خوندورې اوبه مو نه دي درباندې څښلې؟ ۲۸ . افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

۲۸ـ۲۵: ووایئ: چا دا ځمکه داسې ګرځولې چې په خپلې غېږ کې مړه او ژوندي توکي راغونډ کړي او په هغې کې د ژوند امکانات او شرایط برابر کړي؟ څوك د ځمکې له دنګو غرونو خوندورې اوبه درکوي، هماغسې لکه د مور له تیو خوندورې شېدې؟؟ که دا دنګ دنګ غرونه نه وی نو ستا د څښاك اوبه به هم خوندورې او صفا نه وې!!

آیا هغه ذات چې ځمکه ئې د (ژوند مهد او زانګو) کړه او د ژوند امکانات ئې په کې ځای په ځای کړل؛ په دې قادر نه ګڼئ چې ستاسو د مجدد پیدایښت لپاره بله زانګو او ټاټوبی راپیدا کړي؟!! افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

5= èä® Ï] »=0 “ Ë @Ïß 4‹Î (þµ)îÛR$ÇĖÒÈ bqè%Î=sÜR$# ÇĖÑÈ bqçÉ3ê¾ä ïÎ OçFZä $B 4‹Î (þµ)îÛR$

¼çµR(. ÇĖËÈ ÎÇ )ĵ$ 9•±Î ’ÎöÇ $kXÎ ÇĖÊÈ É g=9$ `ËB Óïóøãvr @‹Îß ŽŸv ÇĖÉÈ

ÇĖÌÈ ûüÎĴÉ3Ðüĵ 7ÍBöqf ®ŧr ÇĖÌÈ ÖøÿÎß M=»Hg

۲۹. درومئ د هغه څه په لوري چې دروغ به مو ګڼل! ۳۰. درومئ د هغه سیوري په لوري چې درې څانګې لري. ۳۱. نه راحت بخښونکی ده او نه د لمبو مخنیوی کوي. ۳۲. هغه چې د ماڼیو په څېر سوکې شیندي. ۳۳. ژېړو

اوښانو ته ورته. **۳۴.** افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

---

**۲۹-۳۴**: تاسو چې قیامت تکذیبولو او په دې مو باور نه کاوو چې د دوزخ لمبې به ستاسو د جرم او جنایت سزا وي؛ دا ئې تاسو او دا ئې هغه څه چې دروغ مو ګڼل!! په دنیا کې مو د هغه مغشوش انځور په خپل ناقص ذهن کې درلود، د هغه په اړه مو د شك او ریب سیوری په زړه او دماغ پروت وو، دا دی هماغه مغشوش انځور او هماغه د شك او ریب سیوری، ستاسو مخې ته؛ ورځئ، تاسو ته منتظر دی، خو دا سیوری د دنیا د راحت بخښونکي سیوري په څېر نه دی، د حرارت مانع او له لمبو خوندي، نه؛ دا د دوزخ د لوخړو سیوری دی، د اور سوکې به ئې ستاسو د دنګو دنګو قصرونو په اندازه وي او رنګ به ئې ستاسو د ښکلو ژېړو اوښانو په څېر!! مګر ستاسو قصرونو او ستاسو شتمنیو (او تر ټولو غوره ئې ستاسو ښکلو ژېړو اوښانو) له قیامت او دوزخ نه انکار ته نه وئ هڅولي؟ دا دی اوس ئې انځورونه د دوزخ په لمبو او لوخړو کې وګورئ!! افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

د یادونې وړ ده چې قرآن د دوزخ د اور د سوکو د څرنګوالي بیانولو لپاره د (قصر) صیغه کارولې، چې له یوې خوا ښیي دا اور به دومره ستر وي چې سوکې به ئې د قصرونو په اندازه وي خو له بلې خوا ښیي چې د ظالمانو قصرونو ته الله تعالی په کومه سترګه ګوري، د دوزخ د اور سوکې ورسره تشبیه کوي!! په رښتیا چې دا قصرونه د دوزخ د اور سوکې دي، د مظلومانو له وینو او هډوکو جوړ شوي، په انساني ټولنې کې د ظلم او فساد خورول له دغو قصرونو پیل کېږي، د دغو قصرونو خاوندان تل د حق په وړاندې خنډ شوي او تل ئې د حقپالونکو مقابله کړې.

---

7ÍBöÿ @ŧr ÇÌÏÈ brâÉFè‹ù Nç ãŒsãŸr ÇÌÎÈ bqàÜZƒ Ÿ ãöÿ #‹»d

ãB9 b%. bîù ÇÌÑÈ ûüÏrR$# ãB»Yèd @è ÿ%$ãöÿ #‹»d ÇÌÐÈ ûüÎ)É3Dÿ

**ÇĺÈ ûüÎÉ3Ðǰ 7ÍBǿ/ @ǂr ÇĺÈ ÈrÌ‹Åù Óœ.**

**۳۵.** دا داسې ورځ ده چې خبرې به نه شي کولی. **۳۶.** او نه به اجازه ورکړی شي چې عذر وړاندې کړي. **۳۷.** افسوس په دې ورځ د تکذيبوونکو په حال. **۳۸.** دا د پرېکړې ورځ ده، هم مو تاسو کړئ راغونډ هم مخکنيان. **۳۹.** نو که د کوم پټ تدبير (امکان) درسره وي نو زما په خلاف ئې وکاروئ. **۴۰.** افسوس په دې ورځ د تکذيبوونکو په حال.

**۳۵-۳۷:** په دې ورځ به د خبرو کولو توان ترې سلب شوی وي، دا ځکه چې په دنيا کې ئې ډېره ډېره په درواغو خپله خوله پرانيستې وه، د تکلم له وسايلو؛ له ژبې او شونډو ئې د حقايقو د تکذيب لپاره ډېر کار اخيستی وو، نو خود به ئې نن په خوله مهر وهل شوی وي او په ځای به ئې لاس او پښې په وينا راځي او د دوی په ضد به شهادت ورکوي!!

الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ * يس: **۶۵**

په دې ورځ به نه يوازې خبرې نه شي کولی؛ بلکې د عذر وړاندې کولو مجال به هم نه مومي، دا ځکه چې دوی به د خپلو جرمونو او خيانتونو اړوند اسناد، مدارك او شواهد او د خپل ژوند دقيق، مشرح او مکمل راپور په خپلو عمل پاڼو کې مومي او دا جرأت او امکان به ترې سلبوي چې څه ووايي او کوم عذر وړاندې کړي!! افسوس په دې ورځ د تکذيبوونکو په حال.

**۳۸-۴۰:** نن د حق او باطل ترمنځ د وروستۍ پرېکړې ورځ ده، نن به د عملونو په اړه وروستی قضاوت کېږي، دا هماغه ورځ ده چې تاسو ترې انکار کاوو او د تکذيب لپاره به مو دلايل ورته لټول او جوړول، په چل ول سره به مو خلك غولول چې په انکار کې ئې ستاسو ملگرتيا وکړي، د قيامت او حساب او کتاب په اړه د

پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت په ضد مو څومره هلې ځلې کولې او تدبیرونه مو سنجول، ویل به مو قیامت او بیا ژوندون نشته، که وي نو زمونږ له نیکونو او اجدادو څخه کوم یو راژوندی کړئ، تراوسه به کوم راژوندی شوی وو!! دا دی دا تاسو او دا مو سلف او خلف، ټول مو راغونډ کړئ، ووایئ: آیا کوم کید، مکر او چل ول په واك کې لرئ چې نن ئې وکاروئ؟! له همغو نه چې په دنیا کې مو د پیغمبرانو علیهم السلام په ضد کارول؟! افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

---

(qçŽõ $r (qèä ÇĺÈ bqåô„ $ßÏ mÏ°qùr ÇĺÈ 5qããr @»-ß † Î ûüÉ)F߸$b)

@ŕr ÇĺÈ ûüÏÅó B$ “ Ìpgx 7Ï° ‹ . $R) ÇĺÈ bqèJè? óÓ¨ä $JÎ $Ÿd

ÇĺÈ ûüÎ/É3Dj 7ÍBöq

---

**۴۱**ـ بې شکه چې پرهیزګاران به د چینو خوا ته وي او سیورو کې. **۴۲**ـ او هرراز مېوې چې غواړي ئې. **۴۳**- د هغو عملونو په وجه ئې په خوند خوند وخورئ وڅښئ چې تاسو به کول. **۴۴**- مونږ خو نېکانو ته داسې بدله ورکوو. **۴۵**- افسوس په دې ورځ د مکذبینو په حال.

---

**۴۱-۴۵**: پرهیزګاران به په جنت کې وي، د ونو تر سیوري لاندې، د چینو شاوخوا کې، ډول ډول هغه مېوې ئې مخې ته چې زړه ئې غواړي، دوی د مکذبینو په مقابل کې ول، هغوی قیامت دروغ ګڼلو، دوی پرې ایمان درلود، هغوی په دې خاطر جرم او خیانت ته لاس کاوو چې په آخرت او الهي محاسبې ئې باور نه وو، دوی په دې خاطر له ګناه او خیانته ځان ساتو او پرهېزګار ول چې په قیامت، د الله تعالی په وړاندې ودرېدو او الهي محاسبې ئې باور وو، نو ځکه به ئې پایله له

هغوی ببله وي، هغوی د دوزخ په لوخړو کې او دوی د جنت د ونو تر سیوري لاندې، د چینو شا وخوا کې او هرراز مېوې ئې مخې ته!! نېکانو ته د الله تعالی بدله داسې وي!! په جنت کې په دوی دا غږ کېږي چې په خوند خوند وخورئ وڅښئ، تاسو د همدې مقام او دغو نعمتونو وړ یاست. افسوس افسوس د مکذبینو په حال.

---

ÇÍÐÈ šú üÎ]É3Dü 7ÍBöïf ®ƒr ÇÎÏÈ bqãÌyC /ãRÎ ¸x‹Î% (qãGJ?r (qè=ä

ä 'Îû ÇÍÔÈ ûüÎ]É3hü 7ÍBöïf ®ƒr ÇÎÑÈ šc qã.ïf Ÿw (qã.öë$D÷ ãÏ‹Ï #Œ]r

ÇÎÈ šc qãZÏBsã÷ƒ çn‰èy/ ¤]ƒ ÏŸ‰n

---

**۴۶.** وخورئ او متمتع شئ لږ شانته چې تاسو مجرمین یئ. **۴۷.** افسوس په دې ورځ د مکذبینو په حال. **۴۸.** او چې ورته وویلی شي: رکوع وکړئ، رکوع نه کوي. **۴۹.** افسوس په دې ورځ د مکذبینو په حال. **۵۰.** نو له دې وروسته به په کومې خبرې ایمان راوړي؟!!

---

**۴۶-۴۷:** د ۴۶ آیت دوه تفسیرونه زمونږ مخې ته راځي:

الف: دا خطاب به په آخرت کې او هغه وخت مجرمینو ته متوجه کېږي چې دوی به په دوزخ کې وي او د دوزخیانو خوراك به ئې مخې ته ایښودل کېږي، او له سپکاوي او تحقیره په ډکه لهجه به ورته ویل کېږي: لږ ترې وخورئ، لږ ترې مستفید شئ!! له تاسو سره وړ خوراك همدا دی، تاسو مجرم وئ او په دوزخ کې د مجرمانو مناسب خوراك همدا دی!!

ب: دلته د وینا مخه مجرمینو ته راګرځي او په دنیا کې ورته خطاب شوی چې: د دنیا په دې لنډې مودې کې لږ وخورئ او ترې مستفید شئ، خو پوه شئ چې

الهي عذاب درته منتظر دی، دا ځکه چې تاسو مجرم او جنايتکار يئ!

لومړی رأيه په دوه دليله دقيقه ده:

الف: هيڅ داسې قرينه نه مومو چې وښيي دلته د بحث مخکنی لړی قطع شوې او دنيا ته راګرځېدلې.

ب: په مخکنيو آيتونو کې خطاب پرهېزګارانو ته متوجه دی، چې په جنت کې به وي او په ډېر درناوي سره به په دې صيغه دوی ته ويل کېږي: په خوند خوند وخورئ وڅښئ، د خپلو عملونو په وجه، د دې خطاب په مقابل کې بايد دوزخيانو ته د خطاب څرنګوالی هم توضيح شي، نو ځکه ويل شوي چې دوی ته به د اهانت او سپکاوي په لهجه وويلی شي: لږ له دغه خوراکه چې له تاسو سره مناسب دی وخورئ، تاسو خو مجرم او ګنهګار وئ.

**۴۸-۴۹**: د ۴۸ آيت په اړه هم دوه رايي مومو:

الف: رکوع ته د مجرمينو له رابلل کېدو نه مراد دا دی چې دوی به په دنيا کې لمانځه ته رابلل کېدل خو دوی به ډډه کوله او همدا په دوزخ کې د دوی د پرېوتو يو بل لامل وو.

ب: مراد ئې دا دی چې د قيامت منکرين سره له دغو ټولو مضبوطو او قانع کوونکو دلايلو چې دا سوره ئې د دوی مخې تهږدي، دې ته تيار نه دي چې له مخالفت او لجاجت نه لاس واخلي او حقيقت ته سر ټيټ کړي.

د دوهمې رايي د ترجيح لپاره څو دلايل لرو:

- د لته له رکوع نه د اجتناب خبره د داسې بحث په پای کې راغلې چې اساسي او محوري موضوع ئې قيامت او اثبات ئې په دلايلو سره ده، دې اجتناب ته بايد د دغه بحث په ترڅ کې وګورو، د نومورې بحث تتمه ئې وګڼو، او په دې معنا ئې واخلو چې دوی د قيامت په اړه د دې سورې بلنې ته لبيك نه وايي او دلايلو ته ئې سر نه ټيټوي، که د بحث موضوع لمونځ وی او يا په مخکنيو آيتونو کې د لمانځه په اړه څه ويل شوي وی، نو کېدی شو چې (عدم رکوع) مو د عدم لمانځه په معنا نيولې وی.

- د سورې وروستی آیت په وضاحت سره ښیي چې دلته په قیامت باندې د ایمان نه راوړو خبره مطرح ده.
- د قیامت منکرین په قیامت ایمان ته رابلل کېږي نه لمانځه ته، لمانځه ته بلنه په قیامت او معاد له ایمانه وروسته مطرح کېږي.

**۵۰**: دا آیت چې د المرسلات د سورې تتمه ده، په حیرتناکه لهجه پوښتي:

نو له دې خبرو وروسته به په کومې خبرې ایمان راوړي؟ کوم استدلال به ئې قانع کړی شي؟ که د دغې سورې په دغو مضبوطو او قانع کوونکو دلایلو قانع نه شي او له مخالفت او لجاجته لاس وانخلي او حقیقت ته سر ټیټ نه کړي، آیا بل داسې دلیل او بله داسې وینا موندی شو چې د دوی قناعت پرې راشي او په قیامت ایمان راوړي؟!!

یعني په دې سوره کې د قیامت منکرینو ته داسې بشپړ او قاطع ځوابونه ورکړی شوي، چې هیڅ پوښتنه او اعتراض ئې بې ځوابه نه دی پاتې شوی، که څوك په دغو دلایلو قانع نه شي، په بل هیڅ استدلال سره نه شو کولی دوی قانع کړو. له قیامته د دوی د انکار وجه دا نه ده چې کافي دلایل ئې نه دي اورېدلي، پوښتنو ته ئې ځواب نه دی ویل شوی او اغېزمنه وینا او حکیمانه بلنه ئې نه ده تر غوږ شوې!! نه، تر ټولو مضبوطه او اغېزمنه وینا او تر ټولو قوي دلایل ورته ویل شوي، تر دې غوره وینا نه موندل کېږي، تر دې متین او قوي دلیل نه شو پیدا کولی، دوی په هر صورت کې له ځان سره په کلکه پتېلې چې په خپل انکار به ترپایه ټینګار کوي، داسې کس په دلایلو نه شو قانع کولی. چې د قرآن په حکیمانه وینا او مضبوطو دلایلو قانع نه شي هغه به کومه وینا او کوم دلیل وي چې دوی قانع او ایمان راوړلو ته چمتو کړي؟ šc qäBsã¼ç‰è/ ¤] fŸ‰n ät 'Îù ؟!!

سُبْحَانَكَ اللّهُمّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إلاّ أنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ